پښتو

# خُطبات

جلد اول

## عقائد و ایمانیات


مرتب

نامور مذہبی مُفکّر

مولانا مُفتی مُحمّد ایاز درانی حفظہ اللہ



ناشر

العلم پبلیکیشنز

عبدالغنی پلازہ محلہ جنگی قصہ خوانی پشاور شہر

091-2580325 , 2590315

0333-4532836 , 0332-9241690

# فہرست مضامین (جلد اول)


| صفحه نمبر | عنوان | نمبر شمار |
|---|---|---|
| 1 | دین اسلام | 1 |
| 10 | د دین اسلام اهمیت (۱) | 2 |
| 13 | د دین اسلام اهمیت (۲) | 3 |
| 19 | د دین اسلام د اهمیت پنځه وجوهات | 4 |
| 28 | د اسلام خصوصیات | 5 |
| 36 | نعمت اسلام | 6 |
| 47 | اسلام یو مکمل دین دے | 7 |
| 52 | دین څه څیز دے؟ | 8 |
| 63 | د دین حقیقت | 9 |
| 68 | دین ولې ضروری دې | 10 |
| 75 | دین او شریعت | 11 |
| 80 | دین و شریعت (حصه اول) | 12 |
| 87 | دین و شریعت (حصه دوم) | 13 |
| 91 | د اسلام بنیادي عقائد (۱) | 14 |
| 97 | د اسلام بنیادي عقائد (۲) | 15 |

| | | |
|---|---|---|
| 16 | عملي شريعت | 101 |
| 17 | اسلام او ايمان | 107 |
| 18 | د ايمان بنيادي اصول | 115 |
| 19 | ايمان يو عظيم نعمت دے. | 120 |
| 20 | ايمان يو عظيم دولت دے. | 126 |
| 21 | د ايمان اهميت وكمال | 131 |
| 22 | د ايمان تازګي | 139 |
| 23 | په ايمان باندی استقامت | 142 |
| 24 | د ايمان حفاظت | 150 |
| 25 | د ايمانِ كامل علامات | 158 |
| 26 | وجود باری تعالی | 160 |
| 27 | د توحيد اهميت | 164 |
| 28 | د اللّٰه تعالی وحدانيت | 171 |
| 29 | د كلمی طيبی مقصد | 177 |
| 30 | توحيد:۱ | 186 |
| 31 | توحيد:۲ | 197 |
| 32 | توحيد:۳ | 203 |

| | | |
|---|---|---|
| 33 | د الله تعالی په صفاتوبا ندې ایمان | 211 |
| 34 | آیت الکرسی (اوله حصه) | 216 |
| 35 | د آیة الکرسی (دویمه حصه ) | 225 |
| 36 | د آیت الکرسی (دریمه حصه ) | 234 |
| 37 | د الله تعالی بندګي | 239 |
| 38 | شرک څه څیز دې | 242 |
| 39 | رد شرک | 251 |
| 40 | مسئله د علم غیب | 257 |
| 41 | مسئله د استعا نة غوښتلو | 261 |
| 42 | رسالت(۱) | 267 |
| 43 | رسالت(۲) | 274 |
| 44 | بیان رسالت(۳) | 281 |
| 45 | بیان رسالت(٤) | 286 |
| 46 | شان رسالت(٥) | 290 |
| 47 | شان ، پیغام نبي | 298 |
| 48 | رسالت نبي ﷺ ومقام صحابه رضي الله عنهم | 306 |
| 49 | عقیده رسالت | 315 |
| 50 | اثبات د رسالت د نبي کریم صلي الله علیه وسلم | 323 |
| 51 | دفاع ناموس رسالت (صلي الله علیه وسلم ) (۱) | 328 |
| 52 | دفاع ناموس رسالت (صلي الله علیه وسلم ) (۲) | 335 |

| | | |
|---|---|---|
| 53 | په رسالت کښې د معجزے حیثیت | 342 |
| 54 | خصوصیت نبی صلي الله علیه وسلم | 349 |
| 55 | د نبی کریم صلي الله علیه وسلم خصوصیات | 357 |
| 56 | د الله او رسول صلي الله علیه وسلم اطاعت | 361 |
| 57 | اطاعت رسول صلي الله علیه وسلم (۱) | 368 |
| 58 | اطاعت رسول صلي الله علیه وسلم (۲) | 373 |
| 59 | اتباع رسول صلي الله علیه وسلم لازمي ده | 379 |
| 60 | په سنت با ندې د عمل کولو حیثیت او اهمیت | 386 |
| 61 | د ختم نبوت عقیده | 393 |
| 62 | مسئله د ختم نبوت | 401 |
| 63 | ختم نبوت | 409 |
| 64 | په اخرت با ندې ایمان | 413 |

# دین اسلام

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿اِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ﴾ (اٰل عمران:۱۹)

وَقَالَ تَعَالٰى ﴿وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ﴾ (آل عمران:۸۵)

﴿ وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رضی اللہ عنہ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم ذَاتَ يَوْمٍ اِذْ طَلَعَ عَلَيْنَا رَجُلٌ شَدِيْدُ بَيَاضِ الثِّيَابِ شَدِيْدُ سَوَادِ الشَّعْرِ لَا يُرٰى عَلَيْهِ اَثَرُ السَّفَرِ وَلَا يَعْرِفُهُ مِنَّا اَحَدٌ حَتّٰى جَلَسَ اِلَى النَّبِيِّ صلی اللہ علیہ وسلم فَاَسْنَدَ رُكْبَتَيْهِ اِلٰى رُكْبَتَيْهِ وَوَضَعَ كَفَّيْهِ عَلٰى فَخِذَيْهِ وَقَالَ يَا مُحَمَّدُ صلی اللہ علیہ وسلم اَخْبِرْنِيْ عَنِ الْاِسْلَامِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم : اَلْاِسْلَامُ اَنْ تَشْهَدَ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ (صلی اللہ علیہ وسلم) وَتُقِيْمَ الصَّلٰوةَ وَتُؤْتِيَ الزَّكٰوةَ وَتَصُوْمَ رَمَضَانَ وَتَحُجَّ الْبَيْتَ اِنِ اسْتَطَعْتَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا۔ قَالَ صَدَقْتَ قَالَ فَعَجِبْنَا لَهٗ يَسْئَلُهٗ وَيُصَدِّقُهٗ قَالَ فَاَخْبِرْنِيْ عَنِ الْاِيْمَانِ: قَالَ اَنْ تُؤْمِنَ بِاللّٰهِ وَمَلَائِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَتُؤْمِنَ بِالْقَدْرِ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ۔۔۔۔الخ﴾ (مسند احمد)

په دې آيت او حديث کښې الله رب العزت او نبی کريم صلی اللہ علیہ وسلم مونږ ته زمونږ دين ښائی.

## اسلام د سلامتيا دين:

زمونږ د دين نوم دين اسلام دے . د اسلام معنی دا ده چې د سلامتيا، امن ، تابعداری، فرمانبرداری او تسليم ورضا، غاړه کيخودلو والا دين ، دين اسلام دے.

نو مطلب دا چې اسلام هم سلامتیا والا دین دے او اسلام منونکے به هم سلامتیا والا وی.

نبی کریمﷺ هم د مسلمان هم دا تشریح کړے ده.

فرمائی ﴿اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهٖ وَيَدِهٖ﴾(مسند احمد)

یعنې مسلمان هغه دے چې نور مسلمانان به د دهٔ دَ خلے او لاس د ضرر نه په امن او سلامتیا کښې وی.

ځوك چې د اسلام دعوی کوی نو هغه به خپل ځان الله ته تسلیم کوی او غاړه به الله ته کیدی نو بیا به پدي انسان کښې امن او سلامتی د دنیا او د آخرت حفاظت او امان په صحیح معنی کښې موجود شی.

زمونږ دے دین ته دین اسلام وئیلے کیږی او کله ورله د ملت لفظ هم استعمالیږی .

لکه قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی:

﴿اَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ اِبْرَاهِيْمَ حَنِيْفًا﴾(نحل:۱۲۳)

## دین او مذهب کښې فرق :

کله دین اسلام ته د مذهب نوم هم ورکولے کیږي خو د محققینو په نزد د دین اسلام د پاره دا لفظ استعمالول صحیح نه دي ځکه مذهب څهٔ خاص افعالو او عباداتو ته وئیل کیږی چې دَ یو قوم یا زمانے پورې خاص وی هر قوم او هره زمانه کښې هغے باندې عمل کول ممکن نه وی.......... یهودیت به یو مذهب وی، دارنګ عیسائیت به مذهب وی خو اسلام یو مخصوص طبقے پورے خاص نه دے بلکه دا خو یو عالمی دین دے نو دین اسلام د پاره د دین اصطلاح به استعمالیږی قرآن کښې الله فرمائی: ﴿اِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَاللّٰهِ الْاِسْلَامُ﴾

او دین څۀ ته وائی، دین په اصل کښې قانون ته وائی،د ژوند تیرولو مکمل نظام ته دین وائی.

د دین تعریف ملاجیون رحمۃ اللہ علیہ په نورالانوار نومے کتاب کښې دارنګ کړے دے.﴿هُوَ وَضْعٌ اِلٰهِيٌّ﴾

یعني د الله تعالی د طرف نه ایښودلے شوے او مقرر کړے شوے طور طریقو اوقانون ته دین وئیلے کیږی.عام طور زمونږ په معاشره کښې دین ډیر مونځونه کول، عبادات، نوافل کول او ډیر ذکر و تسبیحات کولو ته دین وئیلے کیږی، خو ولے دین صرف دانه دے دا د دین یوه حصه ده چې هغے ته عبادات وئیلے کیږی نو دا د دین یو حصه بیشکه ده خو پوره دین نه دے. دین د الله په قانون او حکم باندې ژوند تیرولو ته وئیل کیږی په دې کښې ایمان او عقیده، عبادات او معاملات، معاشره او سیاست، غم او ښادی دا ټول چې راغونډ شی نو دې ته دین وئیلے کیږی او کله چې یو مسلمان دا ټول تسلیم کړی، اُوئے منی او په دې باندې عمل اوکړی نو دا صحیح دین داره دے.

په اسلام کښې ټول احکامات د دین داخل دی نو صرف په مونځ باندې خلاصے نشته بلکه نور ضروریات دین منل هم اهم دي ځکه چې مونځ خو به مشرکین مکه هم کولو. اګر چې د هغوی عبادات د صحیح مسلمان مومن د عباداتو په شان نه شی کیدے خو ولے ډیر حد پورې هغوی په خپل خیال کښې عبادت ګزاره وؤ او د نبی ﷺ هغه دین ئے نه منلو کوم چې الله تعالی په وحی او قران کښې ذکر کړے دے نو د دے وجے نه دَ هغوی دې کارونو ته دین وئیل نه صحیح کیږی خو د نبی کریم تعلیمات ئے نه منل او پوره پوره دین ئے نه منلو نو ځکه الله تعالی معذّب کړل.

## اصل دشمنی دَ هغوی د اسلام سره وه:

مشرکینو به وئیل: ﴿لَا نُكَذِّبُكَ وَلٰكِنْ نُكَذِّبُ مَا جِئْتَ بِهٖ﴾

یعني مونږ خوتا ښهٔ سړے منو خو ستا راؤړلے شوے دین نه منو. ستا قانون او طریقه زمونږ د معاشرے سره، سیاست سره، دَ پلار نیکهٔ قانون،رسم او رواج سره مخالف او تضاد ده، د دې وجے نه ستا دین نه منو. او قرآن کښې هم الله فرمائی:

﴿لَا يُكَذِّبُوْنَكَ وَلٰكِنَّ الظّٰلِمِيْنَ بِاٰيَاتِ اللهِ يَجْحَدُوْنَ﴾(انعام:۳۳)

بهرحال دین یو مکمل ضابطه حیات ته وئیلے کیږی. ځکه چې څنګه نبی کریمﷺ عبادات ښودلی دي نو دا رنګ سیاست ئے هم کړے دے. دارنګ د خلقو سره ئے معاملات هم کړی دي. دا رنګ د نبی کریمﷺ شوریٰ(سینټ) هم وو او د سینټ ملګري هم وو او چلولے ئے هم دے نو هغه شان به مسلمان هم خپل سیاست،حکومت او سینټ چلوی.

## په حدیث جبرائیل کښې د دین وضاحت :

په دې حدیث کښې عمرؓ فرمائی چې مونږ د نبی کریمﷺ سره وو چې یو سړے راغے خو نهٔ پرے د سفر آثار ښکاریدل او نهٔ چا پیژندلو. هغه د نبی کریمﷺ نه د اسلام، ایمان ، احسان او قیامت په باره کښې تپوسونه اوکړل. تپوس به ئے هم کوؤ او د نبی کریمﷺ تصدیق به ئے هم کوؤ.

بیا پاسیدو او روان شو نو نبی کریمﷺ ورپسے کس اولیږلو چې او ئے ګوره چې څهٔ شو؟ هغوی چې اوکتل نو څوك هم نهٔ وو نو نبی کریمﷺ اوفرمائیل: ﴿اِنَّهٗ جِبْرَائِيْلُ اَتَاكُمْ لِيُعَلِّمَكُمْ دِيْنَكُمْ﴾

یعني دا جبرئیل امین وو چې تاسو ته دَ دین (اسلام، ایمان او

احسان) ښودلو د پاره راغلے وو.

په دے سوالونو کښې یو سوال د ایمان په باره کښې وو.

نو نبی کریم ﷺ ورته شپږ ایمانیات اوښودل.

یو په الله تعالی ایمان ،

دویم په ملائکو ایمان،

دریم په کتابونو ایمان، یعني یو داسې ذات شته چې هغه په دې ټول کائنات کښې تصرف کوی هغه په خپل ذات، صفات او افعالو کښې ثانی او شریك،حصه دار مدد کونکی ته محتاجی نۀ لری.

څلورم په رسولانو ایمان،

پنځم په اٰخرت ایمان،

شپږم په تقدیر د خیر او شر باندې ایمان.

## الله واحد لا شریك منل، صرف وجود منل کافی نه دی:

د اللّٰه تعالی وجود هر څوك منی. یهودیان ،عیسایان، مجوسیان او هندوان هم د اللّٰه تعالی وجود منی.

خو بس په بعضے صفاتو کښې مخلوق د اللّٰه تعالی سره شریکوی. نو یهودیان عزیر علیه السلام د اللّٰه تعالی سره شریکوی او عیسایان عیسیٰ علیه السلام لره شریکوی.

﴿وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ عُزَيْرُ ِ ابْنُ اللهِ وَقَالَتِ النَّصَارىَ الْمَسِيْحُ ابْنُ اللهِ﴾ (البقرة:۱۱۳)

یعني یهودیان وائی چې عزیر علیه السلام د اللّٰه تعالی ځوے دے او نصاریٰ وائی چې عیسی علیه السلام د اللّٰه تعالی ځوے دے.

خو د دوی عقیده د توحید کړه وړه ده ځکه چې په دوی کښې عقیده د تثلیث ده .یو پلار یو ځوے یو روح القدس.

دا رنګ یهودیان هم د الله تعالی د وحدانیت قائل دي خو د الله تعالی سره په کارونو کښې نور خلق شريك ګڼړی نوځکه وائی چې عزیر علیه السلام د الله تعالی ځوے دے.خو د اسلام او نورو مذهبونو د عقیدو او نظریاتو په مینځ کښې ډیر لوئے فرق دے عیسایان او یهود وائی چې د الله نه بغیر په دې دنیا کښې د بل چا سره اختیارات د تصرف کولو شته چې پدې دنیا کښې هغوی هم د الله په شان خیر او شر چې چاته اُوغواړی رسوی ئے ورته لکه عیسیٰ علیه السلام ،عزیر علیه السلام وغیرهم.

دارنګ زرتشت وائی چې د خیر خالق الله تعالی دے او د شرخالق د الله تعالی نه ماسوا بل څوك دے.

زرتشت هم توحید منی خو د خیر خالق ځان له ګڼړي او د شر ځان له.

خو د اسلام نظر یه د دے عقیدے په باره کښې ډیره صفا او واضحه ده. اسلام فرمائی:

**لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ.** یعنې د الله تعالی نه ماسوا بل الٰه نیشته.بل الٰه،بل کار ساز، مشکل کشا ،حاجت روا د نیاز خاوند بغیر د الله نه بل څوك نشته او دا بنیادی عقیده ده او قرآن په دې باندې ډیر زیات زور لګولے دے.

دویمه عقیده د ایمانیاتو نه په فرشتو باندې ایمان لرل دي. چې دا نورانی مخلوق دے او دګناه نه پاکے دی.

نور مذهبونو والا اول د فرشتو وجود نه منی او که څوك ئے منی نو د ګناه نه ئے مُبَرَّا نه ګڼړی.

دریمه عقیده د ایمانیاتو نه په کتابونو باندې ایمان لرل دی عیسایان هم کتاب منی خوصرف انجیل منی یهود صرف تورات منی، تر دې پورے چې

هندوان هم وید کتاب د خپل ځان د پاره یو اسمانی کتاب منی خو مسلمان به هر یو اسمانی کتاب باندې اجمالی عقیده او ایمان ساتی او د هیڅ یو نه به انکار نهٔ کوی. کوم چې اسمانی کتابونه دی. او د اسلام دا نظریه ده چې په ټولو کتابونو به ایمان لرے خو عمل به په قرآن کریم کوے.

نور مذهبونو والا څهٔ کتابونه منی او څهٔ نهٔ منی.

څلورمه عقیده د ایمانیاتو نه په آخرت باندې ایمان لرل دی. په دے کښې هم د اسلام موقف ظاهر دے.

هندوان په دے کښې د تنسیخ عقیده راؤباسی. چې انسان کله مړ شي نو بیا په یو شکل کښې دنیا ته د خپل عمل مطابق راځی. که ښهٔ عمل ئے کړے وی نو په ښهٔ شکل کښې او که بد عمل ئے کړے وی نو په بد شکل کښې به دنیا ته راځی.

یهودیان او نصاری آخرت منی خو صرف خپل ځان له ئے خاص کوی چې جنت ته به صرف مونږ ځو.

﴿وَقَالُوا لَنْ يَدْخُلَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ كَانَ هُودًا أَوْ نَصَارَىٰ﴾(البقرة:۱۱۱)

او وائی: ﴿نَحْنُ أَبْنَاءُ اللَّهِ وَأَحِبَّاؤُهُ﴾(مائدہ:۱۸)

یعنې دوی به وئیل چې جنت ته به د یهودیانو یا نصاراؤ نه ماسوا بل هیڅ څوك نهٔ داخلیږی.

پنځمه عقیده د تقدیر په باره کښې ده چې انسان څهٔ عمل کوی نو هغه د مخکښې نه مقرر کړے شوے وی.

دا عقیده پیچېده ده دے وجې نه د دے په باره کښې نبی کریم ﷺ د سوالونو کولو نه منع کړے ده.

دا خبره ذهن کښې ایښودل پکار دی چې انسان مجبور محض نه دے بلکه الله تعالی دهٔ له اختیار ورکړے دے ، د هغے مطابق به ښه اوبد

پیژني او دا به ئے عقیده وی چې د نیك کارونو په کولو کښې د الله تعالی رضاوی او په ناکاره کارونو کولو کښې د الله رضامندی نیشته.

## حدیث جبرئیل کښې د اسلام وضاحت :

نبی کریمﷺ نه بل سوال د اسلام په باره کښې شوے وو. نو نبی کریمﷺ ورته فرمائیلے وو چې:﴿ اَلْاِسْلَامُ اَنْ تَشْهَدَ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ﴾ یعني اسلام د لا اله الا الله ګواهئ ته وئیلے کیږی.

د دے مطلب دا دے چې په ژبه به شهاد ت د لااله الا الله کوے او په زړهٔ کښې به د ایمانیاتو عقیده ساتې.

بیا په دے حدیث کښې د اقامة الصلوٰة ذکر هم دے.

په نورو مذهبونو کښې هم د مونځ حکم وو خو په اسلام کښې د هغے ټولو امتونو د مونځونو مجموعه الله تعالی زمونږ په مونځ کښې راجمع کړے ده ،لکه د یهودو په مونځ کښې رکوع نهٔ وه نو مطلب دا چې قیام د یو دین د مونځ حصه، رکوع د بل دین او سجده د بل دین حصه نو پدې مونځ کښې د هریو مذهب یو هیئت شامل کړے شوے دے.

دا رنګ په دے حدیث کښې د زکوٰة حکم هم دے او په دے باندې هم اسلام ډیر زور ورکړے دے.دا ځکه چې د مال عبادت هم ادا شی.

دارنګ په دے حدیث کښې د روژے حکم هم دے او په اسلام کښې د نورو امتونو په نسبت د روژو ډیره ښکلے او جامعه طریقه رائج ده. ځکه چې په اسلام کښې هره نیکی په لسو نیکو قبلیږی نو په کال کښې دیرش روژے حدیث کښې راځی:

﴿مَنْ صَامَ رَمْضَانَ وَاَتْبَعَهَا سِتًّا مِنْ شَوَّالٍ كَانَ كَصِيَامِ الدَّهْرِ﴾(مسلم)

یعنې څوك چې د رمضان نه بعد شپږ روژې د شوال اونیسی نو دا

د ټول عمر روژے نیولو اجر او ثواب لري.

ګویا کښې دهٔ ټول کال روژے نیولي دی. ځکه چې دیرشو له په دس کښې ضرب ورکړے نو درے سوه او شپیته ترینه جوړیږی.

## د احسان تعریف او وضاحت:

دا رنګ په دے کښې د حج حکم هم دے او په هغے باندې هم ټول مسلمانان عمل کوی. دا شان پدې حدیث کښې د احسان متعلق تپوس کړے شوے دے او دا یو داسې فلسفه ده چې په دې سره د انسان په عباداتو معاملاتو حج روژے زکوٰة جهاد مونځ هر څېز کښې رونق او تازګی پیدا کیږی د دې مثال په شان د یو نوکر غلام دے چې کله مالك ورته په سرباندې ولاړ وی هغه ښهٔ په پوره مینې سره خدمت کوی دا شان کله چې د مسلمان دا عقیده وی چې الله ما ګوری او زهٔ د الله نه نهٔ شم غائب کیدے زما په هر یو حال باندې ورته خبردارے او علم دے نو بیا به دا مسلمان ګناه ،معصیت نهٔ کوی او د الله یو حکم به هم ترینه نهٔ پاتې کیږی هر حکم باندې به عمل کوی. دې ته حدیث کښې احسان او په قرآنی اصطلاح کښې تزکیه او عام خلق ورته تصوف وائی. چې احسان راشی نو د انسان عقیده او عمل درست شې اوبیا به آباد کور وجود ته راشی چې د هغے د فائدې نه انسان نهٔ محرومه کیږی.

الله تعالی دے مونږ ټول په دین اسلام باندې روان کړی.

# د دین اسلام اهمیت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿وَقَالَ تَعَالٰی اِنَّ الدِّیْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ۔﴾ (آلعمران:۱۹)

﴿وَقَالَ تَعَالٰی وَمَنْ یَّبْتَغِ غَیْرَ الْاِسْلَامِ دِیْنًا فَلَنْ یُّقْبَلَ مِنْهُ﴾ (آل عمران:۸۵)

الله تعالی په دې اٰیاتونو کښې انسان ته د زندګئ تیرولو طریقه ښائی. چې هغه دین اسلام دے نو که څوك خپله زندګي د دین اسلام نه علاوه په بله څۀ طریقه تیروی نو هغه الله تعالی ته قبول نه ده.

الله تعالی فرمائی: ﴿وَمَنْ یَّبْتَغِ غَیْرَ الْاِسْلَامِ دِیْنًا فَلَنْ یُّقْبَلَ مِنْهُ﴾

یعني چا چې د دین اسلام نه ماسواء بله لاره اختیار کړه نو هیڅ چرے به ترینه قبول نه کړے شی.

دا رنګ کله چې انسان د دین اسلام مطابق زندګي تیروی نو پوره پوره به په دین اسلام چلیږی. که هغه عبادات وی او که معاملات، که معاشرت وی او که سیاست وغیره

الله تعالی قراٰن کریم کښې فرمائی:

﴿یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا ادْخُلُوْا فِی السِّلْمِ کَآفَّةً﴾ (بقرة:۲۰۸)

یعني اے مومنانو ! په ایمان کښې پوره پوره داخل شئ.

اوس دین او شریعت څۀ ته وائی؟ او اٰیا دي دواړو کښې څۀ فرق شته که نه؟

نو دین او شریعت ځان ځان له مفهوم لری او کله چې دواړه یوځائ شی نو دین اسلام ترے نه جوړ شی.

دین په درے معنو سره استعمالیږی.

اول عزت او سلطنت

دویم حساب وکتاب او فیصله

دریم اطاعت او فرمانبرداری

نو دین دے ته وائی چې بنده به د الله تعالی بادشاهی منی، او عزت والا او فرمانروا به الله تعالی منی او اطاعت او عاجزی به صرف او صرف الله تعالی ته کوی.او د ورځ د سزا اوجزا فیصله کونکے به الله تعالی منی.

دا درے واړه معنے په اسلام کښې پرتے دی. نو که څوك دا درے واړه معنې بل چاله خاص کوی یعني د بل چانه یریږی او اطاعت او عاجزی بل چاته کوی نو دا دین اسلام نه دے بلکه بل څۀ دین به وی.

الله تعالی فرمائی:

﴿وَهُوَ الَّذِیۡۤ اَرۡسَلَ رَسُوۡلَهٗ بِالۡهُدٰی وَدِیۡنِ الۡحَقِّ لِیُظۡهِرَهٗ عَلَی الدِّیۡنِ کُلِّهٖ وَلَوۡ کَرِهَ الۡمُشۡرِکُوۡنَ﴾(توبہ:۳۳)

یعني الله تعالی هغه ذات دے چې خپل پیغمبرﷺ ئے په هدایت او حق دین باندے رالیږلے دے چې په ټولو دینونو ئے غالب کړی اګر که مشرکان دا بد ګنړی.

دارنګ فرمائی:

﴿وَقٰتِلُوۡهُمۡ حَتّٰی لَا تَکُوۡنَ فِتۡنَةٌ وَّیَکُوۡنَ الدِّیۡنُ کُلُّهٗ لِلّٰهِ﴾(بقرۃ:۱۹۳)

یعني دوی سره د شرك ختمیدو پورے جنګ اوکړئ او دے د پاره چې دین خالص د الله تعالی شی.

بیا د دے دین د تکمیل د پاره الله تعالی رسولان او کتابونه رالیږلے دي نو د دغے ټولو منلو ته دین اسلام وئیلے کیږی.

شریعت طریقے او لارے ته وئیلے کیږي.

الله تعالی هم فرمائی: ﴿لِکُلٍّ جَعَلۡنَا مِنۡکُمۡ شِرۡعَةً وَّمِنۡهَاجًا﴾(مائدہ:۴۸)

یعني دین چې په کومو لارو او طریقو سره خلقو ته رسی او د هغې ادائیږی چې په کومه طریقے سره کیږی نو هغے ته شریعت وئیلے کیږی.
نو د اٰدم علیه السلام نه واخله تر اٰخری پیغمبره پورے دین کښې د چا اختلاف هم نیشته خو په طریقه او لارو کښې اختلاف وو نو د هر پیغمبر طریقه بیا جدا جدا ده.

الله تعالی فرمائی: ﴿إِنَّ هٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً﴾(انبیاء:۹۲)

یعني دا ټول خلق یو امت وو.

البته شریعت د هر پیغمبر بیا جدا دے.

الله تعالی فرمائی: ﴿وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا﴾(مائده:۴۸)

یعني د هریو د پاره مونږ ځان له شریعت او د اتباع لاره ګرځولے ده.
لکه مونځ د موسٰی علیه السلام په دین کښې پنځوس مونځونه وو او زمونږ دین کښې پنځه دی.

دا رنګ زمونږ روژه د صبح صادق نه واخله تر د غروب اٰفتاب پورے ده او د زکریا علیه السلام روژه کښې خبرے هم بند وے.

نو مونځ او روژه دین دے خو طریقے ئے جدا جدا دي او دغے طریقو ته شریعت وئیلے کیږي.

د دې دواړو مجموعے ته دین اسلام وئیلے کیږی چې په دوو حصو تقسیم دي. یو عقائد دی او دویم اعمال دی.

عقائد لکه الله تعالی منل ، رسولان منل، قیامت منل وغیره

دا عقائد اجمالی طور باندې په ایمان مجمل کښې ذکر دی.

اعمال لکه ذکر ، عبادات، اخلاق وغیره

الله تعالی دې مونږ ته په دے باندې د عمل کولو توفیق رانصیب کړي. امین

# د دین اسلام اهمیت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰکُمْ عَبَثًا وَّاَنَّکُمْ اِلَیْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ﴾(مومنون:۱۱۵)

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِیَعْبُدُوْنَ﴾(ذاریات:۵۶)

﴿اَلْکَیِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهٗ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ وَالْعَاجِزُ مَنْ اَتْبَعَ نَفْسَهٗ هَوَاهَا وَتَمَنّٰی عَلَی اللّٰهِ اَوْ کَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ﴾(مسند ابوداوٗد طیالسی)

الله تعالی دَ مسلمانانو د پاره دا لازمي کړے ده چې په دین اسلام باندې به روان وی او دین اسلام به دَ دهٔ دستور العمل وی.

د داسے انسان سره الله تعالی د دنیا او د دین د کامیابئ وعدے کړی دی.

الله تعالی انسان خپلے مرضئ ته نهٔ دے پریښودلے بلکه انسان به د الله تعالی د حکمونو د لاندې زندګی تیروی.

د دے وجه دا ده چې په دنیا کښې دوه قسمه مخلوق اوسیږی. یو انسان او بل د انسان نه ماسواء کائنات.

الله تعالی د انسان نه ماسواء دا ټول کائنات د انسان په خدمت کښې لګولی دی او انسان ئے اشرف المخلوقات پیدا کړے دے.

الله تعالی فرمائی:

﴿وَلَقَدْ کَرَّمْنَا بَنِیْٓ اٰدَمَ وَفَضَّلْنٰهُمْ عَلٰی کَثِیْرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِیْلًا﴾

(الاسراء:۷۰)

یعني مونږ انسانانو ته عزت ورکړے دے او په ډیرو مخلوقاتو مې ورته فضیلت ورکړے دے.

بل ځائے فرمائی: ﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِيٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ﴾(التین:٦)

یعني الله تعالی انسان په یو بهترین قالب کښې جوړ کړے دے.

دا رنګ الله تعالی فرمائی:

﴿هُوَ الَّذِيْ خَلَقَ لَكُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا﴾(البقرة:٢٩)

یعني الله تعالی هغه ذات دے چې ستاسو د فائدے د پاره ئے په زمکه کښې هر څۀ پیدا کړی دی.

خلاصه دَ خبرے دا چې الله تعالی دا کائنات د انسان د فائدے د پاره پیدا کړے دی نو انسان الله تعالی د کوم مقصد دپاره پیدا کړے دے؟

اٰیا عبث پیدا کړے شوے دے.

الله تعالی فرمائی: ﴿اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا﴾(المؤمنون:١١٥)

یعني اٰیا تاسو دا ګمان کوئ چې ګنی مونږ تاسو عبث پیدا کړی ئے.

یا ګنی تاسو نه به تپوس نه کیږی.

الله تعالی فرمائی:

﴿اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ اَنْ يُّتْرَكَ سُدًى﴾ (قیامة:٣٦)

یعني اٰیا انسان دا ګمان کوی چې ګنی دې به هم دا رنګ بے کاره پریښودلے شی.

نو الله تعالی په درے اٰیاتونو کښې د انسان د زندګئ مقاصد ښودلی دی. کله الله تعالی فرمائی:

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنَ﴾(ذاریات:٥٦)

یعني مونږ جنات او انسانان د خپل عبادت د پاره پیدا کړی دی.

کله فرمائی.

﴿اَلَّذِيْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا﴾(هود:٧)

یعني الله تعالی هغه ذات دے چې ژوند او مرګ ئے دې د پاره پیدا

کړی دي چې په تاسو کښې کوم يو ښائسته عمل کونکے دے.
او کله الله تعالی فرمائی:
﴿اِهْبِطُوْا مِنْهَا فَاِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ مِّنِّيْ هُدًى فَمَنْ تَبِعَ هُدَایَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ﴾(بقرة:۳۸)

يعني تاسو ټول کوز شئے نو که چرته زما د طرف نه درته لار ښودونکے درغے نو چا چې ئے خبره اومنله نو په هغه باندې به هيڅ يره نه وی او نه به غمژن کيږی.

نو په اول اٰيت کښې د الله توحيد منل او په دويم اٰيت کښې ذکر د عمل صالح دے او په دريم اٰيت کښې د ژوند تيرولو ضابطه حيات ذکر کړے دے. چې قراٰن کريم دے.

دا درے واړه خبرے په حديث کښې هم ذکر دي.
﴿رَضِيْتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِالْاِسْلَامِ دِيْنًا وَبِمُحَمَّدٍ ﷺ نَبِيًّا﴾(مسند احمد)

يعني زۀ په الله تعالی باندې په اعتبار د ربوبيت سره او په اسلام په اعتبار د دين سره او په محمد ﷺ باندې د جهته د نبی نه راضی يم.

دا رنګ بل يو حديث کښې راځی چې قبر کښې به د درے خبرو په باره کښې تپوس کيږی.

يو: مَنْ رَبُّكَ؟ يعني رب دے څوك دے؟

او دويم : مَاتَقُوْلُ فِيْ حَقِّ هٰذَا الرَّجُلِ؟

يعني د دے پيغمبر په باره کښې دې څۀ خيال دے؟

او دريم: مَادِيْنُكَ؟ يعني دين دې څۀ دے؟ (مسند ابوداود طيالسی)

دے دريو تپوسونو کښې هم دغه درے واړه خبرے ذکر شوے دی.

دا درے واړه خبرے چې راغونډې شی نو دے ته دين اسلام وئيلے شی.

نو خلاصه دا چې الله تعالى درله دومره فضيلت درکړے دے نو اوس به د الله تعالى د قانون مطابق خپله زندګی تيروے.

په خپل عقل باندې انسان اعتماد نهٔ شی کولے ځکه چې انسان به يو کار ته ښه کار وائی خو هغه به ناکاره کار وی.

نو يو سړے ځان د پاره په خپله اصول جوړوی او بل د خالق په انتظار دے.

د انسان عقل ځکه کمزورے دے چې دهٔ ته د خپل ماضی معلومات نيشته ، هرڅهٔ ترينه هير وی.

دا رنګ اُئنده علم ئے هم محدود دے. ځکه چې دهٔ ته د صبا هيڅ پته هم نه لګی.

علی رضی الله عنه فرمائی:﴿عَرَفْتُ رَبِّيْ بِفَسْخِ الْعَزَائِمِ﴾

يعني زهٔ د يو کار اراده اوکړم او اوشی بل کار نو په دې سره ما خپل رب پيژندلے دے.

نو خلاصه دا چې د انسان عقل محدود دے ، د ټولو خبرو ادراك نه شی کولے.

او د الله تعالى علم هر څيز ته رسيدلے علم دے. په دين اسلام کښې د هر څيز حل شته دے.

نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمائی:

﴿فِيْهِ نَبَأُ مَا قَبْلَكُمْ وَخَبَرُ مَا بَعْدَكُمْ وَحُكْمُ مَا بَيْنَكُمْ﴾(سنن دارمی)

يعني په دين اسلام کښې د ماضی او مستقبل حالات دی او د انسان د ژوند تيرولو حل هم شته دے.

د دے وجے نه الله تعالى د انسان د زندګئ مقصد متعين کړے دے چې هغه درے خبرے دی.

د اللّٰه تعالی وحدانیت منل، د رسول رسالت منل او قرآن خپل امام ګڼړی.

نبی کریم ﷺ هم فرمائی:

﴿اَلْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهٗ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ﴾ (مسند ابوداود طیالسی)

یعني هوښیار سړے هغه دے چې خپل ځان اوپیژنی او د اٰخرت د پاره تیاری کوی.

دا مجموعه د دین اسلام ده. ځکه اللّٰه تعالی فرمائی:

﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا﴾ (مائده:۳)

یعني نن ورځ ما ستاسو د پاره ستاسو دین پوره کړو او په تاسو مې خپل نعمت پوره کړو او ستاسو دپاره مې دین اسلام خوښ کړو.

او بل ځائے فرمائی.

﴿وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِيْنَ﴾ (آل عمران:۸۵)

یعني چاچې د دین اسلام نه علاوه بل دین اختیار کړو نو هرګز به ترینه قبول نه کړے شی او دے به په اٰخرت کښې هم د تاوانیانو نه وی.

د دین اسلام نه ماسوا بل خودساخته دین خو څۀ کوی چې تیر شوی کتابونو باندې عمل هم ضروری نه دے بلکه صرف په دین اسلام به خپله زندګی تیروے.

یوځل عمر رضی اللّٰه عنه نبی کریم ﷺ ته د تورات یو صفحه راؤړه چې بنائسته خبرے وے پکښې. نو د نبی کریم ﷺ رنګ متغیر شو. عمر رضی اللّٰه عنه فورًا پوهه شو او زر ئے اوفرمائیل:

﴿رَضِيْتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِالْاِسْلَامِ دِيْنًا وَبِمُحَمَّدٍ ﷺ نَبِيًّا﴾ (مسند احمد)

نبی کریم ﷺ اوفرمائیل:

﴿وَالَّذِیْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ ﷺ بِیَدِہٖ لَوْ بَدَاءَ لَکُمْ مُوْسٰی علیہ السلام فَاتَّبَعْتُمُوْہُ وَتَرَکْتُمُوْنِیْ لَضَلَلْتُمْ عَنْ سَوَاءِ السَّبِیْلِ﴾(سنن دارمی)

یعني په دے وخت کښې که بالفرض موسی علیه السلام راشی او تاسو د هغه تابعداری شروع کړئ او ما پرېږدئ نو تاسو به د نیغے لارے نه خطاء شئ.

بیت المقدس چې کله د صحابو رضی اللہ عنہم په قبضه کښې راغے نو د یهودیانو مشرانو اووئیل چې مونږ ستاسو امیر سره ملاویږو. عمر رضی اللہ عنہ چې راغے نو د ملاقات په وخت ورته صحابه رضی اللہ عنہم فرمائی چې ستاسو په لباس کښې پیوندونه دی دا اوباسه. او چغه واچوه. هغه واچوله خو بیا ئے اوویستله.او وے فرمائیل:

﴿اِنَّا کُنَّا اَذَلَّ قَوْمٍ فَأَعَزَّنَا اللہُ بِالْاِسْلَامِ کُلَّمَانَطْلُبُ الْعِزَّ بِغَیْرِ مَا اَعَزَّنَا اللہُ اَذَلَّنَااللہُ﴾

یعني مونږه ډیر ذلیله قوم وو نو الله تعالی راته په اسلام سره عزت راکړو نو کله هم چې مونږ د الله تعالی د عزت نه ماسوا عزت په بل څهٔ کښې ګنړل شروع کړو نو الله تعالی به مونږ ذلیله کړی.

بهرحال اسلام په حیثیت د دین په مسلمان باندې منل فرض دی. او د دے مطابق به زندګی تیروی.

الله تعالی دے مونږ ته په دین اسلام باندې چلیدل اُسان کړی. امین

# د دین اسلام د اهمیت پنځه وجوهات

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿اَلْیَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِیْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَیْكُمْ نِعْمَتِیْ وَرَضِیْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِیْنًا﴾

(المائدة:۳)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ : اِنَّ اللّٰهَ قَسَّمَ بَیْنَكُمْ اَخْلَاقَكُمْ كَمَا قَسَّمَ بَیْنَكُمْ اَرْزَاقَكُمْ وَاِنَّ اللّٰهَ یُؤْتِی الدُّنْیَا مَنْ یُّحِبُّ وَمَنْ لَّا یُحِبُّ وَلَا یُؤْتِی الْاِیْمَانَ اِلَّا مَنْ یُّحِبُّ﴾

(مسند احمد)

## د اهمیت اسلام پنځه وجوهات:

دین اسلام باندې د عمل کولو پنځه وجوهات دی.

یو دا چې اسلام داسے دین دے چې د الله تعالی د علم په رڼرا کښې جوړ شوے دین دے.او د الله د علم نتیجه ده.

د دے په مقابله کښې چې کوم دینونه دی نو هغه د انسان د ناقص ذهن نتیجه ده. او په دې دواړو کښې موازنه کول اسان دی هغه دا چې د الله علم وسیع دے فراخه دے الله ته د تیرشوی مخلوقاتو موجوده او راتلونکو د ټولو علم ورسره دے او انسان په دې یو کښې هم لا تر اوسه پورې کمال ته نۀ دے رسیدلے. نو د انسان د نا قص علم نتیجه هم ناقصه ده.

دویمه وجه دا ده چې په اسلام باندې زندګی تیرولو او عمل کولو باندې الله تعالی راضی دے او د دے نه ماسوا هر دین هر مذهب هر وضعی قانون او دفعه الله ته نامنظور او غیر مقبول مردود ده. او الله ته د رضا سبب نۀ دے نور لا څۀ چه کۀ هغہ اسمانی دینونه ولے نه وی نو هغه هم د

اسلام نه بعد الله ته نامنظور دی او د انسان د خلاصۍ او نجات سبب او ذریعه نه شي جوړیدے دپ باندې الله تعالی اوس راضي نه دے. نو هغه باعث د نجات نه دی.

ځکه الله تعالی فرمائي:

﴿إِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْإِسْلَامُ﴾(آلعمران:١٩)

یعني قابل قبول دین په نیز د الله تعالی اسلام دے.

او بل ځائے فرمائي:

﴿وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِيْنًا﴾(مائده:٣)

یعني الله تعالی فرمائي چې ما تاسو د پاره دین اسلام غوره کړے دے.یعني که زۀ رضا کیږم نو صرف د اسلام په دین باندې رضا کیږم.

او بل ځائے فرمائي:

﴿وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ﴾(آلعمران:٨٥)

یعني چا چې د دین اسلام نه ماسوا بل دین اولټوو نو هرګز به ترینه قبول نۀ کړے شي.

دریمه وجه دا ده چې دین اسلام یو مکمل دین دے او نورو دینونو کښې څۀ نا څۀ نقصان شته دے.

الله تعالی قرآن کریم کښې د نبی کریمﷺ په ژوند کښې دا اعلان کړے وو.

﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ﴾(مائده:٣)

یعني نن ورځ ما ستاسو د پاره ستاسو دین مکمل کړو.

صحابه کرامرضی اللہ عنہم په دے ډیر زیات خوشحاله شوی وو حضرت ابوبکر صدیقرضی اللہ عنہ خفه وو چا ترینه تپوس وکړو چې ته ولے خفه ئے نن خو د خوشحالۍ ورځ ده هغه جواب ورکړو چې بے شکه چې نن د دین

مکمل کیدو د وجهے نه خوشحالی پکار ده خو چې کله هم دین مکمل شی نو پیغمبر ته بیا ضرورت نهٔ وی پاتې، دې وجے پیغمبر بیا په دنیا کښې ډیر ژوند نه تیروی نو زهٔ ځکه خفه یم او نور کفار خفه شوی وو دَ دغه آیت نازل کیدو د وجے۔

د عمرؓ په دور کښې یو یهودی عمرؓ ته اوئیل چې ستاسو په قرآن کښې یو داسے آیت شته دے چې که په مونږ نازل شوے وے نو مونږ به پرے اخترمناؤ کړے وے.

هغه آیت دادے: ﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ﴾(مائده:۳)

عمرؓ ورته اوفرمائیل چې ته خو یو اختر یادوے او مونږ پرے دوه اخترونه مناؤ کړی دی یو د اختر ورځ وه او دویم د جمعے ورځ وه. او د جمعے ورځ د مسلمانانو د پاره د اختر ورځ وی. ځکه چې په دې کښې کوم زیات ثواب دے که یو انسان د هغے نه خبر شی نو اختر به مناؤ کړی.

څلورمه وجه دا ده چې اسلام د دنیا او دین مادیت او روحانیت دواړو نه مرکب یو دین دے.په خلاف د نورو دینونو په یهودیت کښې صرف دنیا پرستی وه. مخکښې نه وه خو روسته بیا پیدا شوه د دې وجے نه نن معاشی نظامونه ټول د یهودو په مشرئ کښې دی. بل طرف نصرانیت چې په هغے کښې ترك دنیا یعني دنیا بالکل پریخودل دی هغوی وائی چې الله په دې رضا کیږی چې چرته ځنګل ته لاړشه یو غار ته لاړشه الله الله کوه او د دنیا،معاشرې تمدن او ثقافت سره څهٔ تعلق مهٔ ساته. ولے اسلام داسے دین دے چې نه د یهودیت په شان صرف دنیا او نهٔ د عیسائیت په شان ترك دنیا بلکه د دواړو ترمینځه په دنیا کښې ژوند تیرول او الله په دې طریقه رضا کول د اسلام تعلیم دے.

د یهودو مذهب صرف دنیا ګټل دي. او د نصاراؤ دین کښې محض

رهبانیت دے. یعني ترك دنیا.

اسلام د دواړو یو امتزاج دے.

سورة جمعه کښې الله تعالی د دنیا دَ مادیت او روحانیت دواړو بیان کړے دے.فرمائی:

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ﴾(الجمعه:۹)

یعني اے مومنانو! کله چې د جمعے په ورځ د مونځ د پاره اذان اوکړے شي نو د الله تعالی یاد د پاره راشئ او خپل کار روزګار پریږدئ. یعنې اول د الله حق ادا کړئ او بیا د تجارت لټون اوکړئ.

خو چې کله مونځ ختم شی نو بیا الله تعالی حکم کوی.

﴿فَاِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا فِي الْاَرْضِ وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ﴾ (الجمعه:۱۰)

یعني کله چې مونځ اوشی نو د الله تعالی په زمکه کښې د تجارت په غرض خوارهٔ شئ.

نو په اول اٰیت کښې حکم د دین د کار دے چې هغه د جمعے مونځ کول دي او په دویم اٰیت کښې د مونځ نه بعد د دنیا د ګټلو حکم کوی چې د مونځ د فراغت نه بعد بیا تجارت کوه او بال بچ له رزق ګټه.

## په نورو د ینونو کښې د تحریف وجوهات:

په خلاف د نورو دینونو که اسمانی وی اوکه غیر اسمانی وی په هغے کښې لفظی او معنوی تحریفات او تغیّرات تر نن ورځ پوري کیږی خو اسلام او قرآن بالکل په خپل اصلی صفا شکل کښې تر نن ورځ پورې محفوظ دے او د باطل لاس دې ته نشی رسیدے. د یهودو نقصان دا دے

چې دَ دوی نه بالکل په اوله زمانه کښې د دوی مذهبی کتاب اغستے شوے وو او څومره کالونه تورات د دشمن په لاسونو کښې وؤ ځکه دې بې غیرتو د دین څۀ پرواه نۀ وه کړې دنیا پرسته خلق وو او دنیا ئے مقصد وو نو الله ترینه خپل نعمت واغستو او محرومه ئے کړل او بیا روسته د دوی نه د بخت نصر په زمانه کښې په اور باندې تورات سوزیدے وو روسته ملایان صاحبان راغونډ شو او مشوره ئے اوکړه چې دا خو ډیره لویه بے عزتی ده چې مونږ سره خپل د ژوند د تیرولو کتاب نشته او یو کتاب ئے مرتب کړو د هغے نوم دے تالمود اوس هغه توراة نشته تالمود د دوی په نزد د تورات خلاصه ده.

دارنګه انجیل لکه څنګه چې الله رالیږلے وو هغه قسم یوه نسخه په دنیا کښې نن نشته چې کوم چه په عیسٰي علیه السلام نازل شوے وو او نن هم پکښې ډیر زیات تحریف دے دومره تحریف چې هر کال چهاپ کیږی او هر چهاپ د بل نه بدل وی.

بل په کومه ژبه چې الله توراة او انجیل نازل کړې وو هغه ژبه هم نه ده محفوظ توراة په عبرانئ کښې او انجیل په یونانئ ژبه کښې وو خو نن صبا په اردو انګلش ژبه کښې چلیږی نو داسے دین چې د هغې تعلمیات ، احکام ، ژبه او کتاب هیڅ محفوظ نه دی عمل وربانديې پکار دے او که نه ، عمل په داسې دین پکار دے چې د هغے بنیادی عقائد ،اعمال ، احکام ،معاملات ،ژبه ،قرآن اوحدیث هر څیز محفوظ دی.

پنځمه وجه دا ده چې دین اسلام د اول ورځ نه واخله تر اوسه پورے د هر قسم تغیر او تبدل نه محفوظ دے ځکه چې د حفاظت ذمه واری ئے الله تعالی اغستے ده.

الله تعالی فرمائی:

﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾ (الحجر:٩)

یعني مونږ قرآن کریم نازل کړے دے او مونږ به د دے حفاظت کوو.

او د اسلام نه ماسوا چې څومره ادیان دی په هغے کښې تغیر او تبدل شوے دے او دا ځکه چې د هغے ذمه داری الله تعالی په خلقو اېښودلے وه.

تورات نن په دنیا کښې نیشته ، دهغے په ځائے خودساخته کتاب تالمود چلیږی او انجیل خو د سره محفوظ نه دے بلکه په کومه ژبه چې نازل شوے وو نو هغه هم محفوظ نه ده.

## د هارون الرشید په وقت کښې د یو یهودی اسلام:

د هارون الرشید بادشاه په دور کښې به د علماء کرامو یو مجلس کیدو چې په هغے کښې به هر چا ته د شرکت اجازت وو. یو یهودی به هم دغے مجلس کښې کیناستو.

یو ورځ د مسلمانانو په لباس کښې دا یهودی راغے نو چا ترے تپوس اوکړو چې څۀ رنګه دې د مسلمانانو لباس اچولے دے؟ نو هغه جواب ورکړوچې زۀ مسلمان شوے یم.

او د اسلام وجه ئے دا بیان کړه چې ما د دین په باره کښې د هغے د حقانیت معلومولو د پاره یوه طریقه اختیار کړه.

اول مې تورات اولیکه او ځاې په ځاې مې پکښې د خپل ځان نه تغیر اوکړو. او د یهودیانو عبادت خانے ته مې یوړو نو هغوی ئے صفت اوکړو او رانه ئے په ښه قیمت واغستو.نو هغه تحریف شده تورة کار امد شو او خوښ شو.

بیا مې انجیل اولیکه او ځاې په ځاې مې پکښې د خپل ځان نه تغیر اوکړو. او د عیسایانو عبادت خانے ته مې یوړو نو هغوی ئے صفت اوکړو او رانه ئے په ښه قیمت واغستو. نو هغه تحریف شده انجیل هم په روپیو واغستلے شو.

بیا مې قرآن کریم اولیکه او ځاې په ځاې مې پکښې تغیر اوکړو او مسجد ته مې یوړو او علماء کرامو ته مې ورکړو. هغوی چې کله اوکتلو نو لیکل ئے ډیر خوښ شو خو چې کله ئے زما غلطئ ګیرے کړے نو زه ئے ډیر زیات اووهلم او واپس ئے کړو راته. چې د دې په فلانی سورة کښې فلانئ خبرې خو نشته فلانے ایت غلط دے.

دے نه ماته پته اولګیده چې حق دین ، دین اسلام دے نو اسلام مې قبول کړو.

## اسلام څه ته وائی:

ځکه الله تعالی فرمائی چې ژوند به د اسلام مطابق تیروئے او الله تعالی ته بل دین، بل مکتب، بل قانون، مقبول نه دے ځکه هغه محفوظ هم نه دی.

﴿وَمَنۡ يَّبۡتَغِ غَيۡرَ الۡاِسۡلَامِ دِيۡنًا فَلَنۡ يُّقۡبَلَ مِنۡهُ﴾(آلعمران:۸۵)

د اسلام نه بغیر بل عمل، بل دستور، بل آئین، بل قانون چې څوك جوړوی الله ته قبول نۀ دے. اوس دا دین اسلام څۀ ته وائی.

دین اسلام درے خبرو ته وئیلے کیږي.

یو عقیده، چې یو مسلمان بحیثیت مسلمان و مؤمن د دۀ عقیده نظریه به څۀ وی ، دے به په څۀ باندې بهروسه، یقین او اعتماد کوی دویم اعمال، دا مسلمان به څۀ اعمال په دنیا کښې کوی. اعمال به ئے څۀ

وی عبادات به ئے څۀ وی او د عبادت طریقه به ئے څۀ وی. او دریم د ژوند تیرولو قانون.د الله قانون اوکه نا د ځان نه جوړ کړے شوے قانون.

دا درے خبرے ډیرے اهمے دی ځکه به په قبر کښې هم د دے تپوس کیږی او پیغمبر ﷺ هم فرمائی چې سحر او ماښام دا دعا وائے.

﴿رَضِيْتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَّبِالْاِسْلَامِ دِيْنًا وَّبِمُحَمَّدٍ ﷺ نَبِيًّا﴾(مسند احمد)

ړومبۍ خبره په الله تعالی باندې ایمان لرل دی.

## اسلام د اباد کور په شان دے:

ایمان عقیدے ته وئیلے شي. نو ایمان په مثال د بنیادونو دے دې نه بغیر دین نه شی اباد کیدے ځکه د بنیاد نه بغیر زمکه شاړه وی هغه د عمارت قابله نه وی. او عمل په مثال د ستنو دے او د ستنو او دیوالونو نه بغیر هم عمارت ناممکن دے بلکه هغے ته پلاټ وائی آباد کور ورته نه وائی. او قانون په مثال د چهت دے بغیر د چهت نه آبادۍ ته کهنډر وئیلے کیږی د هغے نه څۀ مقصد نه حاصلیږی.

هر یو د یو بل د پاره لازم او ملزوم دی.

نو دین هم یو عقیده او ایمان دے او بل عبادات او عمل دے او اسلامی قانون او شریعت ئے په حیثیت د چهت دے.

## بغیر د ایمان نه عمل فائده نه لری:

قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی چې که د چا ایمان او عقیده درسته او صحیح نه وی نو د عمل څۀ فائده نشته.

﴿وَقَدِمْنَآ اِلٰى مَا عَمِلُوْا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنٰهُ هَبَآءً مَّنْثُوْرًا﴾(فرقان:۲۳)

یعني دوی چې کوم عمل آخرت ته لیږلے دے نو هغه به زه دل دول کړم.

دارنګ مشرکین مکه به هم نیك عملونه کول خو چې عقیده ئے صحیح نه وه نو الله تعالی هلاك کړل.

الله تعالى فرمائی:

﴿اَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَآجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ﴾ (توبہ:۱۹)

يعني الله تعالى په دوى باندې رد كوى چې په دے عملونو مو الله تعالى نه بخښى ځكه چې عقيده كښې ئے فرق وو.

د حاجيانو به ئے ډير خيال ساتلو په خپلو لاسونو باندې به ئے ورته خوراك څكاك وركولو او جوماتونه به ئے آبادول د حلال مال نه او د حرامو مال به ئے پكښې نه قبلولو صرف حلال به ئے خرچ كولو او د سود مال هم به ئے نه اغستو دا حطيم چې ورته وائى دا د بيت الله حصه ده خو ولې د هغوى سره مال حلال كم شو نو دا حصه ئے باهر پريخوده.

دا رنګ ابوجهل پنځه پنځوس حجونه كړى وو خو چې عقيده ئے صحيح نه وه نو ځكه كافر د دنيا نه تير شو.

حضرت عائشه رضی اللہ عنہا د نبى كريم صلی اللہ علیہ وسلم نه د جاهليت د زمانے د يو نيك سړى په باره كښې تپوس اوكړو چې په زمانه جاهليت كښې يو سړے وو چې نوم ئے ابن جدعان وو. او نيك عملونه ئے كول چې په خلقو به ئے رحم كوو او مسكينانو ته به ئے خوراك وركولو. نو آيا دۀ ته به دا عمل څۀ فائده وركړى؟

نبى كريم صلی اللہ علیہ وسلم ورته اوفرمائيل چې نه ځكه چې دۀ چرے هم د الله تعالى نه د ګناهونو په باره كښې بخښنه نه وه غوښتې.

علامه نووى رحمۃ اللہ علیہ فرمائى چې مراد د دے نه ايمان دے. يعني د دۀ ايمان نۀ وو او عقيده ئے درسته نۀ وه ځكه ئے الله تعالى دغه عمل بےځايه كړو.

الله تعالى دے مونږ ته د صحيح ايمان راوړلو توفيق رانصيب كړى. امين

# د اسلام خصوصيات

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ ۚ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ۔ فَإِن زَلَلْتُم مِّن بَعْدِ مَا جَاءَتْكُمُ الْبَيِّنَاتُ فَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾

(البقرة:١٦٨))

## اسلام کښې پوره داخليدل:

د قرآن پاك څۀ حصه تلاوت شوه په دې کښې الله اهل ايمان ته خطاب کوی او د الله رب العزت يو حکم بيانيږی. اے ايمان والو د اسلام په دائره کښې پوره پوره داخل شئ، داسے نه وی چه په خُله باندې د اسلام دعوی کوے او په زړۀ او غاړه کښې د اسلام دائره نه وی په هيڅ يو مقام کښې د اسلام د دائرے نه باهر نه شئ، د اسلام د اقرار نه بعد د اسلام د دعوی نه بعد او د اسلام د قبوليت نه بعد به د اسلام هر وړوکے او غټ حکم ته به غاړه ږدے او مکمل به په دې دائره کښې داخليږے. بالفاظ ديګر مسلمان به د اسلام ايمانيات، عبادات، معيشت، اخلاق، اقتصاد، سياست هر څۀ منلو او تسليمولو ته به ذهنی، عملی، اعتقادی، نظرياتی تيار وی.

نۀ به د دې انسان عقيده د اسلام د دائرې نه باهر وی چه عقيده د عيسائيت يا يهوديت يا کميونسټ يا دَ بل نظام نه واخلی او دغه شان اعمال عبادات به هم د اسلام نه باهر نه وی، د هندو مت پوجا پاټ به د اسلام عبادت نه وی او نه به د عيسائيت طور طريقه په اسلام کښې او نه

بل او نه بل، دغه شان اخلاق به هم د اسلام وی، سیاست به هم د اسلام وی، غیر اسلامی سوشلسټ یا سیکولرزم نظام سیاست به نه وی. بیا دغه اسلام به الله ته منظور نه وی او نه به معتبر وی چه څۀ د قرآن او حدیث نه او څۀ د غیر نه د بل مذهب او بل مذهب نه اغستلے شوی وی.ځکه الله فرمائی:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً﴾(بقرة:۲۰۸)

اے ایماندارو په اسلام کښں پوره پوره داخل شے او که څوك پوره پوره نه داخلیږی نو د هغوی په باره کښں قرآن کښں الله فرمائی:

﴿ وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴾(آل عمران:۸۵)

که څوك د اسلام نه علاوه بل ژوند، بل نظام، بل طرز زندګی اختیار کړی د دۀ نه به قبول نشی.

## د اسلام دوه غټ خصوصیات:

بیا د اسلام یو دوه غټ خصوصیات دی بطور تمهید وائم دا خصوصیات په بل دین کښں نشته دے.

یو دا چې اسلام په خپل اصلی صورت کښں موجود دے لکه څنګه چې د آسمان نه اسلام نازل شوے وو په همدغه اصلی شکل و صورت بغیر د څۀ رد و بدل نه نن هم زمونږه سره دغه آسمانی مذهب شته دے او په خپل اصلي شکل کښں موندلے کیږی. قرآن د پیغمبر سیرت، صورت، سنت روز اول نه تر د نن پورے موجود دی قرآن، لکه څنګه چې د آسمان نه نازل شوے دے بغیر د څۀ تبدیلے نه هیڅ یو حرکت یو حرف په دې کښں بدل شوے نه دے قرآن، حدیث ،وحی ټول محفوظ دی قرآن کښں الله فرمائی:

﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾(حجر:۹)

ما قرآن نازل کړے دے او مونږه د دې حفاظت کوؤ.

دا د اسلام یو لوے خصوصت دے او د اسلام یو لوے کمال دے دا یو دومره آسان کار دے د اسلام د حقانیت د اثبات د پاره چې یو محقق، مناظر، عالم خو لا څۀ کوے که عام یو امتی، جښ سړے دا دعوی اوکړی نو هغه هم د اسلام دا معجزه د بحث مباحثې نه بغیر ثابتولے شی او یقینی کولے شی ځکه دا قرآن چه د کله نه نازل شوے دے او بیا د نبی ﷺ په دور کښ اولیکلے شو، بیا د ابو بکر الصدیق رضی اللہ عنہ په دور کښ یو مصحف کښ راجمع شو بیا د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ په دور کښ په یو لغت کښ اولیکلے شو نن هم دغه نسخه په ماسکو کښ محفوظه پرته ده، که څوك دغه مخطوطه چهاپ کړی نو نور قرآنونه او دغه قرآن کښ به زره برابر د زبر زیر د حرکت یا حرف فرق نه وی دا د دې دین یو خصوصیت دے. د دې مقابله کښ تورات اسمانی کتاب وو، انجیل اسمانی کتاب وو، زبور اسمانی کتاب وو، هندوانو او سیکهانو مذهبونه روستو خبره ده چه دغه اسمانی کتابونه هم په سر د زمکے هیچ چرته نه ملاویږی چه څوك اووائی چه دا هغه اسمانی کتاب دے کوم چه په عیسی او موسی علیهما السلام باندې نازل شوے وو برائے نام دعوی کوی خو یقینًا ثابتولے نشی چه دا هغه کتاب دے . کتاب غټه خبره ده یو آیت نشی ثابتولې چه دا هغه آیت دے چې یقینًا په عیسی علیه السلام نازل شوے وو.

## دویم خصوصیت مکمل مستقل نظام:

دویم غټ لوے خصوصیت د اسلام دا دے چې اسلام یو لوے جامع مکمل نظامِ حیات دے نورو مذهبونو یا دینونو کښ داسے جامعیت او کمال نشته کوم چې الله اسلام ته ورنصیب کړے دے.

پیغمبر پاك د حجة الوداع په موقع ولاړ دے او آیتونه نازلیږی:

﴿ اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا﴾(مائدہ:۳)

دا دین مکمل دے مکمل څۀ معنی؟ مکمل دا معنی چه د انسان څومره ضرورتونه دی یا د انسان د ژوند چه څومره پهلو ګانے دی یا څومره شعبے دی د دې تمامو رهنمائی په دین اسلام کښ موجود ده.
لکه څنګه چې ابتداء کښ ذکر شو چې د مسلمان که د عقیدے، نظریے، ایمان خبره وی نو دا په مکمل توګه اسلام کښ موندلے کیږی بل څۀ فکر، مذهب عقل ته اسلام په نظریه کښ محتاج نه دے چې مونږه د هغوی نه څۀ نظریات، عقائد راواخلو مونږه خود کفیل یو بله عقیده مونږ لره پکار نه ده. دغه شان په عباداتو کښ زمونږه شریعت مونږه داسے خود کفیل کړی یو چې مونږه ته په نظام عبادات کښ د بل چا نه د عبادت راغستلو هیڅ ضرورت نشته ټول د ثواب کارونه زمونږه دین مونږ ته ښودلی دې او د هغے تعلیم ئے راته راکړے دے.

په اخلاق، معاملات، سیاست کښ هم مسلمان چا ته محتاجه نه دے پوره اخلاقی نظام، پوره اقتصادی نظام، پوره سیاسی نظام او حکومتی نظام قرآن او سنت او خلفائے راشدینو داسے بیان کړے دے او داسے وضاحت او تشریح ئے ورله کړې ده چه مونږه هیڅ مذهب هیڅ دین یا قوم ته په دې څیزونو کښ ضرورت او احتیاج نه لرو. ځکه الله فرمائی:

﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ﴾

دین د ژوند نظام ته وائی او دا الله پوره کړے دے او د دې نه بعد مسلمان به بل چا ته نه پسخیږی او نه به بل نظام قانون سره مینه او محبت کوی.

## د اسلام بې قدري او نا شکرې:

ځنګه چې مونږه په دې خيزونو کښې بل چا ته محتاجه نه يو دغه شان په تهذيب، شکل و صورت، کلچر او تهوار او رسم و رواج کښې هم نه مونږه مغرب ته محتاجه يو، نه يورپ ته او نه فرانس ته محتاجه يو بلکې په دې ټولو طور طريقو کښې مستقل يو (الحمد لله) د مسلمان او د اسلام به يو خپل تهذيب وی يو خپل کلچر به وی او که داسے نه وی نو بيا د اسلام دين کيدل يو نيمګړے تصور دے.

او په دې خبره مونږه زور ځکه ورکوؤ چې نن صبا برائے نام مسلمان عقيده د هندوانو سيکهانو، شيګانو او مشرکانو نه اغستے ده دغه شان په عباداتو کښې مونږه د بدعاتو شکار شوی يو، په تهذيب او ثقافت و تمدن کښې د يورپ او مغرب طور طريقو نه مونږه تصور اغستے دے دا زمونږه نا شکری ده او بې قدری ده چه مونږه ئې کوؤ اوس په دې نوی دور کښې په مسلمانانو کښې نوی بدعات رسومات رو‌ج اخلی، کله وائی دا فلانے ډے ده، کله وائی دا کرسمس ډے ده، کله وائی دا هيپی برتھ ډے ده، کله بله ،کله بله دا ټول رسومات مسلمان د خپل دين نه د غفلت د وجے نه اختيار کړی دی، کله ويلنټائن ډے او کله نيو ائير نائټ ډے افسوس دا دے چه مسلمان هم دا ورځے په ښه زور او شور سره مناووی. ويلنټائن ډے مطلب يوم محبت، يوم عشق په دې ورځ د ځوان نارينه او زنانه پردې ماتې شی يو بل ته د ګلونو هارونه اميلونه تحفې تحائف ورکوی، دا خبرې د مغرب او يورپ نه په دې مسلمانانو کښې راغلی دی دا خبرې د مسلمانانو په مينځ کښې رواج کول او خورول مغرب کوی. او دا ځکه چې کله د مسلمان نه حياء لاړه شی نو بے حيائې او ايمان نه راجمع کيږی بيا مسلمان بے ايمانه کول ډير آسان دی مسلمان د ايمان نه خالی کول بيا

ډیر آسان دی د دې د پاره هغوی دې ځیزونو ته فروغ ورکوی او د دې د پاره بله طریقه نه وه ځکه اسلام ډیر حساس دے د زنا په باب کښې دنیوی سزا ئے هم ښودلے ده نو هغوی په دې مقصد کښې کامیاب کیدلو د پاره د زنا اسبابو له فروغ ورکوی دا خلق د محبت په نوم اباحیت خوری، اباحیت مطلب دا چه هر څۀ جائز دی هر څۀ کوه پرواه نشته. نه دین ته نقصان رسی نه حیاء او عزت ته څۀ تاوان کیږی.

## د یو قوم سره مشابهت:

حالانکه دا ځیزونه نه شرعًا جائز دی او نه عقلًا جائز دی شرعًا ځکه ناجائز دی حدیث کښې راځی:

﴿مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ﴾(مسند احمد)

ځوك چه د مغرب طور طریقه او تقلید خپل کړی دا د هغوی نه دے او بل دا چې اسلام په خپله مکمل نظامِ حیات دے خپل تهذیب، کلچر لری، تمدن مستقل لری دې ځیزونو ته ورکې ضرورت نشته د اسلام د تمدن او تهذیب بنیادی عنصر حیاء ده او دغه یوم محبت د اسلام په بنیاد باندې حمله آور کیږی ځکه مغرب غواړی چه د امریکې او یورپ په شان معاشره د مسلمان هم جوړه شی لکه څنکه هلته یو انسان ته د خپل پلار نوم نه ورځی چه زما پلار ځوك دے چې د هغه په نوم باندې زما شناخت او زما د نسب او نسل معلومات کیږی دغسے د مسلمان د پلار نوم هم نه وی معلوم. و العیاذ بالله.

نو آخری نتیجه به دا وی چه نن که مسلمان خپل خور، لور ته د حیاء او پاکدامنے او عفت او عزت درس ورکوی بیا به دغه خور، لور ته د مسلمان په معاشره کښې د مانع حمل ذرائع او اسباب د هغوی د تعلیم حصه وی. او که بیا دانشواران دا خبره کوی چه ویلنټائن ډے خو څۀ بده

خبره نه ده ځکه هر طرف ته نفرتونه دی، بغض او کینه ده که یوه ورځ یو سړے د مور، خور، ښځے، لور سره دوستے سره د مینې محبت اظهار اوکړی نو څهٔ بده خبره خو نهٔ ده دا خبرے صرف د جهالت خبرے دی. صرف یوه ورځ د مور سره محبت ټول عمر محبت نه وی او بس یوه ورځ د مینے او محبت د پاره خاص کول عجیبه خبره ده، دا نه شرعاً جائز دی او نه عقلاً جائز دی دا کوم شریعت دے دا کوم عقل دے چه صرف د یوې ورځې د مینې او محبت تعلیم ورکوی. رشته داری د اللّٰه یو عظیم نعمت دے او د دې نعمت شکریه په دې معمولی برائے نام محبت سره نه ادا کیږی.

## اسلام کښې جائز محبت:

اسلام همیشه د محبت تعلیم ورکوی خو د محبت خپلے دائرے دی د خپلے مور سره محبت په یوه طریقه د ښځے سره په بله طریقه د لور، خور سره په بله طریقه د یار، دوست سره جائز محبت د رشته دارو سره مینه محبت خو شریعت کښې دا چرته نشته چه یو انسان دې اجنبي یا اجنبیه ته سور ګلاب ورکړی یا په دغه ورځ دې ورته تحفه ورکړی.

بهر حال دا تعلیم شریعت نه ورکوی مغرب کښې نه دین شته نه مذهب شته نه شریعت شته او نه انسانیت شته او نهٔ د انسان بحیثیت انسان قدر شته. بلکه یو آزاد ځناور د انسان په شکل هلته شته دے چې هغه ته د هر څهٔ خپل اختیارات دی.

تپوس والا نشته نه معاشره شته او نه خاندانی نظام شته ځکه هغه خلق کله پیرنټ ډے د مور پلار د پاره ورځ،کله ویلنټائن ډے بس دا د دوی حق وی چه دغه حق په کال کښې یو ورځ په نعرو سره ادا شی او بس. او په دې طریقو دنیا سره دهوکه کوی چه مونږه د انسانیت د حقوقو علمبردار یو دا لویه دهوکه ده. د ویلنټائن ډے په نوم بےحیائی عام کول او

پیرنتې ډے په نوم د مور او پلار نه آزادی، جدائی او براءت اختیاروی. زمونږه شریعت خو تر مرګه د مور پلار خدمت لازم کړے دے.

بهر حال خبره دا وه چه اسلام کامل، مکمل یو نظام حیات دے په عقیده، سیاست، معیشت الغرض هر څۀ کښې بل چا ته محتاجه نه دې الحمد لله ، مسلمان لره پکار دی چه د دې زر خرید میډیا په آوازونو باندے دهوکه نشی او آئینده نسل هم د دې نه محفوظ کړی او ښه په مطمئن زړۀ سره د اسلام د احکاماتو پابند شی.

# نعمت اسلام

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّاَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ﴾ (مومنون:۱۱۵)

﴿وقال تعالى: وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنَ﴾ (ذاريات:۵۶)

﴿وقال تعالى: اَلَّذِىْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا﴾ (ملک:۲)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: اَلْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهٗ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ﴾

(مسند ابوداود طيالسی)

## اسلام د نیك بختئ علامه:

په دنیا کښې په انسان باندې د الله تعالى ډیر لوئے انعامات او احسانات دی خو په د ے ټولو کښې لوئے انعام دین اسلام دے چې یو انسان ته الله تعالى د اسلام والا عقیده او د اسلام والا اخلاق او د اسلام والا عمل ورنصیب کړی نو د دې نه بل غټ او لوئے نعمت په دنیا کښې نشته. چاته چې الله توفیق ورکړی نو دا ډیره د خوش بختئ علامه ده.

اوس دا دین اسلام خپل قانون جوړول او د دے مطابق زندګی تیرول د کامیابئ یقیني ذریعه ده او که څوك د دې نه خلاف ژوندون غواړی نو دا لویه د تاوان والا خبره ده. دَ خسر الدنيا والاخرة مصداق دے. او دا رانګه کله چې انسان د خود ساخته نظریاتو د خپل ناقص عقل او سوچ او د بې کاره تصور د لاندې ژوند غواړی او دا ځان د پاره ضابطه حیات قانون او لاره ګرځول غواړی نو بیا هم خپل مقصد ته نه شی رسیدے د دین اسلام برعکس زندګي تیروی نو دا انسان به ناکام وی.

اوس دا سوال ذهن ته راځی چې دا انسان الله تعالی ولے اٰزاد نه دے پریخښے؟

## دنیا کښې دوه قسمه اشیاء:

نو د دے د پوهے د پاره بطور تمهید دا پیژندل ضروری دی چې په دنیا کښې دوه قسمه اشیاء دی.

یو انسانان اوبل دا نور مخلوقات دی.

نو دا نور ټول مخلوقات چې په هغے کښې حیوانات، نباتات جمادات هر هغه څیز چې انسان ته په نظر راځی او د انسان عقل هغے ته رسیدلے شی دا ټول الله د انسان د پاره الله مسخر او تابعدار کړځولی دی. الله تعالی د انسان په خدمت کښې لګولے دی او دا انسان د دے ټولے دنیا مجازی اٰقا دے.

نو دا رنګ انسان اشرف المخلوقات هم دے.

الله تعالی فرمائی.

﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيْ اٰدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَحْرِ وَالْبَرِّ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلٰى كَثِيْرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيْلًا﴾(اسراء:۷۰)

یعني مونږ بنیادم له عزت ورکړے دے او په ډیرو مخلوقاتو مو ورله فضیلت ورکړے دے.

او کله فرمائی: ﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ﴾(التین:٦)

یعني انسان مونږ په ښکلے خلقت کښې پیدا کړے دے.

نو خلاصه دا چې دا ټول کائنات د انسان د فائدے د پاره پیدا کړے شوی دی .

الله تعالی فرمائی:﴿هُوَ الَّذِيْ خَلَقَ لَكُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا﴾(بقرة:۲۹)

یعني الله تعالی هغه ذات دے چې ستاسو د فائدے د پاره ئے د

زمکے په سر هر څۀ پیدا کړی دی.

اوس دا انسان الله تعالی د څۀ د پاره پیدا کړے دے ؟

## دانسان د ژوند مقصد:

کۀ څوك اووائی چې د انسان د ژوند څۀ مقصد نشته او اٰیا دا انسان عبث پیدا کړے شوے دے ؟ نو الله د دې سوال په حقیقت او جواب کښې فرمائی:

﴿اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّاَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ﴾(المومنون:۱۱۵)

یعنې اٰیا تاسو داسے ګمان کوئ چې ګنی مونږ تاسو عبث پیدا کړی ئے ستاسو د ژوند او پیدائش څۀ مقصد نشته ؟اوماته به تاسو نه واپس کیږئ.

دا رنګ فرمائی: ﴿اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ اَنْ يُّتْرَكَ سُدًى﴾(القيامة:۳۶)

یعنې اٰیا انسان دا سوچ کوی چې ګنی دے بے کاره پیداکړے شوے دے او دۀ ته به د الله د طرف نه څۀ حکم نه وی او د څۀ نهٔبه منع کول نه وی؟

نو د دے مطلب دا دے چې داسے هرګز نه ده چې ګنی انسان الله تعالی عبث اوبے کاره پیدا کړے دے بلکه د انسان د زندګئ مقصد شته دے.

صرف خوراك څکاك که چرته د دنیا سوچ لرونکی خلق وائی چې انسان د دے دپاره پیدا دے چې څۀ اُوخری او څۀ اوڅکی خائسته لباس او پوشاك واغوندی،په نقش اونګار واله کورکښ ورځ او شپه تیره کړی په غټو غټو بنګلو ګاډو باندې فخر او مستی اوکړی نو دا د اخرت نه نۀ دی یریدونکي او نه دا د الله سره د مینے او تعلق لرونکو خلقو سوچ دے او دا د الله د کتاب او پیغمبر اسلام والا تعلیم نه دے. یا بچی کیدل وغیره د انسا ن مقصد وی نو دا کار خو د انسا ن نه زیات حیواناتو کښې ډیر

دے. ځکه چې د انسان نه زیات خوراك څکاك کوی د دنیا عزت، د مال دولت کثرت او د جسمانی طاقت په زور په یو بل باندې اوچت والے کول او بل سپك ګنړل..

او دغسې د انسان نه بچی هم ډیر زیات راؤړی او دغسې یو بل باندې په زور او قوت سره غالبه کیږی هم نو دا څیزونه په دی کښې کمال ګنړل بے وقوفی او حماقت دے چې انسان د حیوان سره په دې صفاتو کښې یوشان والے اوکړې.؟

## د انسان د ژوند درے اهم ضروری مقصدونه:

نو الله تعالی د انسان د زندګئ درے اهم مقاصد بیان کړی دي یو دا چې لکه څرنګه چې حیوان ځناور ژوند کوی او بس نور څۀ مقصد نشته انسان او ځناور یو برابر دی!!.

الله تعالی فرمائی.چې دا پیژندل د انسان دپاره ډیر زیات ضروری او اهم دی صرف خوراك څکاك ،ښځه، بچی ،سرمایه، دنیا ابادول بس دا پیژندل دا مقصد دے نا هیڅ کله نا، نا دا مقصد خو ځناور د انسان نه په ډیر ښه طریقے سره کوی او پیژنئ ئے.

## د اول مقصد بیان:

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنَ﴾(ذاريات:۵۶)

یعني مونږ جنات او انسانان د خپل بندګئ دپاره پیدا کړی دي.

## د دویم مقصد بیان:

خائسته اور درست عمل کول.دا رنګ فرمائی.

﴿اَلَّذِىْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا﴾(ملک:۲)

یعنې الله تعالی دا ژوند او مرګ د دے د پاره پیدا کړې دې چې په

تاسو باندې امتحان اوکړی چې په تاسو کښې ښائسته عمل والا څوك دے. دارنګ فرمائی:

## د دریم مقصد بیان:

چې الله ادم علیه السلام ته بیان کړے وو هغه دا چې دَ یو قانون پابندی کول او د هغے د لاندې ژوند تیرول دی.

﴿ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّيْ هُدًى فَمَنْ تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴾(بقرة:۳۸)

یعنې که زما د طرف نه تاسو ته څۀ هدایت راغے نو چا چې د دغے هدایت تابعداري اوکړه نو په اٰخرت کښې به پرے هیڅ یره نه وی او په دنیا کښې به نه غمژن کیږی.

دا درے خبرے د انسان د ژوند مقاصد دی.

یو د الله تعالی توحید منل .

دویم د شریعت مطابق عمل .

او دریم د الله تعالی په قانون باندې ژوند تیرول.

## ددې مقصدونو تعلیم په احادیثو کښې:

دا درے خبرے نبی کریمﷺ په شکل د دعاکښې هم ښودلے دی.چې په دې سره ایمان تازه کیږی او انسان ته د ژوند او مرګ د مقصدونو یاد دهانی کوی هغه دا دعا ده.

فرمائی: ﴿ رَضِيْتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَّبِالْإِسْلَامِ دِيْنًا وَّبِمُحَمَّدٍ ﷺ نَبِيًّا ﴾(مسند احمد)

یعنې اے الله ! زه ستا په رب کیدو او داسلام په دین کیدو او د محمدﷺ په نبی کیدو باندې راضي یمه.

یعنې عقیده د توحید ، قانون د اسلام اوعمل د نبی کریمﷺ د

طريقے مطابق كول دا د انسان د زندګئ مقصد دے.

نو دا كلمات د سحر په وخت كښې وايه چې كله دكان ته ځې يا تجارت يا يوبل دنياوى ضرورت پوره كولو د پاره د دې د پاره چې مقصد درته ياد وى چې دا مقصد دے او دا زه چې څۀ كوم دا يو عارضى ضرورت دے. دا رنګ په قبر كښې به هم د دے دريو ځيزونو تپوس كيږى.

يو دا چې من ربك ؟ يعني ستا رب څوك دے؟

او دويم دا چې من نبيك ؟ يعني ستا نبى څوك دے؟

او دريم تپوس ما دينك ؟ يعني ستا دين څۀ دے؟

نو مطلب دا چې په قبر كښې به هم د دريو خبرو تپوس كيږى.

يو به د عقيدے د توحيد تپوس كيږى.

دويم به د عمل تپوس كيږى چې په كومه طريقه دے كوو؟

او دريم به د دے تپوس كيږى چې قانون دے كوم ځيز جوړ كړے وو؟

آيا د انګريز په قانون باندې مطمئن وي اوكه سوشلزم باندې ستا يقين وو او كه نه سيكولر ازم باندې راضى وى او كه دكميونسټ آرتهيسټ كارل ماركس، لينين ، فريډوك په لاسو ستا په عقل لوبې كيدې بل طرف ته صرف په خوله دعوىٰ كوې چې قران او اسلام زمان قانون دے نو دے له تا په ژوند كښې د عمل څۀ حصه وركړې وه او كه نه صرف يو خبره وه! تا خپل رهنما او ملګرے د الله كتاب ګرځولے وو او د پيغمبرﷺ تعليماتو باندې دې څۀ عمل كړے وو اوكه نه!

## دلوې ذات خلاف د انسان د بغاوت اسباب:

دا د ژوند بنيادى مقصد وو دا د ژوند اهم مقصود وو الله كتابونه ددے دپاره نازل كړى وو او پيغمبران ئے د دې د پاره راليږلى وو انسان ته

روح او عقل د دې دپاره ورکړے شوے وو چې عقيده د توحيد عمل د پيغمبر د طريقے مطابق او قانون د الله تسليم كول چې هر حكم د الله ته غاړه كيږدي. او دې ته اسلام وائي كوم خالق چې تا ته دا كائنات مسخر كړے وو كوم ذات چې ستا خپو ته دا دنيا ذليله كړے وه كوم عظمت والا چې ستا د معمولي حيثيت والا لاسونو ته سخت مضبوط مخلوقات لاندي كړے وؤ نو دهغه ذات قانون منل د هغه د رسول په طريقه ژوند كښې عمل كول او د هغه معرفت حاصلول دا د انسان د ژوند مقصد دے. او كه د دې مخالفت كوى نو بيا دا انسان لوې مجرم بغاوت كوؤنكى او غارت ګردے.

## د انسان او د حیوان په ژوند کښی فرق:

كوم يو كس چې په زمكه د الله باندې ګرځي او خوراك د الله د رزق نه كوى او يو يو ساه د الله په عطا كړے شوے بدن او روح باندې اخلي او بيا هم د الله قانون نه پيژني، په دنيا كښې چې څومره انسانان دى كه هغه سيكھ دے، هندو دے، عيسائى دے، يهودى دے او كه دهرى دے نو د هر يو دپاره څۀ نه څۀ اصول شته دے د ژوند كولو دپاره خو څوك حقيقى اصولو باندې د زندګۍ بنياد كيږدى لكه مسلمان او څوك صرف د خپل تګى زړۀ او ړندې ستركو د يخوالى د پاره سوچ كوى دارنګه حيوان هم دا نه ګورى چې چرته كيناستو چرته ئ شپه تيره كړه چرته ئے خوراك اوكړو څه ئے اوخوړل دۀ ته نقصان وركوى اوكه فائده نو انسان چې د الله د تعليماتو نه باهر شى نو د دې څيزونو تميز بيا نه كوى.

اوس كه يو انسان په خپل عقل ځان له مقصد جوړول غواړى نو په دے كښې به ناكامه كيږى ځكه چې د انسان معلومات كم دى. دۀ ته د خپلے ماضئ معلومات نيشته .دا خو څۀ چې يو سړے د ديرش كالو دے

هغه ته د دي معلومات نشته د شپيتو کالو دے هغه ته د دي معلومات نشته. دارنګ أئنده علم ئے هم محدود دے نو دومره محدود دے چې د صبا حالات ورته نه دي معلوم .

حضرت علی رضی اللہ عنہ فرمائی: ﴿عَرَفْتُ رَبِّيْ بِفَسْخِ الْعَزَائِمِ﴾

يعنی ماخپل رب په دے اوپيژندو چې زه د کوم کار اراده اوکړم نو هغه نه کيږی بلکه الله تعالی چې څۀ غواړی نو هغه کيږی. د شپې په وخت يوه اراده اوکړم او صبا بيا بل کارکيږی.

نوخلاصه داچې د زندګئ مقصد صرف هغه ذات مقررکولے شی چې دا انسان ئے پيدا کړے دے.او د دۀ د خير او شر نقصان او فائدے باندې علم لورنکے ذات دے د دۀ ماضی، حال، او مستقبل حال ورته معلوم دے.او الله تعالی داسے دين راليږلے دے چې په هغے کښې دا ټولے خبرے شته دے.

نبی کریم ﷺ فرمائی:

﴿فِيْهِ نَبَأُ مَا قَبْلَكُمْ وَخَبَرُ مَا بَعْدَكُمْ وَحُكْمُ مَا بَيْنَكُمْ﴾(سنن الدارمی)

يعني په دے دين کښې د مخکښې او روستو حالاتو خبر شته دے او د انسانانو د پاره پکښې فيصلے هم شته دے.

د دنيا په نظر کښې هوښيار او چالاک هغه څوك دے چې دروغ وائی رشوت ، سود ، دهوکه بازی ، د حلالو او حرامو تميز نه کوی د بل عزت باندې لوټ مار کوی خو په دين کښې هوښيار هغه دے چې مقصد اوپيژنی.

د دے وجے نه نبی کریم ﷺ فرمائی:

﴿اَلْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ﴾(مسند ابوداود طیالسی)

يعني هوښيار سړے هغه دے چې ځان اوپيژني او د اٰخرت دپاره تيارے اوکړی.

نو تیارے به د دین اسلام په رنړا کښې وی نو که څوك په بل دین چلیږی نو هغه الله تعالی ته منظور نه دے.

## اسلام څه ته وائی:

اسلام څۀ ته وائی اسلام دي ته وائی چې انسان په دنیا کښې د الله معرفت حاصل کړی او د هغه د پیغمبرﷺ طریقه ژوند او عمل اوکړی قانون بہ ئے د الله حکم وی.

﴿وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِيْنًا﴾(آل عمران:۸۵)

یعني مونږ تاسو له دین اسلام غوره کړے دے.

اوڅوك چې په بل شریعت عمل کوی نو د هغے باره کښې الله تعالی فرمائی:

﴿وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ﴾(آل عمران:۸۵)

یعني چا چې د دین اسلام نه ماسوا بل دین بل قانون بله طریقه د ژوند دپاره اختیار کړه نو هرګز به ترینه نه قبلیږی.

## د حضرت عمر رضی الله عنہ واقعه او د نبیﷺ ارشاد:

یو ځل حضرت عمر رضی الله عنہ د نبی کریمﷺ په مخکښې د توراة یو څو ښائسته کلمات اولوستل او وے فرمائیل چې څۀ ښائسته نصیحتونه دي پکښې په یو روایت کښې دي چې مونږ له دا اجازت شته چې دا قسم خبرې د تورات نه رانقل کړو. نبی کریمﷺ ډیر زیات غصه شو صحابی رضی الله عنہ وائی چې مخ مبارك ئے د ډیرې غصې د وجے نه متغیرشو، سور شو. نوعمر رضی الله عنہ فورا اوفرمائیل.

﴿اَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ غَضَبِ اللهِ وَغَضَبِ رَسُوْلِ اللهِﷺ﴾

(مسند ابوداود طیالسی)

يعني زه د الله تعالى او د نبى كريمﷺ د غصے نه پناه غواړم او بيا ئے فورا دا هم اوفر مائيل چې

﴿رَضِيْتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَّبِالْاِسْلَامِ دِيْنًا وَّبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا﴾(مسند احمد)

يعني زه د الله تعالى په ربوبيت ، د اسلام په دين كيدلو او د نبى كريمﷺ په نبى كيدلو باندې راضى يم.

دا كلمات حضرت عمر رضي الله عنه د دې د پاره اووئيل چې زما د ژوند مقصد بغير د قران او پيغمبر نه بل هيڅ څيز نه دے نو د دې وجے نه ئے دا كلمات ووائيل:

په دغه موقع نبى كريمﷺ اوفرمائيل:

او قسم ئے اوكړو والذى نفسى بيده يعنې قسم په هغه ذات چې زما روح د هغه په دست قدرت كښې دے.

﴿لَوْ تَدْعُ لَكُمْ مُوْسٰى فَاتَّبَعْتُمُوْهُ وَتَرَكْتُمُوْنِيْ لَضَلَلْتُمْ عَنْ سَوَاءِ السَّبِيْلِ﴾ (سنن الدارمى)

يعني كه نن ورځ تاسو ته موسى عليه السلام دعوت دركړى او تاسو ئے اومنئ او ماپريږدئ نو تا سو به د نيغے لارے نه گمراه شئ.ولے موسى عليه السلام خوك دے د الله يو عظيم جليل القدر پيغمبر دے خو د محمد رسول اللهﷺ په موجودگئ كښې د هغه اتباع كول گمراهى ده ځكه چې اوس حكم د الله دا دے چې رسول الله ﷺ اتباع دې اوكړے شى نو دا د ژوند قانون دے چې د الله په حكم باندې چليدل دى. نو دا رنگ د تورات اتباع د قران په موجودگئ كښې او د تورات نه څۀ خبرې رانقل كول او د ژوند طريقه گرځول د قرآن موجودگئ كښې گمراهى ده.

## عزت په دين اسلام كښې دے:

كله چې بيت المقدس فتح كيدو نو د كافرو مطالبه دا وه چې د

مسلمانانو امير دِ راشي نو مونږ به بغير د جنګ نه ورته دا پريګدو نو مسلمانانو ورته خالد بن وليد رضي الله عنه ورمخې ته کړو يهودو ټولو اووئيل چې دهٔ کښې هغه ټول علامات شته چې زمونږ په کتابونو کښې ذکر دی خو د دهٔ په سترګو کښې لږ فرق دے صحابه کرام رضي الله عنهم پوهه شو چې دا خو عمر فاروق رضي الله عنه د دوی مراد دے. نو کله چې عمررضي الله عنه راغے د کافرو سره مخامخ کيدو نه مخکښې ورته صحابه رضي الله عنهم وائی چې اے امير المؤمنين د کافرو سره مخامخ کيدل دی او ستا په دې کپړو کښې چې پيوندونه لګيدلی دی. نو ته د اُوښ په ځائے په اَس باندې سور شه او مونږ سره قيمتي د غنيمت د مال کپړې دی دا واچوه هسې نه چې دشمن تاسو ته سپك نظر اوکړی.

د صحابو رضي الله عنهم په اسرار باندې هغه نوي کپړے واغوستی او په اس باندې سور شو لږ شان چې مخکښې لاړو نو يو دم فوراً ئې د اَس نه ټوپ اووهلو او ډير په تيز اواز ئے اووئيل چې هلاك شو عمر هلاك شو عمر!!! بيا ئے خپلې زړے شليدلے کپړي واغوستي او د يهودو سره په هغے کښې مخامخ شو نو هغوی اووئيل چې قسم په الله دا هغه سړے دے چې د دهٔ ذکر په تورات کښې راغلے دے چې دا به بيت المقدس فتح کوی. دا رنګ په يو موقع عمر فرمائيلے وو۔

﴿إِنَّا كُنَّا اَذَلَّ قَوْمٍ فَاَعَزَّنَا اللهُ بِالْإِسْلَامِ وَكُنَّا نَطْلُبُ الْعِزَّ بِغَيْرِ مَا اَعَزَّنَا اللهُ اَذَلَّنَا اللهُ﴾

يعني مونږ مخکښې ذليله قوم وو نو الله تعالی راته د اسلام په ذريعه عزت راکړو او کله چې هم مونږ د اسلام نه ماسوا په بل څيز کښې عزت اولټوو نو الله تعالی به مونږ دوباره ذليله کړی.

الله تعالی دې مونږ په صحيح دين اسلام باندې روان کړی. امين

# اسلام یو مکمل دین دے

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ادْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً وَّلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ﴾(بقرة:۲۰۸)

## د اسلام هدایت او رهنمائی:

د سورت بقره یو آیت ستاسو مخکښ تلاوت شو په دې کښ الله رب العزت مونږه ته یو لوے حکم کوی اے ایمان والو په اسلام کښ پوره پوره داخل شئ او د شیطان د قدمونو تابعداری مهٔ کوے ځکه دا شیطان ستاسو ښکاره دشمن دے. د اسلام نه د اړولو کوشش کوی په دین اسلام کښ به انسان د الله د حکم تابعدار وی او د شیطان تابعداری به ورکې نهٔ وی لکه څنګه چې دین اسلام یو مکمل قانون نظام او تهذیب دے د اسلام دشمن عناصر او جاهله مسلمانانو سوچ دا دے چه اسلام بس جومات اومدرسے پورے محدود دے او اسلام صرف د یو څو عبادتونو، ریاضتونو او عقیدو نوم دے او د معاشرتی معاملاتو د زندګئ تمامو شعبو سره د اسلام څهٔ تعلق نشته دا د مغرب سوچ هم دے او زمونږ ناپوهه مسلمانان هم دا تأثر ورکوی ځکه الله رب العزت په دې آیت کښې هم دا حکم کوی چې ﴿اُدْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً﴾(بقرة:۲۰۸)

په دین اسلام کښ پوره پوره داخل شئ

نو اسلام یو مکمل دین دے داسے مکمل دین چې دین اسلام مونږ د ژوند په هیڅ یو شعبه کښې بل طرف ته محتاجه کړی نه یو. مونږه

الحمدلله د دین په اعتبار سره د نظام او قانون په اعتبار سره داسے برابر او پوره یو چې بل دین او نظام او قانون ته محتاجه نۀ یو او دا به زمونږه کم علمی، کوتاهی او کمزوی وی چه مونږه د خپل دین نه خبر نۀ یو ورنه اسلام د ژوند په هره مرحله کښې زمونږه رهنمائی کړے ده.

او دین اسلام په خپله مستقل یو مکمل تهذیب دے دا خبره د مغرب غلطه ده چې د اسلام تهذیب د روم او یونان نه اغستلے شوے دے ځکه اسلام بذات خود مکمل دین دے ځکه قرآن کښې باربار اسلام لره د دین لفظ استعمالیږی لکه دې آیت کښې

﴿اُدْخُلُوْا فِی السِّلْمِ كَآفَّةً﴾(بقرة:٢٠٨)

په دین اسلام کښې پوره پوره داخل شئ

او ځکه الله فرمائی:

﴿وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ﴾(آلعمران:٨٥)

کۀ د اسلام نه علاوه بل نظام زندګی څوک غواړی دا نۀ قبلیږی.

نو اسلام دین دے زمونږه بدقسمتی دا ده چې مونږه د خپل دین نه خبر نه یو ځکه د اسلام متعلق زمونږ تصور ډیر محدود دے.

## ټول عالم ته هدایت ورکولو والا رسول:

او بیا الله پیغمبر اسلام صرف جومات د پاره نه دے مبعوث کړے، صرف یو قوم، قبیلے یا عربو د پاره الله نه دے مبعوث کړے بلکه الله هغه د تمامو انسانانو او پیریانو د اصلاح د پاره دنیا ته رالیږلے وو. نو پیغمبر عالمی دے د هغۀ دین هم عالمی دے، آفاق نۀ دے دغه شان مونږه د دیندارے په باره کښې چه کوم تصور لرو دغه تصور غلط دے. چې یو انسان نوافل کوی نو بس دا دینداره دے نور په معاشره کښې څنګه دے، معاملاتو، اخلاقیاتو کښې څنګه دے. په جمات کښې چه څنګه دین دے

دغه شان په بازار کښې به هم دا دین وی او معاشره معاملاتو کښې به هم دا دین وی تر دې پورې چه د اقتدار په کرسئ او په سیاست کښې به هم دین وی.

اسلام صرف یو مذهب نه دے ځکه مذهب د عبادت طور طریقے ته وائی او اسلام صرف عبادت نه دے بلکه مکمل قانون حیات دے او د ژوند نظام دے، نو اسلام به په حیثیت دَ دین منل غواړی صرف په حیثیت دَ مذهب به انسان اسلام نه منی مذهب د اسلام شعبه او څهٔ حصه ده خو پوره دین نه دے مسلمان به هله دین داره وی چه د هغهٔ معاشره، بازار، معاملات، اخلاقیات هر څهٔ برابر او درست وی.

## ایمان او عمل د اسلام بنیاد:

اوس د اسلام مکمل نظام حیات څنګه دے په اسلام کښې څهٔ خبرې دی چه د مکمل ژوند انسانی حل په کښې شته دے. اجمالی لحاظ سره دوه خبرې دی او که لږ تفصیل واغستلے شی نو بیا شپږ خبرے دی. اجمالی دوه خبرے دا دی یو ایمان دے او بل عمل دے ځکه الله چه کله هم د کامیابئ ، د جنت د حقدارئ او د آخرت د خوشحالئ خبره ذکر کوی نو ایمان او عمل صالح ورسره ذکر کوی:

﴿وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ﴾(بقرة:۲۵)

او عمل صالح صرف مونځ ، اودس ته نهٔ وائی بلکه بیا د دې د پاره لفظ د عبادت استعمالول پکار وو. د عبادت دائره محدوده ده او د عمل دائره وسیعه، کهولاؤ او فراخه ده. ایمان خو ظاهره خبره ده چه عقیده نظریه به مسلمان د الله په باره کښې څهٔ لری د رسالت نبوت په باره کښې، د آخرت جنت دوزخ په باره کښې به مسلمان څهٔ عقیده لری او دویم څیز عمل صالح پنځه خبرے دی.

یو عبادت لکه مونځ ، اودس، ذکر، تلاوت وغیره، دویم اخلاقیات بهترین اخلاق، سلوک، احسان، رشتیا، شکرګزاری، صبر داسې نور څهٔ صفتونه ورسره.

دریم معاملات لین دین، تجارت، ملازمت،خریدوفروخت وغیره.

څلورم معاشره ده د کور ګاونډ، د حجرې، جمات ژوند څنګه دے.

پنځم سیاست او ریاست وحکومت به په کوم طرز وطریقه باندې وی.

نو دا هر څهٔ عمل دا څیزونه به د شریعت مطابق وی او د دې آیت مطلب دا دے چه په اسلام کښې پوره داخل شئ دا شپږ خبرے عملی کړے او په دې کښې مونږه پوره برابر خودکفیل یو په دې کښې مونږه هیڅ یو فرد، ملک ،دولت ته محتاجه نه یو.

## د اسلام مثال د یو آباد کور دے:

او د مکمل دین اسلام مثال اکثر قرآن او حدیث کښې الله د آبادئ یا د یو خیمے سره ورکړے دے. دې آبادئ کښې هم دغه شپږ څیزونه وی، یو بنیاد چې هغے ته عقیده وائی که بنیاد د عقیدے نهٔ وی نو دا نور عمارت به کمزورے وی دغه شان د هغه انسان ایمان په معمولی پریشانئ یا دهمکئ سره کمزورے کیږی د چا عقیده چې برابر نه وی. دویم د عمارت څلور دیوالونه او بل چهت. دا څلور دیوالونه یو د عبادت دیوال بل د اخلاقو دیوال او بل د معاشرت دیوال او بل د معاملاتو دیوال او دا بره چهت ورباندے حکومت او سیاست دے بیا په دې کښې حسن رونق په روحانیت، تعلق مع الله سره پیدا کیږی اوس دې کښې به کمے کیږی چه کومه حصه ورنه کمه شی که عقیده نشته نو بے بنیاده اسلام دے که یو دیوال کم دے نو نقصانی عمارت دے او که چهت ورباندې نشته نو تش کهنډر دے. دا د اسلام مکمل تشریح ده .

## د اسلام نه بې خبري:

دراصل نن چې مسلمان د بل درته کچکول نیولے دے نو دا د دې وجے نه چې دا انسان د اسلام نه پوره خبر نه دے. ده ته اسلام بحیثیت نظام حیات متعارف شوے نه دے نو ځکه سیاست، حکومت کله د مغرب نه، کله د یورپ نه او کله بل چاته لاس اوږدوی. دغه شان معاشره د برطانیه وغیره نه، معاملات د چین او نور کفری ملکونو نه اخلی. وجه دا ده چه دا انسان د پوره اسلام نه خبر نه دے. دهٔ ته دا پته نشته چې اسلام دا هرځهٔ په خپل کور کښې مستقل لری ځکه الله فرمائی:

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً﴾ (بقرة:۲۰۸)

اے ایمان والو په اسلام کښې پوره داخل شئ.

د اسلام په موجودګئ کښې بل چاته ځان مهٔ محتاجه کوے.

والحمدلله رب العالمین.

# دین څه شیز دے؟

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿وَقَالَ تَعَالٰی وَلَوْ کَانُوْا یُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالنَّبِیِّ وَمَا اُنْزِلَ اِلَیْهِ مَا اتَّخَذُوْهُمْ اَوْلِیَآءَ وَلٰکِنَّ کَثِیْرًا مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ﴾(مائدہ:۸۱)

﴿ اَلدِّیْنُ اَلنَّصِیْحَةُ قِیْلَ لِمَنْ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ لِلّٰهِ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِکِتَابِهٖ وَلِاَئِمَّةِ الْمُسْلِمِیْنَ وَعَامَّتِهِمْ. اَوْ کَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ۔﴾(مسند احمد)

## د دین اهمیت:

په دے دواړو وحیو کښې الله تعالی او رسول مونږ ته خپل دین ښائی.ځکه که یو سړے دعوی د دین اسلام کوی نو د دهٔ دپاره دین پیژندل ډیر ضروری دي. چې آخر دا انسان په کوم یو طریقه،ملت او دین باندې روان وی آخر دا څهٔ شیز دے. کهٔ یو انسان په خپله خُلهٔ ډیرې دعوې کوی او دَ خپل دین نه ناخبره وی نو دا په صحیح معنی کښې دین دار او حقیقی مسلمان نهٔ شی جوړیدے. چې دا دین د کومو شیزونو مجموعه ده؟ د دے پیژندګلو ضروری ده.

د دین په باره کښې الله تعالی او رسول په دے اٰیاتو نو کښې درے شیزونه ښودلي دی.

په منافقانو رد کوی او مومنانو ته خبردارے ورکوی چې د دوی دا دعوی دین نه دے او دا بے کاره خلق دی. دا خلق د الله او د رسول نه علاوه د کافرانو مشرکانو یهودیانو او نصارنیانو سره مینه محبت لری او که دا تعلق الله او رسول سره وے نو ډیر د خیر خبره به وه.

## یو ایت کښې د ټول دین بیان:

الله تعالیٰ فرمائي:

﴿وَلَوْ كَانُوْا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالنَّبِيِّ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ﴾(مائده:۸۱)

یعني دین د درے څیزونو مجموعه ده.

یو الله تعالی منل ، دویم نبی کریم ﷺ منل ، دریم کتاب یعني قرآن کریم منل. نو بیا به دا خلق د کافرانو او مشرکانو سره د تعلق او دوستانې نه محفوظ وے که دوی پدی باندې پوره یقین کړے وے.

## په حدیث کښې د دین بیان:

دارنګ حدیث کښې نبی کریمﷺ دین د خیر خواښے نوم ګرځولے دے. صحابه کرامؓ ډیر عجیبه خلق وو او د امت سره دهغوی ډیر لوې احسان دے چې په کوم ځائے کښې سوال تپوس کولو ضرورت وو نو په خپله ئے ځان د نبیﷺ نه پوهه کړے دے او بیا تر قیامته پورې راتلونکې مسلمانانو ته ئے هم رسولے دے صحابهؓ تپوس کوې(لِمَنْ) د چا د پاره دین خیر خواښی ده. بیا تفصیل د خیرخواښے ئے په دارنګ کړے دے چې خیر خواښې د الله تعالی او رسول او کتاب او امیر او د عامو خلقو د پاره ده او دا مکمل دین دے.

نو دا درے خبرے په دے حدیث کښې هم راغلی دی.

## دین د درے خبرو نوم دے:

اولنۍ عقیده د الله تعالی د ایمان ده. چې یو د الله تعالی وجود منل دې چې هغه په دې ټول کائنات کښې تصرف کوی او څوك ئے چې نه مني نو هغوی ته د دهریت فلسفه وائی د اسلام فلسفه دا نهٔ ده نو چې کله هم تهٔ دا تسلیم کړے چې دا ټول رنګ برنګ نظام په خپل اختیار او ارادې

سره نۀ چليږی نو بيا دا هم منل چې دغه ذات يو واحد تنها ذات دے شريك نۀ لری او دا د كلمے معنی هم ده. په ذات صفات او افعالو كښې الله يو منل. او دويم دالله تعالی وحدانيت منل دی.

د الله تعالی وجود منل عقلی مسئله هم ده ځكه چې په دنيا كښې يو وړه كارخانه بغير د چلونكو نه نۀ چليږي نو دا لوے كائنات به څۀ رنګه په خپله چليږی. د دے كائنات چلونكے شته دے او دغه چلونكے ذات يو دے چې په اسلام كښې د الله تعالی په نوم بللے شی.

## دايمان راوړولو څه مطلب دے:

قرآن او حديث كښې چې كله هم په الله تعالی باندې د ايمان تذكره راشی نو مراد به ترينه دا دواړه صفات منل لازم وی. چې يو وجود د الله تعالی دے او دويم وحدانيت د الله تعالی.

دے نه علاوه د الله تعالی نور صفات هم دی خو د هغے شميره ناممكنه ده. كه دا ټولے اونے قلمونه شی او دا ټول درياbونه سياهي شی بيا هم دا به ختم شی او د الله تعالی صفات به ختم نه شی.

﴿مَا نَفِدَتْ كَلِمَاتُ اللهِ﴾ (لقمان:۲۷)

## جامع صفتونه دوه دی:

دا ياد ساتل پكار دی چې د الله تعالی د صفاتو خلاصه او نچوړ دوه خبري دی. په صفاتو كښې دوه صفات داسې دی چې نورو صفاتو ته شامل دی. يو علم د الله تعالی او دويم قدرت د الله تعالی.

## دعلم د صفت تفصيل:

د الله داسې قسم علم دے چې د بل چا سره نشته او نه څوك مخلوق د الله دَ علم حقيقت ته رسيدلے شی

﴿وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ﴾ (بقرة:۲۵۵)

هاں که الله اوغواړی نو یو پیغمبر ته د وحی په ذریعے سره څۀ معلومات ورکولے شی. او د الله او د مخلوق د علم په مینځ کښې فرق کولو د پاره الله په قرآن کښې د علم غیب سره تعبیر د خپل علم نه کوی د الله غیبی علم د الله د غیبو والا علم الله چا ته ندے ورکړے قرآن کریم دې علم ته نوم د علم غیب ورکړے دے.

سورة نمل کښې الله تعالی نبی کریم ته فرمائی.چې امت ته دې دا عقیده اُوښایه:

## د الله علم څنګه دے:

﴿قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ﴾ (نمل:۶۵)

یعني اووایه خپل امت ته چې بره په اسمانونو کښی څومره فرشتے او ښکته په زمکه څومره زنده سر دی او دغسي د زمکے د لاندې مړی دی یعني په اسمانونو او زمکو کښې چې څومره مخلوقات دی فرشتے، ارواح، مړی،پیغیمبران،پیریان،اولیائے کرام هیڅ څوك هم په غیبو باندې نه پوهیږی ﴿ اِلَّا اللّٰهُ﴾ صرف یو الله ته معلوم دی عالم په هر څۀ باندې الله دے او په غیبو باندې پوهیدونکے یو الله دے. یو دیوال نه بل طرف ته مونږ ته علم نشته ډیر څیزونه چې زمونږ د سترګو نه پټ دی مونږ پرې نه پوهیږو داسے څومره څیزونو ته چې مونږ په آلاتو او اسبابو سره نه شو رسیدے نو د هغے علم ته رسائی مونږ نه شو کولے عاجزه یو هاں که الله راته خبر راکړی چې قیامت برحق دے جهنم او جنت یو موجود حقیقت دے او نور ډیر څیزونه دي چې په قران یا احادیثو کښ ذکر شوی دی. الله تعالی سره په علم غیب کښې شریك نیشته.

## پیغمبر هم د الله په شان علم نه لري:

دا علم الله تعالی په دنیا کښې څوك خو لاڅۀ کښے چې خپل برګذیده پیغمبرانو ته ئے هم نه دے ورکړے.
ځکه په قرآن کریم کښې پیغمبر فرمائی:
﴿قُلْ لَّآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِیْ خَزَآئِنُ اللّٰهِ وَلَآ اَعْلَمُ الْغَیْبَ﴾(انعام:۵۰)
یعني ماته علم غیب حاصل نه دے. او ځکه حاصل نه دے چې
﴿وَلَوْ كُنْتُ اَعْلَمُ الْغَیْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَیْرِ﴾(اعراف:۱۸۸)
یعني که ماته علم د غیبو وے نو مابه ځان ته ډیر خیر رسولے وو.

## اوله واقعه:

یو ځل نبی کریمﷺ مونځ کولو چې لړم اوچیچلو نو نبی کریم اوفرمائیل: ﴿لَعَنَ اللّٰهُ الْعَقْرَبُ﴾(ابن ماجه)
چې الله تعالی دې لړم هلاك کړي. چې نبیﷺ لره هم ټك ورکوی.نو علم د غیب ورسره نه وو ځکه ئے په لړم لاس کیخودو.

## دویمه واقعه:

دارنګ یو ځل یو یهودنړې ښځے نبی کریمﷺ لره دعوت ورکړلو او په غوښه کښې ئے ورته زهر ملاؤ کړی وو. جبرائیل علیه السلام د هغے د مزید خوراك نه منع کړو. اُم المؤمنین وائی چې د هغے اثر تر مرګ پورې په نبی علیه السلام باندې همیشه وؤ نو که پیغمبر په غیبو باندې پوهه وے نو قصدًا او عمداً به ئے زهر آلوده خوراك ولے کوو؟ نعوذ بالله.
نو که نبی کریمﷺ عالم الغیب وے نو پکار دي چې د دے پته ورته د مخکښې نه لړیدلے وے. نو دا صفت د علم غیب د الله سره

خاص دے قرآن کښې الله فرمائی: ﴿عَلِيۡمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوۡرِ﴾ د سينو په رازنو باندې خبردار ذات يو الله دے.

## جادوګر په علم غيب نه پوهيږی:

حديث کښې راځی چې يهودو کښې يو ماشوم پيدا شو او د هغه نوم ابن صيّاد وو کهانت او جادوګری به ئے کوله د غيبو خبرے به ئے خلقو ته کولے. نبی ﷺ به وئيل چې زۀ يريږمه هسے نه چې دا دجال وی حديث کښې راځی چې:

﴿ مَامِنۡ نبیٍ اِلَّا وَقَدۡ حَذَّرَ اُمَّتَهُ الدَّجَالِ﴾ (مسند ابوداؤد طیالسی)

هر يو پيغمبر خپل امت د دجال نه يرولے دے نو دا کس د غيبو دعوی کوی هسے نه چې دا دجال وی ځکه په غيبو پوهه ذات يو الله دے او دجّال به هم ځان ته خدائے وائی. العياذ بالله.

نبی کريم ﷺ ئے ملاقات له ورتلو نو عمر رضی اللہ عنہ ته ئے اوئيل چې زه به ورته دا اٰيت يادوم چې زما زړۀ کښې څۀ دي. هغه آيت دا دے.

﴿ يَوۡمَ تَاۡتِى السَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِيۡنٍ﴾ (الدخان:۱۰)

چې کله ورغے نو تپوس ئے ترے اوکړو چې زما زړۀ کښې څۀ دي؟ نو هغه اووئيل چې ﴿دخ دخ﴾

نو نبی کريم ﷺ ورته اوئيل ،چې لرے شه ! ماخو دا اٰيت اولوستو که يو کس دا اعتراض اوکړی کم از کم ابن صيّاد ﴿دُخ،دُخ﴾ خو اووائيلو نو زمونږ محدثين د دې جواب داکوی چې اصل د سينې په راز باندې الله پوهيږی او د نبی ﷺ په سينه د سورة دخان مکمل ايت وو خو شيطانان کله کله يوه خبره د انسان معلومه کړی او سل دروغ ورسره يو ځائے کړی لکه څنګه چې د اسمان نه به شيطانانو د فرشتو د فيصلو خبر کله معلوم کړو اوخپل جادوګرو ته به ئے اوويل نو هغوی به ورسره

سل دروغ نورهم یو ځائے کړل او بیا به ئے دا خبره بیان کړه نو دا شان ابن صیّاد جادوګری هم کوله. دا د قیامت یوه علامه ده.

بهرحال په غیبو باندې د الله تعالی نه ماسواء هیڅ څوك نه پوهیږی.

## دویم جامع صفت د اللّه:

دویم صفت د الله تعالی قدرت دے.مطلب اختیار رزق ورکول نه ورکول بیماری راوستل نۀ راوستل د دې ټول نظام اختیارات صرف د یو الله سره دې په دی کښې د الله سره بل هیڅ څوك شریك نشته.

چې قادر په هر څۀ الله تعالی دے.

سورة انعام کښې الله تعالی فرمائی.

﴿وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗۤ اِلَّا هُوَ﴾(انعام:١٧)

یعني که الله تعالی تاته څۀ تکلیف دراورسوی نو د الله تعالی نه ماسواء بل هیڅ څوك دغه تکلیف نه شی لرې کولے. دا په مخلوق کښې څوك نه شی لرې کولے غټ خو لا څۀ کښے چې معمولی معمولی د سر درد هم د الله نه بغیر بل څوك نشی لرې کولے.

## اللّه ته د پیغمبرانو عاجزی او فریاد:

بلکه د الله هغه پاك بندګان پیغمبران هم دا نشی لرې کولے که چرته په هغوی باندې مصیبت او تکلیف راشی نو هغوی پخپله الله ته محتاج وی.ایوب علیه السلام هم د الله تعالی نه دعا غواړي.اتلس کاله بیمار دے الله ته فریاد کوی:

﴿رَبِّ اَنِّیْ مَسَّنِیَ الضُّرُّ وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِیْنَ﴾(انبیاء:٨٣)

یعني اے ربه زما ! ماته بیماری رسیدلے ده نو تۀ راباندې خپل رحم اوکړے.

نو الله تعالی فرمائی چې ماترینه دا بیماری لرے کړه.

دارنګ زکریا علیه السلام د الله تعالی نه دعا غواړی. اتیا، سل کاله عمر کښې الله نه دعا کوی:

﴿رَبِّ هَبْ لِيْ مِنْ لَّدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً﴾ (آل‌عمران:۳۸)

یعني اے ربه زما ! ماته د خپل طرف نه پاك ولد راکړے .

نو الله پاك فرمائی چې ما ورله دَ یحیٰی علیه السلام په شکل کښې اولاد ورکړو.

دې ته وئیلے کیږی عقیده د توحید چې هرڅهٔ باندې عالم پوهه یو الله دے او د دې ټولے دنیا او د کائناتو اختیارات د هغه سره دی د بل چا سره نشته.

سورة انبیاء کښې الله تعالی د انبیاء کرامو تذکره کوی ، فرمائی: چې کائناتو کښې د ټولو نه پاك خلق اور لوې مرتبې والا هستے دی نو هغوی ټول هم ماته محتاج دی.

﴿اِنَّهُمْ يَدْعُوْنَنَا رَغَبًا وَّرَهَبًا﴾ (انبیاء:۹۰)

یعني انبیاء کرام هم زما نه په تکلیفونو کښې ،خوشحالو کښې راحت او بیمارے کښې په هر یو حالت کښې مانه دعاګانے غواړي په مینے او په یرے سره.

او دا الله د دې د پاره وائی چې که چرته په تاسو باندې دا تکلیف یا خوشحالی،راحت یا بیماري راشی نو تاسو به هم صرف مانه غواړے.

## د انبیاؤ اول پیغام:

دارنګ هر پیغمبر خپل قوم ته دا وینا کړے ده. هر پیغبر اوّل دا مسئله خپل قوم ته بیان کړې ده. نوح علیه السلام ، هود علیه السلام، صالح علیه السلام، شعیب علیه السلام دا شان نورپیغمبران د هغوی دعوت دا وو.

﴿يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ﴾(اعراف:۵۹)

یعني اے زما قومه ! عبادت خاص کړئ الله تعالی لره عبادت بندګی څۀ ته وائی رکوع کول، سجده کول،په تکلیف مصیبت کښې چاته آواز کول، لاس په نامۀ د چا مخې ته اودریدل او د هغه دَ حاجت رواکیدو عقیده ساتل دی. دې ته عبادت او بندګی وئیلے کیږی. او د الله تعالی نه ماسواء بل څوک د عبادت لائق مه ګڼړئ.

نبی کریمﷺ هم اول د دے خبرے دعوت په پټه کوؤ بیا الله تعالی ورته د عام دعوت حکم اوکړو:

﴿وَاَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ﴾ (الشعراء:۲۱٤)

نو نبی کریمﷺ کوهِ صفا باندې مکے والا راټول کړل آواز ئے ورته ورکړو﴿يَا صَبَاحَا﴾دا دَ خطرې په وخت کښې به په عربو کښې د غونډے دَ سر د پاسه دا آواز کیدو او خپل څادر به ئے په هوا کښې چاپیره تاؤ کړو نو قوم به راجمع شو او وئیل به ئے چې څۀ د خطرې خبر دے.دغه شان نبی کریم ﷺ هم اوکړل او قوم ته ئے اوئیل چې که زۀ تاسو ته اوویم چې د دے غر نه اخوا دشمن په تاسو حمله کوی نو تاسو به ئے اومنئ.

هغوی په یو آواز اووئیل چې هاؤ بالکل به ئے منو ځکه چې ته صادق ئے امین ئے.

## په دې دعوت کښې به تکلیفونه راځی:

بیا نبی کریم ﷺ ورته اووئیل چې صحیح ده نو د دے نه هم اهمه خبره واؤرئ.

﴿يَاأَيُّهَا النَّاسُ قُوْلُوْا لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ تُفْلِحُوْنَ﴾

اے خلقو د حاجاتو پوره کؤنکے د رکوع او سجدې صحیح حقدار دَ نذرونیاز والا ذات بل څوك نشته سواء د الله نه دا اومنی نو کامیاب به شئ دا داسې مسئله ده چې په دې سره به ټول عرب ستاسو فرمانبردار شی په ټوله دنیا به الله بادشاهی درکړی.

کله چې هغوی دا واؤریدل نو د عربو په مشرکانو کښې د ټولو نه اول ئے ترۀ مخالفت اوکړو او ورته ئے اووئیل:

﴿تَبًّا لَكَ اَلِهٰذَا جَمَعْتَنَا﴾

یعنی هلاك شے تامونږ دے خبرے له راجمع کړے وو.

بیا په نبی کریم باندې د کفارو د طرفه ظلمونه شروع شو.او دا په هغه وخت کښې ډیر سخت کار وو ټولو د مکے مشرکانو صرف ددې یوې خبرې د وجے نه مخالفت شروع کړو خو چې یو سو کسانو ایمان راؤړونو د پیغبر خبره منل خو لاسه چې د هغه سره ملاقات کول خبرې کول هم ډیر لوې سخت کار وو.

ابوذر غفاری رضی اللہ عنہ ته چې کله د دے پیغمبر ﷺ د دعوت پته اولګیده نو اوّل ئے خپل رور اُنیس د پیغمبر ﷺ د خبر ګیرے د پاره راولیږو رور ورته وئیل چې محمد ﷺ ښۀ سړے دے ﴿يَأْمُرُ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهٰى عَنِ الْمُنْكَرِ وَالشَّرِّ﴾ نو مکے ته د خبر ګیرئ دپاره راغے. او په کعبه کښې دیره شو. حضرت علی رضی اللہ عنہ ورسره ملاؤ شو او نبی کریم ﷺ له ئے بوتلو نو د یرې د وجے نه نۀ ئے دَ هغه نه تپوس اوکړو او نۀ څۀ معلومات.

صبائیۍ د ځان سره بیا بوتلو او ورته ئے اوئیل چې ستا حاجت نه دے پوره شوے؟ څۀ مقصد له راغلے ئے ما ورته اوئیل چې یوه پټه خبره درته کوم چې څوک خبر نۀ شي هغه دا چې محمدﷺ سره ملاقات کوم حضرت علی رضی اللہ عنہ ورته اووئیل چې زۀ تا بوځم تۀ ما پسے راځه خو که څوك دې اوګوری نو بیا په لاره په بل کار کښې ځان مشغوله کوه چې څوك درته نقصان او نۀ رسوی هسے نه چې څوك خبر شي چې دا خو محمدﷺلره بوځی چې کله نبی کریمﷺ سره ملاؤ شو او خبرې ئے واؤریدې نو ایمان ئے راؤړو.

نبی ﷺ ورته ارشادًا مصلحتًۀ دا خبره اوکړه چې خپل ایمان چاته مۀ ښکاره کوه دا خبره امر نه وو حکمًا نه وه ځکه صحابه رضی اللہ عنہم د پیغمبر د حکم خلاف ورزې نه کوی.د ایمان نه بعد مسجد حرام ته راغے او علی الاعلان ئے اوئیل چې:

﴿اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ﴾

ټول مشرکین پرے راټول شو او ډیر زیات ئے اووهلو. بیا دَ عباس په وینا خلقو پریښودلو او ورته ئے اووئیل چې دا د غفار د قبیلے دے که مړشو نو ستاسو لار په هغوی باندې ده بیا به هیڅ تجارت نۀ شے کولے نو په دې طریقه ئے خلاص کړو. صبا ئے بیا دا کار اوکړو آخر نبی ﷺ ورته اووئیل چې خپل ملك وطن ته ځه هسے نه چې څوك دې مړ نۀ کړی.

# ددین حقیقت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿اِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ﴾ (آل‌عمران:۱۹)

﴿وَقَالَ تَعَالٰى: وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا﴾ (مائدہ:۳)

﴿وَقَالَ تَعَالٰى اُدْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً﴾ (بقرۃ:۲۰۸)

## الله ته محبوب او خوښ دین:

د قرآن پاک څۀ حصه تلاوت شوه په دې کښې الله رب العزت د دین اسلام متعلق د منلو او عمل کولو ، او د الله په نزد غوره او خوښ دین کیدو تذکره کوی. دنیا کښې الله انسان پیدا کړے دے دا ژوند د انسان په یو صورت پوره کیږی چې انسان په دین اسلام باندې عمل اوکړی دا دین لفظ یو وړوکے لفظ دے خو که د دې تفصیل بیان شی نو انسان به ټول عمر ورباندې صرف کړی او انتهاء ته به اونه رسی.

دین څۀ ته وئیلے کیږی، دین په لنډو الفاظو کښې د څۀ نوم دے؟ دین په لنډو الفاظو کښې د ژوند نظام او قانون ته وئیلے کیږی او د ژوند ټولے شعبے په دې دین کښې راجمع شوی دی نو بیا د زندګئ هیڅ یو څیز د دې دین نه باهر نه دې دا کامل او مکمل نظام دے د انسان د ژوند سره متعلقه ټولے خبرې انسان ته په دې دین کښې ملاویږی ځکه الله رب العزت په سورت مائده کښې فرمائی:

﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ﴾

دین ما پوره کړے دے په دې کښې د هرے مسئلے حل دے د

انسانی ژوند سره متعلقه داسے خبرے او جزئیه نشته چې په دین کښ د هغے د پاره حل موجود نه وی د هر قسم مسئلے حل او بهترین حل داسے فیصله چې د هغے د پاسه بله فیصله نه کیږی د الله په دین کښ موجود دا هر څۀ دی.

## مذهب او دین کښ فرق:

بیا دا خبره یاد ساتل پکار دی چې یو مذهب دے او یو دین دے. مذهب د عبادت پوجاپاټ طورطریقے ته وئیلے کیږی. مذهب د عباداتونو او ریاضتونو نوم دے او دین صرف د عبادت نوم نه دے بلکه په دین کښې د تمام مسائلو حل موجود وی. دې وجے نه اسلام صرف مذهب نه دے اسلام دین دے قرآن او حدیث کښ چرته هم دین ته د مذهب لفظ نه دے ذکر شوے بلکه دې ته دین وئیلے شوے

﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ﴾(مائده:۳)

﴿اِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامِ﴾(آلعمران:۱۹)

﴿وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا﴾(آلعمران:۸۵)

نو دې ته دین وئیلے کیږی دې ته مذهب اسلام نوم وئیل صحیح نۀ دی، اسلام کښ مذهب شته دے د عبادت طریقه او عبادتونه شته خو دا د اسلام څۀ حصه او جزء دے پوره (دین اسلام) نه دے. دې وجے نه یو غلط تأثر زمونږ په معاشره کښ دا دے چې دینداری مونږه صرف مونځ روژې ، حج ، زکوة ته وایو بل طرف ته د معاشرے معامله اخلاق لین دین هرڅۀ ګډ وډ دی. د اسلام سره مطابق نه دی، دینداره په دې ټولو شعبو باندے د قرآن او سنت په رنړا کښ عمل کوی څنګه چې دا انسان عقیده لری او څنګه چې عبادت کوی نو د دۀ اخلاق به هم د شریعت سره مطابق وی. سیاست، حکومت ،معاملات ،معاشره هر څۀ د ژوند

طريقه به ئے د شريعت د اصولو پابند وی دراصل دا دين داری ده.

نو دين اسلام صرف يو مذهب نه دے بلکه دا دين دے البته عيسائيت مذهب کيدے شی ځکه عيسائيت صرف د يو څو اورادو اذکارو نوم دے پوره نظام حيات نه دے. د عيسی عليه السلام په زمانه کښې هغه دين وو اوس صرف مذهب دے. دغه شان يهوديت صرف مذهب دے دين نه دے پاتې شوے لکه څنګه چې په موسی عليه السلام نازل شوے وو او دغه شان هندومت يو مذهب دے او سکهـ مت يو مذهب دے او بس نورځۀ احکام نه لری.

## اسلام صرف مذهب نه دے:

اسلام صرف مذهب نه دے بلکه د ژوند قانون او نظام دے.

او دا ځکه دين دے صرف خالص مذهب نه دے چې په دې کښې شپږ خبرے دی. يو عقائد دی چې هغے ته ايمانيات وئيلے کيږی د الله تعالی د وجود او توحيد ، رسالت ، قيامت وغيره دا د اسلام يو شعبه ده خو دا بنيادی او اساسی شعبه ده چې په نورو باندې عمل کول الله قبلوی خو په دې شرط چې دا شعبه موجود وی او په صحيح طريقه سره موجود وی.

دويمه اهمه شعبه عبادات دی چې په دې کښې مونځ ، روژه، حج، زکوة، جهاد دا د دين دويمه شعبه ده.

دريمه شعبه اخلاق دی. اخلاقيات به څۀ وی دا بيا يوه اوږده موضوع ده په دې کښې صبر، شکر، عاجزی، حسن سلوک وغيره شامل دی.

څلورم معاملات دی په معاملاتو کښې تجارت، ملازمت، خريدوفروخت، صنعت وحرفت انسان به په دې څيزونو کښې د اسلام د رهنمايئ پابند وی.

پنځم څيز معاشره ده انسان به ژوند په جمات کښې، کور کښې،

حجره کښې ، محله او کلي کښې څنګه تیروی د بچو سره به څنګه، د ښځې سره به څنګه وی، مور او پلار سره به څنګه وی، نورو مسلمانانو سره به څنګه وی دا ټول څیزونه په معاشره کښې داخل دی او اسلام د دې په باره کښې مونږه ته پوره او مکمل هدایات راکړی دی.

شپږم څیز سیاست او ریاست دے دا مسلمان به ملکی عالمی سطح باندې د اسلام په هدایاتو سیاست او ریاست کوی، د خپلے خوښے مالك به نه وی.

## دین او دنیا لازم ملزوم:

نو که نن صبا معاشره دا خبره اوکړی چه دا دین چلول غواړی نو زمونږ په ذهن کښې څو وخته مونځ اودس ذهن ته راځی او دا د دین نه د ناخبرئ وجه ده بل که څوک دا خبره کوی چې دویمه خبره ذهن ته راځی چه دین او دنیا یوځائے نشی جمع کیدے نو دا هم غلط تصور دے، دین او دنیا د اسلام په نظر کښې د یو بل مقابل نه دی بلکه دا یو بل سره لازم ملزوم دی. دې وجے نه مونږه په مونځ کښې یوه دعا غواړو هغه دا ﴿ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً ﴾(بقرة:۲۰۱)

دا جامع دعا ده په دې کښې هره ورځ انسان ته دا فکر ورکوی چې دین او دنیا جدا جدا څیزونه نه دی بلکه دا دواړه د الله نه غوښتل پکار دی او دا چرته نشته چې پیغمبر د دنیا نه کټ شوے وی چې د کله نه وحی نازل شوے ده نو پیغمبر ﷺ په همدغه خلقو کښې خلقو ته د الله دین بیان کړے دے او د دین سره سره ښځه، بچی، لین دین، کاروبار، یار دوست، غم خوشحالی، حکومت، تعلقات ،خوراک څکاک، جامه کپړه دا هرڅۀ همدغه دین داره پیغمبر کړی دی.

## دین کښې رهبانیت نشته:

او قرآن د هغه چا مذمت او بد بیان کړې دی چاچې د ځان د طرف نه دین کښې رهبانیت راپیدا کړے وو.

رهبانیت ترک دنیا ته وئیلے کیږی چې دنیا پریږدے، غرونو شړو، دشتو، ځنګلونو کښې ګذران او معاش کوے نور هر څۀ پریږدے. الګ تلګ یو طرف ته نه شئ او دا خبری شروع کړے چې الله ته به هله رسو چې مونږه دنیا پریږدو لکه څنګه چې عیسیابو به کول نو په هغے کښې خطا شو، ګمراه شو کمال دا نه دے چې انسان دنیا بالکل پریږدی او دینداره شی. ناکمال دا دے چې په دنیا کښې دینداره انسان جوړ شی نو خبره دا ده چې دَ دین او دنیا دواړو امتزاج ضروری دے. د الله د رضا د حاصلولو د پاره دا ضروری دی. د انسان مزاج چې دینی شی نو بیا د دنیا کار هم دین ګرځی لکه روټے خوړل دنیا ده خو حلال طعام په یو سوچ باندې خوړل دا اوس دین اوګرځیدو.

والحمدلله رب العالمین

# دین ولے ضروری دے

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الۡاَنۡبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِہٖ وَ اَصۡحَابِہِ الۡاَتۡقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعۡدُ:

فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ، بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ۔

﴿یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا ادۡخُلُوۡا فِی السِّلۡمِ کَآفَّۃً وَّلَا تَتَّبِعُوۡا خُطُوَاتِ الشَّیۡطَانِ اِنَّهٗ لَکُمۡ عَدُوٌّ مُّبِیۡنٌ﴾(بقرۃ:۲۰۸)

﴿وَقَالَ تَعَالٰی : وَمَا کَانَ لِمُؤۡمِنٍ وَّلَا مُؤۡمِنَۃٍ اِذَا قَضَی اللّٰہُ وَرَسُوۡلُهٗۤ اَمۡرًا اَنۡ یَّکُوۡنَ لَهُمُ الۡخِیَرَۃُ مِنۡ اَمۡرِهِمۡ﴾(احزاب:۳۶)

## دین ولے ضروری دے:

د دین باره کښې دا خبره شوې وه چې دین مکمل قانون او نظام حیات ته وائی نن دا خبره کوو چې په دین باندې ژوند تېرول او دا دین نظام حیات ګرځول ولے ضروری دی دا خبره ولے په یو مسلمان بلکه په یو انسان باندې یقینی او لازمی ده چه په دې دین اسلام باندې به ژوند تیروی نو د الله د طرف نه رالیږلے شوے دین باندې ژوند تیرول ځکه ضروری دی چه یو سلیم العقل انسان چې هغه عقل لری هغه په دې خبره باندې پوهیږی چې دا تمام کائنات زمکه،آسمان، نمر، سپوږمۍ، حیوانات، نباتات، جمادات او انسانان څۀ چې په نظر باندې راځی دا ټول څیزونه خپله وجود ته نه دی راغلې دا یو ذات شته چې هغه پیدا کړی دی او بیا څوک چې د الله وجود او وحدانیت منی د هغه دا عقیده ډیره مضبوطه وی چې دا انسان په خپل اختیار نه دے پیدا شوے، دا جمادات یو خالق لری او دا نباتات د یو قانون او ضابطے پابند ګرځیږی دا څومره څۀ چې کیږی د دې پیدا کونکے خامخا شته دے.

## د انسان د ژوند مقصد:

بیا چې کله دا خبره معلومه شوه چې دا هرڅۀ الله پیدا کړی دی نو دا انسان هم الله د څۀ مقصد د پاره پیدا کړے دے الله انسان دنیا ته بے مقصده، فضول او عبث نۀ دے رالیږلے بلکه الله دې انسان ته څۀ ذمه داریانې په سر کړی دی .

په دنیا کښې یو تاجر، صنعت کار، انجنیئر چې په کارخانه کښې یو څیز جوړوی هغه بےمقصده نه وی بلکه د هغه څیز یو مقصد او فائده وی چې دغه انسان په خپله یا نور انسانان د دے نه فائده اخلی دغه شان د دې تمام کائناتو خالق لوے حکیم، ذات دا ټول مخلوقات او بیا په دې کښې اشرف المخلوقات انسان بے مقصده، فضول او عبث نه دې پیدا کړے او دا خبره الله په قرآن کښې ذکر کوی:

﴿ أَيَحْسَبُ الْإِنسَانُ أَن يُتْرَكَ سُدًى﴾(القیامۃ:۳۶)

د دې انسان څۀ خیال دے چه دا به دنیا کښې بے مقصده پرېښوودلے شی چې د دې ژوند نه پس به بل ژوند نه وی دا د انسان گمان او خیال دے.

اوس هغه مقصد څۀ څیز دے د کوم د پاره چې انسان پیدا شوے دے او هغه مقصد د حاصلیدلو د پاره لاره څۀ ده نو لکه څنګه چه الله انسان پیدا کړے دے دغه شان دې انسان ته به لاره د مقصد الله ښائی بل څوک نشی ښودلے لکه څنګه چې یو انجنیئرز د خپلے کارخانے د څیز مقصد بیانوی چې دا څیز به د دې مقصد او فائدے د پاره په دې طریقه استعمالولے شی نو دغه مقصد د انسان د پیدائش الله رب العزت بیان کړے دے او د دې د پاره الله وقتًا فوقتًا انبیاء علیهم السلام رالیږلې وو هغه انبیاؤ او کتابونو کښې د انسان د ټول ژوند هدایات انسان ته بیان

شوی وو او د دغه انبیاؤ تعلیماتو او د الله احکاماتو ته دین وئیلے کیږی قرآن کښې الله فرمائی:

﴿وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ﴾(بلد:۱۰)

دې انسان ته ما دوه لارے ښودلی دی یوه لاره د خیر او بله لاره د شر، دا الله د انبیاؤ او کتابونو په ذریعه بیان کړی دی.

## دوه قسمه خلق:

اوس که انسان دا ژوند د قانون الهی او نظام خداوندی مطابق چلوی نو کامیاب به وی او که د خپل عقل سوچ او آزادئ مطابق ژوند تیروی ناکام به وی ځکه الله فرمائی:

﴿ إِمَّا شَاكِرًا أَوْ كَفُورًا ﴾(الدهر:۳)

دا انسان یا شکر گزار جوړ شی او یا ناشکره، ناکامه جوړ شی اوس د دهٔ خوښه ده تابعدار جوړیږی او که نافرمان جوړیږی

﴿وَمَنْ شَآءَ فَلْيُؤْمِنْ وَمَنْ شَآءَ فَلْيَكْفُرْ﴾(کهف:۲۹)

که د چا خوښه وی ایمان دې راوړی او که د چا خوښه وی کفر دې اوکړی د هرڅهٔ بدله به په آخرت کښې معلومیږی.

که یو انسان دا خبره اوکړی چې دین ته څهٔ ضرورت وو، دَ انبیاؤ کتابونو د الله احکاماتو، قوانینو ته څهٔ ضرورت وو انسان لره الله عقل، تمیز ورکړے دے په دې باندې ښهٔ او بد پیژنی بس دا عقل د انسان د رهنمایئ د پاره پوره او کافی دے لکه دا سوچ د نن زمانے سیکولر او لیبرل خلق لری د دې جواب دا دے چه دنیا کښې دوه قسمه کارونه دی یو قسم هغه کارونه چې په هغے د انسان عقل او سوچ کار کوی او انسان هغے ته د خپلې پوهے عقل په ذریعه رسیدے شی نو الله رب العزت په دې څیزونو کښې انسان آزاد کړځولے دے، دویم قسم هغه څیزونه چې هغه د

عقل نه ماوراء دی، د عقل رسائی د هغے حقیقت ته ممکن نه ده ځکه انسانی عقل، سوچ او پوهه دا ټول د هغے په نسبت محدود کمزورے او نقصانی دی په دغه شان احکاماتو کښې الله انسان خپل عقل ته نۀ دے پریښودے بلکه د وحی په ذریعه ئے د انسان رهنمائی کړے ده ځکه په دغه خبرو کښې عقل ټوکر او خرابی خوړے شی او عقل غلطه فیصله کولے شی نو ځکه الله دا انسان اختیار ته نۀ دے پریښودے، د اول قسم مثال دا دے چه یو طرف ته ګنده ډیران وی او بل طرف ته ښائسته شین چمن وی نو د دې ډیران ګنده کیدو او د باغ ،چمن ښائسته کیدو د پاره د وحی ضرورت نشته بلکه انسان کښې الله عقل او فطرت کیخودلے دے چې په هغے سره ښائسته او بد رنګ معلومولے شی نو دا خبره الله د انسان عقل ته پریښودلے ده او کومه خبره چې د هغے ښه او بد د عقل په ذریعه نۀ شی معلومولے یا یو څیز خوږ او بل څیز بد مزه کمزورے دے نو انسان دا څیزونه په خپل عقل معلومولے شی په دې کښې د وحی ضرورت نشته که په داسے قسمه څیزونو کښې الله همیشه وحی رالیږلے نو دا سلسله به تر ورځ د قیامت پورے ختمه نه وے ځکه هره ورځ نوی نوی ایجادات کیږی نو الله انسان ته عقل ورکړو چې دا څیزونه په عقل معلومه وه.

## د عقل نه ماوراء فیصلے:

او د دویم مثال لکه چې د انسان عقل هغے ته رسائی نشی کولے او انسان هغه خبرے په خپل عقل باندې نۀ شی معلومولے نو بیا د وحی ضرورت شته دے او الله ځکه دنیا ته وحی نازله کړې ده په دغه قسمه خبرو کښې لکه راتلونکے ژوند، د قیامت حالات، د قبر حالات یا په دنیا کښې دا لاره اختیار کړم او که دا بله لاره اختیار کړمه نو د دې فیصله عقل نشی کولے په دې کښې عقل غلط کیدے شی د مستقبل د خیر او شر

فیصله نشی کولے چې په کوم څۀ کښې زما خیر دے او په کوم څه کښې زما خیر نشته دے د الله تعظیم به څنګه کوي دا خبرے د بره طرف نه انسان معلوموی که په دې خبرو کښې انسان د خپل عقل نه کار واخلی نو دین نه ، دا به بې دینی شی دې نه بدعات بیا جوړیږی کله هغه د عقیدې نظریئ په باره کښې کله د عباداتو، حلالو حرامو په باره کښې او ورسره نور ډیرے خبرے لکه خنزیر حرام دے، غوا حلاله ده، سپے حرام دے، ګډه حلاله ده نو د دین ضرورت انسان ته ځکه دے چې انسان ته الله تعالی فرمائی چه کوم څیزونه ستا د عقل په دائره کښې دی او تۀ د هغے بنۀ او بد معلومولے شې نو په دغه څیزونو کښې د دین ضرورت نشته دے خو چې کوم څیز ستا د عقل سره د هغے خیر او شر نه معلومیږی نو بیا به د وحی ضرورت وی.

## الله ته معتبر دین:

که څوک بیا دا سوال اوکړی چه آو مونږه منو چې دین ته ضرورت دے او په دې باندې ژوند تیرول غواړی خو کوم دین باندې مونږه ژوند تیر کړو، څوک وائی عیسائیت ښه دے، څوک وائی یهودیت ښه دے، څوک د بدھ مت دعوی کوی او څوک د هندومت مذهب دعوی کوی نو دا ټول الله ته د رسائے ذریعه نه ده الله ته د رسائے ذریعه صرف او صرف دین اسلام دے:

﴿إِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَاللهِ الْإِسْلَامُ﴾(آلعمران:۱۹)

دغه دین اسلام د کامیابئ لاره ده .

ځکه الله فرمائی:﴿وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِيْنًا﴾(مائدہ:۳)

زه ستاسو دَ پاره په اسلام باندې دَ جهته د دین نه راضي یمه.

ځکه الله فرمائی:﴿ اُدْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً﴾(بقرة:۲۰۸)

اے خلقو اسلام کښې پوره پوره دننه شئ. د اسلام په موجودتیا کښې بل څۀ طرف ته توجه مه کوے.

بیا د اسلام معنی څۀ ده اسلام څۀ ته وئیلے کیږی اسلام په اصل کښې تابعدارے، سرښکته کولو ته وئیلے کیږی او مسلم لفظ هم د اسلام نه أخذ شوے دے نو مسلمان به هغه انسان وی چې د الله حکم او قانون ته سر او غاړه کیږدی الله وائی دا کار اوکړه بیا به دا انسان حیلے او چل ول نه کوی او نه به دا خبره کوی چې زما عقل دا خبره نه منی خو د دې آیت نه ورسره دا خبره معلومیږی چې یو ایمان دے یعنې الله، رسول ،جنت ،جهنم باندې یقین کول او کله چې وائی:

﴿يَآأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ادْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً﴾(بقرة:٢٠٨)

اے ایمان والو په اسلام کښې پوره داخل شئ.

نو پته اولګیده چې اسلام بیل څیز دے او ایمان جدا څیز دے صرف ایمان نه بلکه د ایمان نه پس تسلیم او رضا د الله په فیصله باندې کول دې ته بیا پوره اسلام وائی.

## ټول اسلام منل:

دا خبره څوک نشی کولے چې زه الله منم خو دَ اسلام دا خبره نه منم زه مسلمان یمه خو د اسلام دا حکم زه نه منم الله په سورة احزاب کښې فرمائی:

﴿مَاكَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللهُ وَرَسُوْلُهٗ أَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ﴾(القصص:٦٨)

یومؤمن سړی اوښځه لره دا نه دې جائز چې کله الله او رسول الله د یو څیز باره کښې فیصله اوکړی نو بیا هغوی لره څۀ اختیار نشته دې د الله د فیصلے نه پس که هغه فیصله د عباداتو باره کښې وی او که دَ

معاملاتو باره کښې وی یا د یو بل څیز په باره کښې فیصله وی نو هغوی لره څۀ اختیار نشته د دې فیصلے نه پس چې انسان ورکښې بیا هم خپله رائے پیش کړی، د الله او د الله د رسولﷺ په فیصله باندې به انسان خپله رائے نه پیش کوی نو چې انسان کله الله منی او دا خبره تسلیموی چې زما د خیر او د شر فیصله د هغه سره ده نو بیا به خپله خبره د الله په خبره نه مخکښې کوی بس تسلیم او رضا به انسان کوی څۀ چې الله غواړی او څۀ چې کوی نو انسان به دا تسلیموی او وربانديې راضی به وی او الله په انسان دومره مهربانه دے چې د دۀ په حق کښې هیڅ کله فیصله د ظلم او زیاتی نه کوی د الله هر څیز کښې حکمت وی نو په دې څیزونو کښې د انسان د پاره خیر او نیکی او د الله رضا وی.

والحمدلله رب العالمین

# دین او شریعت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿اِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ﴾(آل عمران:۱۹)

﴿وَقَالَ تَعَالٰى : وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ﴾(آلعمران:۸۵)

## الله ته قبول دین دین اسلام دے:

الله تعالی په دے اٰياتونو کښې انسان ته د زندګئ تیرولو طریقه ښائي. چې هغه دین اسلام دے نو کهٔ څوك خپله زندګی د دین اسلام نه علاوه په بله څهٔ طریقه تیروی نو هغه الله تعالی ته قبول نه ده.

الله تعالی فرمائی: ﴿وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ﴾

یعني چا چې د دین اسلام نه ماسوا بله لاره اختیار کړه نو هیڅ چرے به ترینه قبول نه کړے شي. اګرچې هغه د دې دین په نسبت زوړ دین وی د دین اسلام نه مخکښې وی د زمانے په نسبت خو چې کله الله منسوخ کړو نو بیا الله ته منظور نه دے.

دا رنګ کله چې انسان د دین اسلام مطابق زندګی تیروی نو پوره پوره به په دین اسلام چلیږی. که هغه عبادات وی او که معاملات، که معاشرت وی او که سیاست وغیره داسې نه چې دوه یا درې خبرې ترینه راواخلی او نورنه.

الله تعالی قرآن کریم کښې فرمائی:

﴿يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ادْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً﴾(البقرة:۲۰۸)

یعنې اے مومنانو ! په ایمان کښې پوره پوره داخل شئ.که هغه

نظریه فکر عقیده ده د اسلام واله به وی او که هغه اخلاق دی د دین اسلام مطابق به وی که معاشره وی معاملات وی سیاسیات وی غرض دا چې څۀ هم د انسان د زندګئ سره تعلق لری هغه ټول به د دین اسلام مطابق وی او د دې پابند به وی.

## دین او شریعت کښې فرق:

اوس دین او شریعت وائی څۀ ته؟ او اٰیا دے دواړو کښې څۀ فرق شته که نه ؟ تر څو پورې چې انسان د دې دواړو الفاظو د حقیقت نه خبر نۀ وی هغے پورې نۀ د دین اسلام په حقیقت پوهه کیدے شی او نۀ ئے عمل کښې راؤستے شی بلکه په جهالت کښې به عمر ضائع کوی.

نو دین او شریعت ځان ځان له مفهوم لری او کله چې دواړه یوځاې شی نو دین اسلام ترے نه جوړ شی.

## دین درې خبرو ته وائی:

دین په درے معنو سره استعمالیږي لغت کښې.

اول عزت او سلطنت حکومت

دویم حساب وکتاب او فیصله

دریم اطاعت او فرمانبرداري غلامی او بندګی

نو دین دے ته وائی چې بنده به اللّٰه تعالی بادشاهئ والا زور زبردستی والا، عزت والا او فرمانروا منی او اطاعت او عاجزی غلامی بندګی به صرف او صرف اللّٰه تعالی ته کوی.او د هغه ورځ د سزا اوجزا فیصله کونکے به اللّٰه تعالی منی ځکه قیامت ته یوم الدین وائی.

دا درے واړه معنے په اسلام کښې پرتے دی. نو که څوك دا درے واړه معنی بل چاله خاص کوی یعني د بل چانه یریږی او اطاعت او

عاجزی بل چاته کوی نو دا دین اسلام نه دے بلکه بل څهٔ دین به وی.لکه الله تعالی فرمائی:

﴿وَمَنۡ يَّبۡتَغِ غَيۡرَ الۡاِسۡلَامِ دِيۡنًا فَلَنۡ يُّقۡبَلَ مِنۡهُ﴾(العمران:۸۵)

مطلب دا چې بل حاکم بادشاه الله نه قبلوی بل ذات د اطاعت عاجزئ، غلامئ او بندګئ واله بغیر د الله نه بل څوك لائق نه منی بل د حساب کتاب خاوند دعدل او انصاف واله هستی نه شی کیدے بغیر د الله نه.

الله تعالی فرمائی:

﴿ هُوَ الَّذِيۡۤ اَرۡسَلَ رَسُوۡلَهٗ بِالۡهُدٰى وَدِيۡنِ الۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهٗ عَلَى الدِّيۡنِ كُلِّهٖ وَلَوۡ كَرِهَ الۡمُشۡرِكُوۡنَ﴾(التوبہ:۳۳)

یعني الله تعالی هغه ذات دے چې خپل پیغمبر ئے په هدایت او حق دین باندے رالیږلے دے چې دا دین په ټولو دینونو غالب کړي اګر که مشرکان دا بد ګنړی.

دا رنګ فرمائی:

﴿وَقَاتِلُوۡهُمۡ حَتّٰى لَا تَكُوۡنَ فِتۡنَةٌ وَّيَكُوۡنَ الدِّيۡنُ لِلّٰهِ﴾(البقرة:۱۹۳)

یعنی دوی سره د شرك ختمیدو پورے جنګ اوکړئ او دے دپاره چې دین خالص د الله تعالی شی.دغه دین کښې چې کومې دغه دری خبرې وی الله حاکم ګنړل او بندګی به خدا تعالیٰ دپاره وی او د هر څیز نعمت تپوس کونکي به الله وی د هغه دَ حساب کتاب نه یریدل.

بیا د دے دین د تکمیل دپاره الله تعالی رسولان او کتابونه رالیږلی دی نو د دغے ټولو منلو ته دین اسلام وئیلے کیږی.

## د شریعت معرفت او تعریف:

شریعت طریقے او لارے ته وئیلے کیږی.

الله تعالی هم فرمائی:

﴿لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَّمِنْهَاجًا﴾(المائدہ:۴۸)

يعني دين چې په كومو لارو او طريقو سره خلقو ته رسي او د هغے ادائيګۍ چې په كومه طريقے سره كيږى نو هغے ته شريعت وئيلے كيږى.

نو د اُدم عليه السلام نه واخله تر اُخرى پيغمبره پورے دين كښې د چا اختلاف هم نيشته خو په طريقه او لارو كښې اختلاف وو نو د هر پيغمبر طريقه ادائيګۍ بيا جدا جدا ده.

الله تعالى فرمائى:﴿إِنَّ هٰذِهٖ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَّاحِدَةً﴾(الانبیاء:۹۲)

يعني دا امت يو امت وو.

## دين او شريعتونه مختلف:

البته شريعت د هر پيغمبر بيا جدا دے.

الله تعالى فرمائى:﴿وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَّمِنْهَاجًا﴾(المائدہ:۴۸)

يعني د هريو دپاره مونږ ځان له شريعت او د اتباع لاره ګرځولے ده.

لكه مونځ د موسى عليه السلام په دين كښې پنځوس مونځونه وو او زمونږ دين كښې پنځه دى.

دا رنګ زمونږ روژه د صبح صادق نه واخله تر د غروب اُفتاب پورے ده او د زكريا عليه السلام روژه كښې خبرے هم بند وے.خو فرق په دې دين او مخكښې شريعتونو كښې دا دے چې دا كامل او مكمل دين دے دهميشه دپاره ترقيامت پورې او مخكښې دينونه د يو خاص قوم يا علاقې په يو خاص ژبه سره به خاص وؤ او مخكښې دينونو دَ طفوليت يعني ماشوم والى مثال لرو لكه څنګه چې ماشوم وى د هغه ورې جامې وى او كله چې غټ شى نو غټې جامې ورته بدلې كړى داسې دين اسلام د نبى ﷺ په دور كښې دَ انسانيت كمال ته رسيدلے وؤ نو الله ورته

کامل دین ورکوؤ نو هغه دینونه په دې وخت کښې الله ته قبول او منظور نه دي لکه یو سړے ځوان وائی چې زه اوس د ماشوم والی جامې اغوندم ، نه دا نه شی کیدے ته خو اوس غټ سړے ئے ماشوم خو نه ئے نو د دې وجې نه هغه دینونو باندې اوس عمل نه شی کیدے.

نو مونځ او روژه دین دے دین کښې اختلاف نه راځی د دې وجے نه هر یو تابعدار د هر دین په خپل خپل وقت مثلاً یهودی د موسی علیه السلام په دور کښې، نصرانی د عیسیٰ علیه السلام په دور مسلمان وو. خو طریقے ئے جدا جدا دی او دغے طریقو ته شریعت وئیلے کیږی.

د دے دواړو مجموعے ته دین اسلام وئیلے کیږی چې په دوو حصو تقسیم ده.

یو عقائد دی او دویم اعمال دی.

عقائد لکه الله تعالی منل ، رسولان منل، قیامت منل وغیره

دا عقائد اجمالی طور باندې په ایمان مجمل کښې ذکر دی.

اعمال لکه ذکر ، عبادات، اخلاق معاملات معاشره اجتماعیت قانون حکومت وغیره

الله تعالی دے په دے باندې د عمل توفیق رانصیب کړی. امین

والحمدلله رب العالمین

# دين و شريعت (حصه اول)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ. اَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ.

شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰ ۖ أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ ۚ كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ ۚ اللَّهُ يَجْتَبِي إِلَيْهِ مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَن يُنِيبُ (شورى: ١٣)

## د نبی علیه السلام شریعت:

په دې آيت کښې الله د شريعت پس منظر او سلسه بيان کړې ده چه د دې نه مخکښې د نوح عليه السلام شريعت وو کم شريعت چه حضرت نوح د هغې خيال ساتلې وو او خپل قوم امت ته ئې د هغې اودرولو وصيت کړې وو بيا دغه شان شريعت الله ابراهيم ته هم ورکړې وو او الله ئې تا ته هم ائي پيغمبره وحي ده کړې لکه څنګه چه د دی خدائي شريعت د اقامت حکم موسی او عيسی ته هم کړې شوي وو.

دغه ټولو پيغمبرانو ته سره د نبی عليه السلام نه دا حکم ورکړې شوې وو چه ﴿أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ﴾ چه په دې دين باندې استقامت اختيار کړۍ او د دی نه تس نس کيږۍ مه په دې کښې اختلافات فرقه واريت مهٔ کوی او دا تعليم نبی او د هغه امت ته هم ورکړې شوې دې.

بيا دا خبره ذکر کوی چه ﴿كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ﴾ کم دين طرف ته چې ته دعوت ورکوې دغه دين او شريعت د دنيا په

کافرانو او مشرکانو ډېر سخت ګران لګي هغوی دا خبره نه برداشت کوی چه په دې خالص خدائی دین دې عمل اوکړې شی.

وړپسې الله رب العزت دا خبردارې ورکوی چې الله رب العزت دې دین ته هر ځوك نه مطمئن کوی ﴿اللّٰهُ يَجۡتَبِيٓ إِلَيۡهِ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِيٓ إِلَيۡهِ مَن يُنِيبُ﴾ دا دین، بهترین شریعت، د پاك خلقو طریقه کار دَ الله په هر چا باندې نه پرزوکیږی دوه خبرو نه بعد الله انسان دې طرف مائله کوی یو دا چې ځوك الله ته خوښ او محبوب شی او بل دا چه په چا کښې طلب انابت رجوع الی الله موجود وی هغه خلقو ته الله دا دین نصیب کوی او په دی باندې ئی روان کړی په دې آیت کښې الله د دغه شریعت بیان کړې دې.

## د الله د شریعت ضرورت:

خو سوال دا دې چې دغه د الله والا دین او شریعت ته ضرورت څه دې ولې به انسان د الله د شریعت پابند وی او په دې باندې خپل ژوند او نظام برابر وی دا ولې ضروری ده انسان ته ولې دا اختیارات نه دي ورکړې شوې چه دا انسان د خپل ذهن سوچ عقل نظري مطابق دین او شریعت جوړ کړی؟

نو د دې یوه غټه وجه دا ده چې الله رب العزت د دې ټول جهان (انسان حیوان) مالك دې دا ټول ئی پیدا کړی دی او د هغه ملکیت دي د الله دست قدرت د لاندی به ژوند کوی بیا انسان الله مکلف ذمه دار پیدا کړې دې لکه څنګه چې دا انسان په دنیا کښې ژوند تیروی دغه شان د قبر ژوند شته د آخرت ژوند شته په هغې کښې به د دې انسان نه تپوس کیږی.

او دا ټوله دنیا د دې د پاره الله یو قانون او نظام جوړ کړې دې صرف مکلف انسان دپاره نه بلکه دا څومره بے جان اشیاء چه مونږه او تاسو ته ښکاری دا ټول څیزونه د الله د یو قانون او نظام نه لاندې چلیږی لکه نمر سپوږمۍ ونې بوټی ورځ شپه ځناور دریابونه سمندرونه دا ټول موجودات د یو نظام او قانون پابند دی.

نمر یو خپل نظام لری سپوږمۍ یو خپل نظام لری شپه او ورځ په یو خپل نظام روان دی وني بوټي د یو قانون ماتحت غټیږی دا هر څه بې قاعدی بې قانونه نه دی دې ته قانون فطرت او تکوینی قانون وائی.

## تکوینی او شرعی نظام:

خو انسان چونکه مکلف دې ذمه دار دې عقل شعور فهم فراست دانشمندی الله ورکړې ده ځکه ورته الله د قبر او آخرت ژوند ورکړی دې چي د دۀ نه به د دې دنیا ژوند په باره کښ تپوس کیږي هسې نه چه انسان د عقل او شعور نه غلطه فائده واخلی دا انسان د دې عقل په بنیاد ظلم زیاتي بې انصافه ونه کړی نو د دغه قانون فطرت سره سره ورته الله یو بل قانون شریعت هم ورکړې دې.

د دۀ عقیده نظریه اخلاق معاملات عبادت به د قانون فطرت سره سره د دین شریعت تابع وی که دا انسان د دې قانون شریعت تابع وی او پابند وی نو دۀ ته مسلمان او که تابع او پابند نه وی نو بیا ورته کافر وئیلی کیږي په هر صرت کښ کله نه چه الله انسان پیدا کړے دے نو ورسره ئې دغه شریعت هم رالیږلے دي.

## دا انسان عقل ناقص دے:

خبره دا وه چه هر كله په دې انسان كښې خپل يو عقل شعور آګاهي شته نو په دې خپل عقل باندې خپل يو نظام ولې نه جوړوي چه په هغې باندې ژوند تيرولې؟

نو د دې يوه غټه وجه دا وه چه د انسان علم او عقل بې شكه شته دې خو محدود دې دې عقل كښې خطا كيدې شي دَ دهٔ علم خطا كيدے شي خو دَ الله تعالى علم كامل مكمل دې او د نقصان ګنجائش وركښې نشي كيدې.

وس هغه ذات چې هغه دا ټول كائنات پيدا كړى دى په هغه كائناتو او مخلوقاتو كښې يو انسان هم دې او انسان ته دا پته نه لګيده چه په كمه لاره كښې خير دې په كمه لاره كښې مصيبت يا نقصان دې په كم طرز زندګئ كښې زمونږه د دنيا او آخرت نقصان او تاوان دې دا پته انسان ته په خپل عقل نه لګى او دا فيصله انسان كولې نشى ځكه دا د يو روپي دوؤ روپو يا يو ورځ دوه ورځو فيصله نه ده دا د ټول ژوند بلكه تر د قيامت د صبا پورې د ټول انسانيت فيصله ده.

كه يو انسان ډير كوشش اوكړى د يو ورځ يا شپې د پاره به خپله په خپل عقل منصوبه بندى وكړى كه ډير عقلمند شى نو يو مياشت پورې به صرف د خپل ځان منصوبه جوړه كړى د ټول انسانانو سوچ كول دا ډير مشكل دى ځكه د هر انسان فطرت سوچ صفات د بل انسان نه جدا جدا دى او بيا تر قيامته يو نظام جوړول چه د زمانى سره ضروريات بدليږى نو دا بغير د الله نه بل څوك نشى كولې.

دی وجې نه انسان د پاره په دین اسلام او شریعت باندې ژوند تیرول دا یو ضرورت دې او دا بغیر د الله د قانون نه په بل څه نشی کیدې ځکه الله فرمائی ﴿إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ﴾ د ژوند تیرولو قانون د الله په نزد اسلام دې د اسلام نه بغیر که بل په هر څه نوم نظام جوړ شی هغه ناقص نظام دے او کامل نظام به نه وی. څه وخته کال دوه کالو د پاره به وی بیا به خلق فریاد کوی او لعنت به ورباندی وائی چې دا غلط وو.

د روم و فارس نظامونه وو هغه ناکام شو بیا روسته نور وضعی نظامونه وو هغه هم ناکام شو سوشلسټ او کمیونزم نظامونه وس ورباندې خلق لعنت وائی. دا صرف د الله نظام دې چه ورځ د قیامت پورې چلیدې شی.

## دین او شریعت څه ته وائی:

وس دا دین او شریعت څه ته وائی دا الفاظ ډیر استعمالیګړی لکه دي آیت کښې هم الله ذکر کړي دي او الله خپل پیغمبر ته وائی ﴿ثُمَّ جَعَلْنَاكَ عَلَىٰ شَرِيعَةٍ مِّنَ الْأَمْرِ فَاتَّبِعْهَا﴾ پیغمبره مونږه تا لره یو شریعت درکړې دې د دې پابند شه دا خطاب لکه څرنګه چه پیغمبر ته دې دغه شان مونږه ته هم دا خطاب دے وس دین او شریعت څه ته وائی دا یو بنیادی خبره ده بد قسمتی دا ده چه مسلمان د دې نه خبر نه دې ځکه د قرآن او حدیث نه لرې دې.

دین او شریعت کښې لګ فرق دې دین د تمامو انبیاؤ مشترک دین وو ټول یو دین وو او شریعتونه جدا جدا وو ځکه الله قرآن کښې

وائى (اِنَّ هٰذِهٖۤ اُمَّتُكُمۡ اُمَّةً وَّاحِدَةً) دلته امت په معنې د دين سره دې دا ستاسو دين دې يو دين دې ځکه دين په اصل کښې د الله رب العزت د توحيد اقرار د انبياؤ رسالت منل په آخرت باندې ايمان راؤړل عبادت پوره کول او دا د هر پيغمبر په زمانه کښې موجود وو لکه د نوح په دين کښې توحيد و رسالت معاملات عبادات او دغه شان د موسی او عيسی په دين کښې دا ټولې خبرې مشترکه شريکې موجود وې او زمونږه په دين کښې هم دا خبرې دی.

هاں دا خبره ده چه په هره زمانه کښې په هغې کښې څه نه څه ترميمات کيږی نور بنيادی خبرې يو وې. چې هغه توحيد رسالت ايمان بالاخرة دې او که يو انسان قرآن اوګوری نو قرآن کښې هر پيغمبر د الله د توحيد دعوت د ايمان بالاخرة او رسالت دعوت ورکړې.

## جدا جدا شريعتونه:

البته شريعتونه جدا جدا دی ځکښې چې ما کومه خبره وکړه چه څه نه څه ترميمات په هر دين کښې موجود دی دغه بله طريقه د عباداتو دی ته شريعت وئيلی کيږی لکه مونځ په ټولو شريعتونو کښې مشترك دې خو په بعضو کښې څلور، په بعضو کښې پنځه لکه حديث د بخاری کښې راځی چه الله د ماسخوتن مونځ صرف دې امت له ورکړې دې او دا په نورو امتونو کښې نه وو.

مشهوره دا ده چه الله موسی په دين کښې پنځوس مونځونه فرض کړې وو پنځوس نه وو بلکه څلور وو دا الله صرف د نبی په امت فرض کړې وو د معراج په موقع باندې بيا الله دا کم کړل تردې پورې چه صرف پنځه مونځونه پاتې شو الله دې امت ته په پنځو مونځونو د

پنځوسو ثواب ورکوی الله وائی: ﴿مَن جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا﴾ څوك چه نيك عمل اوكړی نو الله ورته لس چنده ثواب وركوی بهر حال مونږ دين دې عبادت دې خو د دی طريقه يا تعداد مختلف كيدل شريعت دې

روژه دين دے ، تمامو انبياؤ ته حكم د روژې كړې شوې وو خو د چا د پاره څلويښت ورځې، او د چا د پاره ديرش ورځې، او دا چا د پاره شپه او ورځ روژه وه ، او يا د خوراك څكاك سره سره خبرې هم بندول روژه وه وس د روژے جدا جدا طريقه كار دا شريعت دے . لكه څنګه چې حج اول آدم عليه السلام په يو طريقه كړے وو بيا ابراهيم عليه السلام او دغه شان زمونږه په دين كښ په يو بله طريقه حج ادا كيږی، دا وس جدا جدا شريعتونه دی.

دې وجه نه دا خبره غلطه ده چه خلق وائی "دين محمدی" نو دا اصطلاح غلطه ده ؛ ځكه دين خو د الله يو دې څنګه دين يو پيغمبر پورې خاص كوې هان داسې وئيلې شې چې "شريعت محمدی" يا "شريعت موسوی" يا "شريعت ابراهيمی" ځكه دين نه دې بدل شوې قانون او دستور يو دې خو د وقت سره سره وركښې ترميمات كيږی ځكه الله فرمائی ﴿لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا﴾ يعنی د هر پيغمبر خپل خپل مستقل شريعت دے.

# دين و شريعت (حصه دوم)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

ثُمَّ جَعَلْنَاكَ عَلَىٰ شَرِيعَةٍ مِّنَ الْأَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ (الجاثية: ١٨)

شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰ ۖ أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ ۚ كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ ۚ اللَّهُ يَجْتَبِي إِلَيْهِ مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَن يُنِيبُ (شورى: ١٣)

## پوره شريعت:

تیرې جمعې نه په دې عنوان خبره شروع وه چې دین او شریعت څه ته وائی دین او شریعت د الله د طرف نه رالیږلے شوې دین او نظام د انسانیت د پاره چې کوم الله رالیږی هغی ته وائی.

دې وجې نه اسلام دین دې ځکه په دې کښې د انسان د پیدائش نه واخله تر مرګ پورې پوره نظام د عقائد و عباداتو معاملاتو سیاست او معاشره اخلاقیات الغرض هر څه ضرورت انساني موندلی کیږی.

بیا مذهب صرف عباداتو ته وئیلې کیږي دې وجې نه اسلام صرف مذهب نه دې هاں عیسائیت بدھ مت یهودیت مذاهب دی په هغې کښې تمام د زندګۍ مکمل تعلیمات په هر موقع او پهلو باندې نشته ځکه دغه مذاهب صرف ګرجه، مندر پوچا پاټ او د یو څو عباداتو نوم دې.

بر خلاف اسلام چې دا یو مکمل طاقتور نظام حیات او دستور زندګی ده دې وجې نه په قرآن پاك کښې دې ته دین وئیلې شوې دې

﴿إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللهِ الْإِسْلَامُ﴾ ، ﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ﴾ ، ﴿وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا﴾. دین پوره قانون او نظام وی نو اسلام هم دین دې.

دلته د مذهب نه مراد فقهی مکتب فکر نه دې مراد لکه څنګه چې مشهور دی مالکی حنفي شافعي ظاهری جعفری وغیره مذاهب دغه معنی مراد نه ده بلکه مذهب د عبادت طور طریقه والا معنی مراد ده.

دین د آدم نه واخله تر نبی پورې یو دین دې ځکه دین قانون ته وائی او د الله قانون آئین یو وی هاں شریعتونه جدا وو.
بیا شریعت د هر دور د هر قوم او د هر نبی طریقه دین ته شریعت وائی او دا جدا جدا دی.

لکه مونځ عبادت دې، یعنی دین دې خو د رکعاتو تعداد مختلف کیدل یا طریقه دَ مونځ مختلف کیدل دا شریعت دې، دغه شان شریعت محمدی هم یو شریعت دے ؛لکه الله فرمائی:﴿ثُمَّ جَعَلْنَٰكَ عَلَىٰ شَرِيعَةٍ مِّنَ الْأَمْرِ﴾

## د شریعتونو د اختلاف وجه:

بیا الله دا شریعتونه ولې مختلف کړې وو نو دا ضرورت وو لکه خوراك څکاك، لباس، مکان، بستر دا د هر انسان ضرورت دې که هغه وړوکې دې او که غټ دې که مذکر دې او که مونث دې لکه څنګه چه د وخت سره جامه کپړه مکان بدلیږی ماشوم ته یوه کپړه، غټ ته بله کپړه ماشوم ته یو مکان زانګو، غټ ته بل مکان کټ وغیره، ماشوم ته یو خوراك، غټ ته بل خوراك لکه څنګه چه دا ضرورت د وخت سره بدلیږي لکه څنګه چې انسان پوخ عمر ته رسی اول ماشوم وی بیا ځوان شی دغه شان شریعت هم په اول کښې ابتداء وه ماشوم وو بیا

ځوان شو د نبي په دور کښې نو د دې د پاره الله کامل مکمل ځوان شریعت تر قیامته پورې الله وجود ته راستو.

په هر دور کښې الله هر امت په خپل شریعت باندې ټریننګ کړې دې تردې پورې چې د نبی شریعت نازل شو نو دهغه ماشوم والی کپړی منسوخ شوې دهغه ماشوم والی مکان زانګو منسوخ شوه او هغه خوراك هم منسوخ شو او بیا دا شریعت نازل شو.

که یو سړې وائی چه مونږه په هغه زوړ شریعت باندې عمل کؤو نو دا خبره داسې نا اشنا ده لکه څرنګه چې دهغه ځوان سړی خبره نا آشنا ده چه هغه د خپل ماشوم والی لباس یا خوراك یا مکان په استعمال کښې راولی.

## د شریعت دوه بنیادونه:

بیا شریعت کښې دوه څیزونه دی ایمانیات او اعمال ایمانیات عقائدو او نظریاتو ته وئیل کیږی او اعمالو کښې عبادات معاملات معاشره لین دین سیاست نو د پیدائش نه واخله تر مرګه پورې او د رکوع او سجدې نه واخله تر حکومت او سیاست پورې اسلام انسان ته نظام ورکړې دې.

وس دا ټول اسلام الله په دوه جملو کښې رابند کړې دې لا اله الا الله نظریه عقیده ده او محمد رسول الله عمل دې یا لا اله الا الله فکر زندګې او محمد رسول الله طرز زندګی. یا لا اله الا الله اقرار بندګی ده او محمد رسول الله طرز عمل دې د لا اله الا الله نه بعد د هغه عبادت فرمانبرداری دا به مسلمان په کائناتو کښې د الله کامل پوره بنده

فرمانبردار محمد دې هغه چه څرنګه بندګی کړې ده هغه شان بندګی به مونږه هم کوو.

## د شریعت د پیژندلو ذرائع:

دا دین اسلام او شریعت به ده کومو ذرائعو نه مونږه اخلو د کوم ځاې نه به ئې اخذ کوؤ ځکه هر څیز د خپل مقام نه اغستلې کیږي داسې نشې کیدې چې څوک څه وائی او څه ئې خوښه وی هغه به شریعت وی که څوك خواب اووینی هغه به شریعت وی او که څوك وائی چه ما د پلار نیکۀ نه اوریدلې دی یا بوډۍ ښځې وئیلی دی هغه به شریعت وی او که نه سوشل میډیا یا الیکټرانك میډیا والا به شریعت وی چه په هغې کښ یو خبره چا کړې وی هغه به شریعت وی دا څیزونه شریعت نشې کیدې.

د دین او شریعت د پهچان د زمونږه سره معتبر درې طریقې دی یو ته قرآن وائی بل ته حدیث وائی او بل ته فقه وائی دا زمونږه سره ذرائع د پیژنګلو دَ شریعت محمد دی.

# د اسلام بنیادی عقائد...(۱)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ قُلْ يٰاَيُّهَا النَّاسُ اِنْ كُنْتُمْ فِيْ شَكٍّ مِّنْ دِيْنِيْ فَلَا اَعْبُدُ الَّذِيْنَ تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ اَعْبُدُ اللّٰهَ الَّذِيْ يَتَوَفّٰكُمْ وَاُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ وَاَنْ اَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ حَنِيْفًا وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ وَلَا تَدْعُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ فَاِنْ فَعَلْتَ فَاِنَّكَ اِذًا مِّنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴾ (يونس:۱۰۶)

عقائد په دوه قسمه دی چې يو ته ضروريات دين وئيلے کيږی او نه مننکو ته ئے کافر وئيلے کيږي.

دويم قسم هغه عقائد دی چې د هغے منکر ته کافر نۀ شی وئيلے کيدے خو انسان پرے ګمراه کيږی.

اول قسمه عقائدو کښې درے خبرے منل ډير ضروری دی او د ے دريو عقيدو ته امهات العقائد وئيلے کيږی.

ړومبے ايمان بالله ، دويم ايمان بالرسل او دريم ايمان بالآخرة

په الله تعالی باندې د ايمان راوړلو مطلب دوه خبرے منل دی.

يو وجود د الله تعالی منل او دويم د الله تعالی وحدانيت منل

وجود د الله تعالی منل د عقل مقتضٰی هم ده ځکه چې دا دومره کائنات څۀ رنګه بغير د يو چلوؤنکی نه چليږی. بلکه د دے نظام يو چلوؤنکے شته دے چې د ازل نه دا کائنات چلوی چې هغه الله تعالی دے.

که مونږ نظام شمسی ته اوګورو نو په سرسری نظر باندې د شپے چې کوم ستوری په سترګو ليدلے کيږی نو هغه پنځه زره دی او د

دوربین په استعمال سره شل لاکهه ښکاری او چې د دے نه هم اعلی قسمه دوربین استعمال کړے شی نو په اربونو بیا ښکاری.

دا رنګ فلکیاتو والا فرمائی چې زمونږ دا زمکه ، سپوږمۍ او نمر او دا نور ستوری وغیره دا ځان له یوه کهکشان ده او په کائنات کښې پنځوس کروړه کهکشان ګانے دی.

دارنګ زمونږ زمکه د نمر نه دولس لاکهه ګنا وړه ده. او نمر ترینه دومره غټ دے.

دا د الله تعالی د وجود غټ دلیل دے.

دویمه مسئله د الله تعالی توحید منل دی.

دے مسئلے کښې ډیر خلق خطاء شوی دی نو د نوح علیه السلام د وخت نه ډیر خلق په دے مسئله کښې ګمراه شوی دی.

توحید څهٔ ته وائی؟

د دے په باره کښې شیخ عبد القادر جیلانی رحمۃ اللہ علیہ په خپل کتاب الفتح الربانی کښې فرمائی:

﴿التوحید لیس فیه رؤیة الضرر والنفع من احد﴾

یعني توحید د الله تعالی دا دے چې ته د بل چانه د نفع او ضرر ګمان نه ساتے.

الله تعالی چې په دنیا کښې څومره پیغمبران رالیږلی دی او څومره کتابونه ئے چې نازل کړی دی نو د ټولو د بیان اهمه موضوع مسئله د توحید ده.

د توحید د مسئلے د پیژندګلو د پاره قرآن کریم درے طرزونه چلوی:

یو الله تعالی ځان له خپل صفات ثابتوی.

دویم الله تعالی صرف ځان له عبادت ثابتوی

دریم الله تعالی صرف خپل ځان د دعا غوستلو مستحق ګڼړی.

ړومبی ته توحید فی الاسماء والصفات وائی.

دویم ته توحید فی العبادة وائی.

دریم ته توحید فی الاستعانت وائی.

قرآن کریم کښې الله تعالی د خپل توحید ثابتولو د پاره خپل صفتونه ذکرکوی. نو کله د خپلو صفات ظهور کوی او کله د خپلو صفاتو تفصیل شروع کړی.

الله تعالی فرمائی: ﴿ قُلِ اللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ﴾(الرعد:۱۶)

یعني الله تعالی د هر څیز خالق دے.

دارنګ سورة شوریٰ کښې فرمائی:

﴿ يَخْلُقُ مَايَشَآءُ يَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ اِنَاثًا وَّيَهَبُ لِمَنْ يَشَآءُ الذُّكُوْرَ اَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَّاِنَاثًا وَّيَجْعَلُ مَنْ يَّشَآءُ عَقِيْمًا﴾(شوریٰ:۴۹)

یعني الله تعالی پیدا کوی څۀ چې اوغواړی نو چاله مونث اولاد ورکړی نو چاله مذکر اولاد ورکړی او چاله جوړے ورکړی او څوك شنړ اوګرځوی.

دا رنګ سورة قصص کښې فرمائی:

﴿ وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَايَشَآءُ وَيَخْتَارُ مَاكَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ﴾(قصص:۶۸۱)

یعني رب ستا پیدا کوی څۀ چې اوغواری او څۀ ئے چې خوښه شی او دے خلقو له په دے پیدائش کښې هیڅ اختیار نیشته.

زکریا علیه السلام هم په پیدائش کښې الله تعالی ته منت زاری کوی. فرمائی:

﴿رَبِّ هَبْ لِيْ مِنْ لَّدُنْكَ ذُرِيَّةً طَيِّبَةً اِنَّكَ سَمِيْعُ الدُّعَآءِ﴾(آلعمران:۳۸)

یعني اے زما ربه! ماته د خپل طرف نه پاك ځوے راکړے . یقینًا

ته قبلونکے د دعاء ئے.

نو ځکه الله تعالی په جواب کښې فرمائی:

﴿فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ وَوَهَبْنَا لَهٗ يَحْيٰى﴾(الانبياء:٨٦)

يعني مونږ ئے دعاء قبوله کړه اويحي عليه السلام مې ورله ورکړو.

دا رنګ الله تعالی روزی رسان دے.

الله تعالی فرمائی. ﴿اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ﴾(الرعد:٢٦)

يعني الله تعالی د چا رزق پراخوی او د چا تنګوی.

دارنګ سورة عنکبوت کښې فر مائی:

﴿اِنَّ الَّذِيْنَ تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَا يَمْلِكُوْنَ لَكُمْ رِزْقًا فَابْتَغُوْا عِنْدَ اللّٰهِ الرِّزْقَ﴾(عنکبوت:١٧)

يعني تاسو چې د الله تعالی نه ماسوا د چا عبادت کوئ نو هغوی تاسو له رزق نشی درکولے نو د الله تعالی نه رزق اوغواړئ.

دارنګ غيب دان الله تعالی دے.

علم غيب د الله تعالی صفت خاصه دے او متصرف صرف الله تعالی دے.

دا دواړه صفات دا سے دی چې د توحيد بنياد په دے دوؤ خبرو باندې جوړ دے.

الله تعالی سورة انعام کښې فرمائی:

﴿وَعِنْدَهٗ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا اِلَّا هُوَ﴾(انعام:٥٩)

يعني د الله تعالی سره د غيبو داسے کنجيانے دی چې هيڅ چاته پرے علم نيشته.

دا رنګ نبی کريم ﷺ ته الله تعالی فرمائی:

﴿قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهِ.وَمَا يَشْعُرُوْنَ

اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ﴾(نمل:٦٥)

يعني اووايه ورته اے پيغمبره ! چې په زمكو او اسمانو كښې د الله تعالى نه ما سواء بل هيڅ څوك عالم په غيبو باندې نيشته.

يو موقع باندې د وادهٔ په موقع ماشومانو طنبل وهلو او اشعار ئے وئيل چې: ﴿وَفِيْنَا نَبِيُّ اللهِ ﷺ يَعْلَمُ مَا فِيْ غَدٍ﴾(مسند احمد)

يعني مونږ كښې د الله تعالى داسے رسول دے چې د صبا په حالت هم پوهه دے.

نبي كريم ﷺ هغوى د دے نه منع كړل چې داسے مهٔ وائے ځكه چې ماته د صبا دحالاتو پته نه لګى.

سورة كهف كښې الله تعالى فرمائى:

﴿لَا تَقُوْلَنَّ لِشَيْءٍ اِنِّيْ فَاعِلٌ ذٰلِكَ غَدًا اِلَّا اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ﴾(كهف:٢٣)

يعني د يو كار په باره كښې داسے مهٔ وايه چې صباله به ئے كوؤم مګر هغه چې الله تعالى ئے كول اوغواړي.

دا رنګ اختيار مند د هر څيز الله تعالى دے.

الله تعالى فرمائى:

﴿قُلِ اللّٰهُ يُنَجِّيْكُمْ مِّنْهَا وَمِنْ كُلِّ كَرْبٍ ثُمَّ اَنْتُمْ تُشْرِكُوْنَ﴾(انعام:٦٤)

يعني الله تعالى تاسو لره د دے نه او د هر مصيبت نه نجات دركوى خو بيا هم تاسو شرك كوئ.

دا رنګ سورة انعام كښې فرمائى:

﴿وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗ اِلَّا هُوَ﴾(انعام:١٧)

يعني كه الله تعالى تاسو ته څهٔ تكليف دراورسوى نو د الله تعالى نه ماسواء هغے لره لرے كونكے نيشته.

مثال په طور ايوب عليه السلام باندې اته يا اتلس كاله بيمارى ده.

نو فرياد الله تعالى ته كوى:

﴿وَاَيُّوْبَ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗۤ اَنِّیْ مَسَّنِیَ الضُّرُّ وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِیْنَ﴾(الانبياء:٨٣)

يعني ايوب عليه السلام چې كله خپل رب ته اواز اوكړو چې ماته تكليف اوبيمارى رارسيدلې ده او ته ډير رحم كونكے ئے.

الله پاك ئے دعا قبوله كړه.

سورة انبياء كښې الله تعالى فرمائى:

﴿فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ وَكَشَفْنَا مَا بِهٖ مِنْ ضُرٍّ﴾(الانبياء:٨٤)

يعني مونږ د دهٔ دعاء قبوله كړه او بيمارى مو ترينه لرے كړه.

نو خلاصه دا چې د الله تعالى د وحدانيت د پيژندګلو د پاره خپل صفات خاصه ذكركوى چې په هغے باندې يو مسلمان لره ايمان راؤړل ضرورى دى. او هغه صفات به صرف الله تعالى لره ثابت ګڼړل پكار وى او د الله تعالى نه ماسواء به ئے د بل چا دپاره هم نه ثابتوے.

الله تعالى دے مونږ ته په دے عقائدو باندې د عمل توفيق رانصيب كړى.امين

# د اسلام بنیادی عقائد...(۲)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ قُلْ يٰاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا ۨ الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَ رَسُوْلِهِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الَّذِيْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَكَلِمٰتِهٖ وَاتَّبِعُوْهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ﴾ (اعراف:۱۵۷)

﴿ وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: كُلُّ اُمَّتِيْ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ اِلَّا مَنْ اَبٰى قِيْلَ مَنْ اَبٰى قَالَ مَنْ اَطَاعَنِيْ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ عَصَانِيْ فَقَدْ اَبٰى﴾ (مشکوۃ المصابیح)

د اسلام په بنیادی احکاماتو کښې د نبی کریم ﷺ اتباع یو اهم حکم دے.

په کلمه توحید کښې هم اول الله تعالی اقرار د بندګئ اخلی او بیا طرز زندګی ذکر کوی چې اقرار د بندګئ د الله تعالی به کوے ځکه چې هغه زما مالك او حکمران دے. دارنګ خپله زندګی به د نبی کریم ﷺ د نقش قدم مطابق تیرؤم. ځکه چې ازخود مونږ په خپل عقل باندې د الله تعالی بندګی نه شو کؤلے نو الله تعالی د دغے بندګئ د ښودلو او د الله تعالی خبره بندګانو ته رارسؤلو د پاره د پیغمبرانو سلسله جاری کړے ده.

دغه پیغمبر د الله تعالی د طرف نه وی او انسان به وی او د الله تعالی پیغامات به مخلوق ته رارسوی.

دا سلسله الله تعالی د اٰدم علیه السلام نه شروع کړے ده او تر اٰخري پیغمبره پورے ئے جاری ساتلے ده.

اول الله تعالی ځان ځان له قوم ته پیغمبران به لیږل او بیا داسے

وخت هم راغے چې کله انسانیت سن بلوغت ته اورسو او د قومونو رابطے د یوبل سره پیداشوے نو په اٰخر کښې الله تعالی د ټولو خلقو د پاره یو پیغمبر راؤلیږو او په عربو کښې رالیږل جغرافیائی اعتبار سره ډیر لوے اهمیت لری ځکه چې دا په خط استواء باندې واقع ده او د دنیا مرکز دے.

حدیث کښې هم راځی چې الله تعالی د دنیا پیدائش د بیت الله نه کړے دے او زمکه خوریدل د دے ځائ نه شروع شوی وو.

دارنګ دے عربو کښې یو څو خصوصیات داسے وو چې په نورو قومونو کښې مفقود وو.

یو خو دا قوم ډیر نډر، بهادر او زړهٔ ور وو.

بل دوی ډیر زیات غیرت مند وو.

بل دا چې په دغه وخت کښې دوی یو اٰزاد ریاست وو د چا ماتحت نه وو.

دارنګ د چا دَ سیاسی اثر لاندې هم داخل نه وو.

دارنګ عربی ژبه یو عالمی ژبه وه نو د دعوت د پاره یو بهترین ذریعه وه.

قراٰن کریم کښې الله تعالی فرمائی:

﴿ قُلْ يٰاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا ۨ الَّذِیْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحْیٖ وَيُمِيْتُ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَ رَسُوْلِهِ النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الَّذِیْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَكَلِمٰتِهٖ وَاتَّبِعُوْهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ﴾(اعراف:۱۵۷)

یعنې اووایه ورته اے پیغمبره ! اے خلقو زه تاسو ټولو ته رسول رالیږلے شوے یم.

قراٰن کریم کښې بل ځاې الله تعالی فرمائی:

﴿مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ﴾(النساء:۸۰)

یعني چاچې د رسول اطاعت اوکړو نو ګویا کښې هغهٔ د الله تعالی اطاعت اوکړو.

سورة نجم کښې فرمائی:

﴿وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى﴾(النجم:٣)

یعني دا پیغمبر د خپل ځان نه خبره نهٔ کوی بلکه دا خو وحی وی چې دهٔ ته کړے شوے وی.

نو خلاصه دا چې د پیغمبر منل د هغه په اطاعت کښې دی.

حدیث مبارك کښې نبی کریمﷺ فرمائی:

﴿كُلُّ اُمَّتِيْ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ اِلَّا مَنْ اَبٰى قِيْلَ مَنْ اَبٰى قَالَ مَنْ اَطَاعَنِيْ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ عَصَانِيْ فَقَدْ اَبٰى﴾

یعنې زما ټول امت به جنت ته داخلیږی مګر څوك چې انكار اوکړی. صحابوﷺ تپوس اوکړو چې څوك به انكار کوی؟ نو نبی کریمﷺ جواب ورکړو چې چا زما اطاعت اوکړو نو جنت ته به داخلیږی او چا چې زما نافرمانی اوکړله نو ګویا کښې دهٔ د جنت دَ تللو نه انكار اوکړو.

سورة نساء کښې الله تعالی د اطاعت مقدار ښائی:

﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوْا فِيْ اَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا﴾(النساء:٦٥)

یعني قسم مې دې وی په رب ستاچې دوی تر هغه وخته پورے مومنان نشی کیدے تر څو پورے چې په تا فیصلے نهٔ کوی او د فیصلے نه بعد په زړهٔ کښې څهٔ محسوس نهٔ کړ ی او فیصله په سر سترګو قبوله کړي.

سورة احزاب کښې فرمائی:

﴿ وَمَاكَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللهُ وَرَسُوْلُهٗ اَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ ﴾ (احزاب:۳۶)

یعني نه دي مناسب د یومومن سړی او ښځے دپاره چې کله الله تعالی یوه فیصله اوکړی نو ګنی چې شي دے دوی دپاره څۀ بل څۀ اختیار.

یو ځل د نبی کریم ﷺ په مجلس کښې د یو سړی په لاس باندې د سرو زرو ګوتمه وه نو نبی کریم ﷺ ترینه د لاسه اوویسته او وے غورزوله. د مجلس په اختتام دۀ ته یو صحابی اوئیلے چې خپله ګوتمه راواخله کنه.نو دے صحابی جواب ورکړو چې څۀ رنګه هغه څیز راواخلم چې هغه نبی کریم ﷺ په خپل لاس غورزولے دے.

دا رنګ بل یو صحابی سعد ایمان راؤړو نو مورئے قسم اوخوړو.

﴿وَاللهِ لَا اٰكُلُ طَعَامًا وَلَا اَشْرَبُ شَرَابًا حَتّٰى تَكْفُرَ بِمُحَمَّدٍ ﷺ﴾

یعني قسم مې دې وی په الله تعالی چې زۀ به نه خوراك کوم او نه به څکاك کوم ترڅو چې د نبی کریم ﷺ نه انکاری شوے نه ئې.

د دے په جواب کښې دۀ خپل مورته اووئیل چې که ستا سل ساګانے شي او هریو زما د دین په بدلولو کښې اوځی نو چرے به هم ایمان پرې نګدم.

الله تعالی دې مونږ ته په شرعی احکاماتو باندې د عمل توفیق رانصیب کړی. امین

# عملی شریعت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ۔۔۔ الخ﴾(بقرة:۲۵)

## دین اسلام دوه خبرې دی:

دین اسلام او شریعت په دوؤ حصو مشتمل دے.د غټ تقسیم په نسبت سره.

یو اعتقادی شریعت او دویم عملی شریعت

اعتقادی شریعت ایمانیات او په عقائدو ضروریو باندې مشتمل دے چې د هغے نه بحث مخکښې شوے دے.

دویمه حصه د عملی شریعت د نظریے عقیدے او فکر جوړیدونه بعد انسان به څۀ اعمال کوی دا حصه چې مشتمل ده په عباداتو، معاملاتو وغیره باندې په قانون شریعت سره کوی.

دا اعمال په اصل کښې د عقائدو او ایمانیاتو عملی نمونه ده ځکه چې کله څوك د الله تعالی او د رسول قائل شی او د جزاء او سزا قائل شی نو دے به د دغه عقائدو په رنړا کښې نیك اعمال کوی چې پکښې عبادات او معاملات وغیره شامل دی. او دا د عقیدې عملی ثبوت دے او نمونه ده.

## دَ عملی شریعت پنځه بنیادونه:

دا عملی شریعت په پنځو غټو غټو اعمالو مشتمل دے. چې مسلمان به ئے ادا کوی.

یو عبادات دی لکه مونځ ، روژه ، حج ، زکوٰة قربانی جهاد وغیره دی.
دویم اخلاق دی چې د مسلمان اخلاق او عادات به څۀ رنګه وی.
دریم معاملات دی چې مسلمان به لین دین څۀ رنګه کوی. اغستل خرڅول به څنګه کوی.
څلورم معاشرت دې چې مسلمان به یو بل سره ژوند څۀ رنګه تیروی. کور، رشته داری ښځه بچې، رور، خور وغیره.
پنځم سیاست او ریاست دے چې د مسلمانانو د حکومت نظام به څۀ رنګه وی؟سیاست به ئے څنګه وی حکومت به څنګه چلوی او کوی څکه نبی علیه السلام او خلفائے راشدینو حکومت کړے دے د هغې طریقه دچلولو څنګه ده او دا هم د شریعت اهم ضروری پهلو ده.
دا پنځه خبرے زمونږ د دین عملی پهلو ده چې ورته عملی شریعت وئیلے کیږی.

## دین پوره او کامل تسلیمول:

اوس کۀ څوك مسلمان په دے اعمالو کښې د یو نه هم منکر شی نو انسان به پرے کفرته اوځی.لکه یو کس وائی چې په دین کښې سیاست نشته او انکار کوی او یا دا وائی چې زمونږ دین اسلام دے او نظام سیکولرزم یا لیبرلزم یا کمیونزم وغیره نو ټول دین اسلام تسلیم کول پوره دین دے او په دینی نظام باندې عقیده د حق کیدو ساتی صرف عملاًئے نۀ تسلیموی بلکه عقیده د حقانیت ئے ساتی۔
سورة مائده کښې الله تعالی فرمائی:
﴿ اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا﴾(المائدة:۳)
یعني نن ورځ ما ستاسو د پاره ستاسو دین مکمل کړو او دا مکمل

دین یعنې عقائد، معاشره، معاملات او اخلاق دا ټول منل دی.او خپل نعمت مې درباندې پوره کړو او تاسو دپاره مې ستاسو دین اسلام منتخب کړو.

سورة بقره کښې الله تعالی فرمائی:

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ادْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً ـ ـ ـ الخ﴾(البقرة:۲۰۸)

یعنې اے مومنانو! په دین کښې پوره پوره داخل شئ.

یعنې په دین کښې به پوره پوره داخلیدل پکار وی نو څۀ رنګ چې دا نورے ځلور خبرے په اسلام کښې داخل دی نو سیاست هم په اسلا م او دین کښې داخل دے.

نو که څوك سیاست د دین نه جدا ګڼړی نو دا سے انسان په غلطئ کښې واقع دے.

قران کریم کښې هم د کامیابئ د پاره دوه لارے ښودلے شوی دی. یو دین یعنې نظریه، عقیده بل شریعت یعنې دَ عملی زندګئ ضابطه حیات.

الله تعالی فرمائی: ﴿وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ﴾

یعني زیرے ورکړه هغه کسانو ته چې ایمان ئے راؤړے دے او نیك اعمال کوی.

په دے اٰیت کښې د ایمان نه مراد عقائد دی او د اعمالو نه مراد د غه پنځه خبرو باندې عمل کولو ته وئیلے کیږی. صرف عبادت کولو ته عمل نه وئیلے کیږی د جنت زیرے په ایمان او عباداتو نه دے بلکه پوره شریعت باندې عمل کولو ته عمل صالح وائی.

نو نیك عمله به هغه وی چې عبادات ئے هم صحیح وی او معاملات به ئے هم د شریعت مطابق وی. دارنګ اخلاق او عادات به ئے

هم شرعي وي او د دے سره سره د خلقو سره به ئے معاشرت هم صحيح وي. د دے سره سره به حکومت او سياست هم د شريعت مطابق وي.
داسے انسانانو ته الله تعالى په قرآن کريم کښې د جنت زيرے ورکړے دے.

## د عبادت اهميت لوې دی:

په دے پنځو خبرو کښې عبادات ډير لوے اهميت او ضرورت لري. لکه څنګه چې په عقائدو کښې درے عقيدے توحيد رسالت قيامت ته اُمّهات العقائد وئيلے کيږی دغه شان په شريعت کښې عباداتو ته اُمّهات الأعمال وئيلے کيږی.ځکه چې په دے کښې براه راست د عابد او معبود تعلق دے. نو د دے وجے نه دے مونځ کولو ته مناجات وئيلے کيږی. دا رنګ د روژے تعلق براه راست د الله تعالى سره دے . دارنګ حج ، زکوٰة وغيره هم دی.

په دے نورو څلورو خبرو کښې د الله تعالى سره د تعلق سره سره د بنده او مخلوق سره تعلق هم وی لکه معاشره کښې د غه شان حکومت او رياست کښې تعلق د الله سره سره د مخلوق سره هم تعلق وی او د عباداتو تعلق خالص سيدها بغير د څۀ واسطے نه د الله سره وی.او چونکه دَ عباداتو تعلق محض د الله تعالى سره دے. ددے وجے نه قران کريم، حديث او شريعت کښې د دے ډير لوے اهميت ذکر شوے دے.

## عبادت څه ته وائی:

عبادت څۀ ته وئيلے کيږی د عبادت مفهوم او تعريف څۀ دے عبادت کله کله ټول دين ته هم وئيلے کيږی.عبادت د الله تعالى بندګئ، عظمت، کبريائی او د بنده عاجزئ بے چارګئ ته وئيلے کيږي. چې بنده د

الله تعالی کبریائی اومنی او خپله عاجزی الله تعالی ته وړاندې کړی. لکه مونځ په ژبه هم عبادت دے ځکه په دې کښې دَ کبریائۍ او د عظمت بیان دے په اول کښې الله اکبر بیا په ثناء کښې هم د الله صفت دا شان په نورو اندامونو رکوع او سجدې سره هم الله ته د عاجزۍ اظهار کیږی یا لاس په نامه ودریدل نو دا څیزونه د الله نه بغیر بل چاته نشی کیدے ځکه بعضې افعال او حرکات و اعمال بغیر د الله نه بل چاته جائز نه دی.

## عبادت د انسان خپل ضرورت دے:

په عباداتو کښې دا یوه خبره یاد ساتل پکاردی چې زمونږ په عباداتو کښې د الله تعالی هیڅ فائده نیشته او نه ورته ضرورت شته بلکه د دے فائده ټوله انسان ته ده.

الله تعالی هم فرمائی: ﴿اِنۡ اَحۡسَنۡتُمۡ اَحۡسَنۡتُمۡ لِاَنۡفُسِكُمۡ﴾(الاسراء:۷)

یعني که تاسو نیکی کوئ نو فائده ئے ستاسو ده. په الله څۀ احسان نشی کیدے.

نو مطلب دا چې د عباداتو فائده انسان ته رسی . د دے عباداتو په ادائیګئ سره د الله تعالی په بادشاهئ کښې څۀ زیادت نه راځی او په عباداتو نه کولو سره د الله تعالی په بادشاهئ کښې څۀ کمے نه راځی.که مونږ ټول عمر په عبادت کښې تیر کړو نوهم به د الله تعالی د یو نعمت شکریه ادا نه کړو.په حدیث کښې راځی چې نبیﷺ یو ځل او فرمائیل چې هیڅ یو انسان جنت ته په خپل عمل سره نشی داخلیدے بلکه د الله په فضل او احسان سره به داخلیږی نو عائشه رضی الله عنها ورته اووئیل چې تهٔ هم نشې داخلیدے نبیﷺ اوفرمائیل زهٔ هم مګر دا چې الله ما په خپل رحمت کښې پټ کړی. نو چې شکر ګزاره صابر بنده جنت ته په خپل عمل نه داخلیږی نو بل څوك به داخل شی.

يو حديث مبارك کښې راځي چې که دا ټول انسانان متقيان شي نو د الله تعالى په بادشاهئ کښې ورسره څۀ زياتے نه راځي او که ټول انسانيت فاسقان شي نو د الله تعالى بادشاهے کښې ورسره کمے نه راځي.نو عبادت د انسان خپل ضرورت دے او دا ځکه چې د الله سره بغير د څۀ واسطے نه تعلق وی نو هغه سره تعلق ته ضرورت دے چرته ګنده د يو سپك خاځکی نه پيدا شوے ناقص او د ګناهونو ډك انسان بنده او چرته د زمکے او اسمان واکدار پاك صفا ذات پروردګار الله رب العزت نو دا نسبت نه شی برابر کيدے دَ دې نسبت تصور نه شی کيدے نو د انسان دا خپل ضرورت دے بل دا چې د دې سره د دين تکميل راځی د مسلمان دين مکمل کيږی.

بيا په عباداتو کښې ارکان اربعه ډير لوے اهميت لری.

يو مونځ بل روژه ، بل حج او بل زکوٰة د دې مثال د عمارت دپاره د ديوالونو دے چې دَ دين عمارت پرې ولاړ دے

الله تعالى دے مونږ ته دا ټول اعمال اسان کړی اوپه پوره دين دے مونږ روان کړی. امين

# اسلام او ایمان

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِہٖ وَ اَصْحَابِہِ الْاَتْقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿وَقَالَ تَعَالٰی وَفِی الْاَرْضِ اٰیَاتٌ لِّلْمُؤْمِنِیْنَ وَفِیْ اَنْفُسِھِمْ اَفَلَا تَذَکَّرُوْنَ﴾

(الذاریات:۲۰)

﴿وَقَالَ تَعَالٰی فِیْ مُقَامٍ اٰخَرَ اَوَلَمْ یَکْفِ بِرَبِّھِمْ اِنَّہٗ عَلٰی کُلِّ شَیْئٍ شَھِیْدٍ﴾

(فصلت:۵۳)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ ﷺ : اَلْاِیْمَانُ اَنْ تُؤْمِنَ بِاللّٰہِ وَمَلَائِکَتِہٖ وَ کُتُبِہٖ وَرُسُلِہٖ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ وَتُؤْمِنَ بِالْقَدْرِ خَیْرِہٖ وَشَرِّہٖ. اَوْ کَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ ﷺ﴾(مشکوۃ)

## ایمان او اسلام څه ته وائی:

زمونږ دین اسلام د دوؤ خیزونو نه جوړ دے.

یو ایمان او بل اسلام.

یا په نورو الفاظو کښې یو عقیده او بل عمل.ایمان عقیدې ته وائی اسلام د انسان د اندامونو عمل ته وائی.

کله نا کله اسلام پوره دین ته هم وئیلے شی خو چې کله ئے په مقابل کښې ایمان راشی نو بیا ترینه صرف عمل مراد وی.

قرآن کریم کښې دا دواړه ذکر دی.

الله تعالی فرمائی:﴿وَبَشِّرِ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ﴾

یعني زیرے ورکه هغو کسانو ته چې ایمان ئے راؤړے دے او نیک عمل کوی.

عمل صالح نه مراد دین اسلام باندې چلیدل دی.

## دَعقیدې تعریف:

عقیده څۀ ته وائی؟ عقیده څۀ څیز دے؟ اهمیت ئې څۀ دے؟.......

عقیده په لغت کښې نظریے او فکر ته وئیلے کیږی. او په اصطلاح کښې واضح حقیقت ته وئیلے کیږی چې بے دلیله ئے انسان قبول کړی او تحت الشعور ته داخله شی. دَ دۀ زړۀ او دماغو کښې مضبوطه ورننوځی چې په هیڅ یو حالت کښې دا انسان د هغے نه نۀ روسته کیږی. او بیا د دے انسان د عمل نه چې کوم کار کیږی یا یوه خبره کول غواړی نو د هغے اول او آخر بنیاد دغه عقیده وی کومه یوه چې دۀ تسلیم کړې او منلې ئے ده. دې ته عقیده وئیلے کیږی په دنیا کښې د خلقو مختلف قسم سوچونه او افکار صرف دَ معیشت او اقتصاد د پاره په ځان لازم کوی څوك دخپل باطل مذهب حق ثابت کولو د پاره څوك د خپلې غلطې نظریے د پرچار کولو د پاره څوك دَجسمانی خواهشات پوره کولو د پاره د آزادئ په نوم نظریه جوړه کړی او څوك د تجربے او مشاهداتو په بنیاد او څوك د یوے خبرې ډیر زیات اوریدو سره دغه خبره د هغۀ په ذهن کښې پخه شی نو په دې څیزونو باندې یقین کول دې ته عقیده وائی. او کله چې په یو څیز عقیده جوړه شي نو هغے ته ایمان وئیلے کیږی.

د دین اسلام په رو سره ایمان په الله تعالی، فرشتو، کتابونو، انبیاؤ او په تقدیر د ښۀ او بدو ته عقیده وئیلے کیږی.

لکه د الله تعالی وجود. نوچا کښې چې عقل سلیم شته نو هغوی د الله تعالی وجود منی. دا رنګ د اٰدم نه تر د اٰخری پیغمبر پورے انبیاء کرامو د دے خبرے پرچار کړے دے او دا رنګ د اٰخرت فکر ئے وړاندے کړے دے.

## ایمان او اسلام دواړه ضروري دي:

د دے خبرو منلو په نتیجه کښې اسلام راوړل ضروري دي. که ایمان پسے اسلام نه وو نو دا ایمان پوره ایمان نه دے.

د ایمان او اسلام مثال پشان د تخم او بوټي دے. یو د بل نه بغیر وجود ته نشي راتلے. نو داسے نشي کیدے چې ایمان دې وي او عمل دې بالکلیه نه وي.

او که ایمان وو او عمل هم وو خو لږ کمزورے عمل وو نو داسے انسان مسلمان دے خو ایمان ئے ناقص دے.

او چې کوم خلق عمل کوي خو ایمان ئے نه وي نو قرآن کریم کښې د داسے خلقو ذکر شوے دے.

الله تعالی فرمائی:

﴿وَقَدِمْنَا إِلَىٰ مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَّنثُورًا﴾(فرقان:۲۳)

یعنې دوی نیك عملونه وړاندې لیږلې دي خو مونږ ئے ضائع کوو ځکه چې د ایمان د دولت نه محروم دي.

دا رنګ فرمائی:

﴿وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَعْمَالُهُمْ كَسَرَابٍ بِقِيعَةٍ يَحْسَبُهُ الظَّمْآنُ مَاءً حَتَّىٰ إِذَا جَاءَهُ لَمْ يَجِدْهُ شَيْئًا﴾(النور:۳۹)

یعنې د کافرانو د اعمالو مثال پشان د شګوګل دے چې تږے سړے پرے د اوبو ګمان کوي خو چې کله خوا له ورشي نو هلته هیڅ هم نه وي.

مطلب دا چې خواري او عمل ئے عبث دې ځکه چې عقیده د ایمان ئے نیشته نو کوم نیك اعمال چې دوی په دنیا کښې کړي وي هغه به ورله هیڅ فائده ورنکړي.

بهرحال ایمان پسې عمل ضروري څیز دے.

## څلور قسمه خلق:

د ایمان لرلو په اعتبار سره خلق په څلور قسمه دی.

یو هغه سړے دے چې ایمان ئے شته او عمل هم کوی نو دا کامل مومن دے. نو دے د الله تعالی پسند په شوق کوی او ناپسند ئے پریږدی.

د داسے کس په باره کښې بیا نبی کریم ﷺ فرمائی:

﴿مَنْ اَحَبَّ لِلّٰهِ وَاَبْغَضَ لِلّٰهِ وَاَعْطٰى لِلّٰهِ وَمَنَعَ لِلّٰهِ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ الْاِيْمَانَ﴾ (ابوداود)

یعني چا چې د الله تعالی د رضا د پاره مینه او بغض اوساتهٔ یا ورکړه او منع کول ئے هم د الله تعالی د رضا د پاره اوکړل نو د داسے انسان ایمان مکمل دے.

دویم هغه انسان دے چې ایمان ئے راؤړے وی او عمل ئے ناقص وی نو داسے انسان مجرم دے او مسلمان به شمارلے کیږی.

دریم هغه انسان دے چې ښه کارونه کوی. د هر چا د حقوقو خیال ساتی، خو ایمان ئے نه وی نو دا سړے باغی دے.

څلورم هغه سړے دے چې نه ئے ایمان وی او نه ئے عمل وی نو دا سے انسان مفسد او اعلیٰ کافر دے.

## دوه قسمه ایمانیات:

ایمانیات په دوه قسمه دی.

یو قسم هغه دی چې د قرآن او سنت نه په قطعی طریقے سره ثابت وی چې هیڅ شك پکښې نه وی او مونږ ته په تواتر سره نقل شوے وی نو دا سے قسمه عقائدو ته ضروریات دین وئیلے کیږی.

لکه په الله تعالی، رسولانو، فرشتو، اٰخرت باندې ایمان.

په دے کښې که يو انسان د يو عقيدے نه هم منکر شو نو داسے انسان به کافر وی.

دويم قسم عقائد هغه دی چې په قطعی طريقے سره نه وی نقل خو عقيده ساتل پرے ضروری دی. لکه د قيامت احوال، د قبر احوال وغيره.

د دے قسمه عقائدو نه که څوك انکار اوکړی نو داسے انسان ته کافر نه وئيلے کيږی خو ګناه کار دے.

په اول قسم عقائدو کښې د الله تعالی منل، رسول منل او اٰخرت منل، دے ته امهات العقائد وئيلے کيږی او دا په ټولو اديانو کښې رائج وو.

## دايمان تعريف:

حديث جبرائيل کښې د نبی کريم ﷺ نه د ايمان په باره کښې تپوس شوے ووچې ﴿مَا الْإِيمَانُ؟﴾ يعني ايمان څۀ څيز دے؟

نو نبی کريم ﷺ ورته فرمائيلے ووچې

﴿أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْقَدْرَ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ مِنَ اللهِ تَعَالٰى﴾ (ترمذی)

يعني ايمان نوم دے د دے خبرے چې په الله تعالی ، فرشتو، کتابونو، رسولانو ، اٰخرت او تقدير د خير او شر باندې به دے ايمان وی.

په دےحديث کښې ړومبے د ايمان بالله خبره نقل ده .

دا ايمان بالله د دوؤ خبرو نه عبارت دے.

## (۱)وجود (۲)وحدانيت:

يو د الله تعالی وجود منل، څوك ئے چې نه منی هغوی ته کميونسټ(دهری) وئيلے کيږی لکه روس والا او د دې د منونکی او نه منونکی ترمينځه فرق دے هغه دا چې منونکی تر د مرګ پورې په دې

باندې غیر متزلزل یقین ساتی اونه منونکی داسې نه دی بلکه همیشه هغوی خپله نظریه بدلوی رابدلوی او داسې خلق چې الله منی نو هغوی ډیر د خوشحالئ ژوند په معاشره کښې تیر کړے دے اګرچې یو قوم به ډیر زیات تکلیفونه ورکړی وو خو بیا هم به مطمئن وؤ او څوك چې د الله وجود نه منی هغوی د پریشانۍ ژوند تیر کړے دے او ډیر په بد شان سره معاشره کښې پاتې شوی دی تر دې پورې چې پخپله خود کشئ کولو ته تیار شوی وو. بل دا چې څوك الله نه منی هغوی په دنیا کښې داسې عظیم انقلاب نه دے برپا کړے خو څوك چې الله منی هغوی همیشه د دنیا رخ او تصویر بدل کړے دے او د عدل او انصاف فضا ئے قائم کړې ده او هر حقدار ته ئې خپل حق په خائسته طریقے سره رسولے دے .

د الله تعالی د وجود منلو نه مراد دا دے چې د دے کائنات چلولو والا څوك شته دے چې هغه الله تعالی دے. ځکه چې عقل سلیم د دے نه انکار نشي کولے.

## دویم دالله تعالی وحدانیت منل

انسان فطرتا مجاری دے خو څوك په عبادت کښې خپل صحیح مقصد ته رسیدلی دی او څوك خطا شوی دي نو کانړو لوټو او بتانو ته ئے خدائے وئیلے دے او چا غوا ګانو ته خدائے وئیلے دے.

الله تعالی قرآن کریم کښې فرمائی:

﴿اَفِی اللّٰهِ شَكٌّ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾(ابراهیم:۱۰)

یعني آیا په وجود د الله تعالی کښې د دوی شك دے چې پیدا کونکے د آسمانونو او زمکو دے.

او کله فرمائی:

﴿اَمْ خُلِقُوْا مِنْ غَیْرِ شَیْءٍ اَمْ هُمُ الْخٰلِقُوْنَ﴾(الطور:۳۵)

یعنې اٰیا دوی دا ګمنړی چې دوی په خپله پیدا کړے شوی دی یا ګنی دوی پیدا کونکی دی.
او کله فرمائی:
﴿وَفِي الْأَرْضِ آيَاتٌ لِّلْمُوْقِنِيْنَ وَفِيْ أَنْفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُوْنَ﴾(ذاریات:۲۰)
یعنې په زمکه کښې او د دوی په نفسونو کښې د الله تعالی د وجود نخښے موجود دی خو دوی د بصیرت نه کار نه اخلی.
په دنیا کښې وړے نه وړه اداره بغیر د سربراه نه نۀ چلیږي نو دا دومره لوے کائنات به څنګه بغیر د چا د پیدائش نه چلیږی.
حضرت علی رضی الله عنه ته چا وئیل چې ته ولے الله تعالی منے ؟
نو هغه ورته اوفرمائیل چې: ﴿عَرَفْتُ رَبِّيْ بِفَسْخِ الْعَزَائِمِ﴾
یعني ماخپل رب په دے اومنۀ چې زۀ څۀ غواړم هغه نۀ کیږی بلکه الله تعالی چه څۀ غواړی هغه کیږی.

## د الله په وجود او وحدانیت باندې مناظره:

دا رنګ امام شافعی رحمة الله علیه نه ګډبه د الله د وجود په باره کښې تپوس اوکړو چې الله تعالی څنګه موجود دے؟ نوهغه ورته اووئیل چې په هغه باندې ستا دا ګډې دال دی. ګډبه وئیل څنګه؟ هغوی اوفرمائیل چې کۀ تۀ د دے ګډو نه اخوا شوے نو دا ګډے به تتر بتر شی. نو که د دے عالم چلونکے څوك نه وو نو دا عالم به تتر بتر شوے وو.
دا رنګ دَ امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د یو دهری سره مناظره راغله . امام ابوحنیفه رحمة الله علیه لږ ناوخته راغے نو دهری ترینه وجه معلومه کړه نو امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ورته اوفرمائیل چې زما په لاره کښې دریاب وو. زۀ چې راتلم نو کشتئ نۀ وه. خو دغه وخت کښې یو اونه په خپله کټ شوه او کشتئ ترے جوړه شوه او زۀ پرے دې اړخ ته راپوریوتم. هغه دهری چې دا

خبره واؤریده نو خلقو ته ئے اووئیل چې ستاسو امام صاحب خو دروغ اووئیل ځکه چې کشتئ بغیر د ترکانړ نه څنګه جوړه شوه ؟ او بیا بغیر د ملاح نه څنګه په دریاب پوریوتله؟

امام ابوحنیفه رحمۃ اللہ علیہ فوراً جواب ورکړو چې کشتئ بغیر د ترکانړ جوړولو او بغیر د ملاح چلولو نه نۀ چلیږی نو بیا دا دومره کائنات څۀ رنګه په خپله چلیږی؟ د دے یو چلونکے شته چې هغه الله تعالی دے.

که څوك دا وائی چې مونږ الله تعالی ځکه نه منو چې مونږ نه دے لیدلے ؟ نو ډیر داسے څیزونه دی چې لیدلے کیږی نه او خلق ئے منی لکه عقل، هوا، اکسیجن وغیره.

دا څیزونه نۀ لیدلے کیږی خو په علاماتو ئے خلق منی نو دا رنګ الله تعالی په خپلو علاماتو باندې پیژندلے کیږی او منلے کیږی هم.

دا رنګ څوك چې د الله تعالی د وجود منونکی دی نو د هغوی ارادے پخے دی او غیر متزلزل دی او دا رنګ معاشره کښې د هغوی اوچت مقام دے او هغوی په معاشره کښې یو عظیم انقلاب راوستے دے.

دا رنګ په هر دور کښې د منونکو رائے یوه ده او هر پیغمبر سره د لری والی د زمانے نه او مختلف والی د ژبې نه یوه خبره همیشه کړې ده او نه منونکی که شل دی نو د هغوی شلو د یو بل نه مختلف عقیدې دی یو والے اتحاد پکښې نشته او دا دې وجے نه چې هر یو خپل خیال محض او د باطل فکر په خرافاتو باندې یقین کوی نو د دې وجے نه مختلف خیالات او نظري لری. او د منکرینو رائے مختلفے دی.

الله تعالی دی په دے د عمل کولو توفیق رانصیب کړی. امین

# د ایمان بنیادي اصول

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ اَفَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ اَنْ يَّهْدِيَهٗ يَشْرَحْ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ وَمَنْ يُّرِدْ اَنْ يُّضِلَّهٗ يَجْعَلْ صَدْرَهٗ ضَيِّقًا حَرَجًا كَاَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي السَّمَآءِ كَذٰلِكَ يَجْعَلُ اللّٰهُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴾ (الانعام:۱۲۵)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: اِذَا سَرَّتْكَ حَسَنَتُكَ وَسَاءَتْكَ سَيِّئَتُكَ فَاَنْتَ مُؤْمِنٌ﴾ (مسند احمد)

ایمان چونکه د هر څیز بنیاد دے د دے وجے نه د ایمان زده کړه ډیره ضروري ده.

ایمان کښې مضبوطیا په استقامت او کاملیت سره راځي. هر انسان په خپل کار کښې د ترقئ سوچ کوي، تردے چې کمال ته پکښې اورسي.

نو داسے څیز چې هغه صرف په دنیا کښې فائده رسوي او د هغے د حصول کوشش کیږي نو ایمان خو د دے نه هم اهم څیز دے ځکه چې په اٰخرت کښې ئے هم ضرورت پیښیږي. نو د دے د کمال کوشش پکار دے.

ایمان کښې کمال په یو څو څیزونو سره راځي.

ابوامامه رضی اللہ عنہ فرمائي چې یو سړي د نبي کریم ﷺ نه د ګناه د حقیقت په باره کښې تپوس اوکړو.نو نبي کریم ﷺ ورته اوفرمائیل:

﴿اَلْاِثْمُ مَا حَاكَ فِيْ صَدْرِكَ وَكَرِهْتَ اَنْ يَّطَّلِعَ عَلَيْهِ النَّاسُ﴾ (جامع معمر بن راشد)

یعني ګناه هغه څیز دے چې ستا په زړهٔ کښې تیر شي شك پکښې واچوي او ته دا بد ګڼړے چه خلق په هغے باندے خبر شي.

یو بل حدیث کښې دي چې انسان سره دوه قرینین دي. یو ورته د

ښه کار کولو حکم کوی چې هغه فرشته ده. او دویمه ورته د بد کار حکم کوی نو دا د شیطان د طرف نه وی.

د ایمان بله غټه علامه نبی کریمﷺ په حدیث کښې ښودلے ده

﴿إِذَا سَرَّتْكَ حَسَنَتُكَ وَسَاءَتْكَ سَيِّئَتُكَ فَأَنْتَ مُؤْمِنٌ﴾(مسند احمد)

یعني کله چې ستا زړه په نیکئ کولو سره خوشحاله شی او په بدئ کولو سره خفه شی نو دا د ایمان غټه نخښه ده او دا سړے مؤمن دے.

دا د ایمان غټه نخښه ده. ځکه چې نیکئ سره انسان ته سکون ملاویږی او په ګناه باندې د انسان زړه خفه کیږی.

بل یوحدیث کښې دا راغلے دی چې مومن سړي ته ګناه د غر په شان درنه ښکاری او منافق ته د مچ په پوزے د ناستے په شان ښکاری.

انس رضی اللہ عنہ فرمائی چې نبی کریمﷺ جمات ته راغے او یو صحابی حارث بن مالك رضی اللہ عنہ ئے د خوب نه پاسوؤ او تپوس ئے ترے اوکړو چې په کوم حالت کښې دے صبا کړو.

صحابی رضی اللہ عنہ ورته اوفرمائیل چې ما د یو حقیقی مؤمن په حالت کښې صبا کړے دے.

نبی کریم ﷺ ترے د علامے تپوس اوکړو. نو دے صحابی اوفرمائیل چې زه په شپه کښې د الله تعالی عبادت کوم او د ورځے اوږے ګرځم یعني روژه نیسم. او دا مې یقین دے او ګورم چې الله تعالی په عرش ناست دے، اوجنتیان په جنت کښې خوشحاله ګرځی.

نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چې دا د ایمان هغه رڼرا او نور دے چې ستا دا یقین ئے مضبوط جوړ کړے دے.

یو حدیث کښې د ایمان د اثر په باره کښې ذکر شوی دی.

نبی کریم ﷺ فرمائی چې د ایمان د مومن په زړهٔ باندې په شان

د یو سپین ټاکے دے چې هغه د ایمان په زیاتیدو سره زیاتیږی. او د منافق سړی زړه د نفاق د وجے نه پرے تور داغ زیاتیږی تردے چې زړه ئے ټك تورشی.

یوبل حدیث کښې راځی.

﴿إِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا أَذْنَبَ ذَنْبًا نُكِتَ عَلَى قَلْبِهِ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ فَإِنْ تَابَ وَفَزِعَ وَاسْتَعْتَبَ صَافَ قَلْبُهُ وَإِنْ زَادَ زَادَتْ حَتَّى تَعْلُو﴾ (عمل الیوم واللیلۃ للنسائی)

یعني مؤمن سړے چې کله د ګناه کار اوکړی نو په زړه باندې ئے تور داغ جوړ شی نو که توبه اوباسی او د الله تعالی نه یره اختیار کړی نو الله تعالی ئے زړه صفا کړی او که بیاهم په ګناه کښې اخته وی نو په زړهٔ باندې ئے دغه توروالے زیاتیږی تردے پورے چې ټول زړه ئے ټك تور شی.

بیا ئے اوفرمائیل: ﴿ذَالِكَ رَانُ الَّذِیْ﴾ ﴿كَلَّا بَلْ سکتہ رَانَ عَلَى قُلُوْبِهِمْ﴾

یعني دا هغه زنګ دے چې قرآن کریم ئے په دے الفاظو تذکره کړے ده چې هرګز داسے نه ده بلکه الله تعالی د دوی په زړونو باندې زنګ لګولے دے.

د دے نورانیت پیژندګلو نبی کریم ﷺ په دے الفاظو سره ښودلے ده چې علامه د دے دا ده چې که د دهٔ زړهٔ د دنیا نه کټ شو او د اٰخرت فکر ئے پیدا شو نو دهٔ کښے نورانیت د ایمان شته او که نه وی نو هغه دے اویریږی.

بیا نبی کریم ﷺ دا اٰیت مبارك اولوستو.

﴿فَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ اَنْ يَّهْدِيَهٗ يَشْرَحْ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ وَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ اَنْ يُّضِلَّهٗ يَجْعَلْ صَدْرَهٗ ضَيِّقًا حَرَجًا كَاَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي السَّمَآءِ﴾ (الانعام:۱۲۵)

یعني الله تعالی چې دچا د هدایت اراده اوکړی نو زړه ئے اسلام ته پرانیزی او د چا د ګمراه کولو اراده چې اوکړی نو سینه ئے تنګه ترشه

اوګرځوی.

اشرف علی تهانوی رحمة الله فرمائی چې د دے ایمان د حصول ښه طريقه دا ده چې د هر عمل دکولو نه مخکښې د هغے په نتيجه سوچ اوکړی چې آیا په دے به ماته سزا ملاویږی که ثواب. که سزا ملاویږی نو آیا زه به ئے برداشت کړے شم که نه.

کله چې دے دا سوچ کوی نو دے به د دنیانه لطف محسوس کړی او ایمان کښې به ئے نور پیدا کیږی.

دویم د ایمان د نور د حصول د پاره بهترینه طریقه د جنت نعمتونه یادول دی نو په دے سره به هم ایمان کښې نورانیت راځی.

ایمان کښې پختګی د الله تعالی او د رسول په اطاعت سره راځی او دا د ایمان د پختګئ غټه علامه ده.

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چې د قریشو د زنانو په نسبت د انصارو د ښځو ایمانونه ډیر مضبوط دی ځکه چې کله سورة نور کښې د پردے حکم رانازل شو نو یو زنانه په لار کښې ډډے ته کښیناسته او خپل ځوی ته ئے د غټ څادر د کور نه د راوړلو حکم اوکړو. دا د ایمان پختګی وه.

دارنګ د شرابو د حرمت حکم چې کله اوشو نو صحابو رضی الله عنهم د شرابو منګی او چاټئ ماتے کړے.

بعضے صحابو رضی الله عنهم د تجارت په غرض ډیر زیات شراب شام نه راوړے وو. هغه ټول ئے مات کړل.

د تاریخ کتابونو لیکلی دی چې دومره ډیر شراب ضائع کړے شو چې کله به باران اوشو نو د شرابو بدبوئی به ختله.

دا د صحابه کرامو رضی الله عنهم د ایمان د پختګئ وجه وه.

د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه بی بی زینب رضی الله عنها فرمائی. چې ابن مسعود رضی الله عنه چې به کله هم کور ته راتلو نو ټوخے به ئے کوؤ. دے دپاره چې زه ځان سم کړم.

یو ورځ ئے دغه عادت اوکړو . ماسره یو دمګرے ښځه ناسته وه. ما هغه د کټ لاندے کړه. بیا هغه زما په غاړه کښې تار اولیدلو نو ویشلولو او وے فرمائیل چې د ابن مسعود رضی الله عنه په کور کښې شرك.

بیا ئے راته دعاګانے اوښودلے.

خو ما پرے سوال اوکړو چې زما په سترګو کښې به خارښ وو خو چې کله به یو یهودني له دم له لاړم نو ټهیك به شوم.

عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ورته اوفرمائیل چې دا به شیطان ستا په سترګو کښې ګوته وهله او د یهودنے په دم سره به لرے شو. دے د پاره چې ستاسو ایمان او عقیده خرابه کړی.

الله تعالی دې مونږ ته د نبی کریم صلی الله علیه وسلم صحیح اتباع رانصیب کړی. امین

# ایمان یو عظیم نعمت دے.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ كَانُوْا مُسْلِمِيْنَ﴾(الحجر:۲۱)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: اِنَّ اللهَ قَسَّمَ بَيْنَكُمْ اَخْلَاقَكُمْ كَمَا قَسَّمَ بَيْنَكُمْ اَرْزَاقَكُمْ وَاِنَّ اللهَ يُؤْتِي الدُّنْيَا مَنْ يُّحِبُّ وَمَنْ لَّا يُحِبُّ وَلَا يُؤْتِي الْاِيْمَانَ اِلَّا مَنْ يُّحِبُّ﴾(مسند احمد)

## ایمان یو لوے نعمت دے:

په دنیا کښې په انسان باندې د الله تعالی لوے احسانات دی خو په دے ټولو احساناتو او انعاماتو کښې د ټولو نه لوے انعام او احسان ایمان دے، ایمان په دین کښې د بنیاد حیثیت لری لکه څنګه چې دیوالونه بغیر د بنیاد قائم نه شی پاتې کیدے دا رنګه د انسان اعمال هم بغیر د ایمان نه څۀ حیثیت نۀ لری بےکاره او بے فائدې دی. په دې مجلس کښې د دې متعلق چې الله په مؤمن باندې ډیر لوې نعمت په دنیا او په آخرت کښې دے. په آخرت کښې ځکه چې بغیر د ایمان نه انسان جنت نه نشی دا خلیدے او په دنیا کښې دا د اطمینان قلب او د روح خوشحاله ساتلو د پاره یو لوې سبب دے. چې الله تعالی چاته د ایمان دولت نصیب کړی.

په یو موقع کښې بعض خلق نبی کریم ﷺ ته راغلل او په نبی کریم ﷺ ئے خپل ایمان راؤړل زباتل شروع کړل چې نورو قومونو ستا سره جنګونه کړی دی او د هغې نه بعد ئے هم ایمان نه دے راوړے مونږ

بغیر د جنګ نه او بغیر د تکلیف رسولو نه تا ته مونږ ایمان دار جوړ شوی یو نو تهٔ زمونږه دا یو غټ احسان اومنه. او زمونږ سره د بیت المال نه څهٔ تعاون اوکړه نبی ﷺ جواب وکړو چې ما سره خو په بیت المال کښې فی الحال څهٔ څیز موجود نشته. نو الله تعالی په سورة حجرات کښې دا اٰیتونه مبارکه نازل کړل چې دے خلقو ته اووایه چې:

﴿لَا تَمُنُّوْا عَلَيَّ اِسْلَامَكُمْ بَلِ اللهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ اَنْ هَدٰىكُمْ لِلْاِيْمَانِ﴾(الحجرات:۱۷)

یعنې په ما باندې خپل ایمان مهٔ زباتئ دارنګه یو سړے یو حق عقیده یا یو نظریه اُومنی نو په ښودونکی اُستاد امیر یا مشر باندې به د دې احسان نه کوی بلکه د هغه احسان په ځان باندې لازم منی.بلکه دا خو د الله تعالی په تاسو یو احسان دے چې تاسو ته ئے د ایمان لاره اوښودله. نو په دې ایت کښې الله ایمان ته احسان اووئیلو چې دا نصیب کیدل د الله یو لوې احسان دے. په دې سورة کښې الله په صحابه کرامو ﷺ باندې بل یو عظیم نعمت بیا نوی الله وائی:

﴿وَلٰكِنَّ اللهَ حَبَّبَ اِلَيْكُمُ الْاِيْمَانَ وَزَيَّنَهٗ فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَكَرَّهَ اِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوْقَ وَالْعِصْيَانَ﴾(الحجرات:۷)

چې الله نعمت په تاسو باندې اوکړو چې ایمان ئے درته نصیب کړو او کفر (د الله مخالفت ئے) ستاسو په زړونو باندې بد اوګرځولو. په بل ځائے کښې﴿ذٰلِكَ فَضْلٌ مِّنَ اللهِ وَنِعْمَةٌ﴾ چې د ایمان رونق په زړهٔ کښې پیدا کیدل په دې باندې عقیده ساتل او مضبوط کلك په دې باندې اودریدل د الله فضل او نعمت دے په خپل بنده باندې.

# د ایمان او نورو نعمتونو مینځ کښې فرق:

حدیث کښې راځي:

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: اِنَّ اللهَ قَسَّمَ بَيْنَكُمْ اَخْلَاقَكُمْ كَمَا قَسَّمَ بَيْنَكُمْ اَرْزَاقَكُمْ وَاِنَّ اللهَ يُؤْتِي الدُّنْيَا مَنْ يُّحِبُّ وَمَنْ لَّا يُحِبُّ وَلَا يُؤْتِي الْاِيْمَانَ اِلَّا مَنْ يُّحِبُّ﴾ (مسند احمد)

یعنې الله تعالی ستاسو په مینځ کښې د اخلاقو او د ښویونو تقسیم کړے دے لکه څنګه چې ئے رزق تقسیم کړے دے چا ته لږ چا ته ډیر. او دنیا الله تعالی خوښ او ناخوښ دواړوته، دوست دے که دشمن، منونکے دے اوکه نه منونکے هغوی ټولو ته ورکوی په سوره زخرف کښې الله وائی چې که زما خوښه وئ نو ما به په دې دنیا کښې دا غرونه او چتونه هر څۀ د سرو زرو کړے وے خو ولے دا الله ته د قربت او نزدی والی سبب نه دے نو یو انسان ته ډیره دنیا ملاویدل کمال نه دے کامل او مکمل کمال دا دے چې الله انسان ته خوږ صفا بےغباره خائسته ایمان ورکړی .

حدیث کښې راځی: ﴿اَلدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَجَنَّةُ الْكَافِرِ﴾ یعنې دنیا کښې مسلمان مومن بنده که په غریبئ فقرو فاقه کښې ژوند تیروی نو د دې بدله به په آخرت کښې د جنت په شکل کښې الله ورکړی او که یو مسلمان سره بنګله موټر ظاهری عزت هم دې نو د جنت نعمت په بدله کښې دا هم د یو قید خانې مثال لری بخلاف د کافر باندې چې دۀ له دنیا کښې ظاهری څۀ مال دولت عزت ملاؤ شی صحیح! خو په آخرت کښې د دۀ څۀ برخه څۀ حصه نشته دے ځکه که نور په دنیا هیڅ څیز نه وی نو کم از کم دا د اخرت د جهنم عذاب خو په دنیا کښې نه وو. لیکن د ایمان دولت هغه چالره ورکوم چې ماته خوښ وی.

نو د ایمان دولت الله تعالی هغه چالره ورکوی چې الله تعالی ته

خوښ شي او د الله تعالی محبوب جوړ شي.

په دے مسلمان لره خوشحالیدل پکاردی چې الله تعالی ورته خصوصی پیرزونه په شکل د ایمان کښې کړے ده. او مومن سړے د الله تعالی محبوب وی.

علامه ابن کثیر رحمۃ اللہ علیہ یو روایت رانقل کړې دې.

## ایمان به فیصله کوی:

چې د قیامت په ورځ به څۀ مؤمنان جنت ته لاړ شي او څۀ به د ګناهونو د وجے نه جهنم ته لاړ شی. نو کافران به ترے تپوس اوکړی چې تاسو ته ایمان څۀ فائده درکړه؟ ﴿مَاسَلَكَكُمْ فِيْ سَقَرَ؟﴾

یعني کوم څیز د وجے نه تاسو جهنم ته داخل شوے؟

دوی به جواب ورکړی چې:

﴿لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّيْنَ وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِيْنَ وَكُنَّا نَخُوْضُ مَعَ الْخَآئِضِيْنَ﴾(المدثر:۴۲)

یعني مونږ به مونځ نه کوو یا صحیح مونځ به مو نه کوو او مسکین سره به مو د وس مطابق مدد نه کوو او د دنیادارو په شان په دنیا کښې ورننوتلے وو.د دنیا د مستقبل سوچ مونږ کولو خو د حقیقی مستقبل چې هغه د دنیا د مستقبل سره نسبت نه لری د دنیا مستقبل شپته کاله کم یا زیات خو د آخرت مستقبل چې هغه نه ختمیدونکے ژوند دے د هغې دپاره سوچ نشته نو دا انسان ډیر لوے بے وقوفه دے حدیث کښې راځی:

﴿اَلْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهٗ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ﴾(مسند ابوداؤد طیالسی)

هوښیار هغه دے چې د مرګ نه بعد مستقبل د پاره عمل کوی صرف سوچ نه بلکه عملی تیارې کول.

## حقیقی مستقبل څه ته وائی:

الله تعالی لره به په دے خبره غیرت راشی او فرشتو ته به حکم اوکړی چې د چا په زړهٔ کښې ذره برابر ایمان وی نو هغه د جهنم نه راؤباسئ.

په دے موقع بیا نبی کریم ﷺ دا اٰیت اوفرمایو:

﴿ رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ كَانُوا مُسْلِمِينَ ﴾(الحجر:۲۱)

یعني ډیر کرته به بیا دا کافران خوبنه ګڼړی چې کاش مونږ مسلمانان وے.

## شپږ نعمتونه:

حضرت علی رضی الله عنه فرمائی چې حقیقي نعمتونه په دنیا کښې شپږ دی.

اول ایمان، دویم قرآن، دریم د نبی کریم ﷺ ذات بابرکات او رسالت، دا دین شو مطلب دا دین ډیر لوی حقیقی او عظیم نعمت دے

څلورم امن چې په ژوند او ملك کښې حفظ وامان وی، د دې وجے نه ابراهیم علیه السلام یو دعا کړې وه هغه دا ده.

﴿اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ اٰمِنًا وَّارْزُقْ اَهْلَهٗ مِنَ الثَّمَرَاتِ﴾(البقرة:۱۲۶)

د یو ملك د نظام چلولو د پاره امن او رزق بنیادی څیزونه دی.

اوڅلورم عافیت دے، پنځم پرده پوشی ده، او دا ځکه انسان خو د ګناهونو نه ډك دے الله په دهٔ باندې پرده اچولې ده او عیبونه ئے ورله پټ کړی دی که چرې دا عیبونه ښکاره وے نو بیا په دنیا کښې ژوند کول ګران دی. شپږم بے محتاجی.

حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله فرمائی چې ایمان د هر څیز اساس او بنیاد دے د دے وجے نه ایمان د الله تعالی ډیرلوے نعمت دے.او دا په نص صریح سره ثابت دی.

## د ایمان دَ نعمت شکر همیشه ادا کول:

طعام د الله تعالی نعمت دے نو د دے هم ورسره ذکر کیږی او ځومره چې نعمت غټ وی نو داسې د هغې غټ شکر ویستل پکار دی افسوس زمونږ سره د ایمان هیڅ قدر وقیمت نشته د لسو روپو نه هم راته ډیر سپك دے چې لسو روپو یو څیز خرڅوی نو وائی چې یره زۀ به بے ایمانه یم که دا په لس روپے باندې نه وی. زمونږه استاذ میر سمیع الحق افغانی رحمۃ اللہ علیہ به کله په درس کښې خبره کوله چه خلق وائ فلانې ښه سړے دے فلانې ښه ایماندار سړے دے نو د دۀ د ایمان به هله پته لګی چې کله درس قران کیږی او په بازار کښې لس لس روپۍ تقسیمږی نو دا ایماندار په رشتیا دے چې قران ته کینی او که د لسو روپو قیمت شته او قرآن او ایمان پریږده د دې انسان ایمان نشته پیسه ایمان دے ځومره چې د دې قدر پکار وو د هغې نه ډیر د دې قیمتی بې مثاله حقیقی نعمت بےقدری کیږی.

چوبیس ګهنټې نبی علیه السلام د ایمان د نعمت به شکر ادا کولو حتی که یو دنیوی نعمت به ورته حاصل شو نو د هغي سره به ئے د ایمان نعمت شکریه هم ادا کوله لکه یو دعا د خوراك کښې راځی.

﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ﴾(مسند احمد)

یعني ټول شکرونه حمدونه الله تعالی هغه ذات لره دی چې په مونږ ئے خوراك، څښاك اوکړو او دا نعمت وۀ. او مونږ ئے مسلمانان پیدا کړے یو.او دا ډیر لوې نعمت دے ځکه په هر ځائے کښې د نورو نعمتونو سره یو ځائے ذکر کوی.

مطلب دا چې د طعام د نعمت نه هم غټ نعمت د ایمان دے نو فورًا ئے په شکریه کښې نعمت د ایمان هم ذکر کړو.

الله تعالی دے مونږ ته په صحیح معنو کښې د دے د شکریه اداکولو توفیق رانصیب کړی. امین

# ایمان یو عظیم دولت دے.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ. بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ قُلْ اَتُعَلِّمُوْنَ اللّٰهَ بِدِيْنِكُمْ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴾ (الحجرات:۱۶)

﴿ وَقَالَ تَعَالٰى فِيْ مَقَامٍ اٰخَر: يَمُنُّوْنَ عَلَيْكَ اَنْ اَسْلَمُوْا قُلْ لَّا تَمُنُّوْا عَلَيَّ اِسْلَامَكُمْ بَلِ اللّٰهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ اَنْ هَدٰىكُمْ لِلْاِيْمَانِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴾ (الحجرات:۱۷)

## د ایمان د خزانے حفاظت:

د دنیا په دولتونو کښې د ټولو نه لوے دولت ایمان دے . دا داسے خزانه ده چې دنیا کښې یوه خزانه د دے خزانے مقابله نه شی کولے .که د دنیا دولت او مال د دنیا سره ډیر زیات شی نو اول خو دا خبره ده چې دا انسان سره وفا نۀ کوی ځکه پښتانۀ وائی چې مال د لاس خیرے دے سحر وی او ماښام نه وی او که بیا دا ډیر وفادار شی نو د دنیا ژوند شپیتۀ کاله اوویا کاله اتیا کاله به وی خو په آخرت کښې به هیڅ فائده مند نه وی او ایمان دا یو داسے خزانه ده چې په دنیا کښې هم پرے انسان خوشحاله وی او په اٰخرت کښې هم.

چونکه ایمان ډیر لوے خزانه ده نو دشمن به درپسے ډیر لړیدلے وی نو د دے دولت او خزانے د حفاظت فکر به پکار وی.چې د دې مال خزانے نه مې څوك خلاص نه کړی.

صحابه کرامو رضی اللہ عنہم به د دے خزانے د حفاظت فکر هر وخت کولو. نن صبا زمونږ سره د ایمان هیڅ سوچ او فکر نشته زمونږ خیال دا دے

چې دا ایمان یو ځل راشي نو بیا نه ځي که زهٔ بخپله هر څهٔ کومه او هر څهٔ خبره وایم خو دا ایمان ته نقصان نه رسوی زهٔ خو مسلمان او مؤمن پیدا شوے یم او په دې سره به د دنیا نه زم، نا دا سوچ او دا فکر غلط سوچ او فکر دے دا بے کاره نظریه او عقیده ده دا د نا پوهئ او د جهالت خبره ده دا سوچ دلیل دے د دې خبرې چې زمونږ سره د ایمان څهٔ اهمیت نشته. ځکه چې هغوی ته ایمان ډیر په تکلیف ملاؤ شوے وو.نو ځکه ورسره د ایمان غم او درد وو.

## صحابه کرامو رضی الله عنهم سره د ایمان فکر:

حضرت خنظله رضی الله عنه نه یو ځل ابوبکر رضی الله عنه تپوس اوکړوچې ولے پریشانه ئے نو حضرت خنظله رضی الله عنه ورته اووئیل چې خنظله رضی الله عنه منافق شوے دے ځکه چې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په مجلس کښې راسره صرف د اٰخرت فکر وی او په خپل کور کښې بیا د دنیا فکر کښې اخته شو. ابوبکر رضی الله عنه ورته اووئیل چې داسے خو ماسره هم کیږی.

دواړه نبی کریم صلی الله علیه وسلم له لاړل او واقعه ئے ورته واؤروله. صحابه رضی الله عنهم هوښیار خلق وو راځه چې پیغمبر نه تپوس اوکړو.

نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل چې که چرته تاسو په خپلو کورونو کښې هم د اٰخرت په فکر کښې وئ نو فرشتے به تاسو سره په لارو کښې ملاویدے او تاسو له به ئے لاسونه درکول. د دې نه اندازه کیږی چې د هغه خلقو سره څومره د ایمان فکر وو ځکه به خفه او غمژن کیدل چې هسې نهٔ زهٔ منا فق شوے یم او دا د ایمان حالت وی کله کمزورے وی او کله مضبوط کیفیت ئے بدلیږی نو مسلمان به غافله کیږی نه ایمان کښې به کمزوری نهٔ پریدی هغه سره به د حنظله رضی الله عنه او ابوبکرصدیق رضی الله عنه په شان د ایمان غم او فکر همیشه وی.

دا رنګ یو تابعي(ابن ملیکة رحمۃ اللہ علیہ) فرمائی چې ما تقریبًا دیرش صحابه کرام رضی اللہ عنہم لیدلے دی چې په خپل ځان به د نفاق نه یریدل.هسې نه چې زه منافق شوے یم او د ایمان نه خلاص شوے یم بې ایمانه نه شم.هغه صحابه رضی اللہ عنہم چې هغوی ته په مخ د زمکه باندې د جنت زیری راتلل خو د جنتی کیدو سره سره په خپل ایمان د نقصانی کیدونه به یریدل.

دارنګ عمر رضی اللہ عنہ چې په دنیا کښې ورته د جنتی کیدو زیرے ملاؤ شوے دے او بدری صحابی دے خو بیا هم حذیفه رضی اللہ عنہ نه تپوس کوی چې دا راته رشتیا اووایه چې زهٔ خو د منافقینو په لسټ کښې نه یم؟

خلاصه دا چې ایمان یو قیمتی دولت دے . د دے وجے نه صحابه کرام رضی اللہ عنہم به هروخت د دے د حفاظت په فکر کښې وو.او هر مسلمان له په هر وخت کښې د دې حفاظت پکار دے.

## د ایمان د حفاظت دوه طریقے:

د دے وجے نه نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم د ایمان د حفاظت د پاره دوه طریقے ښودلے دی.

یو تجدید د ایمان.

نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم فرمائی چې په دنیا کښې هر یو څیز زړیږی. لکه یو انسان کپړے واغوستے نو هغه چه کله زړي شی نو د هغه دا غم وی چې کله به ئے پاکے کړی د کپړو د پاکووالی او تازګئ غم ورسره وی خو د ایمان غم په دنیا کښې چاسره نه وی چې ایمان به تازه کړو. نو دا رنګ زړونو کښې چې کوم ایمان پروت دے نو هغه هم زړیږی. نو د الله تعالی نه د ایمان د حفاظت دعاګانے غواړئ.چې دا ایمان او زړهٔ مې صفا کړے.

د دے وجے نه نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم د ایمان د مضبوطیا د پاره دعاګانے ښودلے دی.

﴿يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قَلْبِيْ عَلٰى دِيْنِكَ﴾ (ابوداود طيالسي)

اے د زړونو اړونکیا زما دا زړۀ په خپل دین مضبوط او قوی کړے.

﴿يَا مُصَرِّفَ الْقُلُوْبِ صَرِّفْ قُلُوْبَنَا عَلٰى طَاعَتِكَ﴾ (مسند احمد)

اے د زړونو مالکه زما زړه په خپله تابعدارئ باندې راولې.

دا رنګ د نبی کریم ﷺ نه چې کومے دعاګانے نقل دی نو په هغے کښې په اکثرو دعاګانو کښې د ایمان د حفاظت دعاګانے غوښتلے شوے دی چې د هغه د ایمان نه مضبوط ایمان نشی کیدے.نو یوه خبره دا ده چې انسان به د الله نه د استقامت او تجدید ایمان د پاره دعاګانې غواړی.

علماء کرام فرمائی چې د ایمان مثال په شان د سمندر دے چې کله پکښې غتے غتے چپے راشی او کله هموار روان وی نو دا رنګ ایمان هم کله زیاتیږی او کله کمیږی.

دویمه طریقه د ایمان د تازه کولو دا ده چې انسان ذکر ډیر کوی الله ډیر یادوی همیشه د هغه خُلۀ د الله ذکر کوی او که په خُله ذکر نه وی نو زړه ئے هیڅ یو حالت کښې غافله نه وی. دا رنګ ابوهریرة رضی الله عنه فرمائی چې یو ځل نبی کریم ﷺ د ایمان د تجدید بیان کولو نو وے فرمائیل:

﴿جَدِّدُوْا اِيْمَانَكُمْ قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللهِ كَيْفَ نُجَدِّدُ الْاِيْمَانَ؟ قَالَ اَكْثِرُوْا مِنْ قَوْلِ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ﴾ (مسند احمد)

یعنې تاسو د خپلو ایمانونو تجدید کوئ . نو صحابو رضی الله عنهم تپوس اوکړو چې څۀ رنګه مونږ د ایمان تجدید اوکړو؟ نو نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چې د لااله الا الله وینا باربار کوئ.

محدثین د د ے مختلفے معانې ذکر کوی.

یو دا چې د دے کلمے ذکر او ورد ډیر ډیر کوئ. ځکه چې دے

سره د باطن صفائی راځی.

دویم دا چې د توحید د الله تعالی دعوت کوه. ځکه چې د دے فائدے ډیرے زیاتے دی.

دریم دا چې تجدید د ایمان په مجالسو د ایمان کښې کیږی.

## د ایمان تازګی په دینی مجالسو کښې:

صحابه کرامو رضی الله عنهم به یو بل ځان سره کینول او فرمائیل به ئے چې راځه چې تجدید د ایمان اوکړو.

ابن رواحه رضی الله عنه د ایمان دومره فکرمند وو چې څوك به ئے هم اولیدل نو ځان سره به ئے کښنو او وئیل به ئے چې کینه.

﴿اِجْلِسْ نُؤْمِنْ بِرَبِّنَا سَاعَةً﴾

یعني کینه چې لږ وخت په الله تعالی باندې ایمان تازه کړو.

یوصحابی رضی الله عنه ورته په دے غصه شوچې ایمان خو همیشه دپاره سړی سره وی او ته دا وائی چې یو ساعت ایمان تازه کوو. او نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته ئے شکایت اوکړو نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل چې مه خفه کیږه هغه سره د خپل ایمان ډیر زیات فکر دے.

﴿رَحِمَ اللهُ ابْنَ الرَّوَاحَةَ يُحِبُّ الْمَجَالِسَ الَّتِيْ تُبَاهِيْ فِيْهَا الْمَلَائِكَةَ﴾

یعني الله تعالی دې په ابن رواحه رحم اوکړی هغه د ایمان مجالس خوښوی په کومو چې فرشتے هم فخرکوی.

الله تعالی دے مونږ ته د صحیح ایمان توفیق رانصیب کړي.امین

# د ایمان اهمیت وکمال

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ فَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ اَنْ يَّهْدِيَهٗ يَشْرَحْ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ وَمَنْ يُّرِدْ اَنْ يُّضِلَّهٗ يَجْعَلْ صَدْرَهٗ ضَيِّقًا حَرَجًا كَاَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي السَّمَآءِ كَذٰلِكَ يَجْعَلُ اللّٰهُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ﴾ (الانعام:۱۲۵)

﴿وقال تعالىٰ: اَفَمَنْ شَرَحَ اللّٰهُ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ فَهُوَ عَلٰى نُوْرٍ مِّنْ رَّبِّهٖ﴾ (الزمر:۲۲)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم: اِذَا سَرَّتْكَ حَسَنَتُكَ وَسَاءَتْكَ سَيِّئَتُكَ فَاَنْتَ مُؤْمِنٌ﴾ (مسند احمد)

## د ایمان اهمیت پیژندل:

ایمان چونکه د هر څیز بنیاد دے د دے د وجے نه د ایمان زده کړه ډیره ضروری ده.

ایمان کښې مضبوطیا په استقامت او کاملیت سره راځی. هر انسان په خپل کار کښې د ترقئ سوچ کوی ، ترڅو چې کمال ته پکښې اورسی. ځکه چې ایمان په دوه قسمه دے ،کامل او ناقص په دنیا کښې چرته یو کس تجارت یا کاروبار کوی نو هغه همیشه کمال ته د رسولو د پاره کوشش کوی دا شان هر کس له پکار دی چې کمال ته خپل ایمان اورسوی او کامل مکمل صاحب کمال مؤمن جوړ شی دغه شان تعلیم یافته طبقه همیشه د اعلی تعلیم د حصول کوشش بلکه هر یو سړے په خپل فن دنیوی کښې ځان کمال ته رسوی خو ولے دا ټول د دنیا عارضی فانی او ختمیدونکی څیزونه دی د دې د کمال تصور نه شی کیدے او

سره د دې خلق په دې کښې کمال حاصلول غواړی خو کوم چې په حقیقت کښې د کمال څیز دے چې هغه همیشه باقی پاتیکیدونکے څیز دے په هغے کښې یو انسان هم ځان کمال او اصلی مقصد ته نۀ رسوی.

نو داسے څیز چې هغه صرف په دنیا کښې فائده رسوی او د هغے د حصول کوشش کیږی نو ایمان خو د دے نه هم اهم څیز دے ځکه چې په اٰخرت کښې ئے هم ضرورت پیخیږی. نو د دے د کمال کوشش پکار دے. ایمان کښې کمال په یو څو څیزونو سره راځی.

## د ګناه حقیقت او تعریف:

ابو امامه ؓ فرمائی چې یو سړي د نبی کریم ﷺ نه د ګناه د حقیقت په باره کښې تپوس اوکړو.چې ګناه یو خطرناك بدترین جرم دے خو دا راته اووایه چې ګناه څۀ ته وئیلے کیږی او د دې حقیقت به څۀ وی؟ چې انسان ترینه ځان په حفاظت او امن کښې اوساتی.نو نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل:

﴿اَلْاِثْمُ مَا حَاكَ فِيْ صَدْرِكَ وَكَرِهْتَ اَنْ يَّطَّلِعَ عَلَيْهِ النَّاسُ﴾(مسند احمد)

یعنې ګناه هغه څیز دے چې ستا په زړۀ کښې تیره شی نو خلقو ته د پتے نه لګیدو خیال دے زړۀ ته راشي. یعنی زړۀ، فطرت انسان ملامته کړی چې دا تۀ څۀ کښې اخته شوے ئے دا ته څۀ کوے. نو دې ته ګناه وئیلے کیږی دا د ګناه تعریف دے چې ته نۀ غواړي چې خلق په هغے خبر شی.

یو بل حدیث کښې دې چې انسان سره دوه قرینین دی، دوستان دی چې انسان ته نه ښکاری.

یو ورته د ښه کار کولو حکم کوی چې هغه فرشته ده.

او دویمه ورته د بد کار حکم کوی نو دا د شیطان د طرف نه

وی.خو کله په انسان فرشته صفت غالبہ شی نو نیک کار کوی او کله حیوانی صفت یعنی شیطان غالبه شی نو بیا بدکارو کښې ډوب شی.
د ایمان بله غټه علامه نبی کریم ﷺ په حدیث کښې ښودلے ده .

## د ایمان یوه غټه علامه:

﴿إِذَا سَرَّتْكَ حَسَنَتُكَ وَسَاءَتْكَ سَيِّئَتُكَ فَأَنْتَ مُؤْمِنٌ﴾(مسند احمد)

یعنې کله چې ستا زړه په نیکئ کولو سره خوشحاله شی او دا به تاسو خپله تجربه کړي وی چې کله یو انسان نیکی اوکړی نو د هغه زړهٔ هشاش بشاش خوشحال نیك بخته مطمئن وی لکه انسان صدقه اوکړی نو په ظاهر کښې تاوان او نقصان ښکاری خو انسان مطمئن وی یا د شپې مونځ ته راپاسیږی یا یو بل نیك کار اوکړی دا د ایمان اثر وی او په بدئ کولو سره خفه شی نو دا د ایمان غټه نخښه ده او دا سړے مومن دے.

دا د ایمان غټه نخښه ده. ځکه چې نیکئ سره انسان ته سکون ملاویږی او په ګناه باندې د انسان زړهٔ خفه کیږی.

## د یو صحابی رضی اللہ عنہ د مضبوط ایمان واقعه:

بل یو حدیث کښې دا راغلی دی چې مؤمن سړی ته ګناه د غر په شان درنه ښکاری او منافق ته د مچ په پوزے د ناستے په شان ښکاری.

انس رضی اللہ عنہ فرمائی چې نبی کریم ﷺ جمات ته راغے او یو صحابی حارث بن مالك رضی اللہ عنہ ئے د خوب نه پاسوؤ او تپوس ئے ترے اوکړو چې په کوم حالت کښې دې صبا کړو.

صحابی ورته اوفرمائیل چې ما د یو حقیقی مؤمن په حالت کښې صبا کړے دے.

نبی کریم ﷺ ترے د علامے تپوس اوکړو.چې د هر څیز د

حقیقت یو علامه نخښه وی ستا د پوخ ایمان نخښه علامه څۀ څیز دے .
نو دے صحابي اوفرمائیل چې زه په شپه کښې د الله تعالی عبادت کوم او د ورځے اوږے ګرځم یعني روژه نیسم. او دا مې یقین دے او ګورم چې الله تعالی په عرش ناست دے، اوجنتیان په جنت کښې خوشحاله ګرځی.او جهنمیان جهنم کښې په عذاب کښې راګیر دی او دا ټول ماته ښکاری.

نبی کریم ﷺورته اوفرمائیل چې دا د ایمان هغه رڼړا او نور دے چې ستا دا یقین ئے مضبوط جوړ کړے دے.یعنی دا هغه رڼړا ده چې تا ته دومره یقین دے ګویا چې دا هر څۀ تا ته ښکاری.

یو حدیث کښې د ایمان د اثر په باره کښې ذکر شوے دی.

## په زړه باندې د ګناه او نیکے اثر:

نبی کریم ﷺفرمائی چې دا ایمان د مؤمن په زړۀ باندې په شان د یو سپین ټاکے دے چې هغه د ایمان په زیاتیدو سره زیاتیږی او د منافق سړي زړۀ د نفاق د وجے نه پرے تور داغ زیاتیږی تردے چې زړه ئے تك تور شی.

یوبل حدیث کښې راځی.

﴿إِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا أَذْنَبَ ذَنْبًا نُكِتَ عَلَى قَلْبِهِ نُكْتَةٌ سَوْدَاءَ فَإِنْ تَابَ وَنَزَعَ وَاسْتَعْتَبَ صَافَ قَلْبُهُ وَإِنْ زَادَ زَادَتْ حَتَّى تَعْلُوَ﴾(مسند احمد)

یعنې مومن سړے چې کله د ګناه کار اوکړی نو په زړۀ باندې ئے تور داغ جوړ شي نوکه توبه اوباسی او د الله تعالی نه یره اختیار کړی نو الله تعالی ئے زړۀ صفا کړی او که بیاهم په ګناه کښې اخته وی نو په زړۀ باندې ئے دغه توروالے زیاتیږی تر دے پورے چې ټول زړۀ ئے تك تور شی. بیا ئے اوفرمائیل: ﴿ذَالِكَ رَانُ الَّذِيْ: كَلَّا بَلْ سكته رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ﴾

یعني دا هغه زنګ دے چې قرآن کریم ئے په دے الفاظو تذکره

کړے ده چې هرګز داسے نه ده بلکه الله تعالی د دوی په زړونو باندې زنګ لګولے دے. نو د دې ایمان د انسان په زړه باندې اثر وی لکه څنګه چې د صحابوو واقعاتو کښې بیان شو سپین والے د نیکے اثر دے او تور والے د ګناه اثر دے یعنی نیك عمل د زړهٔ په روښانه کیدو او صفائے او اخلاص باندې دلالت کوی او بد عمل کول د زړهٔ مریض کیدل، توره تیاره کور په شان مثال لری او دا لکه څنګه چې په دنیا کښ په زړهٔ کښې تیاره ده داسې به د قیامت په ورځ هم تیاره وی:

﴿اَلظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾(مسند ابوداود طیالسی)

او څنګه چې نیکي په د نیا کښې په زړهٔ کښې رڼړا پیدا کوی نو داسې به د قیامت په ورځ هم رڼړا وی:﴿ نُوْرُهُمْ يَسْعٰى بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ ﴾ (الحدید:۱۲)

## د ایمان نور پیژندل:

د دے نورانیت پیژندګلو نبی کریم ﷺ په دے الفاظو ښودلے ده چې علامه د دے دا ده چې که د دهٔ زړهٔ د دنیا نه کټ شو او د اٰخرت فکر ئے پیدا شو د الله د یری او د جهنم د عذاب نه یره وه استحضار وو او د مرګ نه مخکښ د مرګ د پاره تیارے وو. نو دهٔ کښې نورانیت د ایمان شته او که نا د الله نه نهٔ یریږی او د مرګ د پاره تیارے نهٔ کوی نو پوهه شه چې د دهٔ زړهٔ ویران خالی یوه ډاګه ده توره تیاره ده. نو هغه دے اویریږی.

بیا نبی کریم ﷺ دا اٰیت مبارك اولوستو.

﴿ فَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ اَنْ يَّهْدِيَهٗ يَشْرَحْ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ وَمَنْ يُّرِدْ اَنْ يُّضِلَّهٗ يَجْعَلْ صَدْرَهٗ ضَيِّقًا حَرَجًا كَاَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي السَّمَآءِ﴾(الانعام:۱۲۵)

یعنې الله تعالی چې دچا د هدایت اراده اوکړی نو زړهٔ ئے اسلام ته پرانیزی او د چا د ګمراه کولو اراده چې اوکړی نو سینه ئے تنګه ترشه اوګرځوی .

## د خوشحالۍ ژوند:

اشرف علی تهانوی رحمہ اللہ فرمائی چې د د ے ایمان د حصول ښهٔ طریقه دا ده چې د هر عمل که هغه بد عمل وی زنا سود شراب ډاکه بدعت وغیره وغیره او که ښهٔ نیك عمل وی مونځ حج روژه زکوٰة هرنیك عمل د کولو نه مخکښې د هغے په نتیجه سوچ اوکړی چې آیا په دے به ماته سزا ملاویږی که ثواب. که سزا ملاویږی نو آیا زهٔ به ئے برداشت کړے شم که نه.

کله چې دے دا سوچ کوی نو دے به د دنیا نه لطف محسوس کړی او ایمان کښې به ئے نور پیداکیږی. اګر که دنیا ورسره نه وی غریب وی او که داسې نه وی نو ډیر د زیات مال خاوند به وی خو سره د دې نه به په دنیا ډیرتنګ پښیمانه ژو ند تیروی.

دویم د ایمان د نور د حصول د پاره بهترین طریقه د جنت نعمتونه او خوشحالۍ اولوې لوې فائدې مخے ته کوی نو په دهٔ کښې به د جنت شوق پیدا کیږی ځکه انسان لالچی حرصناك دے نو دا به دجنت د حاصلولو حرص کوی.د هغے یادول دي نو په دے سره به هم ایمان کښې نورانیت راځی.

ایمان کښې پختګی د الله تعالی او د رسول په اطاعت سره راځی او دا د ایمان د پختګۍ غټه علامه ده.

## د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم د کامل ایمان واقعات:

حضرت عائشه رضی اللہ عنہا فرمائی چې د قریشو د زنانو په نسبت د انصارو د ښځو ایمانونه ډیر مضبوط دي ځکه چې کله سورة نور کښې د پردے حکم رانازل شو دا آیت :

﴿وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ﴾(النور:۳۱)

نو یو زنانه په لار کښې ډډے ته کښېناسته او خپل ځوی ته ئے د غټ څادر د کور نه د راؤړلو حکم اوکړو.

دا د ایمان پختګی وه.

دارنګ د شرابو د حرمت حکم چې کله اوشو نو صحابو رضی اللہ عنہم د شرابو منګی او چاټۍ ماتے کړے.بلکه بعض صحابه کرام رضی اللہ عنہم د خپلو خُلو نه د شرابو جامونه واپس کړل هغه تیار په جام کښې موجود شراب هم ئے اونه څکل.

بعضے صحابو رضی اللہ عنہم د تجارت په غرض ډیر زیات شراب شام نه راؤړی وو. هغه ټول ئے مات کړل.

تواریخو لیکلے دی چې دومره ډیر شراب ضائع کړے شو چې کله به باران اوشو نو د شرابو بدبوئي به ختله.

دا د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم د ایمان د پختګۍ وجه وه. نو د دې وجے نه هغوی د الله په حکم ټال مټول نه کوی الله په سوره بقره کښې د بقرې واقعه بیان کړی ده دا صرف یو واقعه نه ده بلکه دې کښې درس دا دے چې یو انسان به د الله حکم کښې چل ول حیلې بهانے نه لټوی ده ته چې کله هم معلوم شی چې دا د الله او د رسول الله ﷺ حکم دے نو په سرسترګو به ئے منی او عمل کولونه به نه روسته کیږی بلکه ښه په مینے سره به په چلیږی ځکه چې دا د الله حکم دے په صحابه کرامو رضی اللہ عنہم کښې دا شان د روسته کیدو حیلے بهانے نه وے.

د عبد الله بن مسعود رضی اللہ عنہ بی بی زینب رضی اللہ عنہا فرمائی. چې ابن مسعود رضی اللہ عنہ چې به کله هم کور ته راتلو نو ټوخے به ئے کوؤ یا به ئے ور ټکولو. دے د پاره چې زهٔ ځان سم کړم. داسې حالت کښې مې اونهٔ وینی چې هغه ئے ناخوښ ګنړی.

يو ورځ ئے دغه عادت اوکړو . ماسره يو دم ګرې ښځه ناسته وه. ما هغه د کټ لاندے کړه. بيا هغه زما په غاړه کښې تار اوليدلو نو وے شلولو او وے فرمائيل چې د ابن مسعودرضی اللہ عنہ په کور کښې شرك. نوهغې ورته ووئيل چې دا خو ما د بيمارے د پاره دم کړے وو ابن مسعودرضی اللہ عنہ جواب ورکړو چې نبی صلی اللہ علیہ وسلم د بيمارے د پاره دا دعا ښو دلې ده:

﴿أَذْهِبِ الْبَأْسَ رَبَّ النَّاسِ وَاشْفِ أَنْتَ الشَّافِيْ لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاءُكَ شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا﴾(جامع معمر بن راشد)

بيا ئے راته دعاګانے اوښودلے.

خو ما پرے سوال اوکړو چې زما په سترګو کښې به خارښ وو خو چې کله به يو يهودئي له دم له لاړم نو ټهيك به شوم.

عبد الله بن مسعودرضی اللہ عنہ ورته اوفرمائيل چې دا به شيطان ستا په سترګو کښې ګوته وهله او د يهودئے په دم سره به لرے شو. دے د پاره چې ستاسو ايمان او عقيده خرابه کړي.يو بل نوجوان راغلو په لاس کښې ئے د سرو زرو ګو تمه وه نبی صلی اللہ علیہ وسلم اوفرمائيل:چې تاته پته نشته چې دا په سړو باندې حرام دی او هغه ئے ترينه اوغورزوله کله چه نبی صلی اللہ علیہ وسلم لاړو نو چا ورته اووئيل چې دا خپله ګوتمه واخله او په بل څۀ ضرورت کښې ئے استعمال کړه په لاس کوه ئے مه نو هغه جواب ورکړو چې دا څرنګه کيدے شی چې نبی صلی اللہ علیہ وسلم يو ځل دا ګزار کړه او بيا ئے زه رواخلم دا زما زړۀ نه تسليم کوی.

الله تعالی دے مونږ ته د نبی کريم اتباع رانصيب کړی. امين

# د ایمان تازګی

نبی کریم ﷺ فرمائی. ﴿جَدِّدُوا الْإِيْمَانَ﴾(حلیۃ الاولیاء)
یعني د ایمان تجدید کوئ.
د ایمان تجدید ځکه ضروری دے چې انسان کمزورے دے او د ګناه خطره هر وخت واقع وی.
یو حدیث کښې نبی کریم ﷺ فرمائی.
﴿إِذَا أَذْنَبَ ذَنْبًا نُكِتَ عَلٰى قَلْبِهٖ نُكْتَةً سَوْدَاءَ﴾(مسند احمد)
یعني کله چې یو انسان ګناه اوکړی نو په زړه باندې یو تور داغ اولګی. نو که دا ګناه بیا هم جاري وی نو نبی کریم ﷺ فرمائی:
﴿حَتّٰى يَعْلُوْ﴾ یعني دا ګناه پوره زړهٔ راګیر کړی.
قرآن کریم کښې هم الله تعالی فرمائی.
﴿كَلَّا بَلْ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ﴾(المطففین:۱۴)
یعني د دوی په زړونو باندې زنګ دے.
ځکه بیا په دهٔ نیکه خبره اثر نهٔ کوی.
الله تعالی فرمائی: ﴿خَتَمَ اللهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَعَلٰى سَمْعِهِمْ﴾(بقرۃ:۷)
یعني الله تعالی د دوی په زړونو او غوږونو مهر لګولے دے.
د دے وجوهاتو د وجے نه تجدید د ایمان ضروری دے.
﴿كَيْفَ نُجَدِّدُ الْإِيْمَانَ؟﴾
یعني مونږ څهٔ رنګه د ایمان تجدید اوکړو.
نو د دے د پاره تجدید د ایمان ضروری دے. ځکه نبی کریم ﷺ د صحابو په جواب کښې اوفرمائیل.
﴿أَكْثِرُوْا مِنْ قَوْلِ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ﴾(مسند احمد)
د توبے د پاره بل شرط په نیک عمل باندې استقامت دے .

ځکه چې الله تعالی ته هر هغه عمل محبوب وی چې په هغے باندې انسان استقامت اختیار کړی.

نبی کریم ﷺ فرمائی:

﴿اَحَبُّ الْاَعْمَالِ اِلَی اللّٰهِ اَدْوَمُهَا وَاِنْ قَلَّ﴾ (مسند احمد)

یعنی الله تعالی ته محبوب عمل هغه دے چې په ثابت قدمئ سره اوکړے شي اګر که لږ ولے نه وی.

د توبے د پاره بل شرط دا دے چې د حقوق العباد د ادائیګئ کوشش دې اوکړی. ځکه چې د قیامت په ورځ به بیا د دۀ نیکئ دغه حقدار له ورکړی او ګناهونه به پرے انبار کړی.

دا رنګ شهید به هم د قرض د وجے نه په اعراف کښې بانده وی ځکه چې دا هم حقوق العباد دی.

د مرګ په تیارو کښې دریم تیارے هغه وصیت دے.

الله تعالی فرمائی:

﴿ كُتِبَ عَلَيْكُمْ اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ اِنْ تَرَكَ خَيْرَا ۨالْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِيْنَ﴾ (بقرۃ:۱۸۰)

یعني کله چې انسان ته د مرګ اُثار ښکاره شی نو په پاتے شوی مال کښې وصیت فرض کړے شوے دے د والدینو، رشته دارانو د پاره. دا کار متقیانو سره ډیر لائق دے.

یو حدیث کښې نبی کریم ﷺ فرمائی چې دوه شپے دے په چانه تیریږی مګر دے د ځکښې وصیت لازمي کوی.

یو وصیت واجب دے لکه په چا چې د الله تعالی یا د بنده حق وی نو د هغے وصیت کول واجب دی.

او دویم وصیت مستحب دے.لکه د خپل مال نه تبرعا چاله برخه

ورکول غواړی نو کولے شی خو دا وصیت به د خپلو ورثاؤ د پاره نه کیږی.
حدیث کښې راځی چې: ﴿لَا وَصِيَّةَ لِلْوَارِثِ﴾(مسند شافعی)
یعني د وارث د پاره وصیت جائز نه دے.
دا وصیت قولی هم کیږی او تحریری هم کیږی او په بیان سره هم کیږی.
دا رنګ وصیت به په دریمه حصه کښې کیږی.
نبی کریم ﷺ له یو صحابی راغے چې زه د خپل مال نه څۀ حصه صدقه کوم نو نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل:
﴿اَلثُّلُثُ وَالثُّلُثُ كَثِيْرٌ اِنَّكَ اَنْ تَدَعَ وَرَثَتَكَ اَغْنِيَاءَ خَيْرٌ مِنْ اَنْ تَدَعَهُمْ عَالَّةً﴾(موطا امام مالک)
یعني د دریمے حصے صدقه کافی ده . یعني که ته خپل ورثاء مالداره پریږدے نو دا به د محتاجه پریښودو نه غوره وی.
دا رنګ وصیت د نیك کار او صدقاتو هم کولے شی خو که د صدقے جاریے وصیت اوکړی نو ډیر ه به بهتره وی.
نبی کریم ﷺ نه یو صحابی د پلار د وفات نه د صدقے کولو په باره کښې تپوس اوکړو چې څۀ اوکړم ؟
نو نبی کریم ﷺورته اوفرمائیل چې د اوبو څکلو کوهی اوباسه.
نو دا سے خیرات او صدقات پکار وی چې د هغے ثوابونه ورپسې همیشه رسی.
الله تعالی دے په دے باندې مونږ ته د عمل کولو توفیق رانصیب کړی. امین

# په ایمان باندې استقامت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَنْ لَّا تَخَافُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ﴾ (فصلت:۳۰)

﴿وَعَنْ سُفْيَانَ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ الثَّقَفِيْ قَالَ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قُلْ لِيْ فِي الْاِسْلَامِ قَوْلًا لَا اَسْئَلُ عَنْهُ اَحَدًا بَعْدَكَ اَوْ غَيْرَكَ قَالَ قُلْ اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ ثُمَّ اسْتَقِمْ﴾ (مسند احمد)

## د ایمان شپږ ارکان:

د ایمان ارکان شپږ دی.

یو په الله تعالی باندې ایمان ، په رسولانو ایمان، په قیامت ایمان، په کتابونو ایمان، په اٰخرت باندې ایمان او خیر او شر د الله تعالی د طرف نه کیدو باندې ایمان.

دے ته ایمانیات هم وئیلے کیږی.

په احادیثو مبارکو کښې بیا د دے ایمانیاتو تفصیل هم ملاویږی.

په دے ایمانیاتو کښې درے خبرے په ټولو امتونو کښې مشترکے دی.

یو د الله تعالی د وجود عقیده، دویم د پیغمبر د رسالت عقیده، دریم د اٰخرت عقیده.

دے دریو واړو ته امهات الایمان وئیلے کیږی.

## د کامل ایمان درې اصول:

د ایمان درے بنیادي ارکان او اصول دی.

یو استقامت دے. یو سړے ایمان راوړی مسلمان شی نو بیا په

دي باندې ترمرګه پورې کلك اودريدل او د دې نه بغير په بل څۀ باندې يقين او عقيده نه جوړول دي ته استقامت وائی. دويم په دے ايمان کښې کمال پيدا کول او دريم په دے ايمان کښې يقين پيدا کول.

عام تصور زمونږ په معاشره کښې د ايمان صرف په ژبه باندې لا اله الا الله وئيلو ته وائی خو دا د ايمان جزء دے يقيناً ايمان دا دے چې انسان کښې استقامت وی او په دې کښې کمال پيدا کړی او دا د يقين درجې ته ورسی. ايمان صرف لااٰله الا الله ته نۀ وئيلے کيږی بلکه دا د ايمان يو جزء دے په دے سره انسان اسلام ته داخل شی.

د ايمان د پاره استقامت ډير زيات ضروری دے. استقامت څۀ څيز دے دين کښې اسلام کښې استقامت ته څۀ ضرورت دے.

الله پاك سورة هود کښې نبی کريم ﷺ ته فرمائی:

﴿فَاسْتَقِمْ كَمَآ اُمِرْتَ وَمَنْ تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا اِنَّهٗ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا﴾

(هود:۱۱۲)

يعنې کلك شه په ايمان څۀ رنګه چې تاته حکم کړے شوے دے.هر يو انسان دا دعوی کوی چې زه په اسلام کلك او مستقيم يم زۀ خو کله هم د اسلام نه نه يم روستو شوے ما خو کله هم کفر او شرك نۀ دے اختيارکړے نو الله وائی چې ستا په وئيلو نه بلکه زما د حکم سره استقامت اختيار کړه لکه څنګه چې درته زۀ حکم کوم داسې استقامت والا شه. او دا حکم د هغه چا د پاره هم دے چې څوك ستا تابعدار دی.

دا رنګ سورة حمٓ او سورة شوریٰ کښې هم شته دے.

## د نبی ﷺ استقامت:

يو ځل نبی کريم ﷺ ته ابوبکر رضی الله عنه اوفرمائيل.

﴿شِبْتَ يَارسول الله ﷺ﴾(مسند بزار)

يعني اے د الله تعالى رسوله ﷺ! ته خو بوډا شوے.
نبي كريم ﷺ ورته په جواب كښې اوفرمائيل.
﴿شَيَّبَتْنِيْ هُوْدٌ وَاَخَوَاتُهَا﴾(مسند بزار)
يعنې زۀ سورة هود او د هغے په شان نورو سورتونو بوډا كړم.معلومه شوه چې په دين كلك اودريدل انسان بوډا كوى
د دے وجه دا وه چې نبي كريم ﷺ ته په دے سورتونو كښې د استقامت حكم شوے دے.
دا رنګ نبي كريم ﷺ فرمائى. چې هغه د قيامت د علاماتو نه هم دى.
﴿يُوْشِكُ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ اَلصَّابِرُ فِيْهِ عَلٰى دِيْنِهٖ كَالْقَابِضِ عَلَى الْجَمَرِ﴾(ترمذی)
يعنې په دين باندې كلك پاتے كيدل ډير زيات ګران كار دے ځكه خو به په آخره زمانه كښې په دين باندې مستقيم پاتے كيد ل ډير ګران شى.لكه د اُور يوه شُغله په لاس راغستل او دا يقينى خبره ده ځكه چې كوم سړې نن هم په حقيقت كښې په دين استقامت اختيار كړى نو هغه د شپې د خوب نه محرومه وى او نه ئے كافر پريږدى او نه ئے كلمه ګو مسلمان معاف كوى !!!
ابوبكر رضي الله عنه د استقامت دا معنى كوى چې مستقيم هغه سړے دے چې: ﴿لَمْ يَلْتَفِتُوا اِلٰى غَيْرِ اللّٰهِ﴾
يعنې چې د الله تعالى نه ماسواء بل طرف ته التفات خيال او توجه نه كوى نۀ د بل چا اورى او نه منى بلكه صرف د الله منى او د الله اورى كه نن يو سړے اووائى چې زۀ د الله د قانون او حكم نه بغير د بل چا قانون او حكم نه منم نو ډيره ګرانه به شى.
عمر رضي الله عنه فرمائى: ﴿لَا يَرُوْغُ رَوْغَانَ الثَّعْلَبِ﴾

یعنې د ایمان نه بعد بیا د لومبړے په شان یریږی نۀ. په خپل ایمان او دین باندې کلك ولاړ وی او پرواه د هیڅ چانه کوی او نۀ د چا نه یریږی او دا استقامت داسے یو شئ دے چې انسان جنت ته رسوی.

ملا علی قاری رحمۃ اللہ علیہ په مرقاة کښې لیکلی دی.

﴿ اَلْاِسْتِقَامَةُ خَيْرٌ مِنْ اَلْفِ كَرَامَةٍ ﴾

یعنې استقامت د زرو کرامتونو نه بهتر دے.یو طرف ته زرکرامتونو والا ولیُّ الله او بل طرف په استقامت سره ایمان لرونکے سړے ځکه چې نن به یو سړے د کرامت والا ولی وی او اخره خاتمه به ئے خرابه وی او استقامت والا په دین هر وخت کلك ولاړ وی.

ځکه چې کرامت عادی څیز دے او استقامت وهبی څیز دے. د دے وجے نه استقامت د کرامت نه بهتر دے.

## په دین باندې استقامت او خائسته نتیجه:

الله تعالی د استقامت کونکو د پاره خوشخبری په دے الفاظو ذکر کوی.

﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَلَّا تَخَافُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴾ (فصلت:۳۰)

یعنې خوك چې دا وینا کوی چې رب زمونږه الله تعالی دے .او بیا په دے کلك شو. نو دا ډیر لوے مقام دے.

یو حدیث کښې راځی یو صحابی رضی اللہ عنہ د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم نه تپوس اوکړو چې لنډه خبره راته اوکړه چې په هغے عمل کوم او بل چاته مے هم ضرورت پاتے نشي.

﴿ وَعَنْ سُفْيَانَ بْنِ عَبْدِاللهِ الثَّقَفِيْ قَالَ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ صلی اللہ علیہ وسلم قُلْ لِيْ فِي الْاِسْلَامِ قَوْلًا لَا اَسْئَلُ عَنْهُ اَحَدًا بَعْدَكَ اَوْ غَيْرَكَ قَالَ قُلْ اٰمَنْتُ بِاللهِ ثُمَّ اسْتَقِمْ ﴾ (مسند احمد)

د سفیان بن عبد الله ﷺ نه روایت دے چې ما نبی کریم ﷺ ته اووئیل چې په اسلام کښې راته داسے وینا اوښایه چې د هغے نه بعد مے بل چاته ضرورت رانشی نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې اووایه چې ما په الله تعالی باندې ایمان راؤړے دے او بیا پرے کلك اودریږه.
نبی کریم ﷺ ورته دغه وړه مګر جامع خبره ذکر کړے ده.

نو الله تعالی فرمائی چې داسے انسان له به په دنیا کښې د مرګ په وخت کښې فرشتے راشی او دهٔ ته به وائی.

﴿اَلَّا تَخَافُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِیْ کُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ﴾ (فصلت:۳۰)

یعنې مهٔ خفه کیږه په تیر شوی ژوند باندې مهٔ خفه کیږه او دَ راتلونکی ژوند خوشخبری واخله او مه غمژن کیږه او د هغه جنت زیرے قبول کړه د کوم چې درسره وعده کړے شوے وه.

او بیا به ورته وائی:

﴿نَحْنُ اَوْلِیٰٓؤُکُمْ فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا وَفِی الْاٰخِرَةِ وَلَکُمْ فِیْهَا مَا تَشْتَهِیْٓ اَنْفُسُکُمْ وَلَکُمْ فِیْهَا مَا تَدَّعُوْنَ﴾ (فصلت:۳۰)

یعنې مونږ په دنیا او اٰخرت کښې ستاسو ملګری وو او په دے جنت کښې به ستاسو دپاره هر هغه څیز موجود وی چې ستاسو زړه ئے غواړی.

مؤمن سړی ته به د استقامت په بدله کښې دا دوه نعمتونه ملاویږی.
یو د مرګ په وخت کښې د فرشتو داډ او تسلی او دویم جنت ته تلل.

## په صحابوؤ کښې د استقامت نمونے او نخښے:

د استقامت مثال شته دے چې داسې خلق تیر شوی وی چې هغوی په خپل ژوند کښې په دین باندې استقامت اختیار کړے وو نو د دې د پاره د صحابؤو سیرت او تاریخ کتل غواړی هغه خلقو په دین باندې

استقامت اختیار کړے وو مضبوط ولاړ وو او په مکی دور کښې داسے واقعات ډیر زیات مخے ته راغلی دی.احادیثو مبارکو کښې د بلال رضی الله عنه په باره کښې راځی چې دے د امیه غلام وو خو چې کله مسلمان شو نو امیه به په ګرمو شګو سملو او په سینه به ئے ورته ګرم کانړی ایښودل. خو د دهٔ د خُلے نه به د احد احد نعره خته.

خباب بن الارت رضی الله عنه هم د ام عمار رضی الله عنه غلام وو. د ایمان نه بعد به ورله د قریشو مشرانو د اوسپنے داغونه ورکول. یو ځل ورته د قریشو مشرانو اووئیل چې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په باره کښې دے څهٔ خیال دے؟ دهٔ ورته اوفرمائیل:

﴿عَبۡدُ اللّٰهِ وَرَسُوۡلُهٗ جَاءَنَا بِالۡحَقِّ لِيُخۡرِجَنَا مِنَ الظُّلُمَاتِ اِلَى النُّوۡرِ﴾

یعنې دې د الله تعالی بنده او رسول دے او مونږ ته د دے مقصد د پاره راغلے دے چې مونږ د تیارو نه رڼړا ته راؤباسی.

په دے ئے ډیر زیات اووهلو او بیا ئے ترینه تپوس اوکړو چې د لات او عزی په باره کښې څهٔ وے؟

دهٔ ورته اوئیل چې:﴿ صَنَمَان اُصَمَّانِ اُبۡکَمَان لا يَضُرَّانِ وَلَا يَنۡفَعَانِ ﴾

یعني دا دوه کاڼړهٔ او ګونګیان بتان دی چې نهٔ چاته ضرر رسولے شی او نهٔ چاته نفع رسولے شی.

په دے وینا ئے په یو ګرمه اوسپنه واچوؤ او په سینه ئے ورته کتے کیښودے. تردے چې د ده په وینو د هغے اوسپنے ګرمائش سوړ شو. دې صحابی یو ځل نبی صلی الله علیه وسلم ته دا ټول حالات بیان کړل بیا ورته وائی چه ﴿اَلَا تَدۡعُوۡلَنَا اَلَا تَنۡصُرُلَنَا﴾ اے د الله پیغمبره زمونږ د پاره دعا نه غواړئ مدد نه طلب کوے نبی صلی الله علیه وسلم جواب ورکړو اے خباب تا جلدی اوکړه تا ته به څهٔ تکلیف رسیدلے وی مخکښې اُمتونو کښې به داسې خلق وو

چې هغوی به د اوسپنو او سیخانو په ګومنزو باندې ګومنزیدل او څۀ به داسې وو چې د هغوی د سر په مینځ به اره کېښودلے شوه خو د دین نه به نۀ اوړیدل بیا هم به په دین مضبوط قائم ولاړ وو. یوځل عمر رضی اللہ عنہ تپوس ترینه وکړو چې تاته مشرکانو څۀ تکلیف درکړے وۀ هغه اوئیل چې زه ئے بیان نه شم کولے او خپله ملا ئے ورته ښکاره کړه چې په هغې کښې د اوسپنو او سیخانو غارونه شوی وو.

دا د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم مقام او استقامت دے .

دې وجے نه خو نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم بلال رضی اللہ عنہ ته فرمائی چې ما په جنت کښې ستا د خپو د پښرو چغارے اوریدلے وو.

## دَعبدالله رضی اللہ عنہ صحابی د قیصر روم سره مکالمه:

عبد الله بن حذافه رضی اللہ عنہ دا هغه صحابی دے چې نبی صلی اللہ علیہ وسلم د فارس روم بادشاه ته خط د دۀ په لاسونو باندې لیږلے وو. روم باندې د حملے د پاره عمر رضی اللہ عنہ اولیږل. دوی په دهوکه باندې راګیر کړے شو نو قیصر راؤغوښتل چې اوګورے چې دا څنګه خلق دی.

دا صحابی ئے قیصر روم په دربارکښې اودراؤ او ورته ئے اووئیل چې شابه عیسائیت قبول کړه. مونږ به تا او ستا ملګری آزاد کړو.

دې صحابی ترینه انکار اوکړو.

بیائے ورته په بادشاهئ کښې د شرکت دعوت ورکړو نو دے صحابی ورته جواب کښې اوفرمائیل:

﴿ لَوْ اَعْطَيْتَنِيْ جَمِيْعَ مَا تَمْلِكُ وَجَمِيْعَ مَا مَلَكَتْهُ الْعَرَبُ عَلٰى اَنْ اَرْجِعَ عَنْ دِيْنِ مُحَمَّدٍ طَرْفَةَ عَيْنٍ مَافَعَلْتُ ﴾

یعني که تۀ ماته خپل او د عربو ټوله بادشاهی هم راکړے او شرط دې دا وی چې زۀ د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم د دین نه د سترګے رپ په اندازه لرے

شم نو هم به دا کار اونکړم. نن صبا بادشاهی خو لا څۀ کړې د مسلمان ایمان په یو څو ډالرو باندې خرڅیږی قسم په الله که په دې ایمان یو سړے جنت ته لاړ شی.

یعني د یو سیکنډ دپاره هم د نبی کریم ﷺ د دین نه نشم واپس کیدے.

بیائے ورته اووئیل چې مړ به دے کړم. صحابی ورته اووئیل چې د مرګ نه نۀ یریږم.

زوړند ئے کړو او وے وهلو خو بیا هم دۀ کفر نه قبلو.

بیا قیصر اوئیل چې د سورکړے شوۀ تیلو دیګ کښې ئے واچوے.

په دے وینا دې په ژړه شو نو دۀ ترینه وجه اوتپوسله. نو دے صحابی ورته اوئیل چې د مرګ د وجے نه نه ژاړم بلکه په دے ژاړم چې کاش زما ډیرے ساګانے وے چې ژوندے کیدم او د دین دپاره مړ کیدم.

قیصر روم ترے ډیر متاثره شو او دۀ ته ئے اووئیل چې آزادوم دے خو زما تندے به ښکلوے. دے صحابی ورته اوئیل چې دا سے کوم خو زما ټول ملګری به پریږدے.څکه حکمت ورته په دې کښې ښکاره شو.

هغه ورسره وعده اوکړه نو خکل ئے کړلو او چې واپس خپل وطن ته راغلل او عمر رضی اللہ عنہ ته ئے قصه تیره کړه نو هغه په تندی ښکل کړو او ټولو خلقو ته ئے د دۀ د ښکلولو حکم اوکړو.او په خپل منبر ئے ځان سره کینولو.

دا د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم استقامت وو. د دے وجے نه خو ورته الله تعالی په دنیا کښې د جنت زیری رالیږل او په دنیا ورله الله تعالی عزت او حکو مت ورکړے وو.

الله تعالی دے مونږ ته هم د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم په شان استقامت رانصیب کړی. امین

# د ایمان حفاظت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَالَّذِيْنَ جَآءُوْا مِنْ بَعْدِهِمْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِنَا غِلًّا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا رَبَّنَا اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ﴾ (الحشر:۱۰)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: بَادِرُوْا بِالْاَعْمَالِ فِتْنَةً كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ يُصْبِحُ الرَّجُلُ مُؤْمِنًا وَيُمْسِيْ كَافِرًا وَيُمْسِيْ مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا يَبِيْعُ دِيْنَهٗ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيَا﴾ (مسند احمد)

## دایمان حفاظت ضروری دے:

ایمان ډیر لوے نعمت او قیمتی سرمایه ده ځکه چې په دواړو جهانونو کښې پکار راځی. چونکه ایمان ډیر اهم څیز دے ، د دے وجے نه د دے حفاظت ضروری دے. ځکه چې نبی کریم ﷺ فرمائی چې په اٰخر کښې به ایمان دومره کمزورے شی اوبے اعتباره به شی چې سحر او ماښام به بدلیږی رابدلیږی خو انسان به پرواه نه ساتی چې دا یو اهمه سرمایه ده او حقیقی قیمتی جوهر دے د دې حفاظت او په امن کښې ساتل ضروری دی دا تصور او خیال به انسان د غفلت د وجے نه نۀ کوی. چې یو انسان به سحر مؤمن وی او ماښام به کافر وی.

د دے وجے نه نبی کریم ﷺ فرمائی چې په فتنو کښې د پریوتلو نه مخکښې نیك اعمال اوکړئ او دا فتنې به لکه د شپې دَ تورې تیارې په شان وی چې هغې کښې به انسان ته پته نه لګی چې کوم یوه لاره

صحيح ده چې روان پرې شي او اختيار ئے كړي او كوم قسم لاره كفري ده چې د هغې نه ځان په حفاظت كښې اوساتى دا پته به انسان ته نهٔ لګى چې كومه خبره د اسلام سره سمه ده او كوم يوه خبره د اسلام طبيعت او روح سره سمے نه خوري. د حق او باطل پهچان او معرفت به عام خلقو ته مشكل او سخت شي او د دې فتنو او ګندګيانو اثر به د انسان په ايمان باندې كيږى او هغه داسې چې ﴿يُصۡبِحُ الرَّجُلَ مُؤۡمِنًا وَيُمۡسِيۡ كَافِرًا﴾ ځكه چې دومره لوے فتنے به وى چې سحر به سړے مسلمان وى او ماښام به كافر وى. دا رنګ ماښام به مومن وى او سحر به كافر وى .په شپه شپه كښې به د ايمان نه خلاص شوے وى او كنګال به پاتې وى او د هغې بې قدري او بد سلوك به دا وى چې انسان به د ايمان قيمتى جوهر په معمولى بې قيمتى ذليل دنيا په يو سپك څيز باندې خرڅوى او دا به انسان تصور هم نه كوى او نه به ئے سوچ ته راځى چې زهٔ دا معامله كوم يا اقدام كوم دا زما د قيمتي تجارت په سرمايه يعني ايمان باندې څهٔ اثر كوى هسې نه چې دا كار ما د ايمانى جوهر او دولت نه لرې كړى او يا محرومه شم بدبخته سرګردانه نه شم هلاكت او د ذلت په كنده كښې ګوزار نه شم دا سوچ دا قسم تصور به د انسان زړهٔ ته نهٔ راځى دا رنګ خپل دين به د معمولى فائدے د پاره پريږدى او خرڅوى به ئے.

## حفاظت ايمان د مسلمان ذمه داري:

دې وجې نه د ايمان بچ كول او په سلامتيا او په حفاظت كښې دا ساتل د مسلمان يوه غټه اهمه ذمه داري ده چې د دې نه خلاصے نشته نهٔ په دنيا كښ او نهٔ په آخرت كښې لكه څنګه چې يو انسان د خپل پټى د خپل دكان جائيداد اهل وعيال مور پلار رونړه خويندے د دې څيزونو حفاظت ضروري ګڼړي نو د دي نه اهم د حفاظت والا څيز ايمان دے او

دا فرق دے د دې زمانے او مخکښې زمانے په مسلمان کښې چې د هغه ځان مال جائیداد اهل وعیال هر څۀ به هلاك شو پرواه به نه وه او که ایمان کښې به خلل او نقصان پیدا شو او نور هر څۀ به محفوظ وؤ نو بیا به همیشه د ورځې او شپې بې قراره وو اوکه د اوس زمانې مسلمان نه ایمان لاړ شی پرواه نه ساتی او د دے دنیاګۍ پرواه او اهمیت ورسره شته دے صحابه کرامو رضی اللہ عنہم ته د ایمان حفاظت کول اٰسان وو ځکه چې د ایمان فکر به ورسره زیات وو او هر وخت به د نفاق نه یریدل. اوکه د ایمان او دنیا مقابله به مخې ته راغله نو ایمان به همیشه مخکښې وو.

## د ایمان د حفاظت څیزونه:

د ایمان د حفاظت د پاره قرآن او حدیث مختلف څیزونه ښودلے دی.

په دغے کښې اولنے څیزچې انسان منافق نه شی بې ایمانه نه شی او ایمان کښې قوت پیدا شی ترقی او شی نو هغه قرآن کریم دے.

الله تعالی په خپله فرمائی:

﴿وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَاۤ اِلَيْكَ رُوْحًا مِّنْ اَمْرِنَا مَا كُنْتَ تَدْرِىْ مَا الْكِتٰبُ وَلَا الْاِيْمَانُ﴾ (الشوریٰ:۵۲)

یعنې مونږ تاته د خپل طرف نه وحی کړے ده خو تاته دا پته نه وه چې کتاب څۀ ته وائی او ایمان څۀ ته وائی؟ځکه قران د ایمان د ښودلو د پاره نازل شوے دے. بل ځائے وائی: ولکن جعلنه نورًا یعنې رنړا د ایمان په قران کښې ده.

او کله الله تعالی فرمائی: ﴿فَبِاَىِّ حَدِيْثٍۭ بَعْدَهٗ وَاٰيَاتِهٖ يُؤْمِنُوْنَ﴾(الجاثیۃ:٦)

یعنې د الله تعالی او د هغه د اٰیاتونو نه بغیر به دوی په کوم څیز ایمان راوړی. ځکه د ایمان معیار بل څۀ نه شی کیدے.

او یو حدیث کښې نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم ته جبرئیل امین فرمائیلی وو

چې ستا امت کښې به اٰخر کښې فتنے ډیرے شی نو نبی کریمﷺ ترینه تپوس اوکړو چې د دغے نه د وتلو به څۀ لار وی؟ نو جبرئیل امین ورته په جواب کښې اوفرمائیل چې د الله تعالی په کتاب به بچ کیږی.

دا رنګ ابن ماجه کښې د صحابه کرامو رضی الله عنهم دا قول نقل دے.

﴿تَعَلَّمْنَا الْاِيْمَانَ ثُمَّ تَعَلَّمْنَا الْقُرْاٰنَ ثُمَّ ازْدَدْنَا الْاِيْمَانَ بِالْقُرْاٰنِ﴾

یعني مونږ اول ایمان زده کړو او بیا مو قراٰن زده کړو او بیا مونږ ایمان په قراٰن کریم سره زیات کړو.ځکه صرف په خُله کلمه وئیل اجمال دے او په قران کښې د دې تفصیل دے.

نو صحابه کرامﷺ هم قراٰن کریم د ایمان د زیادت سبب ګڼری.

دا رنګ صحابه رضی الله عنهم فرمائی چې مونږ به د نبی کریم ﷺ نه ایمان او عمل دواړه په یوځاې زده کول.

سورة قصص کښې الله تعالی فرمائی:

ځکه الله په مسلمان قران فرض کړے دے او دا دې وجې نه چې بغیر د قرآن نه ایمان کمال ته شی رسیدے کوم مسلمان چې قران سره تعلق نه ساتی د هغه ایمان کمزورے او سرسری وی نو بیا د ایمان نه ډیر په اسانے سره خلاصیګی او د بے ایمانه په صف کښې داخل شی.

﴿اِنَّ الَّذِیْ فَرَضَ عَلَیْكَ الْقُرْاٰنَ۔۔۔ الخ﴾

یعني د قراٰن کریم زده کړه فرض ده.

## نیک ملګرے او مجلس کښې ناسته:

دویم د ایمان حفاظت په نیکانو ملګرو سره کیږی.ځکه په ناستو خلقو د مجلس یو خپل اثر وی که د نیکو پرهیزګارو سره مجلس کوی نو دهغوی ښه اثر به وی اوکه بدو بدعملو سره وی نو د هغوی بےکاره بد اثر به وربانديې وی.

ابو موسی اشعری رضی الله عنه نه روایت دے چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائی. او دا د ښه او بد مجلس مثال دے.

﴿ مَثَلُ الْجَلِيْسِ الصَّالِحِ وَالسُّوْءِ كَحَامِلِ الْمِسْكِ وَنَافِخِ الْكِيْرِ ﴾

## د نیك او بد ملګری مثال:

یعنې د نیك او بد ملګری مثال په شان د عطرو والا یعنی عطر فروش دے دا د ښه نیك عمله ملګری مثال دے او د بدملګری مثال په شان د بنئ والا دے.

که عطرو والا سره ناست ئے نو

﴿اِمَّا اَنْ يُّهْدِيَكَ وَاِمَّا اَنْ تَبْتَاعَ مِنْهُ وَاِمَّا اَنْ تَجِدَ مِنْهُ رِيْحًا طَيِّبًا﴾

یعنې یا خو به درله هدیه درکړی او یا به ترینه ته واخلے په پیسو باندې او یا به ترینه صرف خوشبو محسوسه کړے. یعنې ښه ملګرے به یا تاله په خپله د نیك کار مشوره درکړی ښه اثر به درکړی یا به ئے ترینه ته پخپله واخلې اوکه نور هیڅ نه وی نو خوشبو به د هغه نه محسوس کړې.

او د بنئ والا سره چې ناست ئے نو نقصان به دا وی.

﴿وَنَافِخُ الْكِيْرِ اِمَّا اَنْ تَحْرِقَ ثِيَابَكَ وَاِمَّا اَنْ تَجِدَ مِنْهُ رِيْحًا مُنْتِنَةً﴾

یعنې یا به دې کپړے اوسوزی یعنې د اُور څۀ حصه به راوالوزی او ستا جامې به اوسیزی.او یا به ترینه بدبوئې محسوسه کړے.یعنې په بد مجلس کښې ناسته سره به ترینه یا د بد عمل اثر واخلې اوکه دا هم نه وی نو بیا چې تا کومې بدې خبرې اوریدلې د هغے ګناه به درته اورسیږی.

ام المومنین حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی.

لَا تَسْئَلْ عَنِ الْمَرْءِ وَاسْئَلْ قَرِيْنَهُ
فَاِنَّ الْقَرِيْنَ بِالْمُقَارِنِ يَقْتَدِيْ

یعنې د سړی په باره کښې د هغۀ دوستانو ته ګوره ځکه چې یو

دوست بل پسے روان وی.که تعلق ئے ښو خلقو سره وو نو بیا ښه سړے دے او که د بد خلقو سره وو نو بد سړے دے دا ښکاره واضحه خبره ده ځکه ښه سړے په زړهٔ ښه سوچ لری نو هغوی سره ناسته کوی او بد سړې په زړهٔ کښې تیارهٔ ځائے کوی نو دا د هغوی طرف ته میلان کوی.

## قران د بد مجلس د ناستې نه منع:

قرآن کریم کښې هم د بد مجلس کښې د ناستے نه منع شوے ده.که په یو مجلس کښې د کفر او شرك کلمات وئیل کیدل د الله د رسول د مخالفت خبرې وې یا په باطلو کښې اخته شوی وو نو بیا ورسره مه کینه دا رنګ د غم ښادے مجلس کښې ناسته خاص د علماؤ د پاره او مذهبی رهنماؤ پیشوایانو دپاره ډیره ضروری چې نه به کینی.

﴿وَاِذَا رَاَيْتَ الَّذِيْنَ يَخُوْضُوْنَ فِيْۤ اٰيٰتِنَا فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ﴾(الانعام:٦٨)

یعني کله چې ته داسے خلق اووینے چې په دین اسلام کښې بے جا تنقیدونه کوی نو د هغوی نه اعراض اوکړه او مهٔ کینه ورسره .

دا رنګ فرمائی: ﴿لَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ﴾(الانعام:٦٨)

یعني د نصیحت قبلولو نه پس ظالمانو خلقو سره مه کینه.

د دے وجے نه نبی کریم ﷺ فرمائی.

﴿لَا تُصَاحِبْ اِلَّا مُؤْمِنًا وَلَا يَاْكُلْ طَعَامَكَ اِلَّا تَقِيٌّ﴾(الزهد لابن مبارک)

یعني مومن سړی نه علاوه بل چاسره دوستی مه کوه او په متقیانو باندې د خپل کور خوراك کوه. او دا دې وجے نه چې نیك سړی ته کوم طاقت په خوراك سره حاصل شی نو هغه ئے په نیکئ کښې خرچ کوی او بد سړی ته چې کوم زور او زبردستی په خیټه موړ کیدو کښې میلاؤ شی نو هغه د قوت په بد عملئ کښې ضائع کوی.ځکه ښه سړے به د ښه سړو خوراك کوی.

ابن حجر رحمة الله عليه په خپل کتاب منبهات کښې فرمائی:

چې مومن لره د ايمان د حفاظت د پاره دا لازمه ده چې د علماؤ په مجلس کښې کېنی او د حکيمانو سره دې ناسته لازم کړی. ځکه چې په دے سره د ايمان حفاظت راځی.لکه څنګه چې زمکه پټے په اوبو سره محفوظ کيږی او تازه کيږی.

لقمان حکيم هم خپل ځوی ته نصيحت کوی.د الله تابعدار وو لوې حکيم سړے وو فرمائی'

خپل زړۀ د الله تعالی په ياد باندې تازه ساته او مسکينانو غريبانانو سره ناسته کوه. ځکه چې په دے سره انسان د تکبر نه بچ وی او انسان کښې عاجزي پيدا کيږی. او د متکبرو او دنيادارو غټانو سره په ناسته د دنيا غمونه او سوچونه ذهن کښې پيدا کيږی او د غريب سړی سره فائده دا کيږی چې کله به درته دعا اوکړی حديث کښې راځی:

﴿رُبَّ اَشْعَثَ اَغْبَرَ لَوْ اَقْسَمَ بِاللّٰهِ لَاَبَرَّهٗ﴾(مسند احمد)

يعنی غبار الوده ببر سرے غريب سړے که په الله قسم اوخوری نو الله به ئے دا قسم پوره کړی اوخانث به نه شی.

بل دا چې د بادشاهانو مجلس ته مۀ ورځه. ځکه چې بادشاهان اکثر بے دينه وی نو تاکښې به هم بے دينی پيدا شی او اکثر د خپلو مفادو د پاره خبره کوی نو د دې سره به دې زړۀ ته د دنيا محبت پريوځی چې په دے سره ايمان ته نقصان رسی.

دا رنګ د ايمان د کمزورو سهاره جوړه شه. او روك شوی ته لاره اوښايه. او حاجتمند سره تعاون کوه او معاشره کښې د عزتمند سړی تعظيم او احترام کوه. او د ساداتو احترام کوه.

ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی: په څلورو خبرو کښې د زړونو رڼړا او تيارۀ ده :

زړونو ته رڼړا هم په څلورو خبرو رسی او تیارهٔ هم په څلورو خبرو راځی.یعني ایمان په دې سره مضبوط او قوی کیږی او په دې نورو سره د زوال ښکار کیږی.

یو ډیر خوراك دا په زړهٔ تیارهٔ راولی، دویم ظالمانو سره ناسته کول، دا د انسان په سوچ کښې زنګ پیدا کوی دریم لوے لوے امیدونه ساتل، ګناهونه وارهٔ ګڼړل.

دا څلور څیزونه په زړهٔ کښې تیاره پیدا کوی.

او څلور څیزونه په زړهٔ کښې نور پیدا کوی.

یو کم خوراك،د الله د یرې د وجے نه چې سوچ دا وی چې عبادت به اوکړم دویم د نیکو خلقو سره ناسته کول، دریم دا چې په تیرو ګناهونو ژړل او څلورم لوے امیدونه نه ساتل.

یو حدیث کښې د ایمان د حفاظت دپاره دا هم ذکر شوے دی چې د اسلافو یعني د چا په ذریعه چې مونږ ته دین رارسیدلے دے او هغوی په اخلاص سره د دین خدمت کړے دے هغوی پسے به بدے ردے نه وائے.

﴿اِذَا تُّخِذَ الْفَیْئُ مَا لًا﴾(ترمذی)

یعني د ملك خزانه خپل دولت اوګڼړی لکه نن صبا چې څنګه بادشاهان کوی چې د قوم د عوامو خلقو خزانو باندې خپل ځان ساتی او بل:﴿وَالزَّکَاةُ مَغْرَمًا﴾ یعني زکوٰة تاوان اوګنړی

﴿وَتُعُلِّمَ لِغَیْرِ الدِّیْنِ﴾(ترمذی)

یعنی د دین علم د دنیا د پاره حاصل کړے شی په هغې کښې یوه دا هم ده چې.

﴿وَلَعَنَ اٰخِرُ هٰذِهِ الْاُمَّةِ اَوَّلَهَا﴾(ترمذی)

یعني د امت اُخري خلق به د امت مخکښنو خلقو پسے خبرے کوی.

الله تعالی دے زمونږ د ایمان حفاظت اوکړی. امین

# د ایمان کامل علامات

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ﴾ (نساء:۱۳۶)

﴿وَقَالَ الرَّسُوْلُ ﷺ: مَنْ أَعْطٰى لِلّٰهِ وَمَنَعَ لِلّٰهِ وَأَحَبَّ لِلّٰهِ وَأَبْغَضَ لِلّٰهِ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ الْاِیْمَانَ اَوْ كَمَا قَالَ ﷺ﴾ (مسند احمد)

## د کامل ایمان څه نخښې:

د کامل ایمان مطالبه د هر مسلمان نه ده په دې حدیث کښې نبیﷺ د کامل ایمان یو څلور علامات بیانوی د مسلمان اوله فریضه ذمه داری ایمان راوړل دی چې ایمان راوړی او ایمان درست کړی د ایمان نه پس بیا د ایمان څۀ تقاضے دی لکه د ایمان نه پس عمل کول دی خو د عمل سره سره خو په دې ایمان کښې دننه څۀ تقاضے شته دے لکه دې ایمان کښې کمال پیدا کول، الله توحید رسالت آخرت منل ایمان دے خو دې ایمان لره بیا ترقی ورکول په دې کښې کمال او زینت پیدا کول هم یو عمل دے چه په دې ایمان کښې لذت او خوند د څۀ سره پیدا کیږی دا قرآن او حدیث بیان کړی دی په ایمان کښې حلاوت او تازګی به څنګه پیدا کیږی؟ او دا زمونږ دینی او ایمانی ضرورتونه دی څکه نبی ﷺ دا بیان کړی دی.

په دې حدیث کښې نبیﷺ د ایمان د کمال د پاره څلور خبرې ذکر کړې دی په دې څلورو خبرو عمل کولو سره ایمان کښې کمال پیداکیږی او اصل څیز کامل ایمان دے صرف په دعوی ایمان راوړل اصل

ځيز نه دے نو د دی د پاره ځلور خبرے دی. یو چا ته څۀ ورکول خو د الله د رضا د پاره او د چانه څۀ ځيز منع کول خو د الله د رضا د پاره او د چاسره مينه محبت کول د الله د رضا د پاره او د چا سره بغض او حسد هم د الله د پاره کولو ته کامل ایمان وئيلے کيږی. په دې سره د انسان ایمان کمال ته رسی چې دا ځيزونه به دې خالص د الله رضا د پاره کوی خپل ذاتی اغراض مقاصد به ورکښې نه وی.

## د الله د پاره ورکړه:

اوله خبره اعطى لله که چا لره ورکوے نو د الله د رضا د پاره ورکوی مثلاً خيرخيرات، صدقه که چاته ورکوی نو د الله د پاره ورکوی د دې د پاره نه چې دا سړے زما خدمت کوی زما خبره منی زما په کار به راځی ځکه دا صدقه ورکومه دا دنياوی مقاصد به په کښ نه وی یا د دې د پاره چې دا سړے زما تعريفونه به ډير کوی د دې د پاره ورکومه دا عرض په صدقه کښ پیش نظر نه وی هرچا ته ورکوی که خپل وی پردے وی، غريب وی، یاردوست وی یا نه وی بس ورکړه صرف او صرف د الله د رضا د پاره وی. د ریاء ، نام نمود، نمائش، احسان کولو د پاره صدقه نه کوی. د صدقے نه علاوه څومره قسم خرچه چې انسان کوی د الله د پاره دې وی لکه ښځه ،بچو، ماتحت باندے خرچه کول د الله د پاره به وی لکه انسان کور کښ خرچه خوراک لباس راوړی نو سوچ دې کوی چې د دې ذمه داری مالره الله راکړے ده او دغه د الله حکم او ذمه داری زه پوره کومه او دا فرق دے د مسلمان او د کافر معاشرتی حقوقو کښ چې کافر وائی دا یو دستور رواج دے او زه په دې باندې مجبوره او پړ یمه د ملک او معاشرے قانون دے ځکه په خپلو بچو، ښځو، رشته دارو باندې مال او دولت خرچ کومه او مسلمان به دا سوچ کوی چه دا د الله حکم دے نو بيا به دا خرچه هم په اعطى لله کښ داخليږی.

# وجود باری تعالی

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّفَرِّقُوْا بَيْنَ اللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَيَقُوْلُوْنَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَّنَكْفُرُ بِبَعْضٍ وَّيُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّتَّخِذُوْا بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا اُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ حَقًّا وَّاَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِيْنَ عَذَابًا مُّهِيْنًا﴾(النساء:۱۵۰)

﴿سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ﴾

## په ایمانیاتو کښې ړومبۍ خبره د ایمان باللّٰه ده:

ایمان دیته وائی چې الله تعالی منل او انبیاء کرام علیهم السلام منل او بیا دا منل چې کومې خبرې چې موږ ته پیغمبروائی نو هغه د دین په حیثیت سره منلو ته ایمان وائی.

ایمان داسې یو اکائی ده چې ناقابل تقسیم ده نو که فرض کړه سل عقیدے وی او دے پکښې د یو نه هم منکر شی نو دهٔ ته کافر وئیلے کیږی. الله تعالی فرمائی.

﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّفَرِّقُوْا بَيْنَ اللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَيَقُوْلُوْنَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَّنَكْفُرُ بِبَعْضٍ وَّيُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّتَّخِذُوْا بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا اُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ حَقًّا وَّاَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِيْنَ عَذَابًا مُّهِيْنًا﴾(النساء:۱۵۰)

یعني یقینًا هغه خلق چې په الله تعالی او په رسول کفر کوی او د الله تعالی او پیغمبر په مینځ کښې فرق کوی او دارنګ وائی چې بعضے منو او بعضے نه منو او په دې کښې څۀ بله څۀ لار تلاش کوی نو الله

تعالی فرمائی چې دوی په حقه کافران دی او مونږ د کافرانو د پاره سپکوؤنکے عذاب تیار کړے دے.

اوس په الله تعالی باندې ایمان لرل د دوؤ خبرو نه مجموعه ده.

یو د الله تعالی وجود منل

دویم دالله تعالی وحدانیت منل

د الله تعالی د وجود نه منکر په دنیا کښې یو قوم هم نیشته. په دے باندې تاریخ هم ګواه دے او په مذهبی کتابونو کښې ئے ذکر هم شوے دے.

دا لله تعالی د وجود نه انکار هغه سړے کولے شی چې عقل ئے مسخه شوے وی.

د دے وجے نه څومره پیغمبران چې الله تعالی رالیږلی دی نو هغوی د الله تعالی د وجود دعوت ډیر کم کړے دے ځکه چې د هغه وخت خلقو به الله تعالی منلو.

په دنیا کښې صرف یوه ډله ده چې د الله تعالی د وجود نه منکر دی چې هغوی ته دهریان او کمیونیسټ وئیلے کیږی. خو دا خلق په دنیا کښې د نورو په نسبت په اوړو کښې د مالګے برابر دی.

زمونږ پیغمبر هم مسئله د توحید ښه ډیره بیان کړے ده او د وجود نه چونکه منکرین نه وو نو ځکه دغه مسئله کمه بیان کړے شوے ده.

الله تعالی په قرآن کریم کښې فرمائی.

﴿إِنَّ اللهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوٰى يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ﴾

(انعام:۹۵)

یعنې یقینا هم الله تعالی دانے او هډوکی شلوی او بوټی ترینه راټوکوی.او ژوندی د مړونه او مړی د ژوندو نه پیدا کوی.

دارنګ الله تعالی فرمائی:

﴿وَفِي الْاَرْضِ اٰيَاتٌ لِّلْمُوْقِنِيْنَ وَفِيْ اَنْفُسِكُمْ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ﴾(ذاریات:۲۰)

یعني په زمکو باندې الله تعالی د یقین لرونکو د پاره نخښې پیدا کړی دی او ستا سو په نفس کښې هم ډیرے نخښے دی.

نو الله تعالی اول د مور په ګیډه کښې په درے پردو کښې بند کړے دے او په اوبو کښې لامبو وہی او د رزق بندوبست ئے د نامه په ذریعے سره کړے دے او بیا غټ شی او لوے شی.

نو الله تعالی فرمائی: ﴿اَفِي اللهِ شَكٌّ﴾(ابراهیم:۱۰)

یعني د الله تعالی په وجود کښې هم خلق شك کوی ؟

نو دا مسئله یو عقلی او فطری مسئله ده او څوك ترینه هم انکار نشی کولے.

دهریان د الله تعالی د وجود نه انکار کوی او دلیل دا وائی چې مونږ الله تعالی ځکه نه منو چې مونږ هغه نه وینو.

د دے اعتراض نه جوابونه دا دی چې داسے خو ډیر څیزونه دی چې په نظر نه لیدلے کیږی او خلق ئے منی لکه عقل ، روح ، هوا، اکسیجن وغیره

د دوی یوه عقیده دا ده چې دا څۀ کیږی نو دا په خپله کیږی او زمانه په خپله چلیږی خو د دے جواب دا دے چې د دنیا د یو څیز وجود هم بغیر د صانع نه څوك نه منی لکه چې یو بلډنګ بغیر د جوړونکی نه نۀ اودریږی. دا رنګ یو ګاډے بغیر د ډرائیور نه نۀ چلیږی . دارنګ نور ډیر داسے قسمه څیزونه چې بغیر د صانع نه د هغے منل مشکل دی.

د امام ابوحنیفه رحمۃ اللہ علیہ په دور کښې د یو دهري سره د امام صاحب مناظره راغله، وخت اوټاکلے شو خو امام صاحب لیټ راؤرسیدو او وجه

ئے دا بیان کړه چې په لاره کښې مې درياب وؤ او هيڅ يو کشتۍ نه وه خو يوه اونه په خپله کټ شوه او کشتۍ ترې جوړه شوه او زۀ پرے په درياب راپورے وتم. نو دهری ورپورے اوخاندل چې دا څنګه کيدے شی چې کشتۍ په خپله جوړه شی او بيا بغير د چلونکي نه تا دے طرف ته راواړوی.

نو امام صاحب ته موقع ملاؤ شوه او دهری ته ئے اووے چې بيا دا دومره کائنات څۀ رنګه خود بخود پيدا شوے دی.

دارنګ امام شافعی رحمۃ اللہ علیہ د يو ګډبه نه تپوس اوکړو چې ته الله تعالی په څۀ پيژنے نو هغه جواب ورکړو چې زۀ د ګډو پچو ليدو سره پوهه شم چې په دے لار باندې ګډے تيرے شوے دی نو دا لوے کائنات هم د الله تعالی په وجود باندې غټ دليل دے.

نوخلاصه دا چې الله تعالی شته دے او موجود دے او دا ټول کائنات الله تعالی چلوی او په دے کښې الله تعالی چاته هم محتاج نه دے.

الله تعالی دې مونږ ته په دے باندې د عمل توفيق رانصيب کړي.امين

# د توحید اهمیت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ. بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ۔ اَلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ فِرَاشًا وَالسَّمَاءَ بِنَاءً وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَّكُمْ فَلَا تَجْعَلُوا لِلّٰهِ أَنْدَادًا وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ﴾

(البقرة:۲۳)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: مَنْ قَالَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دَخَلَ الْجَنَّةُ﴾(مسند ابوداود طیالسی)

## د توحید عقیده:

د قرآن مجید دوه آیتونه او د نبی ﷺ دوه ارشادات ذکر شو په دې کښې الله رب العزت مونږه ته یوه عظیمه مسئله بیانوی دا دومره اهمه مسئله ده چه تمام کائنات زمکه ،آسمان ،حیوانات ،نباتات، جمادات ونے، بوټی، سمندر او صحرا دا ټول څۀ څیزونه چې په نظر راځی د دې مسئلے د پاره الله پیدا کړی دی او دې ته مسئله توحید وئیلے کیږی عقیده توحید د تمام کائناتو او زمونږه ستاسو د پیدائش راز دے ترڅو پورې چې دا مسئله په دې دنیا کښې وی او د دې منونکی موجود وی نو دنیا به آباده وی او که د دې مسئلے منونکی نه وی نو بیا به قیامت راځی.

د دې مسئلے د توحید مثال په دین اسلام کښې داسے دے لکه څنګه چه د یو آبادئ د پاره بنیاد وی آبادی د بنیادونو د پاسه تعمیر کیږی که بنیاد نه وی نو تعمیر نه کیږی او که بالفرض و التقدیر اوشی نو هغه تعمیر، مضبوط، پائیدار تعمیر نه وی ، کمزورې او بےکاره سرسری

تعمیر وی په طوفان، باران، هوا، معمولی د زلزلے جهټکے سره بیا دغه کمزورے تعمیر د زمکې سره یو شان برابر وی او تباه شوی وی ځکه بنیاد نشته دغه شان زمونږه د تمامو اعمالو بنیاد هم عقیده توحید ده که ایمان نه وی عقیده توحید نه وی نو که مونږه د عملونو ډیر لوې تعمیر جوړ کړو دا به د الله په دربار کښې بے کاره او عبث وی او د دې به هیڅ حیثیت نه وی لکه څنګه چې دغه تعمیر یو سترې کار عبث او فضول وو دغه شان بغیر د عقیدې نه عمل کول هسې ځان سترې کول، عبث او فضول دی او دا خبره زه نه کوم یو مفتی یو قاضی یو واعظ یو عالم دا خبره نه کوی بلکه دا خبره قرآن کوی چه څهٔ خلق به ظاهر کښې د ثواب اعمال کوی څهٔ کارونه به کوی خو دا څیزونه زما په دربار کښې قبول نه دی.

## دعقیدې بنیادی حیثیت:

څوار لسمه سیپاره کښې الله فرمائی:

﴿وَقَدِمْنَآ اِلٰى مَا عَمِلُوْا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنٰهُ هَبَآءً مَّنْثُوْرًا﴾(فرقان:۲۳)

مطلب کوم انسان چې درست ایمان او عقیده نه لری نو مونږه به د دغه انسان عمل او کار د طوفان د ګرد او غبار په شان فضول او ضائع کړو. وجه دا ده چې بنیاد یعنې عقیده برابره نه ده ځکه د تمام دین دارومدار په صحیح ایمان او صحیح عقیده باندې دې.

لکه څنګه چې بیان شو چې د دې کائنات د پیدائش راز عبادت او اطاعت کول دی. سورة زاریات کښې الله فرمائی:

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنَ﴾(ذاریات:۵۶)

د انسان او پیریانو د پیدائش مقصد توحید باری تعالی دے که دا عقیده نه وی نو دنیا به هم نه وی. حدیث کښې راځی:

﴿لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى يُقَالُ فِي الْاَرْضِ اَللّٰهَ اَللّٰهَ﴾

تر هغے پورے به قیامت نه قائمیږی تر څو پورې چې آواز د ﴿أُعْبُدُوااللّٰهَ اَیْ وَحِّدُوا اللّٰه﴾ د الله عبادت اوکړئ، د الله توحید اومنے دا آواز چې په مخ د زمکه موجود وی نو قیامت به د دې د برکته نه راځی ځکه چې په دنیا کښ د دنیا د پیدائش مقصد شته دے د دنیا د آبادے هغه راز د هغے آواز په زمکه لګی او که دا نه وی نو بیا دې دنیا ته ضرورت نشته.

## د ټولو انبیاؤ دعوت:

او الله چې دنیا ته څومره پیغمبران رالیږلی وو هغه ټولو خپلو امتونو ته دا اهمه مسئله د توحید بیان کړے وه ﴿یٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ﴾ اے زما قومه د الله عبادت اوکړے دا خپل سر ،شکل ، خائسته صورت خپل تندے الله ته ښکته کړے دا بل چا ته مه ښکته کوے دا د هر پیغمبر آواز دے په قرآن کښ الله د انبیاؤ په نوم یو پوره سورت نازل کړے دے چه هغې ته سورة الانبیاء وائی دا د قرآن د سورتونو یو انداز دے چه هر سورت په خپل مناسب مضمون سره د هغے نوم دے لکه (سورة البقرة) کښ د بقرے په باره کښ بیان دے (سورة ال عمران) کښ د عیسی علیه السلام او ال عمران تذکره ده (سورة العنکبوت) په هغے کښ د شرك قباحت بیانوی نو د جولاګی تشبیه ئے د مشرك او د هغه عمل سره یو شان بیان کړے ده چې د جولاګی او مشرك عمل کمزورے اوبے فائدے دے. (سورة الانبیاء) یعنی هغه سورت چه په هغے کښ هغه مسئله بیان شوې ده چې تمام انبیاء علیهم السلام په هغې باندې متفق او یو دی په دغه سورت کښ هم الله دا مسئله بیان کړې ده الله فرمائی:

﴿وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا یُوْحِیْٓ اِلَیْهِ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ﴾(انبیاء:۲۵)

پیغمبره ستا نه مخکښ چې څومره انبیاء دی هغوی ټولو ته د دې مسئلے

تعلیم ما ورکړے دے چې ﴿اَنَّهٗ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنَا﴾ په خپله دا خبره اومنئ او مخلوق خدا ته هم دا تعلیم ورکړئ چې زما نه بغیر بل اله نشته پس زما عبادت اوکړئ. ټول انبیاء الله د دې مسئلے د سمجهاؤلو د پاره رالیږلے دی. دوه بنیادی خبرے وے یو توحید الوهیت چې حاجت روا مشکل کشا زه یمه. دویمه دا چه صرف زما عبادت اوکړئ انفرادی ،اجتماعی ژوند، رکوع، سجده، عبادت، نذر و نیاز دا ټول به صرف او صرف د الله د پاره وی دا د انبیاؤ د بعثت مقصد وو.

## ټول عمر د الله د توحید بیان:

د دې انبیاؤ په فهرست کښې یو نبی حضرت نوح علیه السلام دے چې هغه پنځوس کم زر کاله د الله د توحید چغے وهلے دی د الله توحید ئے خلقو ته بیان کړے دے د الله توحید ته ئے خلق رابللی دی دا پیغمبر دا مسئله نهه سوه پنځوس کاله بیانوی مفسرین وائی داسے ورځ نشته چې نوح علیه السلام په دغه ورځ د خپل قوم نه وهل نه وی خوړلی. د قوم خلقو به ورله وهل ټکول ورکړل، بے هوشه به شو چې په هوش کښې به راغلو جبرئیل علیه السلام ته به ئے اووئیل اوس د الله څۀ حکم دے هغه به ورته اووئیل چه الله وائی دې بل کلی، وطن ته اوس لاړ شه هغوی ته دا مسئله بیان کړه، بیا به په بل ځائے، بیا په بل ځائے، دغه شان نهه سوه پنځوس کاله عمر دے پیغمبر د الله په توحید کښې تیر کړې وو په ټول قرآن کښې چرته د نوح علیه السلام د مانځه تذکره نشته د هغه د حج تذکره نشته د هغه د روژې تذکره نشته صرف او صرف د توحید تذکره ده دا مسئله بار بار ځکه ذکر کوی چه دا اهمه مسئله ده چې هر پیغمبر دا عقیده خپل قوم ته بیان کړې ده. آخر کښې د محمدرسول الله ﷺ الله تذکره کړې ده چه دۀ هم خپل قوم ته توحید تر آخر عمر پورے بیان کړے

وو په مکی دور کښې، په مدنی دور کښې د روز اول نه واخله تر وفات پورے ئے دا خبره د خُلے نه وتلے ده ټوله زندګی توحید، توحید سراپا توحید توحید دے.

او بیا چې ورله الله کوم قرآن ورکړو هغه هم د الحمد نه واخله تر والناس پورے ټول توحید دے.

## د صفا په غونډۍ د توحید بیان:

اول ځل چې کله خپل قوم ته مسئله د توحید بیانوی نو خپل قوم ئے د صفا په غونډے باندې راجمع کړو او په دغه مقام ولاړ وو قوم ئے راجمع کړو قوم والا ورته وائی څۀ مسئله ده ځکه دا طریقه وه د هغوی چه کله به اهم خبر راغلے نو یو کس به د غر په سر باندې اودریدو او خپل څادر به ئے په هواء کښې چاپیره تاؤ راتاؤ کړو نو دا به د خطرے خبره وه نو قوم ورته وائی چه څۀ چل دے، خبره څۀ ده، نبی ﷺ ورته اووئیل زۀ ستاسو نه یو تپوس کوم ما په تاسو کښې د دې نه مخکښې څلویښت کاله تیر کړل چرته ما تاسو ته د دروغو خبره کړې ده. قوم ورته اووئیل چه نا مونږه همیشه تۀ صادق او امانت دار موندلے ئے بلکه ﴿جَرَّبْنَاكَ مرارًا﴾ مونږه په تا کله هم دروغ نه دی ثابت کړې، سره د تجربے زمونږه نه، چه مونږه تجربه کوؤ ته به راته دروغ اووائی خو ته دروغ ګوئی نه کوے نبی ورته اووئیل چه دروغ مانه دی وئیلې او نه دروغ وائمه بیا زما دا بله رشتیا خبره واورے که تاسو دا خبره اومنله نو د عربو او د عجمو مشری به تاسو ته الله درکړی دا خبره ئے ورته ځکه اوکړه چه عرب او قریش د اقتدار او مشرۍ ډیر خواهش مند وو نو نبی ﷺ ورته اوئیل ﴿قُوْلُوْا لَا إِلٰهَ إِلَّااللّٰهُ تُفْلِحُوْا﴾ لا اله الا الله اوائے کامیاب به شئ، هغه مشرکانو ته دا معلومه وه چه د لا اله الا الله د وجے نه به مونږه څومره ډیر بتان ،خدایان

پریږدو نو هغوی دې خبری منلو ته تیار نه شو نو ابو لهب اودریدو او نبیﷺ ته ئے اووئیل ﴿تبا لك یا محمد﴾ ډیره نامناسبه خبره ئے پیغمبر ته اوکړه نو الله آیتونه نازل کړه ﴿تَبَّتْ يَدَا اَبِيْ لَهَبٍ وَّ تَبَّ﴾ هلاك دې شی دواړه لاسونه د ابو لهب چه په نبی باندې ګوزارونه کوی او خیرے، بد دعا ورته کوی. د ترۀ د ګوزار او د ردو بدو خبرو د وجے نه ټولو خلقو په نبیﷺ باندې ګوزارونه او ردې بدې خبرے ئے ورته شروع کړے.

## د انبیاؤ او کتابونو مقصد:

نو که دا څومره سخت مشکلات تکالیف مصیبتونه نبیﷺ برداشت کړی وو هغه د دې توحید د پاره د هغه د بعثت مقصد بیان د توحید وو او قرآن هم الله دنیا ته د توحید د بیان د پاره نازل کړے دے په سوره مزمل کښې الله خپل پیغمبر ته دعوتی ذمه داری ښائی چه پیغمبره ستا ذمه داری څۀ ده نو الله پیغمبر ته ذمه داری بیانوی ﴿قُمْ﴾ اۍ پیغمبره اودریږه ﴿فَاَنْذِرْ﴾ دا خلقه اویروه د الله د عذاب نه بیا الله وائی ﴿سَنُلْقِيْ عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيْلًا﴾(مزمل:۵) مونږه تا ته یوه درنه وینا درکوؤ چه دا وینا به په هر کافر باندې ډیره بوجناکه او درنه وی بیا مسئله د توحید بیانوی ﴿رَبُّ الْمَشْرِقِ وَ الْمَغْرِبِ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَكِيْلًا﴾(مزمل:۹) الله د خپل کارونو ذمه وار اوګرځوه د الله نه بغیر بل څوك د نفع او نقصان ذمه وار مه ګرځوه الله په سورت بنی اسرائیل کښې هم دا مسئله بیان کړے ده چه تورات کښې ما بنی اسرائیلو ته دا حکم ورکړے وو ﴿اَنْ لَّا تَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِيْ وَكِيْلًا﴾(اسراء:۲) نو الله په تورات کښې هم دا مسئله او په قرآن کښې هم دا مسئله بیان کړې ده.

## د هر فرد اجتماعی ذمه داری:

بیا دا د توحید مسئله بیانول صرف د پیغمبر ذمه داری نه ده بلکه دا د هر امتی ذمه داری هم ده چه هغه به د انبیاؤ په طرز و طریقه توحید بیانوی الله وائی ﴿هٰذَا بَلَاغٌ لِلنَّاسِ﴾ دا د دې ټولو خلقو د پاره د تبلیغ کتاب دے بیا الله وائی ﴿وَلِيَعْلَمُوْا اَنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ﴾(ابراهیم:۵۲) دا تمام مخلوق په دې خبره پوهه شی چه حاجت روا، مشکل کشا صرف یو الله دے نو پیغمبر د توحید د پاره قرآن د توحید د پاره ټول پیغمبران د توحید د پاره او ټول کتابونه د توحید د پاره بلکه دا ټول کائنات الله د خپل توحید او وحدانیت د پاره پیدا کړے دې توحید د ټولو انبیاؤ نصب العین او د ټولو کتابونو خلاصه او نچوړ دے بلکه زمونږه د ژوند مقصد حیات هم توحید دے که مسلمان مسلمان وی نو توحید به منی او که د اسلام دا ټول عمارت ولاړ وی نو د الله په توحید باندې به قائم او دائم ولاړ وی الله دې مونږه ته د دې عظیمے مسئلے پوهه نصیب کړی. امین

# د الله تعالی وحدانیت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنْ كُنْتُمْ فِيْ شَكٍّ مِّنْ دِيْنِيْ فَلَا اَعْبُدُ الَّذِيْنَ تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ اَعْبُدُ اللّٰهَ الَّذِيْ يَتَوَفّٰكُمْ وَاُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾

(ابراهیم:۱۰)

عقائد په دوه قسمه دی .

یو هغه چې د هغے نهٔ منونکی ته کافر وئیلے کیږی.

دویم هغه چې د هغے نهٔ منونکی ته فاسق او ګمراه وئیلے کیږی.

اول قسمه عقائدو ته ضروریات دین وئیلے کیږی.

دا مشتمل دی په درے عقائدو باندې چې یو ایمان باللّٰه دے ، دویم ایمان بالرسل دے او دریم ایمان بالاٰ خرت دے.

اوس ایمان په الله تعالی په دوؤ خبرو کښې دے .

یو د اللّٰه تعالی وجود منل دی.

دویم د اللّٰه تعالی وحدانیت منل دی.

د اللّٰه تعالی وجود منل یو عقلی مسئله ده ځکه چې عقل انسانی او فطرت انسانی د دے نه چرته هم انکار نشی کولے.

د دے وجه دا ده چې د وړے نه وړه کارخانه بغیر د صانع نه ، نهٔ چلیږی نو دا دومره منظم کائنا ت څهٔ رنګ بغیر د منتظم نه چلیږی.

نو پته اولګیده چې کائنات چلونکے یو ذات شته دے چې مسلمانان ورته الله تعالی وائی.

دا کائنات دومره لوے دی چې که چرته د شپے په تیارهٔ کښې

آسمان طرفته اوکتلے شی نو پنځه زره ستوری په نظر ښکاریږی.

او چې کله ورته په دوربین کښې اوکتلے شی نو شل لکه ستوری ښکاری او که د دغے نه هم اعلی قسمه دوربین استعمال کړے شی نو په لکهونو ، اربونو ستوری ښکاری.

دا رنګ فلکیات والا وائی چې دا په اربونو ستوری، سپوږمئ او نمر وغیره دا یوه کهکشان دې او د دوی په نیز په کائنات کښې پنځوس کروړه کهکشاګانے دی.

دا رنګ په دے کهکشان کښې نمر د زمکې په نسبت دولس لکه ګنا غټ دے. نو کنټرولر د دے نظام شته دے چې الله تعالی دے.

اوس دغه الله تعالی ګنړ نه دی بلکه یو ذات دے.

د اول نه خلق په مسئله د توحید کښې خطاء شوی دی او د دے ابتداء د نوح علیه السلام د وخت نه شوے ده.

د توحید په باره کښې شیخ عبد القادر جیلانی رحمة الله علیه په خپل کتاب الفتح الرباني کښې فرمائی.

﴿اَلتَّوْحِيْدُ لَيْسَ فِيْهِ رُؤْيَةُ الضَّرَرِ وَالنَّفْعِ مِنْ اَحَدٍ﴾

یعني په توحید کښې د بل چانه د نفعے او ضرر منل نیشته.

دا رنګ ټومره انبیاء کرام علیهم السلام چې دنیا ته راغلی دی او ټومره کتابونه چې الله تعالی نازل کړی دی نو د ټولو اهمه موضوع د الله تعالی وحدانیت دے.

قرآن کریم او احادیث مبارکه د دے مسئلے د پرچار نه ډك دی.

د مسئلے د توحید د پهچان د پاره قرآن کریم درے طرزه اختیار کړی دی.

یو په طرز د اسماؤ و صفاتو ذکر کولو سره

دویم توحید فی العباد ت دے چې عبادت کښې ماسره هیڅ څوك شريك نيشته.

دريمه طريقه د توحيد فی الاستعانة ده چې ځاې په ځاې ذکر ده.

د صفاتو بیان ځکه ډیر کوی چې شرك کښې هر هغه سړے ګمراهه کیږی چې د الله تعالی په صفاتو باندې پوره علم نهٔ لری نو ځکه الله تعالی د هغے بیان کوی.

د قرآن کریم شروع الله تعالی په دے صفاتو ذکر کولو سره کوی نو فرمائی چې الحمد لله . یعني ټول صفتونه د کمال ماله ثابت دی.

سورة رعد کښې د خالق صفت بیانوی.

﴿قُلِ اللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ﴾(الرعد:۱۶)

یعني الله تعالی د هر څیز خالق دے.

دارنګ سورة شوری کښې فرمائی:

﴿ يَخْلُقُ مَايَشَاءُ يَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ اِنَاثًا وَّيَهَبُ لِّمَنْ يَّشَآءُ الذُّكُوْرَ اَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَّاِنَاثًا وَّيَجْعَلُ مَنْ يَّشَآءُ عَقِيْمًا﴾(الشوری:۴۹)

یعني الله تعالی خالق د هر څیز دے . چاله جینۍ او چاله هلك ورکوی او چاله دواړه ورکوی او څوك شنډ پریږدی.

دا رنګ سورة قصص کښې فرمائی:

﴿وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ مَاكَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ﴾(قصص:۶۸)

یعني ستا رب خالق او مختار د هرڅیز دے او بل چاله هیڅ اختیار نیشته.

زکریا علیه السلام خپل اختیار نهٔ لری نو الله تعالی ته خپله عاجزی وړاندے کوی.

﴿رَبِّ هَبْ لِيْ مِنْ لَّدُنْكَ ذُرِيَّةً طَيِّبَةً﴾(آل عمران:۶۸)

يعني اے ربه ! ماته د خپل طرف نه پاك اولاد راكړه.
نو الله تعالى ورته په جواب كښې فرمائی:
﴿فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ وَوَهَبْنَا لَهٗ يَحْيٰى﴾(انبیاء:۹۰)
يعني مونږ د دۀ دعا قبوله كړه او يحي عليه السلام مو ورله وركړو.
دا رنګ سورة عنكبوت كښې الله تعالى خپل صفت د رازقيت ذكر كوی.نو فرمائی.
﴿اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ لَهٗ﴾(رعد:۲۶)
يعني الله تعالى رزق پراخونكے او تنګونكے دے.
دا رنګ فرمائی:
﴿اِنَّ الَّذِيْنَ تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَا يَمْلِكُوْنَ لَكُمْ رِزْقًا فَابْتَغُوْا عِنْدَ اللّٰهِ الرِّزْقَ﴾(عنکبوت:۱۷)
يعني تاسو چې د الله تعالى نه ماسواء د بل چا عبادت كوئ نو هغه ستاسو د پاره د رزق مالك نه دے بلكه د الله تعالى نه رزق اوغواړے.
دا رنګ الله تعالى خپل صفت د علم غيب قرآن كريم كښې بيانوی.
الله تعالى فرمائی:
﴿وَعِنْدَهٗ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا اِلَّا هُوَ﴾(انعام:۵۹)
يعني د الله تعالى سره د غيبو چابيانے دی چې د هغے علم د الله تعالى سره دے.
سورة نمل كښې فرمائی:
﴿قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ وَمَا يَشْعُرُوْنَ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ﴾(نمل:۶۵)
يعني اووايه اے پيغمبره ! چې د الله تعالى نه ماسواء په زمكو او

آسمانونو کښې هيڅ څوك په غيبو نه پوهيږی بلکه دوی په دوباره ژوندی کيدو باندې هم نه دی خبردار.

په يو حديث کښې وارد دی چې يو ورځ د خوشحالے په موقع باندې بعضے ماشومانو اشعار وئيل نو هغوی اووئيل چې

﴿وَفِيْنَا نَبِيٌّ اللهِ ﷺ يَعْلَمُ مَا فِيْ غَدٍ﴾(مسند احمد)

يعني مونږ کښې داسے رسول الله ﷺ دے چې د صبا په حالاتو هم پوهيږی.

کله چې نبی کريم ﷺ دا واؤريدل نو رد ئے پرے اوکړو چې ماله الله تعالی د دے علم نۀ دے راکړے بلکه دا د الله تعالی خاصه ده.

سورة کهف کښې الله تعالی فرمائی:

﴿لَا تَقُوْلَنَّ لِشَيْءٍ اِنِّيْ فَاعِلٌ ذٰلِكَ غَدًا اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللهُ﴾(كهف:٢٣)

يعني د الله تعالی د خوښے نه علاوه داسے مۀ وائے چې دا کار به صباله کوم.

دا رنګ اختيار د مصيبت لرے کولو الله تعالی سره دے.

﴿قُلِ اللهُ يُنَجِّيْكُمْ مِّنْهَا وَمِنْ كُلِّ كَرْبٍ﴾(انعام:٦٤)

يعني اووايه اے پيغمبره ! چې الله تعالی به تاسو ته د دے نه او د هرمصيبت نه نجات درکوی.

سورة انعام کښې فرمائی:

﴿وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗٓ اِلَّا هُوَ﴾(انعام:١٧)

يعني که الله تعالی تاته څۀ ضرر دراورسوی نو د هغے لرے کونکے هيڅ څوك نيشته.

ايوب عليه السلام اتلس کاله بيمار دے خو د بل چانه نۀ غواړی بلکه الله تعالی ته سوال کوی.

﴿رَبِّ اَنِّیۡ مَسَّنِیَ الضُّرُّ وَاَنۡتَ اَرۡحَمُ الرّٰحِمِیۡنَ﴾(انبیاء:۸۳)

یعني اے زما ربه! ماته تکلیف رارسیدلے دے او ته بهترین رحم کوؤنکے ئے.

نو الله تعالی ورته په جواب کښې فرمائی:

﴿فَاسۡتَجَبۡنَا لَهٗ وَكَشَفۡنَا مَا بِهٖ مِنۡ ضُرٍّ﴾(انبیاء:۸۴)

یعني مونږ د دهٔ دعا قبوله کړه او د دهٔ نه مې تکلیف لرے کړو دا رنګ د یونس علیه السلام تکلیف لرے کول او په هغه وخت کښې الله تعالی ته فریاد هم قرآن کریم ذکر کړے دے.

نو خلاصه دا چې د صفاتو د عدم پیژند ګلو د وجے نه انسان په ګمراهئ کښې مبتلاء کیږی ځکه الله تعالی خپل صفات په وضاحت سره ذکر کوی.

الله تعالی دے مونږ ته د عمل توفیق رانصیب کړي. امین

# د کلمې طیبې مقصد

**اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:**

**فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔**

**﴿وَمَا اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِيْٓ اِلَيْهِ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ﴾**

**(انبیاء:۲۵)**

**﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : مَنْ مَاتَ يُشْرِكُ بِاللّٰهِ شَيْئًا دَخَلَ النَّارَ وَمَنْ مَاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللّٰهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ﴾** (رواه مسلم)

د اسلام دائرے ته دَ داخلیدو د پاره کلمه طیبه وئیل ضروری دی چې هغے ته کلمه د اسلام هم وئیلے کیږی.

## کلمه طیبه په دوؤ جزونو مشتمل ده:

کلمه طیبه مونږ ته څهٔ ښائي د دې تعلیم څهٔ دے او د دې مقصد څهٔ څیز دے.د کلمے طیبے مقصد په مختصر الفاظو کښې دا دے چې دا کلمه طیبه دوه جزه لری.

**یو لا اله الا الله او دویم محمد رسول الله.**

اول جُزء په هر دور کښې د هر پیغمبر دین او شریعت کښې یو شان وو خو دویم جزء چې د هرې زمانے د پیغمبر معرفت او اقرار وو. په دې جزء کښې به فرق وو.

نو د اُدم علیه السلام په دور کښې دین اسلام ته داخلیدو واله کلمه **لا اله الا الله اُدم صفی الله.**

دا رنګ د نوح علیه السلام په دور کښې **لا اله الا الله نوح رسول الله.**

دا رنګ د ابراهیم علیه السلام په دور کښې **لا اله الا الله ابراهیم خلیل الله.**

دا رنګ د موسی علیه السلام په دور کښې **لا اله الا الله موسی کلیم الله.**
دا رنګ د عیسی علیه السلام په دور کښې **لا اله الا الله عیسی کلمة الله.**

او په اخری دور کښې د الله په بندګے او اسلام کښې داخلیدو د پاره ترقیامت پورې دا کلمه ده. په دے امت کښې به **لا اله الا الله محمد رسول الله** وئیلے کیږی.

بهرحال ړومبی جزء په هر امت کښې یوشان وو او دویم جزء په هر دور کښې د مختلفو انبیاء کرامو سره بدلیدو رابدلیدو. او په دغه دویم جزء کښې به د دغه دور د پیغمبر د رسالت اقرار وو. اوس په دې کښې هیڅ قسم تقدیم تاخیر رد وبدل نۀ شی کیدے یو جزء کښې هم ترمیم یا تحریف نۀ شی برداشت کیدے په دې دور کښې قادیانان په دې دویم جزء کښې یو لوې لعنتی خیانت او تحریف کوی چې هغے سره انسان مسلمان نه بلکه دکافرو په صف کښې داخلیږی هغه دا چې دوی وائی ﴿**لا اله الا الله احمد رسول الله**﴾ او د احمد نه مراد د قادیان یو لیونے ګستاخه یهودی مراد اخلی نو دا خلق په اتفاق د امت سره کافر دی او د پاك صفا خالص دین اسلام سره د دوی هیڅ تعلق نشته اسلام د دوی نه بیزاره دے او دوی د اسلام نه بیزاره دی.

## د هر پیغمبر خپل قوم ته اول پیغام:

هر پیغمبر د اولنې جزء پرچار کړے دے. دې اول جزء ته اقرار بندګی یعنی د بندګے ،عبادت اقرار صرف د الله د پاره کول او دویم جزء ته طرز زندګی وائی یعنې ژوند ،زندګی د محمد رسول د شریعت په رنړا کښې او د شریعت د اصولو ما تحت ژوند تیرول.

قرآن کریم کښې هم الله تعالی فرمائی: ﴿**وَمَآ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ قَبۡلِكَ مِنۡ رَّسُوۡلٍ اِلَّا نُوۡحِیۡۤ اِلَیۡهِ اَنَّهٗ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّاۤ اَنَا فَاعۡبُدُوۡنِ**﴾(انبیاء:۲۵)

یعني اے پیغمبره! مونږ ستانه مخکښې هر یو پیغمبرته دا وحی کړے وه چې نیشته دے لائق د عبادت سواء زما نه نو زما عبادت کوئ.

نو زمونږ خوږ پیغمبر ته هم د دے کلمے د خورولو حکم کړے شوے دے چې: ﴿لا اله الا الله محمد رسول الله﴾

دا دواړه جزؤنه منل د یو مسلمان دپاره لازمی ده.

اول جزء کښې اقرار بندګی او دویم جزء کښې طرز زندګی ده.

یعني چې کله د الله تعالی د بندګئ اقرار اوکړے نو ژوند به د نبی کریمﷺ د زندګئ په طرز تیرئ.

په ړومبی جزء کښې د الله تعالی وحدانیت بیانیږی.

دا توحید د ایمان بنیاد او جان دے.د هر یو پیغمبر اول پیغام خپل امت ته د الله د توحید وو.

## دَ یوسف علیه السلام د توحید بیان:

د نبی کریمﷺ نه مخکښې چې څومره پیغمبران الله تعالی رالیږلی دی. ټولو د الله تعالی د وحدانیت پرچار کړے دے.

قرآن کریم کښې الله تعالی د یوسف علیه السلام تذکره کوی کله چې هغه ته دوه کسان د خوب د تعبیر د پاره راغلل نو یوسف علیه السلام ورته د خوب د تعبیر نه مخکښې دا اهمه مسئله بیان کړه چې هغه مسئله د توحید ده. او د انبیاء علیهم السلام شان دا وو چې هغوی ته به موقع ملاؤ شوه نو غنیمت به ئے ګڼړله او د الله توحید ته به ئے دعوت ورکولو خلق به ئے دې ته رابلل نو فرمائی:

﴿اِنِّیْ تَرَکْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَّا یُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ کٰفِرُوْنَ﴾

(یوسف:۳۷)

یعني ما د داسے خلقو دین پریښے دے چې هغوی په الله تعالی

ایمان نه لری او د اخرت انکار هم کوی.

نو مطلب دا چې زه دمصر د خلقو په شان بے دینه نه یم بلکه زما دین د الله تعالی د توحید نه عبارت دے.

بیا ئے اوفرمائیل چې:

﴿وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ اٰبَآءِیْٓ اِبْرٰهِیْمَ وَاِسْحٰقَ وَیَعْقُوْبَ﴾(یوسف:۳۸)

یعنې زهٔ د خپلو مشرانو په دین پسے روان یم خو زما مشران عام خلق نه دی بلکه ابراهیم، اسحاق او یعقوب علیهم السلام دی چې دا ټول انبیاء د الله تعالی دی.

دا پیغمبران مصریانو پیژندل. ځکه یوسف علیه السلام ورته د دوی نومونه واغستل.

او بیا فرمائی نو د هغوی دین څهٔ وو د هغے خلاصه دا ده

﴿مَاكَانَ لَنَآ اَنْ نُّشْرِكَ بِاللّٰهِ مِنْ شَیْءٍ﴾(یوسف:۳۸)

یعنې زمونږ د ټولو دین دا دے چې مونږ د الله تعالی سره هیڅ څوك نه شریکوؤ. او دا راباندے د الله تعالی لوے فضل دے. یعنی توحید منل او د شرك نه بچ کیدل د الله یو لوې فضل او نعمت دے.

نو فرمائی:

﴿ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ عَلَیْنَا وَعَلَی النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا یَشْكُرُوْنَ﴾ (بقرة:۲۴۳)

یعنې دا په مونږ او په خلقو د الله تعالی لوے احسان دے خو خلق بیاهم ناشکری کوی.

## د لا اله الا اللّٰه مفهوم:

د لا اله الا الله مفهوم:یعنې توحید څهٔ ته وائی.

د لا اله الا الله معنی دا ده چې د بندګئ لائق ، حاجت روا ، مشکل

کشا، حکمران، قانون چلوؤنکے ، بادشاه الله تعالی دے. یعنې عبادت نذرو ونیاز، رکوع، سجده د هر قسم عبادت حقدار یو الله دے.
د الله تعالی نه ما سواء بل څوك په دے صفت کښې د الله تعالی سره شريك نيشته.

په دې کلمه باندې د دنیا او آخرت د سعادت او شقاوت، د نجات او هلاکت دارومدار په دې کلمه باندې موقوف دے.

یو انسان چې جنت ته ځی نو هغه به د دے کلمے د منلو د وجے نه ځی. او څوك چې دا کلمه نه منی نو هغه به جهنم ته ځی.
حديث کښې نبی کریم ﷺ فرمائی: ﴿ثِنْتَانِ مُوجِبَتَانِ﴾

یعنې دوؤ کارونو کولو سره به دوه څیزونه ملاویږی

نو صحابو رضی اللہ عنہم تپوس اوکړو چې ﴿مَا الْمُوجِبَتَانِ؟﴾ یعنی هغه کوم دوه څیزونه دی؟

نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل

﴿مَنْ مَاتَ يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ النَّارَ وَمَنْ مَاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ﴾(جامع معمر بن راشد)

یعنې څوك چې د شرك په حالت کښې مړ شو نو اُور ته به داخلیږی او څوك چې د الله تعالی د وحدانيت منلو په حالت کښې وفات شو نو هغه به جنت ته داخلیږی.

نو مطلب دا شو چې د شرك په بدله کښې به جهنم ملاویږی او د شرک نۀ کولو په بدله کښې به جنت ملاویږی.

## د الله د حق بیان:

دغه رنګ نبی کریم ﷺ معاذ بن جبل رضی اللہ عنہ ته اوفرمائیل.په سفر باندې روان وو ورته ئے اوفرمائیل: ﴿يَا معاذُ﴾

نو معاذ بن جبل رضي الله عنه ورته اوفرمائیل چې:

﴿لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ يَارَسُوْلَ اللهِ صلى الله عليه وسلم﴾

یعني زه حاضر یم اے د الله تعالی رسوله.

بیا ئے راته تر دریو ځلو پورے [یا معاذ] اووئیل .او دا د دې وجے چې مسئله ئے ډیره اهمه کوله.

دا درے ځله آواز کول د دے وجے نه وو چې زما په زړهٔ کښې د راروانے خبرے اهمیت پیدا شی.

بیا نبی کریم صلى الله عليه وسلم اوفرمائیل : چې تاته پته شته چې د الله تعالی په بنده او د بنده په الله تعالی څهٔ حق دے؟

معاذ رضي الله عنه ورته اوفر مائیل: ﴿اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ﴾

یعني الله تعالی او د هغه رسول ته به علم وی.

بیا نبی کریم صلى الله عليه وسلم راته اوفرمائیل

﴿ اِنَّ حَقَّ اللهِ تَعَالٰى عَلٰى عِبَادِهٖ اَنْ يَّعْبُدُوْهُ وَلَا يُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا وَحَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللهِ اَنْ لَّا يُعَذِّبَ مَنْ لَّا يُشْرِكُ بِهٖ شَيْئًا﴾(مسند احمد)

یعني د الله تعالی حق په بندګانو دا دے چې صرف د الله بندګې به کوی او د دهٔ سره به څوك نهٔ شریکوی. او د بندګانو حق پرے دا دے چې موحد ته به الله تعالی عذاب نه ورکوی.دا عقیده د توحید د انبیاؤ هغه اهم دعوت وو.

## د نبی صلى الله عليه وسلم دَ دعوت توحید ابتداء:

نبی کریم صلى الله عليه وسلم هم د دے مسئلے د توحید وضاحت کړے دے او په اولنی وخت کښې نبی کریم صلى الله عليه وسلم خفیة دعوت د دے مسئلے شروع کړو.ځکه په ښکاره دا مسئله بیانول ډیر مشکل کار وو ټول عرب مشرکان وو عرب خو لا څهٔ چې ټول ملکونه اولوې سلطنتونه خاوۀ شا هم

مشرکان او ملحدین وو په خانه کعبه کښې درې سوه شپیته بتان او چین او هندوستان والا قسمه قسم شرکیاتو کښې مبتلاء وو نو خلقو ته دا ډیره ناشنا خبره ښکاریده. بیا کله چې څۀ نه څۀ خلق پوهه شو نو الله تعالی ورته په دعوت کولو کښې د وسعت پیدا کولو حکم اوکړو او ورته ئے اوفرمائیل چې

﴿وَاَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ﴾(شعراء:۲۱۴)

یعني خپل نزدے رشته داران اویروه.

بیا ئے ورته د اعلانیه دعوت حکم اوکړو چې

﴿فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ﴾(حجر:۹۶)

یعنې د کومو خبرو چې تاته حکم کړے شوے دے هغه ټولو خلقو ته واضح بیان کړه.

نبی کریم ﷺ د دے وجے نه کوهِ صفا ته اوختولو او آواز ئے اوکړو نو خلق راټول شول. او دا د عربو طریقه وه چې د یو اهم خبرې اعلان به ئے کولو نو یوې غونډے ته به اوچت یو سړے اوختولو او خپل قمیص یا څادر به ئے به هوا کښې د جهنډې په شان تاؤ راتاؤ کړو بیابه ورته خلق راجمع شو او آواز به ئے وکړو يَا صَبَاحَاهُ مطلب ډیر اهم اعلان واؤرے نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل که زه تاسو ته اوویم چې د دے کوه صفانه شاته دشمن په تاسو حمله کوی نو آیازما داخبره به اومنئ.

هغوی فوراً جواب ورکړو چې او: ځکه چې تاکله هم دروغ نه دی وئیلی.

نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چې د دے نه هم درته اهمه خبره کوم. د دشمن راتلل، حمله آور کیدل وړه خبره ده ځکه تاسو سره د دشمن نه د حفاظت د ځان ساتلو او دفاع کولو اسباب شته دے خو د الله د عذاب نه مو هیڅ څیز نه شی خلاصولے.

﴿قُوْلُوْا لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ تُفْلِحُوْن﴾

یعني تا سو ټول په شریکه دا وینا د **لا اله الا الله** اووائے نو تاسو به کامیاب شئ.

اول د دے وینا مخالفت ابولهب اوکړو او نبی کریم ﷺ ته ئے اوئیل او دا اول ګزار په نبی ﷺ د خپل کور نه اوشو.

﴿تَبًّا لَكَ اَلِهٰذَا جَمَعْتَنَا﴾(مسند احمد)

یعنې الله تعالی دې هلاك كړه تا مونږه دې خبرے له راجمع كړی وو.

الله تعالی د دے وینا په جواب کښې سوره لهب نازل کړو.

## د مشرکانو د شرک دوه بنیادی وجې:

مشرکین مکه الله تعالی منلو د الله خالقیت ،رازقیت، مالکیت دا هر څۀ به ئے تسلیم کول خو د اله وحدانیت به ئے نۀ تسلیم کولو یعنې په دې څیزونو کښې به ئے د الله سره نور خوك حصه دار او شریك دار هم ګرځول. خو نبی کریم ﷺ دا وینا پرے بده اولګیده ځکه چې د الله تعالی د خالق ، رازق منلو سره ئے شرك فی العبادة کولو- دا اول بنیادی فرق د مکه د مشرکانو او مسلمانو په مینځ کښې دے یعنی عبادت کښې، بندګئ کښې الله سره حصدار او شریك ګرځول او شرك فی الاستعانة دا دویم فرق دے د مشرکانو او مسلمانو تر مینځ چې مسلمان یو الله ته رامدد شه وائی او مشرکان څنګه چې الله ته دا آواز کوی نو دارنګ نورو حصه دارانو ته هم دا آواز لګوی یا هُبُل مدد یا عُزّٰی مدد یا ابراهیم مدد یا عیسٰی مدد یا عزیر مدد کښ هم مبتلاء وو.

شاه ولی الله رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چې ﴿كَانَ فِيْهِمُ الصَّلٰوة﴾

یعنې دوی به مونځ هم کوؤ ځکه د ابراهیم علیه السلام په دین کښی مونځ موجود وو او دوی به خپل نسبت ابراهیم علیه السلام ته هم کولو.

قرآن کریم کښې هم الله تعالی فرمائی:

﴿مَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ اِلَّا مُكَآءً وَّتَصْدِيَةً﴾(انفال:۳۵)

یعني د دوی مونځونه تش لاسونه وهل او شپیلی وهل وو.

نو دوی به مونځ هم کوؤ خو د الله تعالی سره ئے شریکان جوړ کړی وو. د دے وجے نه زمونږ دین اسلام کښې د دے دواړو شرکونو نه منع شوے ده او هره ورځ پنځهٔ واړه وخته مانځهٔ کښې د هغے اقرار کوؤ. چې هغه دَ ﴿اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ﴾(فاتحہ:٦) کلمه ده.

یعني عبادت به هم الله تعالی لره کوؤ او رامدد شه به هم صرف الله تعالی ته وایو.

په دے مسئلے د توحید کښې د مکے والو د نبی کریم ﷺ سره مخالفت وو. ځکه به ئے وئیل چې:

﴿اَجَعَلَ الْاٰلِهَةَ اِلٰهًا وَّاحِدًا اِنَّ هٰذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ﴾(ص:۵)

یعني دے ډیر اٰلهه په یو اٰله کښې منحصر کنړی دا خو نااشنا خبره ده. دا د کلمے مختصر مقصد وو.

الله دې د عمل کولو توفیق مونږ ته نصیب کړی. امین

# توحید

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿قُلْ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنْ كُنْتُمْ فِيْ شَكٍّ مِّنْ دِيْنِيْ فَلَا اَعْبُدُ الَّذِيْنَ تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ اَعْبُدُ اللّٰهَ الَّذِيْ يَتَوَفّٰىكُمْ وَاُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَاَنْ اَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ حَنِيْفًا وَّلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ وَلَا تَدْعُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَالَا يَنْفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ فَاِنْ فَعَلْتَ فَاِنَّكَ اِذًا مِّنَ الظّٰلِمِيْنَ﴾(یونس:۱۰۵)

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ۔

## درې امهات العقائد:

د یو مسلمان د پاره عقیده ډیر لوې اهمیت لری.

بیا په عقیدو کښې څۀ داسې دی چې هغے ته ضروریات دین وائی چې د هغے نۀ منلو سره انسان کافر کیږی که ټولے نه منی او که د یو بنیادی او ضروری عقیدې نه انکار کوی.

دویم قسم هغه عقائد دی چې د هغے نه انکار کولو سره انسان ګمراه کیږی کافر کیږی نۀ.

اول قسم عقائدو کښې او دې ته ضروریات دین وائی درې عقیدے داسې دی چې په هغے باندے هر دور کښې هر امت کښې د خلقو عقیده وه. او دا عیقدے په هر مسلمان لازم دی.

یو په الله تعالی ایمان لرل،

دویم په رسول الله ﷺ باندې ایمان لرل.

اودریم په اُخرت باندې ایمان لرل.

دے دریو عقیدو ته امهات العقائد وئیلے کیږی. هر پیغمبر په هر یو دور کښې د دې درې عقائدو اهمیت او لوې مقام خپل اُمت ته په پوره وضاحت سره مکمل بیان کړے دے. چې د انسان په الله رسول او آخرت باندې کلك مضبوط او زبردست ایمان او پوخ یقین جوړ شی او دې ته امّهات العقائد ځکه وائی چه دا د دی ټولو عقائدو لب لباب خلاصه نچوړ او یو اهم انتخاب دے نور عقائد اهم دی خو د دې نه ښکته او لاندې حیثیت واله دی.

اوله عقیده په الله تعالی باندې ایما ن لرل دی. او دا ځۀ ته وائی دا دوه خبری دی.

## ایمان بالله په دوه قسمه دے:

دا ایمان بالله بیا په دوه قسمه ده .

یو د الله تعالی وجود منل .یعني د الله د هستے د موجود والی اقرار کول وجود باری تعالی باندې یقین کول. چې د دے کائنات یو چلونکے ذات شته دے.

د الله تعالی وجود او د الله تعالی منل په دے عقیده کښې راځی.

دا مسئله د انسانی عقل تقاضه هم ده. دا به ښنګ عقل وی او دا به ښنګ عقلمند انسان وی چې دا خبرې کوی چې دا دومره لوې کائنات موجودات پخپله بغیر د ځۀ نظم وضبط سلیقې او ترتیب نه پخپله رواں دواں دی بلکه دا د بے عقلے او کم ظرفے انتهاء ده دا د عقل نه خالی په شکل انسان ښکاری او حقیقت کښې د حیوان نه هم بد ترین دے. ځکه چې عقل دلالت په دی کوی چې د دے لوے نظام چلونکے څوك نه څوك خامخا شته دے.

## یو مثال کښې وضاحت:

دا کائنات د قدیم زمانے نه یو شان چلیږی نو دا دلالت په دے کوی چې د دے یو صانع یو چلوونکے یو جوړونکے شته په دې قائل کیدل عقیده ایمان یقین راؤړل یو ډیر ضروری امر او حکم خدائی دے چې دا د ټولو شریعتونو د تعلیماتو خلاصه او نچوړ دے.

مثال په قرآن او سنت کښې نور عقلی دلائل ډیر دی خو د مسئلے د پوهې، فهم د پاره یو مثال ذکر کوم چې هغے ته د انسان عقل بالکل حیران شی چې د اللّٰه څومره کائنات دی. مثال په طور نظام شمسی راواخله . فلکیاتو والا وائی چې که د شپے یو عام انسان اسمان ته اوګوری نو هغه ته به پنځۀ زره ستوری ښکاری او د دوربین په استعمال باندې دا ستوری شل لکهه ستوری ښکاری او که د دے نه اعلی قسمه دوربین استعمال کړے شی نو دا ستوری اربونو ته رسی.

دا ستوری ، سپوږمۍ ، نمر او زمکه د فلکیاتو په نیز یو کهکشان یعنی وړوکی حصه ده معمولی شان او په دے کائنات کښې داسے په زرګونو کهکشا ګانے دی. او بعضے وائی چې پچاس کروړ کهکشان دی.

زمکه د نمر نه دولس لکهه ګنا وړه ده او نمر ترے نه دومره غټ دے. نو دا هر څۀ ګواه دی په دے خبره چې یو ذات شته چې دا کائنات چلوی چې هغه ذات ته د مسلمانانو په اصطلاح کښې اللّٰه وائی.

## د ایمان باللّٰه دویمه عقیده:

دویمه مسئله دا ده چې دغه اللّٰه یو دے. د اللّٰه تعالی وحدانیت منلو ته توحید وائی. دا د ایمان باللّٰه دویمه حصه ده او دا یو داسې مسئله ده چې ډیر قومونو او اُمتونو د اول وخت نه په دې مسئلے کښې غلط

تصورات، مردود خیالات بې رنګه او سپك انكار د خپل ځان د طرف نه رواستې وو. د الله سره ئے د الله په مخلوقاتو كښې، كائناتو كښې، صفاتو كښې نورحصه دار شريك كړى وو توحيد كښې بےلارې او خطا روان شوى وو د نوح عليه السلام په زمانه كښې او د هغے نه بعد دې انسانو دې مسئلے ته نقصان رسولے وو.

شيخ عبد القادر جيلانى رحمۃ اللہ علیہ فرمائى چې:

﴿ اَلتَّوْحِيْدُ لَيْسَ فِيْهِ رُؤْيَةُ الضَّرَرِ وَالنَّفْعِ مِنْ اَحَدٍ﴾ (الفتح الربانى)

يعنې توحيد دا چې د انسان عقيده وى چې نفع او ضرور بغير د اسبابونه بل څوك نه شى رسولے او نه د دې د رسولو قدرت لرى.

دا رنګ ټومره پيغمبران چې الله تعالى راليږلى دى نو هغوى دا مسئله بيان كړې ده.

دارنګ ټومره كتابونه او صحائف چې نازل شوى دى د هغے بنيادى موضوع د الله تعالى وحدانيت وو.يو لاکھ څلورويش زره كم يا زيات پيغمبران ، سل صحيفے،څلور غټ كتابونه د هغے ټولو اهم تعليمات كښې د الله وحدانيت او يو والى ته رابلل وو.

دا رنګ نبى كريم صلی اللہ علیہ وسلم او صحابو رضی اللہ عنہم هم دا مسئله د توحيد بيان كړې ده مكى او مدنى ژوند دواړو كښې دا دعوت وو او قرآن كريم هم ځائے په ځائے دا مسئله د توحيد بيان كړې ده.

## قران كښې د توحيد بيان:

قرآن كريم كښې د دے مسئلے د پيژندګلو او معرفت د پاره الله تعالى درے طرزونه ذكر كړى دى.

يو توحيد د اسماء وصفاتو. چې ټول صفات الله تعالى لره ثابت دى.چې په هغے كښې خدائےتوب، اُلوهيت، كمال بے پرواهى ،چاته نه

محتاج کیدل صرف د الله صفات دی بل چا کښې نه موجود کیږی.

دویم توحیدفی العبادة . چې بندګی یعنې رکوع، سجده، دعا،رابلنه په عبادت سره د راضی کولو نیت به صرف د اللّٰه وی دا شان نور عبادتونه صرف او صرف د الله تعالی حق دے.

دریم توحید فی الاستعانة دے چې مدد به صرف او صرف د اللّٰه تعالی نه غواړے. یعنی دا یقین کول چې تکلیف مصیبت صرف یو الله لرے کولے شی او هر قسمه فائده او نفع اللّٰه راوستے شی بل څوك نه شی کولے.

توحید فی الصفات کښې شرك دا دے چې یا خو د اللّٰه تعالی صفات د سره نه منے او یا منے خو نور هم د اللّٰه تعالی سره شریکوې.

## د الوهیت د صفاتو بیان:

د دے وجے نه الله تعالی بار بار د صفاتو ثبوت قران کریم کښې کوی. او دا د دې د پاره چې انسانانو ته د اللّٰه په صفاتو باندې علم او معرفت حاصل شی او دا یقین پیدا شی چې دا صفات صرف او صرف د اللّٰه دی بل چا لره نه شی کیدے نو بیا انسان د شرك نه په امن او حفاظت کښې وی.

لکه سورة فاتحه کښې الله تعالی فرمائی چې ﴿الحمد لله﴾

یعني ټول ښه د کمال صفتونه خاص کر اللّٰه تعالی لره ثابت دی . په صفاتو خاصو کښې الله تعالی سره شریك نیشته.

دارنګ سورة رعد کښې فرمائی:

﴿قُلِ اللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ﴾(الرعد:۱۶)

یعنې اللّٰه تعالی د هر څیز پیدا کوُنکے دے. د اللّٰه تعالی نه ماسوا دا صفت هیڅ پیر، فقیر، بزرګ ، ولی، پیغمبر او فرشتے لره ثابت نه دے.او

نۀ ورسره دا اختيار شته او نۀ ئے الله چا ته ورکوی.

دا رنګ سورة شوری کښې فرمائی چې: ﴿يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُ﴾

يعني څۀ چې الله تعالی اوغواړی نو پيدا ئے کړی. بيافرمائی:

﴿ يَهَبُ لِمَنۡ يَشَآءُ إِنَٰثٗا وَيَهَبُ لِمَن يَشَآءُ ٱلذُّكُورَ أَوۡ يُزَوِّجُهُمۡ ذُكۡرَانٗا وَإِنَٰثٗاۖ وَيَجۡعَلُ مَن يَشَآءُ عَقِيمًا﴾(الشوری:۴۹)

يعنې الله تعالی چالره جينئ اولاد ورکړی او چالره ځوے ورکړی او چالره جوړے جوړے ورکړی او څوك شنډ اوګرځوی.په سورة قصص کښې ډير وضاحت سره بيان کړے:

﴿وَرَبُّكَ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخۡتَارُ﴾(القصص:۶۸)

يعنې د يو څيز د عدم نه وجود ته راويستل پيدا کول او انتخاب کول مثال په طور مذکر يا مؤنث منتخب کول ډير يا لږ باران کول دا انتخاب الله کوی.

په دے صفاتو کښې د الله تعالی سره هيڅ څوك شريك نيشته. که چا د بل چانه دا عقيده اوساتله نو هغه به په شرك کښې مبتلاء کيږی.

قرآن کريم کښې الله تعالی صراحة فرمائی:

﴿مَا كَانَ لَهُمُ ٱلۡخِيَرَةُ﴾(قصص:۶۸)

## پيغمبرانو سره هم اختيار نشته:

يعنې د الله تعالی نه ماسواء بل چا مخلوق لره هم د پيدائش اختيار نيشته. ډير د قرآن نه جاهله خلق ناپوه ګمراهه قومونه د الله نه بغير بل چا لره دا اختيار ورکوی او حال دا دے چې دا صرف او صرف شرك دے د الله شان ته سپك نظر کول دی او لويه بے عزتی ده د الله رب العزت.

قرآن کريم کښې الله تعالی د زکريا عليه السلام عاجزی ذکر کوی چې هغه الله تعالی ته منت زاری کوی. نو د الله لوے پيغمبر د خپل

ځان په حق کښې دا اختیار نهٔ لرى بلکه د الله نه غواړى او ځکه غواړى چې ﴿ اِنَّكَ سَمِيْعُ الدُّعَاءُ﴾ اے الله تهٔ اوریدونکے ئے فریاد د بندګانو لره، بل څوك د بنده فریاد نه اورى نو که اختیار د پیغمبر وے نو په خپل کور کښې خپل ځان له به ئے بچے پیدا کړے وو دومره لوے سل شپږ سلو کالو ته به نه رسیدو. فرمائی:

﴿ رَبِّ هَبْ لِيْ مِنْ لَّدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً﴾(آل عمران:۳۸)

یعني اے الله تعالی ماله د خپل طرف نه اولاد را کړه.

نو الله تعالی سورة الانبیاء کښې فرمائی چې

﴿ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ وَوَهَبْنَا لَهٗ يَحْيٰى﴾(الانبیاء:۹۰)

یعني مونږ د زکریا علیه السلام دعا قبوله کړه او حضرت یحي علیه السلام مې ورته ورکړو.

نو خالق د هر څیز الله تعالی دے.

## د رازقیت بیان:

څنګه چې خالق الله تعالی دے،دغه شان رازق هم الله تعالی دے.

سورة العنکبوت کښې الله تعالی فرمائی چې

﴿ اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ لَهٗ﴾(الرعد:۲۶)

یعني الله تعالی د رزق فراخونکے او تنګونکے ذات دے.

او بیا الله تعالی فرمائی چې په رزق کښې الله سره شریك مهٔ جوړوے ځکه رزق صرف الله ورکوی.

﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَا يَمْلِكُوْنَ لَكُمْ رِزْقًا فَابْتَغُوْا عِنْدَ اللّٰهِ الرِّزْقَ﴾(عنکبوت:۱۷)

یعني اے انسانانو تاسو چې د الله تعالی نه ماسوا د چا عبادت کوئ نو هغوی خو تاسو ته د رزق درکولو مالك نه دی. بلکه رزق

ورکونکے ذات د الله تعالی دے نو د الله تعالی نه رزق غواړئ. او د رزق ذمه دار صرف یو الله دے.

## د توحید بنیاد دوه صفات دی:

دا رنګ دوه صفات د الله تعالی داسے دی چې د الله تعالی د توحید بنیاد دے.

یو علم غیب دے. او دویم تصرف او اختیار دے. چې دا دواړه صفات الله تعالی لره ثابت دی او که دے کښې انسان بل څوك شریك کړل نو دے ته شرك وئیلے کیږی.

سورة انعام کښې الله تعالی فرمائی

﴿وَعِنۡدَهٗ مَفَاتِحُ الۡغَيۡبِ لَا يَعۡلَمُهَاۤ اِلَّا اللّٰهُ﴾

یعنې الله تعالی فرمائی چې د غیبو علم ماخپل ځان سره ساتلے دے او د هغے علم ماسره دے.انسان په اسبابو باندې کتل کوی لکه کۀ صحیح سترګې وی نو نظر باندې هر څیز راځی او که نه وی نو بیا څۀ نه وینی دا شان مینځ کښې څۀ رکاوټ حائل نه وی که څۀ رکاوټ یا حائل راشی نو بیا انسان نظر باندې څۀ نه وینی که د انسان د سترګو نه یو څیز فنا شی نو بیا نه ښکاری او الله ته هر څیز ښکاری د هغه نه فنا کیدے نه شی.

سورة نمل کښې الله تعالی د دے خبرے وضاحت دا رنګ کوی.

الله تعالی فرمائی:

﴿ قُلۡ لَّا يَعۡلَمُ مَنۡ فِى السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ الۡغَيۡبَ اِلَّا اللّٰهُ﴾(نمل:٦٥)

یعنې اے پیغمبره امت ته دې اووایه چې په زمکه او اسمان باندے په غیبو باندې د الله تعالی نه ماسوا بل هیڅ څوك پوهه نیشته بلکه ﴿ وَمَا يَشۡعُرُوۡنَ اَيَّانَ يُبۡعَثُوۡنَ﴾(نمل:٦٥) یعنې دوی ته (دفن بزرګ، ولی هغۀ ته) دومره قدرې علم نشته چې زه به کله پورته کیږم.

## د نبی ﷺ منع په علم غیب صفت باندې:

د یو خوشحالئ په موقع کښې ماشومانو طنبل وهلو او اشعار ئے وئیل نو په هغه اشعارو کښې هغوی یو شعر دا اووے. او دا قدري د ماشومانو د پاره د خوشحالئ په موقع جائز دی چې اووائی نو هغوی ورسره دا خبره اوکړه: ﴿وَفِيْنَا نَبِيٌّ اللهِ ﷺ يَعْلَمُ مَا فِيْ غَدٍ﴾(مسند احمد)

یعني په مونږ کښې د الله تعالی رسول هم موجود دے چې د صبا په حال هم پوهیږی.

د دے صحیح مطلب هم کیدے شی خو نبی کریم ﷺ چې کله دا واؤریدو نو وے فرمائیل چې نه! داخبره غلطه ده بلکه عالم الغیب الله تعالی دے. او صحیح مطلب دا چې د وحی په ذریعه ورته د صبا علم حاصل شی.

دا رنګ سورة کهف کښې الله تعالی خپل پیغمبر د دے نه منع کوی.فرمائی: ﴿لَا تَقُوْلَنَّ لِشَيْءٍ اِنِّيْ فَاعِلٌ ذٰلِكَ غَدًا﴾(کهف:۲۳)

یعنې د یو څیز په باره کښې هم داسے مه وایه چې دا به صبا زه کوم ځکه چې د صبا علم خو مالره ثابت دے.تا ته د صبا د حالاتو علم نشته که زما خوښه او مرضی نه وی نو یو کار هم نشی کولے ان شاء الله ورسره وایه ناپوهه خلق چې هغوی د الله دَ کتاب علم نه لری هغوی د پیرانو د بزرګانو پیغمبرانو باره کښې علم غیب عقیده ساتی او په دې سره په شرك کښې اخته وی وائی پیر صاحب د مرید د حال نه خبریږی مړی د ژوندی حالات ورته معلوم وی.

دا رنګ تصرف او اختیار لرونکے الله تعالی دے.

الله تعالی فرمائی:

﴿قُلِ اللهُ يُنَجِّيْكُمْ مِنْ كُلِّ كَرْبٍ ثُمَّ اَنْتُمْ تُشْرِكُوْنَ﴾(انعام:۶۴)

يعني د هر تڪليف نه نجات ورکونکے ذات د الله تعالی دے . خو بیاهم تاسو د الله تعالی سره شريك جوړوئ. يعني بيا هم د الله در پريږدے او د مخلوق در ته منډې وهے.

دا رنګ سورة انعام ڪښې فرمائي چې:

﴿وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗۤ اِلَّا هُوَ﴾(انعام:١٧)

يعني كه الله تعالی په تاسو معمولی تڪليف مثلاً غاښ درد راولی، په سر باندې درد ولی نو د دے لرے کونکے د الله تعالی نه ماسوا بل هيڅ څوك نيشته.

## د ایوب علیه السلام الله ته فریاد او عاجزی:

په ايو ب عليه السلام باندې بيماری راغلے وه. د بيمارے په تعيين يا تفصيل ڪښې صحيح روايات نيشته. اڪثر اسرائيليات دی چې په ايوب عليه السلام ڪښې چينجی شوی دی دا صحيح خبره نه ده بلكه پيغمبر په ژوند او بعد د مرګ هغه ته داسے مرض نه رسی چې خلقه ترينه نفرت ڪوی دا د انبياؤ د شان سره خلاف خبره ده. داسے مفتی شفيع رحمۃ اللہ علیہ هم په معارف القران ڪښې فرمائی.

بهرحال په ايوب عليه السلام اتلس ڪاله بيماری راغلے وه نو په داسے حال ڪښې هم د الله تعالی نه سوال ڪوی. فرمائی:

﴿وَاَيُّوْبَ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗۤ اَنِّيْ مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ﴾(انبياء:٨٣)

يعني ماته دا بيماری راپيښه شوے ده بس ته راباندې خپل رحم اوکړے.

نو سورة انبياء ڪښې الله تعالی فرمائی:

﴿فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ وَكَشَفْنَا مَا بِهٖ مِنْ ضُرٍّ﴾(انبياء:٨٤)

يعني مونږ ئے دعا قبوله ڪړه او بيماری ترينه ما لرے ڪړه. دا يوه

قصه نه ده بلکه لنډه او مقصدی خبره ده چې هر مرض او بيماری صرف الله لرې کوی اګر که د الله د لوے مرتبې بنده ولے نه وی.

نو پيغمبران هم په وخت د تکليف کښې الله تعالی ته چغه وهی.

خلاصه د خبرے دا چې د توحيد د مسئلے د پاره اهمه خبره دا ده چې الله تعالی په خپلو ټولو صفاتو کښې يکتا دے او په صفاتو خاصو کښې د الله تعالی سره هيڅ څوك شريك نيشته.

# توحید (۲)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ اَفَحَسِبَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا اَنْ يَّتَّخِذُوْا عِبَادِيْ مِنْ دُوْنِيْٓ اَوْلِيَآءَ اِنَّآ اَعْتَدْنَا جَهَنَّمَ لِلْكٰفِرِيْنَ نُزُلًا ﴾ (کھف:۱۰۲)

﴿ وَقَالَ تَعَالٰى : قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِنْ دُوْنِهٖ فَلَا يَمْلِكُوْنَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنْكُمْ وَلَا تَحْوِيْلًا ﴾ (اسراء:۵۶)

## د الله وحدانیت بنیادی حیثیت لری:

په ایمانیاتو کښې د الله تعالی وحدانیت منل یو بنیادی عقیده ده. بلکه په تمام ایمانیاتو کښې توحید ته د اساس حیثیت حاصل دے. که بنیاد مضبوط او پائیدار وی نو باقی عمارت به مضبوط او پائیدار وی او که بنیاد کمزورے وو نو باقی اٰبادی به کمزورے وی.دغه رنګ په دې دین کښې که بنیاد د عقائدو مضبوط وو نو ابادی د نیك اعمالو او طاعاتو به مضبوطه وی او که خدا نخواسته ایمان او عقیده درست او سلامت نه وه نو نیك اعمال، عبادات، طاعات بیګړې الله ته قابل قبول نه دی.

سورة فاطر کښې الله تعالی د خپل وحدانیت اهمیت بیانوی.

الله تعالی فرمائی: ﴿اِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهٗ﴾ (فاطر:۱۰)

## عقیده توحید شرط قبولیت عمل:

یعني په کلمه د توحید باندې به انسان بچ کیږی او بیا د هغے د وجے نه نیك اعمال الله تعالی ته قابل قبول ګرځی.که دا ایمان، دا عقیده، دا بنیاد نه وی نو الله ته شرف قبولیت عمل نشی حاصلولے.

دا رنګ فرمائی.چې د کوم خلقو عقیده ښه نه ده یا نشته نو د هغوی عمل نه قبلیږی.

﴿وَقَدِمْنَا إِلَىٰ مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَّنثُورًا﴾(فرقان:۲۳)

یعني د عقیدے د توحید د نیشوالی د وجے نه به الله تعالی د قیامت په ورځ د کفارو ټول نیك اعمال برباد اوګرځوی.ځکه د دې د عملونو بنیاد نه وو یا موجود وو خو کچه د شکو بنیاد وو نو د دوی عملونه هم بے کاره بے وقعته او بے مقصده دی.

د مکے مشرکینو به مونځونه هم کول او حجونه به ئے هم کول. الله تعالی فرمائی:

﴿وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِندَ الْبَيْتِ إِلَّا مُكَاءً وَتَصْدِيَةً﴾(انفال:۳۵)

یعني د مشرکینو مونځ په بیت الله کښې لاسونه پړقول او شپیلی وهل وو. مطلب بے مقصده وو فضول وو.

خو لیکن د الله تعالی د وجود منلو سره سره د الله تعالی د توحید قائل نه وو.

## د الله صرف وجود منل کمال نه دے:

نو دا دوه خبرے چې یوځائ شی نو دے ته ایمان وائی. یو د الله تعالی وجود دے او بل د الله تعالی وحدانیت دے. صرف الله وجود منل نه کافی کیږی دا خو د هندوستان هندو او سیکهـ هم منی د الله سره سره د وحدانیت منل دا کمال دے چې الله واحد لا شریك تسلیم کړے شی.

یهود و عزیرعلیه السلام، نصاراؤ عیسی علیه السلام د الله تعالی سره شریك ګڼړل. د دے وجے نه ټول اعمال ئے برباد دی او دغه وجه ده چې اسلاف پخپلو خطبو کښې بار بار ذکر کوی: ﴿إِنَّ التَّوْحِيدَ رَأْسُ الطَّاعَاتِ﴾

چې توحید د ټولو نیك عملونو د پاره د سر حیثیت لری.

اوس توحيد د الله تعالى په صفاتو او اسماؤ سره راځي.چې څومره يو مسلمان د الله په صفاتو خبر لري او پوهه دے نو داسې به دۀ ته د الله د توحيد معرفت ډير حاصل وي. او صفات د الله تعالى لا تعد ولا تحصى دي خو دا ټول صفات بيا په دوؤ صفاتو کښې راټول دي. او د توحيد په بنياد پوهه کيدل هم په دغه دوه صفاتو سره راځي دا د توحيد دوه ارکان دي.

## علم غيب او قدرت د توحيد اساس:

يو علم غيب چې هغه ذات په پټو او په ښکاره هر څيز باندې پوهه دے د هغه علم دومره وسيع او پراخه دے چې د هغه د علم نه څۀ څيز غائب کيدے نشي زمونږ پوهه علم او معلومات محدود دي او د الله علم پوهه معلومات لا محدود دي. او دويم قدرت، واکداري او کارسازي د الله تعالى منل. هر څۀ د هغه په دست قدرت کښې دي څکه دا ټول کائنات هغه پيدا کړے دي، وجود ته ئے راوستے دي او هغه ورباندې تصرف کوي نو واکدار او اختيارمند هم هغه ذات دے. چاله ورکوي چانه اخلي دا د هغه اختيار دے.

اوس د دے صفتونو منلو سره سره په دے صفتونو کښې الله تعالى سره څوك نه شريکولو ته توحيد وائے.او بل څوك د الله سره حصه دار نه کړي نو دا خالص مخلص مسلمان دے.

نو که دا صفات د بل چا د پاره اومنلے شي نو دے ته به شرك وئيلے کيږي.

سورة کهف کښې اهم عنوان د علم غيب ذکر کيږي او په دے عنوان په دغه سورت کښې څلور واقعات ذکر کيږي.چې په هر څيز باندې پوهه ذات الله دے.

يو د انبياؤ واقعه چې هغه د خضر او موسیٰ عليهما السلام واقعه

ده. خو خضر علیه السلام د تعارف نه مخکښې موسیٰ علیه السلام نه پیژندلو او دا رنګ موسی علیه السلام د حضر علیه السلام په بعضے کارونو نه پوهیدلو. دوړاه غټ پیغمبران دی خو د یو بل د حال نه نا خبره دی نو انبیاء په علم غیب نه پوهیږی .

دویمه واقعه د اولیاؤ ده چې هغوی د قران کریم په نص سره ثابت بزرګان دی خو د بل حالت خو لاڅۀ چې د خپل ځان د حالت نه هم خبر نه دی. او هغه اصحاب الکهف دی چې کله پاسیدل نو د خپل خوب حالت ورته هم نه وو معلوم.

دریمه واقعه د نبی کریم ﷺ ده چې کله ترینه د اصحاب الکهف په باره کښې تپوس اوکړے شو نو دوی اوفرمائیل چې صبا له به درته اووائم نو وحی منقطع شوه او بیا ورته الله تعالی اوفرمائیل چې داسے مه وایه چې صبا له به درته اووائم بلکه ان شاء الله ورسره وایه.ځکه چې د صبا حالت تاته څۀ معلوم نه دے که زما مشیئت او خوښه وی نو وحی به نازل شی او که نه وی نو ته د صبا د حالت نه خبر نه ئے.

څلورمه واقعه د ذوالقرنین ده چې د خپل قوم په ژبه بغیر د ترجمان نه نه پوهیدو. نو الله دا ښائی چې بادشاه کیدو سره سره د خپل قوم او رعیت په خبره نه پوهیږی نو په دې څلور واقعاتو کښې د دنیا د غټو غټو بزرګانو د عاجزئ بیان دے او دا مضمون په زبردست انداز بیان شوے چې هیڅ څوك په غیبو باندې نه پوهیږی.

سورة نمل کښې الله تعالی فرمائی: ﴿ قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ وَمَا يَشْعُرُوْنَ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ ﴾(نمل:٦٥)

یعني ته ورته اووایه اے پیغمبره! دا عقیده دې اُمّت ته بیان کړه چې د الله تعالی نه ماسواء په زمکو اسمانونو کښې هیڅ څوك عالم الغیب

نیشته. بلکه دوی خو په دے هم نه پوهیږی چې کله به دوباره ژوندی کیږی. او د دې قبر نه به کله پورته کیږم.

## پیغمبر په غیبو نه پوهیږی:

د نبی کریم ﷺ په باره کښې هم الله تعالی فرمائی:

﴿قُلْ لَّآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِىْ خَزَآئِنُ اللّٰهِ وَلَآ اَعْلَمُ الْغَيْبَ﴾(انعام:۵۰)

یعني اووایه! چې زه تاسو ته دا نه وایم چې ګنی ماسره خزانے د الله تعالی دی او نه دا وایم چې ګنې زه عالم الغیب یم.نو دا دوه بنیادی خبرې دی یو د الله په شان قدرت بل د الله په شان علم د الله نه بغیر بل چا سره نشته.

دا رنګ د نبی کریم ﷺ په ژوند کښې هم ګڼړ واقعات په دے دلا لت کوی چې نبی کریم ﷺ عالم الغیب نه وو.

لکه یوځل نبی کریم ﷺ مونځ کولو نو سجدې ته د تلو په وخت کښې په لاس ورله لړم تك ورکړو. بیا نبی ﷺ اوفرمائیل:

﴿لَعَنَ اللّٰهُ الْعَقْرَبَ لَا يَدَعُ نبيا وَلَا غَيْرَهٗ﴾(شعب الایمان)

د الله لعنت دې وی په لړم باندې نه پریږدی یو پیغمبر لره او نه غیر پیغمبر. نو که نبی کریم ﷺ په غیبو پوهیدے نو په لړم به ئے لاس نه ایخودو.

دا رنګ یوځل څۀ خلق نبی کریم ﷺ ته راغلل چې مونږ له قاریان راکړه چې مونږ ته دین اوښائی. نبی کریم ﷺ ورسره اویا(۷۰) قاریان اولیږل خو هغوی ظالمانو هغه قاریان صحابه کرام رضی الله عنهم په دهوکه باندې شهیدان کړل. نو که نبی کریم ﷺ په غیبو پوهیدلو نو دا نوبت به نه راتلو.چې دا صحابه مرګ له غواړی.

دا رنګ منافقانو په حضرت عائشے رضی الله عنها باندې تهمت لګولے وو او پوره یو میاشت ټول مسلمانان سره د نبی کریم ﷺ پریشان وو خو چې وحی نه وه راغلے نو نبی کریم ﷺ ته هم پته نه لګیدله چې په دے مسئله کښې څۀ حقیقت دے.

## د الله نه بغیر علم غیب یا قدرت منل کفر دے:

نو ملا علی قاری رحمۃ اللہ علیہ فرمائی:

چې څوك د الله تعالی نه ماسواء بل چالره که هغه فرښتے دی جنات وی یا انسان که پیغمبر وی عالم وی بزرګ وی ولی وی یا پیر صاحب یا فقیر صاحب وی.عالم الغیب ګڼړی نو دا انسان کافرکیږی.

دویم صفت د الله تعالی دا دے چې متصرف صرف الله تعالی دے.

مصیبت راوستل او تکلیف لرے کول د الله تعالی کار دے. بیماری صحت مال دولت ډیرول کمول دا ټول د الله صفت دے.

## انبیاء اختیار مند نه دی:

ابراهیم علیه السلام فرمائی: ﴿ وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِيْنِ ﴾(شعراء:۸۰)

یعني کله چې زه بیمار شم نو الله تعالی مالره شفاء راکوی.

دا رنګ اولاد ورکول د الله تعالی په اختیار کښې دی.

سورة شوری کښې الله تعالی فرمائی:

﴿ يَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ اِنَاثًا وَّيَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ الذُّكُوْرَ اَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَّاِنَاثًا وَّيَجْعَلُ مَنْ يَّشَآءُ عَقِيْمًا ﴾(شوری:۵۰)

ابراهیم علیه السلام او زکریا علیه السلام له ئے چې کله اولاد نه ورکولو نو اولاد نه وو خو چې کله الله تعالی اوغوښتل نو په بوډه والی کښې ئے ورکړل.

دا رنګ د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم نارینه اولاد وو خو په ماشوم والی کښې ترینه الله تعالی واغستل نو دا هر څۀ د الله تعالی په اختیار کښې دی.

الله تعالی دې مونږ په دے عقائدو باندې برابر کړی. امین

# توحيد (۳)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ. اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ.

﴿ قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِنْ دُوْنِهٖ فَلَا يَمْلِكُوْنَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنْكُمْ وَلَا تَحْوِيْلًا ﴾(الاسراء:۵۶)

## د صحيح عقيدې تقاضه:

د الله تعالى د توحيد بنياد په دې خبره دے چې د الله تعالى اسماء او صفات منل لازمی دی.

بيا په صفاتو کښې دوه بنيادی صفات منل خو ډير لازمی دی ځکه چې نور صفات دے دوو صفتونو ته راجع کيږی.

يو علم غيب او بل قدرت د الله تعالى .

نو کله چې په دے دوو صفاتو باندې د يو انسان ايمان جوړ شی چې عالم الغيب په هر څۀ باندې پوهه ذات يو الله دے او په دې ټول عالم کښې په دې ټول کائنات يو د الله اختيار او تصرف دے. نو نتيجه به ئے دا وی چې په هر حالت کښې به بيا د الله تعالى نه مدد غواړی او د هر مصيبت لرے کولو د پاره به الله تعالى ته خپله عاجزی وړاندې کوی.

## يو الله رامدد کول:

الله تعالى سورة مؤمن کښې فرمائی:

﴿ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ ﴾(فاطر:۶۰)

يعني ستاسو رب فرمائی او فيصله ئے دا کړې ده . چې مانه دعاء غواړئ، زه دعا قبلونکے يم.

او بل ځائے کښې فرمائی:

﴿وَالَّذِيْنَ يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِيْ سَيَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دَاخِرِيْنَ﴾ (غافر:٦٠)

يعني الله تعالى فرمائی چې ما نه غواړئ زۀ به درله درکوم او ستاسو دعاګانے به قبلوم. خو څوك چې مانه د کبر د وجے نه نۀ غواړی يا د بل چانه غواړی لکه يهود د عزير عليه السلام نه او عيسايان د حضرت عيسى عليه السلام يا بعضے يهود چې د هغوی عقيده ده او په مشکلاتو کښې دجال ته اواز کوی هغه لوئے فتنه چې قيامت ته به نزدې راځی هغه ته چغې وهی او دجال لعنتی ته خپل نجات دهنده خلاصے ورکونکے وائی يا بعض ناپوهه جاهله مسلمانان چې د الله نه بغير بل چاته چغې وهی او آوازونه کوی نو دا قسم کلمه ګو مسلمانان کله وائی: يا علی مدد يا پير بابا رامدد شے وغيره. نو الله تعالى به ئے رسواء او ذليله کړی اوپه اُخرت کښې به ئے جهنم ته داخل کړی.

## د الله بې عزتی څه ده:

يو حديث کښې هم دا راځی چې څوك ما سره بل شريك کوی او مانه سوال نه کوی او بل نه غواړی نو دا انسان زما بے عزتی کوی.

دا رنګ بل حديث کښې راځی:

﴿مَنْ لَّمْ يَسْئَلِ اللّٰهَ يَغْضِبْ عَلَيْهِ﴾

يعني څوك چې د الله تعالى نه سوال نه کوی نو الله تعالى وربانديې غصه کيږی.

د دے خبرے اقرار انسان په هره ورځ کښې پنځه ځله د الله تعالى سره کوی نو چې يو سړے د اودس په پاك حالت کښې په پوره عاجزئ سره لاس په نامه د يو لوې ذات مخکښې دا وعده کوی چې خاص

ستا عبادت به کوؤ او خاص ستا نه به مدد غواړو نو دا سوال نشي پیدا کیدے چې دا سړے د الله نه بغیر بل چاته رامدد شه اُووائی او که بیا هم خلاف کوی نو د داسې خلقو باره کښې الله فرمائی:

﴿ وَیۡلٌ لِّلۡمُصَلِّیۡنَ الَّذِیۡنَ هُمۡ عَنۡ صَلَاتِهِمۡ سَاهُوۡنَ ﴾(الماعون:۵)

ځوك چې د خپل مونځ د حقیقت نه خبر نه دی هغوی لره ویل او هلاکت دے.

﴿ اِیَّاكَ نَعۡبُدُ وَاِیَّاكَ نَسۡتَعِیۡنُ ﴾(الفاتحه:۴)

یعني عبادت به هم خاص ستا کوؤ د بل چا به نه کوؤ او مدد به هم خاص ستانه غواړو د بل چا نه به نه غواړو.

## سوال او حاجت صرف الله پوره کوی:

د غیر الله نه د سوال کولو په رد کښې الله تعالی فرمائی.

﴿ قُلِ ادۡعُوا الَّذِیۡنَ زَعَمۡتُمۡ مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ لَا یَمۡلِکُوۡنَ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ فِی السَّمٰوٰتِ وَلَا فِی الۡاَرۡضِ وَمَا لَهُمۡ فِیۡهِمَا مِنۡ شِرۡكٍ وَّمَا لَهٗ مِنۡهُمۡ مِّنۡ ظَهِیۡرٍ ﴾(سبا:۳)

یعنې ته اووایه چې راؤبلئ هغه کسان چې تاسو پرے د معبود ګمان کوئ هغوی خو په زمکه او اسمانونو کښې د یو ذرے هم مالکان نه دی او نه هغوی لره پکښې شریکوالے شته او نه به هغوی لره څوك امدادی وی.

دا رنګ سورة بنی اسرائیل کښې فرمائی:

﴿ قُلِ ادۡعُوا الَّذِیۡنَ زَعَمۡتُمۡ مِّنۡ دُوۡنِهٖ فَلَا یَمۡلِکُوۡنَ کَشۡفَ الضُّرِّ عَنۡکُمۡ وَلَا تَحۡوِیۡلًا ﴾(الاسراء:۵۶)

یعنې ته اووایه چې راؤبلئ خپل معبودان باطله. هغوی خو ستاسو نه تکلیف نشی لرے کولے او نه هغه ستاسو نه بدلولے شی.

دا رنګ سورة اعراف کښې فرمائی:

﴿وَالَّذِيۡنَ تَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ عِبَادٌ اَمۡثَالُكُمۡ﴾(اعراف:۱۹۴)

يعنې هغه کسان چې تاسو ئے د الله تعالی نه ماسواء رابلئ نو هغوی خو ستاسو په شان عاجز کمزوری بندګان دی.

د دے وجے نه يو شاعر فرمائي:

جو خود محتاج ہو دوسروں کا　　بلا اس سے مدد مانگنا ہے کیا

## مخلوق نه دَ غوښتلو مثال:

شيخ عبد القادر جيلانی رحمۃ اللہ علیہ يعنې لوے ځوان چې ورته وئيلے کيږی په خپل کتاب الفتح الربانی کښې فرمائی.او دا يو غټ لوې مصيبت دے زمونږ په خلقو کښې چې لوے بزرګ منو خو د هغه تعليمات منلو ته تيار نۀ يو شيخ عبدالقادر جيلانی رحمۃ اللہ علیہ ټوله دنيا پيژنی خو د هغه کتاب او تعليمات نه پيژنی.

هغه وائی د مخلو ق نه حاجت غوښتل دا سے دی لکه

﴿كَاِسۡتِغَاثَةِ الۡغَرِيۡقِ لِلۡغَرِيۡقِ﴾

يعني دا داسے ده لکه چې يو په اوبو کښې غرق شوے سړے د بل غرق شوی نه مدد غواړی.

## هر څه د الله په اراده:

دا رنګ نبی کريم صلی اللہ علیہ وسلم خپل د ترۀ ځوی عبد الله بن عباس رضی اللہ عنہ ته يو ورځ اوفرمائيل چې که دا ټوله دنيا ستا په ضرر رسولو راغونډه شی او الله تعالی ئے اراده نه وی کړی نو ضرر نه شی در رسولے او که فائده دررسول غواړی نو بغير د ارادے د الله تعالی نه هيڅ فائده نه شی دررسولے .

د دے وجے نه کله چې هم مدد غواړے نو د الله تعالی نه غواړه.

﴿إِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلِ اللهَ وَإِذَا سْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللهِ﴾(مسند احمد)

یعنې مدد او سوال صرف د یو الله نه غواړه.

## د الله پنځه فتوے:

سورة یونس کښې الله تعالی فرمائی:

د دې وجے نه الله په پنځو سورتونو کښې پنځو طریقو سره دا خبره ذکر کړې ده.

﴿ وَلَا تَدْعُ مِنْ دُوْنِ اللهِ مَا لَا يَنْفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ فَإِنْ فَعَلْتَ فَإِنَّكَ مِنَ الظَّالِمِيْنَ﴾(یونس:۱۰۶)

یعنې د الله تعالی نه ماسواء هغه معبودان باطله مه رابلے چې نۀ تاسو ته ضرر دررسولے شي او نه نفع. که چرته تاسو داسے کار اوکړو نو تاسو به شرك او ظلم کوؤنکے یے.

دا رنګ یو سورة کښې ئے ورته ګمراه وئیلے دے.

﴿ وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللهِ مَنْ لَّا يَسْتَجِيْبُ لَهٗ اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَهُمْ عَنْ دُعَآءِهِمْ غَافِلُوْنَ﴾(الاحقاف:۵)

یعنې څوك دے ډیر لوے ګمراه او بے لارے د هغه چانه چې د الله تعالی نه ماسواء دا سے خلقو ته چغے وهی چې دعا ئے نه شی قبلولے بلکه هغوی خو د دوی د بلنے نه ناخبره دی.

په سورة اعراف کښې ئے ورته ارتداد وئیلے دے او سورة رعد کښې ئے ورته کفر وئیلے دے او سورة فاطر کښې ئے ورته شرك وئیلے دے. او مونږ خلق وایو چې وړې خبرې دی یره پریدوه دا خبرې حال دا دے چې دا د ایمان او شرك معیار دے دومره اهمه بنیادی مسئله ده.

د دے څو صفاتو خالص الله لره منل او د شرك نه ځان بچ کولو ته توحید وئیلے کیږی. د دې وجے قرآن په دې مسئلے ډیر زیات زور ورکړے دے.

دا مسئله نبي کریمﷺ ښهٔ واضحه بیان کړے ده او د دے مسئلے هره پهلو ئے پوره پوره بیان کړے ده ځکه چې بل پیغمبر راتلونکے نیشته. دا رنګ بل کتاب هم نه راځی.

## په دین کښې دغُلو سرکشئ کولو نه منع:

په یو موقع کښې نبي کریمﷺ د صحابو نه دا محسوسه کړه چې دوی ما ډیر غټ ګنړی نو وے فرمائیل

﴿لَا تُطْرُوْنِيْ كَمَا اَطْرَتِ النَّصَارٰى عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ فَاِنَّمَا اَنَا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ فَقُوْلُوْا عَبْدُ اللّٰهِ وَرَسُوْلُهٗ﴾(مسند احمد)

نو مطلب دا دے چې د بندګئ نه مې ښکته نه کړئ او د رسالت نه مې مهٔ اوچتوئ مطلب غُلو زیاتے سرکشی مهٔ کوے ځکه چې د بندګئ نه ښکته کول توهین دے او د رسالت نه اوچت ګنړل شرك دے. ځکه زهٔ د الله بنده او رسول یم.

## د قبر پرستئ نه منع:

دا رنګ فرمائی. اُمت ئے په دې پوهه کړے دے.

﴿ اِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ كَانُوْا يَتَّخِذُوْنَ قُبُوْرَ اَنْبِيَاءِهِمْ مَسَاجِدَ فَلَا تَتَّخِذُوا الْقُبُوْرَ مَسَاجِدَ فَاِنِّيْ اَنْهَاكُمْ عَنْ ذَالِكَ﴾( صحیح مسلم)

یعني ستاسو نه وړاندی بعضے خلق داسے وو چې د انبیاء قبرونو نه ئے سجده ګاه جوړه کړے وه نو خیال کوے تاسو قبرونو نه سجده ګاه او عبادت خانې جوړې نه کړے.نو یقیناً زه خو تاسو د دے کار نه منع کوم.

## د نبی ﷺ وصیت نامه:

دارنګ حضرت عائشه‌رضي الله عنها فرمائی چې نبی کریم ﷺ د ځنکدن

په وخت کښې څو خبرے کړے وے په هغے کښې یو خبره د الله تعالی نه دعا غوښتل وو.
نبی کریمﷺ اوفرمائیل:
﴿اَللّٰهُمَّ لَا تَجْعَلْ قَبْرِیْ وَثَنًا یُعْبَدُ﴾(الموطاامام مالک)
یعنې اے الله ! زما قبر بت مهٔ ګرځوے چې خلق ئے عبادت کوی. لکه دا د یهودو او نصارؤ عقیده او طریقه ده.
دارنګ بل یو حدیث کښې راځی چې:
﴿اِشْتَدَّ غَضَبُ اللهِ عَلٰی قَوْمٍ اِتَّخَذُوْا قُبُوْرَ اَنْبِیَآءِهِمْ مَسَاجِدَ﴾(موطاامام مالک)
یعنې د الله تعالی سخت غضب دے وی په هغه چا باندې چې د انبیاء کرامو قبرونو نه سجده ګاه جوړوی.
دارنګ په یو موقع یو صحابی نبی کریمﷺ ته اوفرمائیل چې مونږ به هم تاته د تعظیم د پاره سر ټیټوؤ. ځکه عجم خو خپل دنیاوی بادشاهانو ته سر ښکته کوی او ته خو د الله پیغمبر ئے.

## د سجدې کولو او سرښکته کولو نه منع:

نبی کریم ﷺورته اوفرمائیل چې کله زهٔ مړ شم نو بیا به مې قبر ته سجده کوے نو هغه اووئیل چې نه ځکه صحابه رضی الله عنهم پوهه وو په دې چې قبر ته سجده نشی کیدے. نو نبی کریمﷺ ورته اوفرمائیل چې بیا راته په ژوند کښ هم مه کوه.
دا رنګ مطالبه سلمان فارسی رضی الله عنه هم کړے وه نو نبی کریمﷺ ورته اوفرمائیل:
﴿وَاسْجُدُوْا لِلْحَیِّ الْقَیُّوْمِ الَّذِیْ لَا یَمُوْتُ﴾
چې هغه ذات ته سجده اوکړه چې په هغه باندې مرګ نه راځي.

## په هر موقع د عقیدې حفاظت:

دا رنګ کله چې د نبي کریمﷺ ځوی وفات شو نو په هغه ورځ نمر تندر نیولے وو نو بعضے خلقو څۀ خبرے شروع کړے چې دا د ابراهیم د وجے نه نمر تندر اونیولو. ځکه پیغمبر خفه دے نو د هغه د خفګان د وجے نه نمر هم تندر نیولے دے او خفه شوے دے.

نبي کریمﷺ ته چې کله پته اولګیده نو نبي کریمﷺ مسجد نبوی کښې منبر ته اوختو او وے فرمائیل:

﴿اِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ اٰيَتَانِ مِنْ اٰيَاتِ اللّٰهِ لَا يَخْسِفَانِ لِمَوْتِ اَحَدٍ وَلَا لِحَيٰوتِهٖ﴾ (الموطا امام مالک)

یعني نمر او سپوږمۍ د الله تعالی د نخښو نه یوه نخښه ده . دا دواړه د چا د مرګ او د ژوند د وجے نه تندر نه نیسی.دا عقیده جوړه نه کړۍ چې د بزرګ یا پیغمبر د وفات د وجې نه داسې کیږی او دا ئے د دې وجے نه او فرمائیل چې عقیده توحید کښې فرق رانشي.

دا رنګ د نمرختو او د زوال او د پریوتو په وختونو کښې به عبادت نه کوے ځکه چې د غیر الله د عبادت سره مشابهت راځی. ته به د الله عبادت کوې نو خلق به ګمان کوی چې د نمر عبادت کوی نو د دې مشابهت د وجے نه منع شو.

دا رنګ جنازه کښې ئے رکوع او سجده نۀ ده مقرر کړے ځکه چې غیر الله ته سجده کول لازم رانشي.

الله تعالی دے مونږ ته په دے خبرو د عمل توفیق رانصیب کړی. امین

# د الله تعالی په صفاتو باندې ایمان

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالنَّبِيِّ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَاءَ وَلَٰكِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُمْ فَاسِقُونَ ﴾ (سورۃ المائدۃ:۸۱)

﴿وقال رسول الله ﷺ : اَلدِّيْنُ النَّصِيحَةُ قُلْنَا لِمَنْ يَارَسُوْلَ الله قَالَ لِلّٰهِ لِرَسُوْلِهِ وَلِكِتَابِهِ وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِيْنَ وَعَامَّتِهِمْ او كما قال رسول الله ﷺ﴾

په ذکر کړے شوی اٰیت کښې د منافقانو د دین ذکر کیږی چې که چرے دے خلقو الله تعالی او د الله تعالی پیغمبر او د الله تعالی کتاب منلے نو دوی به حقیقی مومنان وو او که د دے نه ماسواء نور څه منی یا دا نه منی نو دے ته کفر اومنافقت وئیلے کیږی.

دین نوم د خیرخواهۍ دے نو ځکه نبی کریم د امت خیر خواهی لټولے ده او فرمائیلے ئې دی.

﴿اَلدِّيْنُ النَّصِيحَةُ﴾

يعني دين نوم د خير خواهۍ دے.

بیا صحابو تپوس اوکړو چې د چاخیرخواهی اولټوونو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل

﴿قَالَ لِلّٰهِ لِرَسُوْلِهِ وَلِكِتَابِهِ وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِيْنَ وَعَامَّتِهِمْ﴾

نو نبي كريم صلى الله عليه وسلم جواب ورکړو چې د الله تعالى ، د هغه د رسول ، دهغه د کتاب، د مسلمانانو د خليفه او عامو خلقو د خيرخواهئ نوم دين دے.

د يو مسلمان د پاره اولنئ دا خبره منل ضروری دی چې الله تعالى به مني. نو په دے کښې تفصيل بيا دا دے چې د الله تعالى د منلو نه مراد د الله تعالى وجود او وحدانيت منل دی.

د الله تعالى وجود منل يو عقلي مسئله ده چې عقل ئې هم مني ځکه چې د وړے نه وړه کارخانه بغير د چلونکی نه نه چليږی نو دا دومره منظم کائنات به څه رنګه په خپله چليږی؟ نو چلونکے شته چې د مسلمانانو په اصطلاح کښې ورته الله تعالى وئيلے کيږی او بيا د دے نه بعد الله تعالى يو منل ضروری دی چې الله تعالى سره په ذات او صفات خاصؤ کښې هيڅ څوك شريك نيشته .

د الله تعالى صفات ډير زيات دی.

سورة كهف کښې الله تعالى فرمائی.

﴿قُل لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِّكَلِمَاتِ رَبِّي لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ أَن تَنفَدَ كَلِمَاتُ رَبِّي وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهِ مَدَدًا﴾[الكهف:١٠٩]

يعني اے پيغمبره ! ته دے خلقو ته اووايه چې که چرے دريابونه د الله تعالى د صفاتو د ليکلو دپاره سياهی شی نو د رب د صفاتو نه مخکښې دا درياب ختم شی او که د دے په مثل نور هم شی نوهم به د الله تعالى صفات ختم نشی.

بيا دا صفات  دالله تعالى په دوؤ صفاتو کښې راجمع دی.

يو علم غيب او بل قدرت د الله تعالى

## علم غیب:

الله تعالی سورة نمل کښې فرمائی.

﴿قُل لَّا يَعْلَمُ مَن فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ﴾ [النحل:۲۱]

یعني دے خلقو ته اووایه چې د اسمانونو او زمکو په غیبو باندی د الله تعالی نه ماسواء بل هیڅوك نه پوهیږی. بلکه د غیبو خبرے خو څه کوے ؟ په دے هم نه پوهیږی چې کله به دوباره پورته کولے شی.

دا علم الله تعالی خپلو پیغمبرانو ته هم نه دے ورکړے.

الله تعالی فرمائی.

﴿قُل لَّآ أَقُولُ لَكُمْ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ﴾ [انعام:۵۵]

یعني اووایه ورته چې زه دا نه وائم چې ماسره د الله تعالې خزانے دی او نه ز ه په علم غیب باندې پوهیږم.

او بل ځاې فرمائی.

﴿وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ﴾ [اعراف:۱۲۸]

یعني که زه په غیبو باندې پوهیدے نو مابه ځان ته ډیر خیر رسولے وو.

## یو واقعه:

یو ورځ نبی کریم مونځ کوو نو چې کله ئې لاندې لاس کیخودو نو لړم پرے ټك ورکړو. نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته خیرے کړے وے. چې الله تعالی دے دا لړم هلاك کړی ځکه چې نه نبی پیژنی او نه غیر نبی .

دا دلالت په دے کوی چې نبی کریم عالم الغیب نه وو.

## دويمه واقعه:

دارنګ يويهودني نبي كريم صلى الله عليه وسلم لره روتۍ كړے وه او زهر ئي ورته پكښې ملا ؤ كړے وو او نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته ئي هيڅ علم نه وو.

نبي كريم صلى الله عليه وسلم د وفات په وخت كښې هم د دغے زهرو اثر محسوسوو.

نو عالم الغيب صرف الله تعالى دے.

الله تعالى هم فرمائى چې

﴿وَاللّٰهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ﴾[آلعمران:۱۱۹]

يعني الله تعالى د سينو په رازونو باندې هم خبردار دے.

## قدرت د الله تعالى:

دويم صفت د الله تعالى قدرت دے.

سورة انعام كښې الله تعالى فرمائى.

﴿وَإِن يَمْسَسْكَ ٱللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥ﴾[انعام:۱۷]

يعني كه الله تعالى تاته څه ضرر اورسوى نو د الله تعالى نه ماسواء د هغے لرے كونكے هيڅ څوك نيشته دے.

ايوب عليه السلام هم په خپله بيمارئ كښې الله تعالى ته فريادكوى

﴿أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ﴾[انبياء:۸۳]

يعني ماته تكليف رسيدلے دے او ته بهتر رحم كونكے ئے.

الله تعالى ئي سوال قبول كړو او بيمارى ئي ترينه لرے كړه.

دارنګ زکریا علیه السلام هم الله تعالی ته اواز کوی.

﴿رَبِّ هَبْ لِي مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً﴾[آلعمران:٣٨]

يعني اے ربه زما! ماته پاك اولاد راکړے.

الله تعالی ئي دعا قبوله کړه او وے فرمائيل.

﴿فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَوَهَبْنَا لَهُ يَحْيَىٰ﴾[انبياء:٩٠]

يعني مونږ د زکريا عليه السلام دعا قبوله کړه او يحيٰ عليه السلام مو ورته اوبخښو.

دا رنګ د ټولو پيغمبرانو په باره کښې الله تعالی فرمائی.

﴿إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا﴾

يعني دا پيغمبران هم په خوشحالو او تکاليفو کښې ماته اواز کوي.

د دے وجے نه ځومره انبياء کرام چې راغلے دی نو خلق ئي د الله تعالی وحدانيت طرفته رابللے دی.

الله تعالی د هغوی قول په دے الفاظو کښی حکايت کوي.

﴿اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ﴾[اعراف:٥٩]

يعني بندګی الله تعالی لره خاص کړئ ځکه چې تاسو دپاره د الله تعالی نه ماسواء بل هيځ څوك الٰه نيشته.

دا رنګ نبی کريم هم په کوه صفاباندې د دے توحيد اعلان کړے و و او فرمائيلے ئي وو.﴿قُولُوا لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ تُفْلِحُوا﴾

يعني تاسو لااله الا الله اووائي نو کامياب به شئ.

الله تعالی دے مونږ ته هم خالص توحيد رانصيب کړی. امين

# آیت الکرسی (اوله حصه)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ اَلْحَیُّ الْقَیُّوْمُ لَا تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ﴾(بقرة:۲۵۵)

## د ایت الکرسی مقصد:

د آیت الکرسی متعلق د مخکښ جمعو نه خبره شروع وه یو د آیت الکرسی اهمیت فضیلت وو دویم دې آیت کښ څۀ بیانیږی نو په دې آیت کښ مقصدی خبره د الله وحدانیت او توحید او بیا د توحید د کلمے اهمیت هم وئیلے شوے وو په دې مجلس کښ د دې آیت څۀ وضاحت او تشریح ذکر کوؤ.

د دې آیت اوله حصه ﴿اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ﴾ ده په دې کښ د دې آیت مقصد او مطلب په اول کښ بیان شوے دے چه هغه د الله وحدانیت او توحید دے یو د دې لفظی معنی چې اِله د الله نه علاوه بل څوک نشته، یعنې کۀ په دې تمام کائناتو کښ د اُلوهیّت لائق ذات دے نو هغه صرف دَ الله رب العزت ذات دے بیا داخبره چې اله څۀ ته وئیلے کیږی نو دا یو داسے جامع لفظ دے چه په دې کښ یوه لویه معنی او مقصد پروت دے.

## د لفظ اله معنا ګانې:

نو د اِله لفظ یو معنی مشهوره ده، معبود ته وئیلے کیږی مطلب د عبادت لائق د چاچې عبادت کیږی او دویمه معنی اِله حاجت روا، مشکل کشا، دریمه معنی د اِله حاکم اعلیٰ، قانون ساز، قانون دان چې د چا په

لاس کښې د انسان د زندګۍ د تیرولو پوره نظام دے نو الله په دې معنی هم اِلٰه دے چې انسان ته د زندګۍ د تیرولو نظام ورکوی او بیا قانون او نظام به د الله چلیږی ځکه مونږه د الله بندګان یو او هغه زمونږه د ژوند تیرولو په ډهنګ او طرز باندې ډیر ښهٔ پوهیږی چې انسان به څنګه خوشحاله مطمئن ژوند تیروی. دویم دا چې کله الله زمونږه خالق، رازق دے نو د دې یقینی تقاضا دا ده چه انسان به دغه الله ته لاس په نامه اودریږی، سر به ورته په زمکه باندې ایږدی او د الله قانون به منی، رکوع به ورته کوی، عاجزی او محتاجی به ورته کوی او دریم که د دې انسان ته څهٔ حاجات ،ضروریات، مصائب، تکالیف مخے ته راشی نو په دغه حالاتو کښې به منت، زاری ،ژړا ،عاجزی یو الله ته کوی بس دا د لفظ اِلٰه لنډه معنی ده لکه څنګه چې الله د انسان حاجات پوره کونکے دے نو انسان به خپل حاجات د الله نه غواړی او لکه څنګه چې الله د عبادت او بندګۍ لائق دے نو انسان به صرف د الله عبادت او بندګی کوی او لکه څنګه چه دغه الله حاکم اعلیٰ قانون دان دے نو انسان به د الله په قانون، آئین باندې ژوند تیروی اوس کهٔ یو انسان د دغه درے غټو کارونو د پاره بل څوک اختیارمند او ذمه دار اوګرځوی نو دا انسان د لَا اِلٰه الا الله نه خلاف روان دے دا صرف په نوم مسلمان دے خو حقیقی یقینی مسلمان نهٔ دے د لااِلٰه په مقصد باندې نهٔ دے روان شوے.

که یو انسان د دې لفظ اُلوهیت د دې درے معنو بل څوک لائق او حقدار اوګرځوی لکه مثال بل څوک د حاجت روائے لائق اوګنړی، بل څوک د نظام او د قانون اختیارمند اوګنړی یا د بل چا پرستش او عبادت اختیار کړی نو دې انسان لااِلٰه الاالله نه ده منلې دا انسان د دې د مقصد نه خلاف روان دے دې په حقیقت کښې مسلمان نه دے اګرچه دعوی کوی.

# عبدالله بن عباس رضی الله عنه او د اله معنی:

حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه د سورت محمد (29) آیت کښ د لااله الاالله معنی دا بیانوی. هغه وائی د دې معنی داده:

﴿ لاَ ضَارَّ وَلَا نَافِعَ وَلَا مُعْطِیَ وَلَا مُعِزَّ وَلَا مُذِلَّ اِلاالله ﴾

مطلب د دې معنی دا دے چه نقصان رسونکے، فائده ورکونکے، منع کونکے که څهٔ څیز منع کړی، ورکونکے د هرڅهٔ، عزت ورکونکے، ذلت ورکونکے د الله نه ماسوا بل څوک نشته د لَا اِلٰه اِلَّا الله معنی ده یعنی د نفع ،نقصان، اختیار مند، حاجت روا، مشکل کشا صرف او صرف یو الله دے او دغه معنی د لفظ اِله تقریبًا تقریبًا شیخ عبدالقادر جیلانی رحمۃ الله علیه په خپل کتاب (الفتح الربانی) کښ ذکر کړې ده هغه وائی اِله چاته وائی؟ اِله اوپیژنئ:

﴿ اِلٰه کُلُّ مَنِ اعْتَمَدْتَّ عَلَیْهِ فَهُوَ اِلٰهُکَ وَکُلُّ مَنْ خِفْتَهُ وَرَجَوْتَهُ فَهُوَ اِلٰهَکَ وَکُلُّ مَنْ دَعَوْتَهٗ فِیْ ضُرٍّ وَنَفْعٍ فَهُوَ اِلٰهُکَ ﴾

وائی آسانه خبره دا ده چه په چا ستا اعتماد، بهروسه، عقیده وربانډې جوړه شی چې ماله نفع او نقصان راکوی، زما هرڅهٔ د دهٔ په لاس کښ دی نو دغه ستا خدائے دے اګرچې ته ورته په خُله بانډې خدائے نه وائے. دغه شان د چانه چې مافوق الاسباب یره یا اُمید کوے یا هر هغه څوک چه ته هغه په نفع اوضرر کښ رامدد کوے نو دغه ستا اله دے ستا خدائے دے او دا ناپوهه مسلمانان نن هم په دغه معناګانو کښ شیخ عبدالقادر جیلانی رحمۃ الله علیه ته د خدائي توب درجه ورکوی.

یو بل بزرګ دے مولانا روم رحمۃ الله علیه د هغه اشعار دی د مثنوی په نوم بانډې چه په هغے کښ ئے د دې دین وضاحت کړے دے نو هغه د اِله معنی ذکر کوی چې اِلٰه څهٔ ته وائی نو وائی چې :

مَعْنٰی اِلٰه گفته ابن سیبویه

یُوْلِهُوْنَهٗ فِیْ حَوَائِجِهِمْ لَدَیْهِ

وائی چه سیبویه یو لوے عالم دے هغه د اِله معنی دا کړې ده چه څوک په حاجاتو کښې رابللے کیږی او هغه ته ژړا او فریاد کیږی نو هغه ته اله وئیلے کیږی، اوس که په تکلیف، مصیبت کښې انسان الله ته فریاد کوی نو دۀ الله اِلٰه اومنو او که د الله په ځائے بل چاته فریاد کوی نو دغه بل څوک د دۀ الٰه دے اګرچې دا باطل الٰه دے نو دا د اِله یوه معنی چې انسان به صرف الله حاجت روا ، مشکل کشا منی د الله نه علاوه فرښته، فقیر ، پیر ، نبی ، ولی ، بزرګ، مړے، ژوندے مافوق الاسباب حاجت روا، حاجات پوره کونکے، نفع اونقصان والا به نه ګنړی یو الله به ګنړی او که مخلوق لره دا درجه ورکړی نو دا انسان دغه مخلوق ته اِله وائی او دا شرک دے.

## دویمه معنی د عبادت لائق:

دویم د اِله معنی وه معبود د عبادت لائق او حقدار، بیا په دې عبادت کښې مونځ، روژه ،حج، زکوة ، قربانی ، نذرونیاز و صدقات، طواف کول، سجده او رکوع کول دې تمامو کارونو ته عبادت وئیلے کیږی. دغه شان په یو مونځ کښې ګنړ عبادتونه دی رکوع عبادت دے، سجده عبادت، لاس په نامه اودریدل عبادت، د التحیّات په شکل کیناستل عبادت، سر راښکته کول دا ټول عبادتونه دی نو د لَاالٰه مطلب نشته لائق د عبادت، مطلب د رکوع، سجدے، نیازومنخته،د رامدد شه وئیلو، لاس په نامه اودریدلو، د عاجزئ په زمکه باندې د سر کیخودلو، د قربانئ ، د مانځه ، د روژې نیولو لائق او مستحق صرف یو الله دے د الله نه ماسوا بل څوک نشته اوس که دا تمام عبادتونه یو انسان الله لره کوی نو دا نسان اِله الله

منی او که یو انسان دا عبادت د الله نه غیر بل چالره کوی که هغه غټ وی او که وړوکے وی که انسان وی یا فرشته وی یا پیرۍ وی او یا بل حیوان یا جامد څیز وی نو د دۀ په عقیده کښې دغه څیز د دۀ معبود او اِله دے او د الله نه غیر بل مخلوق ته معبود او اِله وئیل شرک دے.

## ابن القیم رحمۃ اللہ علیہ او د عبادت معنی:

د اتمے صدئ یو غټ عالم دے ابن القیم رحمۃ اللہ علیہ، د هغه کتاب دے مدارج السالکین په دغه کتاب کښې هغه د عبادت معنی کوی عبادت څۀ ته وائی هغه وائی:

﴿اَلْعِبَادَةُ عِبَارَةٌ مِنَ الْاِعْتِقَادِ وَالشُّعُوْرِ بِأَنَّ لِلْمَعْبُوْدِ سَلْطَةٌ غَيْبِيَّةٌ فَوْقَ الْأَسْبَابِ يَقْدِرُ بِهَا عَلَى النَّفْعِ وَالضَّرَرِ فَكُلُّ دُعَاءٍ وَثَنَاءٍ وَتَعْظِيْمٍ يُنْشَأُ بِهٰذَا الْاِعْتِقَادِ فَهِيَ الْعِبَادَةُ﴾

مطلب عبادت یو دوه عقیدے او نظریے دی یو دا چه د چا عبادت کیږی هغه به عالم الغیب په خپل حال باندې خبردار ګڼړی او بیا دویمه دا چه دغه ذات د نفع او نقصان اختیار لری دا دوه عقیدے چه د چا په باره کښې لری نو هغه ستا خدائے دے او ته د هغه بنده ئے. اوس که موږه سر الله ته ښکته کوؤ که رکوع سجده کوؤ، نذرونیاز کوؤ، نو په دې ټولو حالاتو کښې دغه عقیده زموږه ده چه الله تعالی په هرڅۀ باندې خبر هم دے او موږ ته د دې فائده یا نقصان هم راکولے شی که موږه په پټه دغه عبادت کوؤ او که د شپے او که د ورځے وی نو په دې ټولو حالاتو کښې الله زموږ په حال باندې خبر دے که دغه عبادت خالص الله لره کوؤ او که د بل چا، ریاء ورکښے شامل وی نو اللهورباندې خبردار دے او بیا د دغه ما فوق الاسباب غیبي غلبے په بنیاد د نفع او نقصان مالک هم الله دے او د دې بدله به الله راکوی بل څوک نه شی راکولے او دې ته توحید وائی.

او که یو انسان دغه دوه عقیدے د بل چا په باره کښې لری او دا عقیده ساتی چې دا ولیُّ الله ، بزرګ، پیرصاحب، قبروالا دا مړی یا پیغمبر یا بل صاحب زما د حالت نه خبر هم دے او د نفع نقصان اختیار مند هم دے او دا انسان هغه ته د ژوند په حالت کښې سر راښکته کوی یا د هغه قبر ته سجده، نذرونیاز کوی وغیره نو دغه مخلوق د دۀ اِله دے د دۀ معبود دے او دغه انسان د مخلوق عبادت کوی په ځائے د خالق باندې نو اِله حاجتونه پوره کونکے ذات، اِله مشکل کشا ذات ته وائی، اِله معبود او قانون دان ته وائی.

## د لفظ اله دریمه معنی قانون ساز:

دریمه معنی قانون دان زمونږه دا ایمان دے چې الله رب العزت مونږه پیدا کړی یو هغه زمونږ خالق مالک دے دا تمام هرڅۀ زمونږ د هغۀ په لاس کښې دی مونږه د هغۀ غلامان نوکران محتاجی کونکی یو، او د دې ټول کائنات نظام هغه چلوی څنګه چه عبادت د هغه نه علاوه د بل چا نه دے جائز او لکه څنګه چې حاجت پوره کونکے ذات هغه دے نو دغه شان هغه زمونږ په دې زندګئ ژوند باندې پوهیږی چې د انسان د زندګئ او د ژوند نظام به څنګه وی نو دا هرڅۀ به هغه الله راکوی، ځکه مونږه په خپله نفع او نقصان، خیر او شر باندې خبر نه یو چې مونږه دا ژوند په کومه طریقه باندې اوکړو، په ژوند کښې غم ښادی، معاشره، حسن اخلاق د چا په طریقه او تعلیماتو باندې تیر کړو. دغه شان ریاست، معاملات دا ټول هرڅۀ به مونږه ته الله راکوی، دا د خپل طرف نه نشو کولے ځکه زمونږه علم محدود دے، عقل محدود دے دَ خپل مستقبل په نفع او نقصان باندې نه پوهیږو، ډیرے منصوبے د حاضر وخت زمونږه ناکامه کیږی نو د مستقبل په باره کښې به مونږه څۀ خپله فیصله اوکړو نو الله خو عالم الغیب او اختیار

مند دے اختیار او علم هم ورسره شته دے چه مونږ ته ئے د فائدے نه ډک نظام او قانون راکړے دے او دغه نظام ئے مونږ ته د انبیاؤ، کتابونو بلکه د قرآن په شکل کښ راکړے دے.

اوس که یو انسان الله حاکم اعلی، قانون دان منی او د هغه په نظام باندې مطمئن وی او عمل ورباندې کوی نو یقینًا دا انسان د (لااله الاالله) په قانون او مقصد باندې روان دے او که یو سړے وائی چې د الله نظام ته ضرورت نشته مونږ به خپل نظام جوړوؤ، خپل سوچ او عقل باندې بنیاد ایږدو نو دا انسان د لااله الاالله د حقیقت نه خبر نه دے لکه نن صبا د مسلمانانو دا حالت دے چه په (56،57) اسلامی ملکونو کښ د الله والا پوره نظام په هیڅ یو ملک کښ نشته نو دا د مسلمانانو حالت دې .

## په پټو او ښکاره وؤ باندې پوهه ذات:

نو خبره ما دا کوله چې د انسان به دا عقیده وی هله به مؤمن مسلمان وی چې په کائناتو کښ په پټه او ښکاره باندې پوهه ذات صرف یو الله دے بل هیڅ څوک بغیر د الله نه په پټو او ښکارو باندې نه پوهیږی قرآن کښ الله فرمائی:

﴿ قُلْ لَا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللّٰهُ ﴾(نمل:٦٥)

اے پیغمبره دې اُمّت ته دا خبره بیان کړه چه لاندې زمکه کښ او بره آسمان کښ دا څومره مخلوق دے که ارواح ،فرشتے، انسانان، جنات او دا رنګ قسم قسم مخلوق دے دوی په غیبو باندې نه پوهیږی صرف او صرف یو الله په غیبو او پټو باندې پوهیږی نو دا د علم غیب عقیده به د الله متعلق وی د الله نه ماسوی د بل هیڅ چا په حق کښ دا عقیده نشی کیدے.

## انسان د اسبابو محتاج دے:

او انسان د غیبو علم نه لری په اسبابو سره علم لری لکه تاسو ته زه مخامخ ناست یمه تاسو زما حرکات او حالات ګورے او زه ستاسو حالات او حرکات ګورمه خو دا په سترګو سره د اسبابو د لاندې ،که دا سترګے خرابے شی یا په مینځ کښں څۀ واسطه راشی نو بیا نۀ زۀ تاسو وینم او نۀ تاسو ما وینے. دغه شان د غوږونو، ژبے مثال هم دے چې دا دَ اسبابو نه لاندې خپل کار کوی خو د اسبابو نه باندې دا خپل کار بیا نه کوی که دا اسباب انسان سره نه وی نو کتل، لیدل، اوریدل خبرے کول هرڅۀ به ختم وی او د الله دا صفات بغیر د اسبابو نه دی. الله اسبابو ته په دې اوریدلو، خبرےکولو کښں محتاجه نه دے بلکه په هر حالت کښں زما خبرے اوری که زۀ پټے خبرے کوم او که په ښکاره، او ما په هر حالت کښں وینی که زۀ پټ یمه او که ښکاره یمه او همدا فرق دے د الله او د انسان په صفاتو کښں.

## واکمند او اختیارمند:

بل صفت د الله د اختیار صفت دے که په چا مصیبت راولی نو د الله نه بغیر بل څوک ئے نشی لرې کولے او که چاته بیماری صحت ورکوی نو په الله هیڅ څوک زور نه شی کولے قرآن کښں الله فرمائی:

﴿وَاِنۡ یَّمۡسَسۡکَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا کَاشِفَ لَهٗۤ اِلَّا هُوَ﴾(انعام:۱۷)

که الله بالفرض تاته څۀ ضرر درکوی نو دا بغیر د الله نه بل څوک نشی لرے کولے او بل ځائے کښں فرمائی:

﴿ وَرَبُّکَ یَخۡلُقُ مَا یَشَآءُ وَیَخۡتَارُ مَا کَانَ لَهُمُ الۡخِیَرَةُ﴾(قصص:۶۸)

رب ستا پیدا کوی څۀ چې غواړی دې خلقو سره هیڅ د څۀ

اختیار نشته او د بچو ورکولو اختیار صرف او صرف د الله سره دے دا اختیار الله هیڅ چا لره نه دے ورکړے نه د نارینه اختیار الله چا لره ورکړے او نه د زنانه اختیار الله چالره ورکړے دے بلکه دا ټول اختیارات صرف او صرف د الله سره دی

﴿مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ﴾(قصص:٦٨)

د دې مخلوق سره د دې هیڅ څیز اختیار نشته.

د دې دوؤ عقیدو جوړولو نه پس که انسان الله ته رکوع کوی سجده کوی نذرونیاز کوی یا بل څۀ عبادت کوی نو دا عبادت به د الله په دربار کښ قبول او منظور وی او دې انسان ته به د دې عبادت ښه او بهترینه صله او اجر ملاویږی.

لنډه خبره خلاصه دا شوه چه د کلمه توحید مطلب دا دے چې د الله صفات انسان الله لره اومنی په دې کښ ورسره شریک جوړ نه کړی او دویمه دا چې د الله عبادت خالص د الله د پاره کوی او د هغه سره عبادت کښ څوک حصه دار شریک جوړ نه کړی دا د کلمه توحید خلاصه او نچوړ دے.

والحمدلله رب العالمین

# د آیة الکرسی دویمه حصه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿لَا تَأْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوَاتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ.... الخ﴾(بقرۃ:۲۵۵)

## د الله په اُلوهیت دلائل:

د آیت الکرسے متعلق خبره شروع وه په دې کښې الله خپل وحدانیت او توحید بیان کړے دے د الله صفات عبادت او اختیارمندی دا هرڅۀ به الله لره وی نور چا لره نشی کیدے نو د دې توحید په باره کښې په دې آیت کښې تفصیل او دلائل بیان شوې دې اول دلیل چه الله اِلٰه دے په لفظ ﴿وَالْحَیُّ الْقَیُّوْمُ﴾ سره ذکر کړے دے او مشرکین چې د چا عبادت کوی په هغوی باندې فناء راځی او د څۀ اختیار ورسره نشته او نه د خپل ځان څۀ حفاظت کولے شی.

دویم دلیل د الله په اُلوهیت او خدائی توب دا دے چه هغۀ باندې پرکالی او خوب نه راځی ﴿ لَا تَأْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ﴾ الله ځکه مشکل کشا حاجت روا د عبادت لائق دے چه په هغه باندې غفلت،خوب او ناخبری نه راځی د هر انسان د هر عمل نه خبردار دے که ته ورته آواز کوے نو ستا آواز اوری او که د هغه عبادت کوے نو ستا عبادت ګوری تا لره به د هغے بدله په عدل او انصاف سره درکوی بل خوک که هغه نبی وی که ولی وی او که بزرګ وی په هغوی باندې خوب، آرام او غفلت راځی نو ځکه هغوی د عبادت لائق نه دی او د کمال نه ډک ذات د الله دے ځکه صرف او صرف هغه د عبادت لائق دے.

## د خوب کیفیت غفلت:

خوب یو داسې کیفیت دے چې دا په هر انسان بلکه په هر جاندار باندې راځی چې کله یو جاندار مسلسل په یو عمل کښې مشغوله وی نو په دغه جاندار تهکاوټ ستړې والے راشی نو د دغه تهکاوټ او ستړی والی لرے کولو د پاره الله په دۀ باندې خوب راولی نو که یو طرف ته خوب د الله یو نعمت دے بل طرف ته په دې کښې د انسان د عاجزے او بے وسۍ، کمزورۍ او د غفلت یو لوے سبق پروت دے که یو غټ انسان د دۀ سر ته راشی او ورته کینی نو هغه ته د دغه انسان په باره کښې پته نه لګی، نه ورته د خپل قاتل پته لګی، نه ورته د غل ډاکو پته لګی، او دا د انسان د غفلت کیفیت او حالت دے او دا غفلت په الله باندې نۀ راځی او دغه وجه وه چه الله رب العزت په قرآن کښې د صحابه کرامو رضی الله عنهم بزرګانِ دین ډیر ګنړ واقعات بیان کړی دی چې په هغوی باندې دغه حالت او کیفیت به راتلو او دې ته به مجبوره وو.

## اصحاب کهف باندې د خوب حالت:

یو مشهوره واقعه چې په سورة الکهف کښې الله ذکر کړې ده هغه واقعه د اصحاب کهف والو وه په دغه واقعه کښې الله د څۀ نیک عمله ځوانانو واقعه ذکر کړې ده چې د نبی صلی الله علیه وسلم د بعثت نه مخکښې یو کلی، وطن کښې شرک، کفر او بت پرستی رائج وه او بیا د هغه ځائے ظالم حکمران مسلمانان نه برداشت کول نو دغه څو ځوانانو د دغه ظلم او شرک خلاف پورته شوی وو چې دغه شرک او ظلم ختمول غواړی هغوی خپل قوم ته دغه خبره کړې وه او بیا د بادشاه په دربار کښې ئے هم خبره کړې وه قرآن په دې الفاظو د دغه ځوانانو تذکره کړې ده:

﴿ إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ ﴾ (کھف:۱۳)

دا څۀ ځوانان خلق وو چې په خپل رب باندې ئے ایمان راوړے وو

﴿ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى ﴾

او بیا یو اوږد تقریر د دغه ځوانانو د حالاتو په بیانولو کښې الله ذکر کړے دے دوی خپل قوم ته د الله توحید بیان کړے وو

﴿إِذْ قَامُوا فَقَالُوا رَبُّنَا رَبُّ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ لَنْ نَدْعُوَا مِنْ دُونِهِ إِلٰهًا﴾ (کھف:۱۴)

دغه ځوانانو دا خبره کړې وه چې مونږه د الله نه بغیر بل چاته رامدد شه نه وایو ځکه دغه قوم والا د غیر الله په عبادت کښې اخته شوی وو نو د وخت حکمران چې خبر شو چې که د دې ځوانانو آواز په دې ملک کښې خور شی نو اقتدار او حکومت ته خطره جوړوی نو دغه ځوانانو ته ئے دهمکی ورکړه او د ګرفتارے باره کښې ئے ورته حکم اوکړو نو بیا دوی خپل وطن نه هجرت کړے دے بیا یو غار کښې هغوی پناه اغستے ده نو الله ورباندې دغه غار کښې یو لوے غټ خوب مسلط کړے وو الله په دغه غار کښې (309) کاله اودۀ کړل نو پته اولګیده چې اولیاء، بزرګان، نیکان خلق خدایان نه شی کیدے او که دوی خدایان وې نو بیا به وربانديې خوب نه راتلے په دوی به غفلت نه راتلے او دا د خوب واقعه هم د دې مقصد د پاره الله ذکر کړې ده.

## په نبی ﷺ او صحابوؤ رضی اللہ عنہم باندې خوب راتلل:

مسلم شریف کښې حدیث دے نبی ﷺ په یو جهادی سفر باندې تلے وو واپسئ کښې په هغوی باندې شپه راغله نو د نبی ﷺ طریقه دا وه چه چرته به شپه وه هلته به اودۀ کیدو نو نبی ﷺ اوفرمائیل چه شپه ده، سترې یو آرام کول غواړی خو د سحر مونځ د پاره به څۀ چل

کوو نو بلال رضی اللہ عنہ ذمه داری واغسته چې زۀ به دا خلق د سحر مونځ د پاره راپاسومه نو خوب ورباندې غلبه اوکړه د خوب نه ځان خلاصولو دپاره په نفل مونځ باندې اودریدو څۀ ګورې چه په دغه حالت کښې بیا ورباندې خوب غلبه اوکړه نو د نمرخاتۀ مشرق طرف ته ئې مخ کړو او اودۀ شو په ځان باندې خبر نه وو، بې اختیاره ورله خوب راغې هغوی ټول هم اودۀ وو چې په دغه حالت کښې نمر راؤوختلو نو نبی صلی اللہ علیہ وسلم د ټولو نه مخکښې رابیدار شو ، نو نبی صلی اللہ علیہ وسلم ټول صحابه کرام رضی اللہ عنہم هم راپورته کړل او بیا ئې بلال رضی اللہ عنہ ته اووئیل چه تا ولې مونږه رابیدار نه کړو هغه نبی صلی اللہ علیہ وسلم ته عرض اوکړو: ﴿ أَخَذَ بِنَفْسِيْ الَّذِيْ اَخَذَ بِنَفْسِكَ ﴾(موطا امام مالک)

چې هغه ذات په ما باندې خوب راوستې دے کوم ذات چه په تاسو باندې خوب راوستې دے لکه څنګه چه تاسو په خپل ځان باندې خبر نه شوے دغه شان زۀ هم د خپل ځان نه خبر نه شومه نبی صلی اللہ علیہ وسلم ورته اوفرمائیل چه د دې ځاې نه سفر کوؤ ځکه دلته ماته د شیطان اثر ښکاری بیا په بل مقام کښې ئې مونځ ادا کړو. دا اوګوره د ټول جهان سردار د ټولو انبیاؤ سردار په هغۀ باندې خوب بې اختیاره راځی او داسې خوب چه د سحر مونځ هم ورنه قضاء کیږی او ورسره د دې اُمّت لوې اولیاء کرام رحمۃ اللہ علیہ ابوبکرصدیق، عمرفاروق، عثمان غنی،علی المرتضی رضی الله عنهم اجمعین وو نو دا واقعه لوے دلیل دے په دې باندې چه په انسان خوب راځی او خوب په انسان راتلل د بنده د بندګۍ دلیل دے. دا بنده دې الله ته عاجز او محتاجه دے.

## د الله د مالکیت ذکر:

دریم دلیل د الله په اُلوهیّت باندې دا خبره ده چې

﴿ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾

دا څۀ کائنات او مخلوقات چې انسان ته په نظر راځی یا د هغے خبرې اوری نو دا ټول د الله په ملکیت کښ دی او الله د دې مالک او میراث اغستونکےدے﴿ مَا فِي السَّمٰوَاتِ﴾ نه مراد روښانه نمر او پړقیدونکی سپوږمے او ستوری او عرش، سدرة المنتهی، بیت المعمور او د انبیاؤ، اولیاؤ روحونه او فرښتے ورسره جنات دا ټول څیزونه د الله په قبضه، تصرّف کښ دی او الله ته محتاجه دی او د الله د حکم مسّخر او پابند دی بیا﴿وَمَا فِي الْأَرْضِ﴾ نه مراد دا نباتات ،جمادات، اونے بوټی یا په دې زمکه باندې آباد انسانان،حیوانات، انبیاء، اولیاء، بزرګان دا ټول د الله مخلوق مملوک دی او الله د دې رب او مالک دے او دوی د الله د حکم پابند دی په خپله د څۀ اختیار مند نه دی او الله دا خبره بار بار په قرآن کښ ذکر کوی کله وائی انسانه ته په خپل پیدائش او د خلقت په دور کښ ماته محتاجه ئے. ستا نیکه آدم علیه السلام ما د زمکے د خټے نه پیدا کړے وو بیا ما تۀ پیدا کړے، وجود مې درته درکړو ستا مور او پلار ته هم ما وجود ورکړے وو، په رحم د مور کښ ما محفوظ ساتلے وے او کله ذکر کوی

﴿اَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّنْ مَّنِيٍّ يُّمْنٰى ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوّٰى﴾(قیامۃ:۳۸)

دا انسان ځان ته نه ګوری د یو ګنده څاڅکی(منیٔ) نه ما پیدا کړے دے بیا د هغے نه روستو د غوښے یوه ټکړه جوړه شوه او بیا ښائسته شکل والا انسان ترینه ما جوړ کړو، نو بیا کله ذکر کوی

﴿مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيْمِ﴾(انفطار:٦)

ته په الله باندې څۀ څیز دهوکه کړے ئے چې د رب دربار پریږدے او د بل چا دربار ته سجده کوے ته څۀ څیز دهوکه کړے په خپله دهوکه شوے ئے بل انسان دهوکه کړے ئے یا شیطان دهوکه کړے

ئے حال دا دے چه الله تا سره ډیر لوے احسانات کړی وو.

او کله دا ذکر کوی چې صرف ته نه بلکه ستا دا اولاد هم ما پیدا کړے دے

﴿ رَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ ﴾(قصص:٦٨)

ستا رب څۀ چې غواړی او څنګه ئے غواړی نو پیدا کول کوی او صرف دا نه بلکه علی الاعلان اعلان کوی

﴿مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ﴾(قصص:٦٨)

مخلوق لره دا اختیار نشته او دا ذکر کوی چې صرف پیدائش نۀ بلکه په دنیا کښې عزّت، ذلت ،عمر ،ژوند هم د الله په لاس کښې دی بلکه دا تعلیم پیغمبر اُمّت ته ورکوی چې دا خبره باربار ذکر کوی

﴿ قُلِ اللّٰهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَآءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَآءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ ﴾(آلعمران:٢٦)

بادشاهی اغستل، ورکول عزت او ذلت بلکه هر خیر او شر د الله په لاس کښې دے او په سورت انعام کښې ذکر کوی

﴿وَإِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗ إِلَّا هُوَ﴾(انعام:١٧)

که الله تعالی انسان ته معمولی تکلیف رسوی نو د دې تکلیف لرے کونکے بل څوک نشی کیدے بغیر د الله نه نو د خیر او شر مالک الله دے.

## مدد صرف د الله نه غوښتل:

یو صحابی رضی اللہ عنہ د نبی صلی اللہ علیہ وسلم د ترۀ ځوی حضرت عبدالله بن عباس رضی اللہ عنہ ته په یو موقع نصیحتونه کول ورته ئے اوفرمائیل چې یا غلام اے بچیه! ﴿ إِذَا سَأَلْتَ فَاسْئَلِ اللّٰهَ وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللّٰهِ ﴾(مسند احمد)

کله چه سوال کوے نو سوال صرف د الله نه کوه او کله چه امداد

غواړے نو امداد صرف د الله نه غواړه او بیا ئے ورته اوږد وصیت کړے وو چې که دا ټوله دنیا راغونډه شی او تاته تکلیف رسول غواړی نو تکلیف نشی درکولے او که تا ته خیر درسوی نو خیر هم درله نه شی درکولے که د الله خوښه نه وی.

نو دا د عقیدے تعلیم ئے ورته ورکړے وو او نبی ﷺ باربار دا تعلیم په دعاګانو کښ هم خپل امت ته ورکړے وو د دې د پاره چې د الله د ذات متعلق د دوی دا عقیده برابره وی لکه یو حدیث کښ دا راځی

﴿لَامَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلَامُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ﴾(موطامالک)

مطلب الله چې څۀ ورکول غواړی هغه څوک منع کولے نه شی او څۀ چه الله منع کوی نو هغه څوک ورکولے نشی نو انسان چې خیر غواړی د الله نه به غواړی او که د شر نه پناه غواړی په الله سره به غواړی دې وجے نه نبی ﷺ به دا دعا هم کوله

﴿اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ أَسْئَلُکَ کُلَّ خَیْرٍ خَزَائِنُهٗ بِیَدِکَ﴾(العواصم والقواصم)

الله زه ستانه هر هغه خیر غواړم چې خزانے ئے ستا په لاس کښ دی.

او الله دا خبره ډیر په زور و شور سره ذکر کوی، اختیارمند صرف او صرف زه یم، زما نه بغیر بل څوک اختیارمند نشته لکه الله ذکر کوی

﴿وَالَّذِیْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا یَمْلِکُوْنَ مِنْ قِطْمِیْرٍ﴾(فاطر:۱۳)

هغه څوک چې بغیر د الله نه ئے تاسو رامدد کوے هغه د کهجورې قدرے څیز مالکان هم نه دی. قطمیر د کهجورے په هډوکی باندې چې کومه پرده وی هغے ته وائی نو الله فرمائی چې ستاسو دا خدایان د دې پردې قدرے اختیار هم نه لری. دغه معبودان باطله معمولی زره برابر اختیار هم نه لری لکه وائی:

﴿ قُلِ ادْعُ الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِنْ دُوْنِ اللهِ لَا يَمْلِكُوْنَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ﴾ (الاسراء:۵۷)

الله په مشرکینو باندې رد کوی چې ستاسو معبودان ذره برابر اختیار نه لری او نه د الله سره څۀ حصه دار دی.

## نبی ﷺ غلام او بنده دے:

او بله خبره دا چه دا زمونږه ایمان دے چې په دې ټول کائنات کښ د نبی ﷺ نه پس بله لویه هستی نشته د ټولو انبیاؤ سردار دے او کله چې قرآن کښ الله د نبی ﷺ تذکره کوی نو دا خبر ورسره ذکر کوی چه دا محمد ﷺ هم زما غلام دے لکه فرمائی:

﴿ إِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ مِمَّا نَزَّلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا﴾ (بقرة:۲۳)

اے کافرو مشرکینو که تاسو شک کوے د هغه کتاب په باره کښ چه ما په خپل غلام باندې نازل کړے دے.

نو د ټولو کائناتو نه بهترین انسان دے هغه هم الله ته محتاج دے کله چې د نبی ﷺ د اتلس میاشتو بچے وفات شو نو نبی علیه السلام ژړل، صحابه رضی الله عنهم تپوس اوکړو د الله پیغمبره ته هم ژاړې، نبی ﷺ ورته اوفرمائیل پښتو کښې مطلب دا جوړیږی چې زۀ نۀ ژاړم خو زما زړۀ ژاړی بیا نبی ﷺ دا خبره اوکړه:

﴿ إِنَّ الْعَيْنَ لَتَدْمَعُ وَالْقَلْبُ يَحْزَنُ﴾

سترګے د اوښکو نه دارې وهی او زړۀ خفا کیږی

﴿وَإِنَّا بِفِرَاقِكَ يَا إِبْرَاهِيْمُ لَمَحْزُوْنُوْنَ﴾ (بخاری)

اے ابراهیم مونږه ستاپه جدائے باندې غمګین یو.

نو په نبی ﷺ باندې په خپل ژوند کښ غم راغلے دے. که پیغمبر ته اختیار وے نو ستاسو څۀ خیال دے چې د خپل بچی په مرګ به

خوشحاله وے یا به دا بچے د نبی ﷺ مړ شوے وے

﴿ لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾ اختیارمند صرف او صرف یو الله دے.

## د مرګ او ژوند اختیار مند الله:

نبی ﷺ په مسجد کښې ناست وو نو نبی ﷺ ته حضرت زینب رضی الله عنها پیغام راولیږلو چې راشے داسے معلومیږی چې زما د بچی ځنکدن ،آخری حالت دے نبی ﷺ ډیر زیات مصروفه وو هغه کس ته ئے اووئیل چې لاړ شه زما لور زینب رضی الله عنها ته وایه چه کله الله تاته بچے درکولو نو زما نه ئے تپوس نۀ وو کړے کۀ اوس ئے اخلی نو د اغستو په وخت کښې هم زما نه تپوس نۀ کوی خو تۀ صبر کوه الله به اجر درکړی، زینب رضی الله عنها بیا جواب راولیږلو نبی ﷺ بیا هم همدغه خبره اوکړه په دریم ځل نبی ﷺ ته جواب راغے نو نبی ﷺ د زینب رضی الله عنها کور ته تشریف یوړلو، ماشوم ئے په غیږ کښې راوچت کړو د هغه نه ساه اوخته، روح ئے پرواز اوکړو د نبی ﷺ په غیږ کښې وفات شو. په دغه وخت کښې د شفقت د وجے نه د نبی ﷺ د سترګو نه اوښکے روانے شوی.

اوګوره که نبی ﷺ ته اختیار وے نو د خپل ځان د تسلئ د پاره نه بلکه دخپلے لور د آرام او اطمینان د پاره به ئے د دغه بچی روح واپس کړے وے او هغه به بې وخته نه وے وفات شوے نو پته اولګیده چه په پیغمبر باندې هم غم راځی د الله د طرف نه خو هغه سره بغیر د صبر نه هیڅ اَسره او وسیله نشته یوه لاره ده صبر کول د الله په فیصله باندې صبر کول نور هیڅ اختیار نه لری.

والحمدلله رب العالمین

# د آیت الکرسی دریمه حصه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ لَا تَأْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَلَا يَؤُدُهٗ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ﴾ (بقرة:۲۵۵)

## د دلیل په لاره توحید منل:

د مخکښ جمعو نه د آیت الکرسی متعلق خبره شروع وه او دا خبره ذکر شوې ده چې د آیت الکرسی دعوی د الله توحید او دَ وحدانیت بیان دے بیا د **لا اله الا الله** معنی او مقصد بیان شوے وو بیا په دغه کلمه باندې څۀ دلائل په آیت الکرسی کښې بیان شوی وو.

بیا دا خبره او د دې تقاضے په مونږه بندګانو، انسانانو باندې الله په زور او زبردستئ سره منلے شوه لکه څنګه چې د دنیا حکومت په رعیت باندې په زور او قوّت سره یو قانون منلے شی دغه شان په مونږه باندې هم الله رب العزت په زور سره دا کلمه دا خبره منلے شی خو خالق کائنات ډیر د عدل او انصاف نه ډک معامله خپلو بندګانو سره کوی او ظلم او زیاتے هیچرے نه کوی نو په ځائے د طاقت په ځائے د زور الله رب العزت بله لار اختیار کړه چې هغے ته د دلیل لاره وائی د دلیل په طریقے سره ئے خپلو بندګانو ته خپل معرفت او پیژندګلو اوکړه الله دا مطالبه کوی چې تاسو د (**لا اله الا الله**) دا خبره اومنے خو دا خبره په زور درباندې نه منی بلکه تاسو لږ د خپل عقل نه کار واخلے دلائلو ته اوګورے د الله د توحید او یو والی نخښو علامو ته اوګورے څکه الله رب

العزت په دې باقي آیت الکرسی کښې ګڼې دلائل د خپل اُلوهیّت ذکر کړې دی آسانې خبرې، عام عقل مند انسان په فهم کښې راځی داسې خبرې الله ذکر کړې دی لکه څنګه چې د دغه دلائلو نه تعلیم یافته انسان فائده اغستے شی دغه شان د دې دلائلو نه یو عام سړے، زمیندار ، نارینه، زنانه، ماشوم، ځوان د هر عمر والا او د هرقسم طبقے خلق فائده مند کیدے شی او دا د دې د پاره چې په هر انسان باندې الله دلیل قائم کړی نو صبا به د الله په دربار کښې د جهالت عذر نشی کولے چې الله پوهه شوے نه وومه. بےخبرے کښې ما دا کار کړے وو.

## همیشه ژوندے ذات:

نو الله ذکر کوی چې زه اِلٰه یم زهٔ قانون دان او معبود یمه ولے ځکه چې زهٔ ﴿اَلْحَیُّ الْقَیُّوْمُ﴾ یمه همیشه همیشه ژوندے ذات مرګ ورباندې نه راځی په دنیا کښې کله کله انسان هم ژوندے وی خو دا ژوند ابدی نه دے دا فانی ژوند دے څوک لس کاله ژوندے وی، څوک شل، څوک دیرش، څوک پنځوس کاله ژوندے وی خو آخر کار ورباندې یقینًا زوال او فنا راځی خو الله رب العزت داسے ژوندے دے چه نه د هغے ابتداء شته او نه د الله د ژوند څهٔ انتهاء شته هغه ازلی او ابدی ژوندے دے په دې مخ د زمکه د انسان ژوند د یو څو زرو کالو نه دے کله چې انسان نه وو آباد نو د دې نه مخکښې پیریان وو د هغوی نه هم مخکښې الله دا کائنات پیدا کړے وو خو الله رب العزت د زمکے، آسمان، پیریانو او انسانو نه مخکښې ژوندے دے او د هغه د ژوند څهٔ انتهاء نشته نو د دې صفت خاوند ته اِلٰه وئیلے کیږی. اوس تاسو سوچ اوکړے مثال زمکه او آسمان یو وخت داسے وو چې دا زمکه آسمان نه وو بیا الله پیدا کړل، دا نمر سپوږمئ نه وه الله ورته وجود ورکړو، نو د دې نمر سپوږمئ آسمان د

ژوند ابتداء شته دے او بیا به یو ورځ داسے راشي چه دا ټول به الله ختم کړي نو د دې انتهاء هم شته دا ټول کائنات په یو وخت کښ نه وو او الله موجود وو او یو ورځ به داسے راشي چه دا به نه وی او الله به موجود وی نو صرف داسے ذات د اُلوهیّت او عبادت لائق دے چې هغه باندې فنا او زوال نه راځي.

## د هر مخلوق مرګ او زوال

او د الله نه علاوه نور ټومره مخلوقات چې دی الله د دوی عاجزی کمزوری او نقصان بیانوی الله فرمائی:

﴿ كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ ﴾(آلعمران:۱۸۵)

هر انسان باندې به مرګ راځی په دوی باندې به خامخا پناه او زوال راځی.

کله فرمائی:﴿ كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ وَّيَبْقٰى وَجْهُ رَبِّكَ ذُوالْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ ﴾ (رحمن:۲۷)

دا ټومره څۀ مخلوقات چې په زمکه باندې آباد دی دا ټول به فانی شی اوصرف د الله رب العزت ذات به باقی پاتې شی.

او کله الله ذکر کوی.

﴿ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجْهَهٗ ﴾(قصص:۸۸)

دې کائنات کښ دا ټول جاندار او بےجان به ختم شی.

او کله په دې الفاظو تذکره کوی

﴿فَاَيْنَمَا تَكُوْنُوْا يُدْرِكُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ فِيْ بُرُوْجٍ مُّشَيَّدَةٍ﴾(نساء:۷۸)

تاسو چې چرته هم ئے مرګ به درله راځی او اګرچې په مضبوطو مضبوطو آبادیانو کښ ولے نه ئے د الله نه سوی د مرګ نه مو هیڅ څوک نشی بچ کولے دا مرګ به په انسان راځی ، په پیریانو به راځی په فرښتو

بلکه په جبرائیل، میکائیل، عزرائیل علیهم السلام چې هغے ته ملک الموت وائی دا به په هر زنده سر باندے راځی.

## مرګ لره به مرګ وی:

دا خو لاځۀ چې مرګ څۀ ته وئیلے کیږی په هغه باندې به هم مرګ راشی حدیث کښې راځی نبیﷺ فرمائی کله چه قیامت شی او جهنمیان جهنم ته او جنتیان جنت ته لاړ شی. په دې کښې به اعلان اوشی چه جنتیان او جهنمیان دې دروازو او د جنت او جهنم غاړې ته راجمع شی، سیل تماشه دې اوکړی دا ټول به راجمع کړی د دې په مینځ کښې به یو لوے میدان وی هغه میدان به جنت او جهنم والو ټولو ته ښکاری نو په دغه حالت کښې به یو ګډ راوستلے شی او عزرائیل علیه السلام به ورسره وی د هغۀ سره به چاړۀ لاس کښې وی دغه ګډ به په زمکه ګوزار کړی او بیا به ئے په دغه چاړۀ باندې ذبح حلال کړی او ورسره به اعلان اوکړی چې اے خلقو هغه مرګ چې تاسو ته به په دنیا کښې راتلو هغه دا مرګ وو چې تاسو په سترګو اولیدو نن نه پس مرګ نشته جهنمیان به په جنهم کښې او جنتیان به په جنت کښې نۀ مرۀ کیږی نو جنتیان به خوشحاله شی چې هغه د دنیا مرګ چې د کوم نه به یره وه هغه ختم شو او همیشه د نعمتونو ژوند کښې به مونږه همیشه یو او جهنمیان به په غم او مصیبت باندې اخته شی چه مونږه به یو ورځ د مرګ سره خلاص شوے وے خو هغه مرګ هم مونږه لره اوس نه راځی ځکه که دنیا کښې انسان ډیر په غم او تکلیف پریشانئ کښې وی نو آخر ورله مرګ راشی او هرڅۀ ختم شی خو جهنم کښې به مرګ هم نه وی چې انسان ورباندې د تکلیف نه بچ شی نو خبره ما دا کوله چې په الله باندې مرګ نه راځی او د الله نه علاوه چې څۀ څیزونه په دې کائناتو کښې وی

په هغوی باندې به مرګ راځي هغه عزرائیل علیه السلام چه د خلقو روحونه اخلی آخر کار به هغه ته هم مرګ راشی هغه مرګ چې مونږه ورنه په دنیا کښې یره کوله هغه لره به هم مرګ راشی

﴿كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ وَّيَبْقٰى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامُ﴾(رحمن:۲۷)

اوس دا خبره چې په دنیا کښې څۀ دی فناء کیږی به او چې کوم ذات او شخص باندې فناء راځی هغه اِله نشی کیدے.

## د قیوم معنی:

بیا بل صفت د الله القیّوم دے القیّوم معنی د ټول نظام چلونکے او په هغے باندې ولاړ ذات الله رب العزت دے دا تمام نظام په خپله بغیر د مُدَبِّر او منتظم نه نۀ چلی لکه څنګه چې د دهریانو عقیده ده دا تمام نظام نمر، سپوږمۍ، شپه ورځ د الله د حکم مسخر او تابع دی او الله د دې مُدَبِّرْ او منتظم دے. دا په خپله بذات خود نه چلی دا د الله په دست قدرت قبضه او تصرف کښې دی نمر راختل او کوزیدل،شپه او ورځ راوستل او بوتلل،مرګ ژوند، عزت ذلت خوشحالی او غم ، مالداری غریبی دا تمام نظام د دې قیوم (اودرونکې) یو الله دې نو الله ځکه اِله دے چې هغه همیشه ژوندے دے او ټول نظام د هغه په واک او اختیار کښې دې.

والحمدلله رب العالمین.

# د الله تعالی بندګی

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ وَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا فِي الْاَرْضِ وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ﴾ (الجمعۃ:۱۰)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: اَلصَّلٰوةُ عِمَادُ الدِّيْنِ﴾ (الاصول ابن زنجویہ)

الله تعالی انسان د خپل عبادت د پاره پیدا کړے دے نو دے په هیڅ یو حالت کښې هم د دے ذمه داریٔ نه نشی فارغ کیدے.

عبادت محض پنځهٔ وخته مونځ ته نه وئیلے کیږی بلکه د عبادت عا م مفهوم دا دے چې په دنیا کښې به د انسان هر یو عمل د الله تعالی د رضا او منشاء مطابق وی. که هغه معاملات دی، عبادات دی، معاشرت دے، سیاست دے وغیره وغیره . په هر څیز کښې به دې د شریعت پابند وی او په رزق ګټلو کښې به هم دې د الله تعالی د حکم پابند وی او د دهٔ به دا یقین وی چې یو ذات شته دے چې ماپه هر حالت کښې وینی اګرکه د شپے تکه توره تیپه ولے هم نهٔ وی. دا انسان به په هر حالت کښې د الله تعالی په عبادت کښې مشغول وی او د الله تعالی د حاظر ناظر کیدو یقین به د دهٔ په زړهٔ کښې راسخ او یقینی وی.

د دے هروقت د عبادت د یاد دهانیٔ د پاره روزانه پنځهٔ مونځونه فرض کړے شوے دی او په کال کښې د دغے عبادت د پاره یو میاشت روژه فرض کړے شوے ده.

اوس دا مونځ کول په ټولو عباداتو کښې اهم عبادت دے. او د دے پنځه فائدے دی.

یو خو دا چې په دے سره بنده ته د بندګئ احساس ورکولے کیږی او د دے ضرورت ځکه شته چې په انسان پسے شیطان لږیدلے دے او دے ګمراه کوی نو کله دا شیطان جنی وی او کله د انسان په شکل کښې دا شیطان دے انسان لره ګمراه کوی او دهٔ ته دا وائی چې ته زما بنده ئے نو زما بندګی به کوے. نو دا مونځ د شیطان په مقابله کښې احساس د بندګئ د الله تعالی پیدا کوی.

انسان چې کله د خوب نه پاسی نو فورًا ده ته د الله تعالی حکم د مونځ متوجه شی چې ګورے اهم مقصد د الله تعالی بندګی ده نو چې د دے نه غافله نه شے نو دا رنګ بیا د ورځے درے وخته دا احساس ورکولے کیږی او چې کله شپه راشی نو هم د غه احساس ورکولو دپاره د ماسخوتن مونځ فرض کړے شوے دے. نو څلیریش ګنټے دغه یاددهانی الله تعالی انسان ته کوی.

دویمه فائده دا ده چې دا د عملی زندګئ د پاره یو قسمه ټریننګ دے چې په دے سره به تهٔ تیارے کوے د اٰخرت د فکر پیدا کولو د پاره. چې کله اذان اوشی نو چې نور کار پریږدے او مقرره ځائ ته ځان اورسوې او د اصولو او قواعدو مطابق مونځ اوکړې.

د دے وجے نه یو حدیث کښې راځی.

نبی کریمﷺ فرمائی چې کله اذان اوشی او څهٔ خلق جمات ته نهٔ حاضریږی نو زړهٔ مې غواړی چې ځوانان ځان سره واخلم او کورونه پرے اوسوزوم

د دے وجے نه نبی کریمﷺ دې مونځ ته د کافر او مسلمان په مینځ کښې فارق ښودلے دے.

ځکه چې دا مونځ د مسلمان او د کافر په مینځ کښې فرق راولی.

بلکه د نبی کریمﷺ په وخت کښې به منافقینو هم مونځ کوؤ

او ښه په پابندۍ سره به مونځ ته حاضریدل خو سستي به ئے پکښې کوله نو ځکه الله تعالی ئے د مونځ د نه کولو صفت نه دے بیان کړے بلکه د سستۍ هغه کیفیت ئے بیان کړے دے.

الله تعالی فرمائی: ﴿وَاِذَا قَامُوْٓا اِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوْا كُسَالٰى﴾ (نساء:۱۴۲)

یعني دوی چې کله مانځه ته اودریږی نو سست اودریږی.

دریمه فائد ه د مونځ په ذریعه خوف خدا پیدا کیدل دی. چې کله د انسان په زړۀ کښې د الله تعالی خوف وی نو مونځ به په خشوع او خضوع سره کوی او هر وخت به ورته د الله تعالی نه د یرے احساس کیږی. نو دے به چرے هم د ګناه کار نه کوی او هروخت به د الله تعالی په عبادت کښې شمارلے کیږی.

الله تعالی هم فرمائی: ﴿اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ﴾ (النحل:۹۰)

یعني یقینًا مونځ انسان د بے حیائے او د ناکاره کارونو نه منع کوی.

دا د مونځ کمال دے چې ده کښې خوف خدا پیدا شی نو دے بیا ځان د ګناهونو نه ساتی او هروخت د الله تعالی نه یریږی.

څلورمه فائده ئے دا ده چې په دے سره د الله تعالی د قانون نه واقفیت حاصلیږی ځکه چې په مونځ کښې خامخا به دے قراءت وائی نو په هغه قراءت کښې الله تعالی څۀ حکم دے نو په هغے باندې به فکر کوی او د الله تعالی د قانون او اٰئین نه واقفیت به ورته حاصلیږی.

پنځمه فائده دا ده چې په دے کښې د اجتماعیت مشق دے ځکه چې انسان چې په معاشره کښې زندګی تیروی نو دے مدنی الطبع دے او معاشرے ته محتاج دے نو د دغے نه د خبردارے د پاره به دے جمات ته راځی او د یو بل حال به ورته معلومیږی او اتحاد اتفاق، همدردی او مینه محبت به د دوی په مینځ کښې پیدا کیږی.

الله تعالی دے مونږ په صحیح معنو کښې مونځ کونکی جوړ کړی. امین

# شرک څه څیز دے

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَا يَخْلُقُوْنَ شَيْئًا وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ ٥ اَمْوَاتٌ غَيْرُ اَحْيَآءٍ ۚ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ۙ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ ٥ اِلٰـهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ قُلُوْبُهُمْ مُّنْكِرَةٌ وَّهُمْ مُّسْتَكْبِرُوْنَ ٥﴾ (نحل:٢٢)

﴿وَقَالَ تَعَالٰى: وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا﴾ (نساء:٣٦)

﴿وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: اَلشِّرْكُ اَخْفٰى فِيْ اُمَّتِيْ مِنَ اللَّيْلَةِ الظُّلْمَآءِ عَلَى الصَّخْرَةِ الصَّمَّاءِ﴾ (مستدرک حاکم)

## د لقمان حکیم صاحب نصیحت:

تیرې جمعے نه د شرک د قباحت او د حقیقت د شرک په باره کښې خبره شروع وه. شرک په ټولو ګناهونو کښې یوه عظیمه ګناه او جرم دے سورة لقمان کښې الله رب العزت د دنیا د لوې حکیم دانشور خبره نقل کوی کومه خبره چه هغه په نصحیت کښې خپل بچی ته کړې وه

﴿یٰبُنَیَّ لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِیْمٌ﴾ (لقمان:١٣)

خپل د زړهٔ ټکړې بچی ته دا اهمه خبره په نصیحت کښې وائی چه شرک مهٔ کوه ځکه شرک یو عظیمه ګناه ده لقمان حکیم په خپله مؤمن موحّد مسلمان دې او بچې ئے هم د مضبوط ایمان خاوند دې بیا هم ورته دا خبره کوی چه شرک مهٔ کوه مطلب شرک صرف د هندوانو شرک ته نهٔ وائی بلکه کله کله مسلمان هم د ناخبرے د وجے نه شرک کښې اخته کیږی.

## د شرک د قباحت بیانولو انداز:

بیا شرک او نورو ګناهونو کښې فرق دا دے چه شرک د غټے ګناه کیدو سره سره بغاوت هم دے او نور ګناهونه صرف ګناهونه دي او الله په قرآن کښې د شرک د مذمت د پاره مختلف قسم طرزونه اختیار کړی دی کله وائی چه شرک لوے ظلم دے او کله وائی چه شرک لویه ګمراهی ده او کله په دې انداز ذکر کوی چه مشرک همیشه جهنمی دے او د جنت بوئی وربانديې حرام دي او کله د شرک قباحت ذکر کولو د پاره مختلف قسم مثالونه بیانوی د دې قباحتونو او بدے ذهن کښې کینولو د پاره الله مثال بیانوی کله وائی چه د مشرک مثال د جولاګی په شان دے څنګه چه جولاګې کور د ځان د حفاظت د پاره جوړ کړی او مختلف اطرافو ته د هغے نه لارې جوړې کړی که دشمن راځی نو یوه لاره به بنده وی په بله لاره به د خپل ځان د بچاؤ بندوبست کوی خو دا جولاګې د خپل دشمن نه په دې کور کښې نۀ شی بچ کیدے کور ئے جوړ کړے دے او د دۀ ګمان دے چه دې په دې کور کښې محفوظ پاتې شی خو که دشمن د یو طرف نه راشی نو جولاګې سره د کور نه تباه کوی دغه شان مثال د مشرک هم دے چه هغه د الله دربار پریښودے وی او په خپل عمل باندې دهوکه شوے وی چه دا عمل به ما محفوظ کړی او مالره به بچ کړی، خو د مصیبت په وخت د دۀ عمل دۀ لره بچ کولے نۀ شی.

## د مشرک د معبود کمزوری:

او کله په دې طریقے سره مثال بیانوی چه:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَٱسۡتَمِعُواْ لَهُۥٓۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَن يَخۡلُقُواْ ذُبَابٗا وَلَوِ ٱجۡتَمَعُواْ لَهُۥۖ وَإِن يَسۡلُبۡهُمُ ٱلذُّبَابُ شَيۡـٔٗا لَّا يَسۡتَنقِذُوهُ مِنۡهُۚ

﴿ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ﴾(حج:۷۳)

هغه خلق چه تاسو ورته د الله تعالی نه ماسوا را اُورسے ،رامدد شه چغے وهے او تاسو خپل حاجات هغوې پورې ترلي دی چه دغه شریکان د الله به زمونږه حاجات پوره کوی نو د دې شریکانو د کمزورے او عجز حالت دا دے چه دوی ﴿لَنْ يَّخْلُقُوْا ذُبَابًا﴾ مچ په شان وړوکے ځناور د حشراتو نه نشی پیدا کولے او پیدا کول خو لرې خبره ده ﴿وَاِنْ يَّسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْئًا لَّا يَسْتَنْقِذُوْهُ مِنْهُ﴾(حج:۷۳) چه ستا دا خدائے د خپل حق تپوس هم د دغه وړوکی مخلوق نه نهٔ شی کولے که دا وړوکے مخلوق ستا د دې خدای دَ څهٔ نذرونیاز والا کیخودلے شوے خوراک د ده د دربار نه یوسی نو هغه ئے ورنه بچ کولے نهٔ شی او نهٔ د خپل حق تپوس کولے شی بیا کله چه ستا دا خدائے دومره کمزورے دے نو تالره به دا څهٔ درکړی ،ستابه څهٔ مدد اوکړی او تالره به بچی د کوم طرف نه درکړی ستانه به څنګه مصیبت لرې کړی چه هغه د خپل ځان نه څهٔ مصیبت لرې کولے نه شی بهرحال دا د قباحت بیانولو مختلف اندازونه دی چه په دې طریقو سره الله پاک په قرآن کښ د شرک مذمت او بدی بیانوی لکه څنګه چه دنیا کښ یو انسان خپل بچی یا شاګرد ته وائی هلکه هر څهٔ کوه خو دا یو کار مهٔ کوه دا کار نهٔ منم دغه شان الله رب العزت هر څهٔ معاف کوی خو شرک یو داسے جرم دے چه الله ئے نهٔ معاف کوی.

## د عوی دار مسلمان او شرک کول:

که څوک دا وائی چه په مسلمان کښ شرک څهٔ کوی مسلمانانو کښ شرک څهٔ کوی شرک خو به چرته هندوستان کافرستان کښ وی یا مسلمان څنګه مشرک کیدے شی دا د خلقو کم فهمی ده دې خلقو ته د قرآن مقصد نهٔ دے معلوم ، دې خلقو خپله عقیده او نظریه د قرآن

رنړا کښې نۀ ده کتلے قرآن پاک کښې په سورة یوسف کښې الله د دې دنیا د خلقو په باره کښې فرمائي :

﴿ وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُمْ بِاللّٰهِ إِلَّا وَهُمْ مُشْرِكُونَ ﴾(یوسف:۱۰۶)

زیات خلق داسے دی چه هغوی سره د ایمان د دعوی نه شرک کښې مبتلا وی.

نبی ﷺ یوځل په یو مجلس کښې د شرک قباحت او بدی بیان کړه. صحابه کرامؓ ئے د شرک نه اویرول چه شرک به نه کوے هسے نه چه تاسو کښې چرته شرک راشی. ابوبکرصدیقؓ په دغه مجلس کښې ناست وو او تعجّب ئے اوکړو چه اے د الله رسوله! په دې اُمّت کښې هم شرک کیدے شی د شرک هغه بوتان خو مونږ مات کړل د شرک د زندګئ نه خو مونږ د اسلام ژوند ته راغلو، ابوبکر صدیقؓ دا خبرې په نسبت د خپل ځان سره اوکړې نبی ﷺ ورته اوکتل او داخبره ئے ورته اوفرمائیله: ﴿ ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ يَا صِدِّيْق ﴾

دا د هغوی تکیه کلام وو ﴿ اَلشِّرْكُ أَخْفٰى فِي هٰذِهِ الْاُمَّةِ ﴾ شرک به په دې امت کښې ډیر په پټه طریقے سره راځی، په لاشعوری طریقو سره به راځی دا اُمت به په ځان باندې پوهه نۀ وی چې شرک به ورکښې سرایت کړے وی مسلمان حقیقت کښې شرک نۀ کوی او د شرک نه خپل ځان بچ کوی خو ځوک چه ناخبره وی نو هغه د غفلت د وجے نه په شرک کښې اخته شوی وی یا د دې وجے نه چه د قرآن نه خبر نۀ وی او یا د دې وجے نه چه د خپل کلی علاقے مولوی صاحب ، قاری صاحب ورته دا تعلیم نه وی ورکړے مسلمان چه د شرک نه خبر شی نو ځان به ورنه بچ اوساتی نو که د شرک نه خبردار نۀ وی او هغه ته شرک سراسر دین او حکم خداوندی او اطاعت د رسول ښکاری نو کله چه جهالت دې درجے

ته اورسیږی نو څنګه به داسے مسلمان نام نهاد د شرک نه بچ پاتې شی څکه نبی ﷺ فرمائی چه

﴿ اَخْفٰی مِنْ دَبِیْبِ النَّمْلَةِ فِی اللَّیْلَةِ الظُّلْمَةِ ﴾ (تفسیر ابن حاتم)

په توره شپه کښې په یوه توره ګټه چې میږې راروان وی نو هغه چې څنګه یو انسان ته نه په سترګو ښکاره کیږی، نه غوږونو باندې محسوسیږی او نه په بل اندام معلومیږی دغه شان د شرک احساس به هم انسان ته په دې حالاتو نه کیږی او دا شرک به غیرشعوری طریقے سره رو رو د میږی په رفتار زما دې امت ته داخلیږی نو شرک به په دې طریقه دې اُمت کښې دننه شی یا به شیطان دې دهوکه کښې اچولی وی چه ته مسلمان ئے، تاسره د شرک څویمه ده او څوک به د عقیدت په نیت، د ثواب په نیت ، د تعظیم اولیاء په نیت شرک کوی خو پته ورته نه لګی په (سورة آل عمران) کښې الله د دغه خلقو حالت بیان کړے الله به تپوس کوی تاسو ماسره نور شریکان ولے جوړ کړی وو نو دوی به جواب ورکړی دا خو مونږه د بزرګانو تعظیم کولو څکه دا د دۀ په خیال کښې شرک نۀ دے بلکه کار ثواب دے. قبر ته سجده کوی، بزرګ ته رکوع په حاجاتو کښې، یاعلی مدد چغه وهی او دا څیزونو د دۀ په نزد شرک نۀ دے هغه شرک ورته شیطان په خائسته صورت کښې پیش کوی او د تعظیم، احترام ، عقیدت په نوم ئے ورته شرک پیش کړے دے څکه نبی ﷺ فرمائی دې امت کښې به شرک لاشعوری طور پیدا کیږی او د دې وجه به د وحی آسمانی تعلیماتو نه لرې والے وی.

## شرک څه ته وائی؟

اوس دا خبره چه شرک څۀ څیز دے شرک او مشرک چاته وائی نو د شرک پیژندلو د پاره په ساده الفاظو کښې یو درے ټکی یاد ساتے چه

دا درے خبرې د الله نه علاوه د بل مخلوق د پاره اومنلے شي نو انسان مشرک ګرځي يو د الله خاص صفات دويم عبادت او بندګی دريم اطاعت يعنی حاکميت په ځان باندې به حاکم اعلی صرف الله منې بل څوک به نه منې که اوس يو انسان د الله په صفاتو کښ يو صفت بل چا لره ورکړی نو دا مشرک دے او دا کار ئے شرک دے د الله په عباداتو کښ يو عبادت يا د يو عبادت جزء د بل چا د پاره کوی نو دا هم شرک دے او که د الله د حکم په شان د بل چا حکم په ځان باندې فرض کوی هغه حاکم اعلی ګڼړی يا د هغهٔ داسے اطاعت کوی لکه څنګه چه د الله اطاعت کيږی نو دا هم شرک دے دا درے خبرې دی دې ته شرک وئيلے کيږی.

شاه ولی الله محدث دهلوی رحمۃ اللہ علیہ د برصغير ډير لوے محسن تير شوے دے د هغه کتاب دے (الفوزالکبير) په هغه کتاب کښ د شرک وضاحت کوی هغه وائی شرک دا دے:

﴿ اَنْ يُّثْبَتَ لِغَيْرِ اللهِ سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى شَيْئًا مِنَ الصِّفَاتِ الْمُخْتَصَّةِ بِهٖ﴾

شرک دې ته وائی چه د الله تعالی په صفاتو کښ يو صفت د مخلوق د پاره اومنلے شی او صفتونه د الله تعالی سره دومره زيات دی چه د قرآن په دوؤ سورتونو کښ الله ذکر کوی که دا دريابونه سياهی شی او د اونے قلمونه شی او ليکل شروع کړی هغه دريابونه سمندرونه سياهی به ختمه شی خو د الله صفات به ختم نۀ شی اګرچه د دې په شان اوؤ نور دريابونه ورسره شی نو بيا به هم دا کمالات د الله او صفات د الله به ختم نه شی.

## د الله دوه بنیادی صفتونه علم او قدرت:

د الله صفات ډیر ګنړ دی خو دوه بنیادی صفات دی دغے باندے مسلمان لره ځان پوهه کول غواړی یو د الله ډیر عظیم صفت علم دے دویم د الله تعالی ډیر غټ صفت قدرت او اختیار دے چې تصرف ورته وئیلے شی د الله دا تمام صفتونه دې دوه صفتونو ته راغونډیږی چه څومره صفات ګورے یا د علم سره تعلق لری او یا به د قدرت الهی سره تعلق لری، دې وجے نه د آسانتیا د پاره علماؤ دې دوؤ ته دا ټول صفات راجمع کړی دی بیا د الله او د بنده په علم کښ فرق دے زمونږ علم هم شته دے خو زمونږ علم او پوهه محدوده ، ناقصه او کمه ده دا په سترګو باندې چې مونږ کتل لیدل کولے شو که سترګے نۀ وی نو بیا مونږه هیڅ څۀ څیز نه وینو خبرې اورو په غوږونو باندې که غوږ کار پریږدی نو اسباب د علم ختم شو بیا اوریدل نشو کولے خبرې کوؤ په ژبه که ژبه کټ شی نو خبرے ختمے شی ولے د الله علم داسے نه دے د الله علم علم محیط دے بغیر د اسبابو دے او د هغه د علم څۀ انتهاء نشته د عام خلقو علم د الله تعالی په مقابله کښ هیڅ حیثیت نه لری عام خلق څۀ کوے چې پیغمبران هم د الله علم ته نشی رسیدلے. موسی علیه السلام او خضر علیه السلام په سمندر کښ په یوه کشتئ باندې روان دی سفر کوی په دغه دوران کښ یوه چنچڼه(مرغئ) راځی او معمولی یو ګوټ اوبه د سمندر نه په خپله مخوکه کښ اخلی خضرعلیه السلام حضرت موسی علیه السلام ته وائی چه د الله د علم مثال زما او ستا د علم په مقابله کښ داسے دې لکه څنګه چه د دې سمندر اوبۀ او د دې مرغئ په خُله کښ چې څومره اوبۀ راځی نو دغه شان مثال زما او ستا او د الله تعالی د علم دے د الله علم حاوی او ډیر دے لکه د سمندر په شان او زما او ستا

علم محدود ناقص او کم دے لکه د مرغۍ په خُله کښې چه څومره اوبه راځي د الله علم سمندر دے او زمونږه علم یو معمولی شان څاڅکے دے چه د مرغۍ په خُله کښې وی دې وجے نه په آیت الکرسی کښې فرمائی:

﴿لَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ﴾

د الله د علم نه څوک احاطه نه شی کولے د هغے نوم دے علم محیط او علم غیب او دا علم الله د خپل ځان نه علاوه بل چا لره نه دے ورکړے د پټ څیزونو علم د الله نه علاوه د بل هیڅ چا سره نشته لکه د کور حالات مونږ ته پته نه لګی تر څو چې چا خبر نه وی راکړے د دیوال نه اخوا څۀ کیږی پته نه لګی د چهت د پاسه څۀ کیږی پته نشته د دې ټولو څیزونو علم صرف د یو الله سره دے.

## د الله او د بنده علم کښې فرق:

دا علم نهٔ د پیغمبر سره شته، نه د یو بزرګ سره، نه د یو عام انسان سره شته دے او نه دا علم د فرښتو سره شته او نه د جنّاتو سره شته مونږه دې ځائے کښې ناست یو لکه څنګه چې مونږه ته پته نه لګی دغه شان ولی، بزرګ، فرشتے ته هم دا پته نه لګی او نه جناتو ته دا علم شته که جنات فرښتے یا انسان روان شی او هلته په بازار یا دکان کښې اوګوری بیا ورته پته لګی خو بغیر د دې نه هیڅ معلومات ورته نه کیږی.

او بل طرف ته که اوکتلے شی نو دغه علم صفت زمونږه مسلمانان د خپل جهالت د وجے نه بل چاته ورکوی کله چه د یو کور نه ډاکه غلا اوشی نو وائی چه فلانکی ځائے کښې یو سړے دے او په نوک کښې د غل شکل ښائی. څوک وائی کوزه چورلی او په هغے کښې غل ښائی د نبی ﷺ په دور کښې غلا شوې وه او پیغمبر ته د غل په باره کښې پته نه لګیده، قتل شوے دے نه قاتل معلوم دے او نه د قتل سبب معلوم دے.

قرآن د یو بل پیغمبر واقعه ذکر کړې ده بنی اسرائیلو واقعه د قتل چې په هغوی کښې یو تربور بل ورارۀ یا د تره ځوې قتل کړے وو نو وارثانو د قتل دعوی په بل چا باندې اوکړه دا واقعه موسی علیه السلام ته راوړلے شوه هغه ته پته نه لګیده نو د دې زمانے ولی ته په څنګه د غیبو معلومات کیږی.

کله به وائی په فلانی ځاې کښې مولوی صاحب دے یا پیر صاحب دے یا عامل صاحب دے چه هغه د تعویذ په ذریعه معلومات کوی. دا تعویذ دې پیرصاحب په خپله باندې یو ځاې کښې خخ کړے وی بیا د خلقو د عقائدو د خرابولو د پاره دا قسمه چل طریقے کوی او د رشته دارانو په مینځ کښې دشمنی او اختلافات پیدا کوی دا اِنسی شیطان وی فی الحقیقة. نو خبره ما دا کوله چې یو صفت د علم غیب په دې کښې الله سره څوک شریک نه دې.

والحمدلله رب العالمین.

# رد شرک

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا﴾ (النساء:۳۶)

﴿قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۚ لَا يَمْلِكُوْنَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ وَمَا لَهُمْ فِيْهِمَا مِنْ شِرْكٍ وَّمَا لَهٗ مِنْهُمْ مِّنْ ظَهِيْرٍ﴾ (سبأ:۲۲)

## د شرک قباحت او غلاظت:

مخکښې جمعه د توحید اهمیت بیان شوے وو اوس د دې بیان دے چې شرك څۀ ته وائی زمونږه په دین اسلام کښې د ټولو نه اهمه خبره ایمان او توحید دے. توحید چه زمونږه د تمامو نیکو نه غټه نیکی ده دغه شان شرك په ټولو ګناهونو کښې غټه ګناه شرك او کفر دے شرك د اعمالو د پاره اُور دے لکه څنګه چه یوه سکروټه د اُور بسرکې یو جامے ته اورسی نو هغه ټوله سیزی دغه شان شرك هم د انسان ټول نیك عمل بربادوی. شرك د ایمان د پاره زهر قاتل دے، شرك صرف ګناه نه ده بلکه بغاوت هم دے او ځکه شرك قابل معافی نه دے چه دا د بغاوت یو غټ قسم هم دے نو الله دا نه معاف کوی مشرك انسان د جنت هواء هم په سترګو نشی لیدلے او جنت ته په هیڅ یو صورت نشی داخلیدے ځکه الله فرمائی:

﴿وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَاْوٰىهُ النَّارُ﴾ (مائده:۷۲)

خوك چه شرك اوکړی نو جنت وربانديې همیشه حرام دے او جهنم د دۀ همیشه ټهکانه ده.

الله د دغه ابدی همیشه حرمت یو مثال پیش کوی چه مشرك

سړے جنت ته تلل داسے نا ممکن او محال دی لکه څنګه چه د ستنے په سُوری کښ اوښ دننه کیدے نشی ﴿حَتّٰى يَلِجَ الْجَمَلُ فِيْ سَمِّ الْخِيَاطِ﴾ (اعراف:۶۰) تردې پورے چه اوښ د ستنے په سُوری کښ دننه شی نو څنګه چې دا کیدے نشی دغه شان مشرك انسان جنت ته نشی داخلیدے مطلب په هیڅ یو قیمت مشرك انسان جنت ته نشی داخلیدے.

## ناقابل معافی جرم او ګناه:

او بیا دا شرك دومره غټ ناقابل معافی جرم دے چه الله دا مشرك خامخا جهنم ته داخلوی که هغه د پیغمبر څوې وی او که د پیغمبر پلار وی او که د پیغمبر ترۀ وی په هر صورت به مشرك انسان جهنم ته ځی او که مشرکه د پیغمبر ښځه ولے نه وی الله ورته معافی نه کوی قرآن د دے نه یو قدم مخکښ ځی چه دا شرك دومره غټه بدترینه ګناه ده که یو پیغمبر بالفرض شرك اوکړی نو الله ورته شرك نه معاف کوی قرآن کښ الله دوه ځایه دا خبره ذکر کړے ده یو ځائے کښ د عامو انبیاؤ تذکره کوی بیا وائی: ﴿وَ لَئِنْ اَشْرَكُوْا لَحَبِطَ عَنْهُمْ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ﴾(انعام:۸۸) که بالفرض دې پیغمبرانو شرك کړے وے نو الله به د دوی عمل برباد کړے وے او یو ځائے کښې خپل پیغمبر ته وائی ﴿لَئِنْ اَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ﴾(زمر:۶۵) اے پیغمبره که بالفرض تا هم شرك اوکړو الله به ستا عمل هم خراب کړی او برباد به ئے کړی. پیغمبران الله د الله د توحید د بیان د پاره جوړ کړی وی هغوی په هیڅ صورت شرك نه کوی بله ګناه نه کوی شرك خو لا درکنار خو الله صرف د شرك قباحت بیانوی او عام انسانانو ته تعلیم ورکوی که بالفرض پیغمبر هم شرك کړے وے نو معاف کیږی نه ،نو نور انسانان به څنګه معاف شی. د شرك نه وړه ګناه کله الله په خپل رحم سره یا د پیغمبر په شفاعت سره معاف کوی خو ولے شرك یو

داسے ګناه ده چه په مشرك انسان باندې نه الله رحم کوی او نه د پیغمبر شفاعت ورکې قبلیږی.

## د اُمت باره کښ شفاعت:

دې وجے نه حدیث کښ راځی یو ورځ نبیﷺ د سحر مونځ اوکړو د مانځه نه بعد ئے صحابو ته مخ راواړولو تپوس ئې اوکړو اے صحابو بیګا شپه کښ خو چا خواب نه دے لیدلے ځکه نبی علیه السلام به د خوب تعبیر بیانو نو صحابو جواب ورکړو چه نا د الله رسوله مونږه هیڅ قسم خوب نۀ دے لیدلے نو نبیﷺ اوفرمائیل چه ما خوب لیدلے دے بیګا ما لره دوه فرشتے خوب کښ راغلے ما ته ئے دا خبره اوکړه چه مونږه الله رب العزت رالیږلی یو او الله رب العزت فرمائی پیغمبر ته اووایه دوه خبرې دی چه کومه خبره منظوره کول غواړی نو هغه به کیږی یو دا چه ستا نیم امت به بغیر د حساب کتاب نه جنت ته لاړ شی او که دا ستا خوښه ده چه تاله د شفاعت اجازت درکړم نبیﷺ فرمائی ما دا دویمه خبره خوښه کړه چه نیم امت دې جنت ته نه ځی خو چې ما ته د شفاعت اجازت او موقع ملاؤ شی مقصد د پیغمبر په خپل امت رحم کول او د جهنم نه ډیره اندازه باندې اُمتیان بچ کول وو او که پیغمبر شفاعت کوی نو مجرم ګناه ګار به د شفاعت نه بعد الله جنت ته داخل کړی ځکه د پیغمبر شفاعت به د هر مومن مسلمان جنتي د پاره وی په دې شرط چې شرك ئے نه وی کړې بیا نبیﷺ دې فرشتو ته اووئیل چه زما د دې شفارس مستحق څوك دی نو فرشتو اووئیل ﴿وَهِيَ لِمَنْ مَعَكَ لَا يُشْرِكُ بِاللَّهِ شَيْئًا﴾(مسند احمد) دا به هغه چا د پاره وی چه الله سره ئے شرك نه وی کړے او کوم بد بخته، بد نصیبه چې شرك کړے وی نو په دغه ورځ به د شفاعت نبویﷺ نه محرومه وی او ترمذی کښ یو حدیث دے

نبی ﷺ فرمائی: ﴿شَفَاعَتِیْ لِمَنْ لَّا یُشْرِكُ بِاللهِ مِنْ اُمَّتِیْ شَیْئًا﴾ زما شفاعت به د هغه چا د پاره وی چه د الله سره شرك نه کوی د دې نه بغیر نور هر قسم گناهونه الله معاف کوی قرآن کښ الله فرمائی:

﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ﴾

(نساء: ۴۸)

الله د شرك نه علاوه نور گناهونه معاف کوی چا ته چې اوغواړی خو شرك نه معاف کوی. په یو بل حدیث قدسی کښ راځی:

﴿یَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ لَوْ أَتَیْتَنِیْ بِقِرَابِ الْأَرْضِ خَطَایَا ثُمَّ لَقِیْتَنِیْ لَا تُشْرِكُ بِیْ شَیْئًا لَأَتَیْتُكَ بِقِرَابِهَا مَغْفِرَةً﴾ (رواه الترمذی )

اے ابن آدمه که تا ما ته د قیامت په روځ د زمکے پورې گناهونه راوړی وی خو شرك دې نه وی کړے زۀ به تا ته د دې په مقدار بخښنه اوکړمه او زۀ څۀ پرواه نه کوم مطلب صرف شرك نه معاف کوم.

## د نبی ﷺ یو اهم قیمتی وصیّت:

د نبی ﷺ درې خادمان وو یو خادم حضرت بلال رضی الله عنه وو دۀ به ټول حساب کتاب د نبی ﷺ د خرچے کولو. بل انس رضی الله عنه وو دۀ به دَ کور څۀ کارونه وو سوال جواب وغیره ځکه دا کم عمره صحابی وو بل عبدالله بن مسعود رضی الله عنه کول دا د نبی ﷺ د سفر خادم وو دۀ ته (**صاحب الوسادة و النعلین**) وائی د نبی ﷺ تکیه او څپلے به دۀ سره وے دا وائی یو ځل نبی ﷺ باهر طرف ته اووتو او زۀ ورسره خپو طرف کښ کیناستم نو ما ځان سره زړۀ کښ اووئیل چه نبی ﷺ ځان له دے راشه دَ دین په باره کښ څۀ تپوسونه ورنه اوکړه نو یو تپوس ما دا اوکړو اے د الله پیغمبره ﴿اَیُّ الذَّنْبِ اَکْبَرُ﴾ کومه گناه لویه گناه ده نو نبی ﷺ جواب راکړو چې ﴿اَنْ تَدْعُوَ لِلّٰهِ نِدًّا وَهُوَ خَلَقَكَ﴾ چې ته د الله سره شریك جوړ

کړې او الله ته پیدا کړے ئے دا لوئے جرم او ګناه ده چې الله پیدا کونکے دے او ته د هغه سره بل څوك رامدد کوے مطلب د الله سره مخلوق شریکول لویه ګناه ده دا د نبیﷺ فتوی ده او خپل خادم صحابی ته ئے دا فتوی ورکړې ده چه په ګناهونه کښې لویه ګناه دا ده چه انسان په حاجاتو کښې بل چا ته رامدد شه اووائی علماء، خطیبان، واعظین د جمعه په بیاناتو کښې نورے ډیرې فتوې د مفتیانو ذکر کوی پکار دا دی چه دا د نبیؓ فتوی هم ذکر کوی ځکه خطیب، صاحب واعظ صاحب د مکروه تنزیهی مسائل بیانوی خو د حرام اعظم شرك رد نه کوی او دا ډیره اهمه مسئله ده د علماؤ په ذمه دارو کښې یوه اهمه ذمه داری دا هم ده چه د شرك رد اوکړی ځکه علماء د انبیاء وارثان دی او د انبیاؤ اهمه ذمه داری بیان توحید او رد شرك وو پیغمبران د خپل دعوت شروع د مونځ، روژې، حج، زکاة مسائل نه نه کوی د توحید نه د خپل دعوت شروع کوی. عالم به حقیقی وارث د پیغمبر هله وی چه د هغه مشن شروع کړی او پوره پوره خلقو ته ئے بیان کړی.

نفسیر قرطبې دَ دې آیت لاندې ذکر کوی:

﴿اِنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ﴾(کهف:۱۱۰) لیکی چه ﴿اِنَّ اَوَّلَ مَا يَجِبُ اِظْهَارُهٗ وَلَا يَجُوْزُ كِتْمَانُهٗ اَمْرُ التَّوْحِيْدِ﴾

هغه اوله مسئله چه د هغې بیان د علماؤ ذمه داری ده هغه دا چې توحید بیان شی او دا پټول ، روسته کول ، نهٔ بیانول جائز نهٔ دی. د دې بیان په هر دور کښې فرض او لازم دے او نهٔ بیانول په هر دور کښې حرام او ناجائز دی.

شیخ عبد القادر جیلانیؒ په خپل کتاب (**الفتح الربانی**) کښې وائی ﴿اِسْتِغَاثَةِ الْمَخْلُوْقِ بِالْمَخْلُوْقِ كَاسْتِغَاثَةِ الْغَرِيْقِ بِالْغَرِيْقِ﴾

د مخلوق د مخلوق نه مدد غوښتل داسے مثال لری لکه ډوبیدونکے سړے چه د بل ډوب شوی سړی نه مدد غواړی یو سړے په خپله په یو دریاب سمندر کښ روان وی او غرقیږی نو هغه به د بل ډوب شوی سړی څۀ مدد اوکړی ځکه دا خپله محتاجه دے نو بل به څنګه بےاحتیاجه کړی الله دې د شرك د قباحت او نحوست نه مونږه محفوظ کړی. امین

# مسئله د علم غیب

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِہٖ وَ اَصْحَابِہِ الْاَتْقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿ أَفَحَسِبَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَن يَتَّخِذُوا عِبَادِي مِن دُونِي أَوْلِيَاءَ إِنَّا أَعْتَدْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَافِرِينَ نُزُلًا ﴾

وقال تعالی: ﴿ قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِهِ فَلَا يَمْلِكُونَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنكُمْ وَلَا تَحْوِيلًا ﴾ (بنی اسرائیل:۵۶)

په ایمانیاتو کښې د الله تعالی وحدانیت منل یو بنیادی عقیده ده. بلکه په تمام ایمانیاتو کښې توحید ته د اساس حیثیت حاصل دے. که بنیاد کمزورے وو نو دَ باقی عقائدو اٰبادی به کمزورے وی.

سورة فاطر کښې الله تعالی د خپل وحدانیت اهمیت بیانوی.

الله تعالی فرمائی.

﴿إِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهُ﴾ (فاطر:۱۰)

یعني په کلمه د توحید باندې به انسان بچ کیږی او بیا د هغے د وجے نه نیك اعمال الله تعالی ته قابل قبول ګرځی.

دا رنګ فرمائی.

﴿وَقَدِمْنَا إِلَىٰ مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَّنثُورًا﴾ (فرقان:۲۳)

یعني د عقیدے د توحید د نیشوالی د وجے نه به الله تعالی د قیامت په ورځ د کفارو ټول نیك اعمال برباد اوګرځوی.

د مکے مشرکینو به مونځ هم کوو او حجونه به ئي هم کول.

الله تعالی فرمائی

﴿وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِندَ الْبَيْتِ إِلَّا مُكَاءً وَتَصْدِيَةً﴾ (انفال:۳۵)

یعنی د مشرکینو مونځ په بیت الله کښی لاسونه پړقول او شپیلی وو.
خو لیکن د اللّٰه تعالی د وجود منلو سره سره د اللّٰه تعالی د توحید قائل نه وو.
نو دا دوه خبرے چې یوځائ شی نو دے ته ایمان وائی. چی یو دا للّٰه تعالی وجود دے او بل د اللّٰه تعالی وحدانیت دے.
یهود و عزیر، نصاراؤ عیسی علیه السلام د اللّٰه تعالی سره شریك ګڼړل . د دے وجے نه ټول اعمال ئي برباد دی.
اوس توحید د اللّٰه تعالی په صفاتو او اسماؤ سره راځی. او صفات د اللّٰه تعالی لا تعد ولا تحصی دی خو دا ټول صفات بیا په دوو صفاتو کښې راټول دی.
یو علم غیب او دویم قدرت، واکداری او کارسازی د اللّٰه تعالی منل.
اوس د دے صفتونو منلو سره سره په دے صفتونو کښې اللّٰه تعالې سره څوك نه شریکولو ته توحید وائي.
نو که دا صفات د بل چا دپاره اومنلے شي نو دے ته به شرك وئیلے کیږي.
سورة کهف کښې اهم عنوان د علم غیب ذکر کیږي او په دے عنوان په دغه سورت کښې څلور واقعات ذکر کیږي.
یو د انبیاؤ واقعه چې هغه حضر او موسٰي علیهما السلام ده . خو حضر علیه السلام د تعارف نه مخکښې موسٰي علیه السلام نه پیژندو او دا رنګ موسی علیه السلام د حضر علیه السلام په بعضے کارونو نه پوهیدو.
دویمه واقعه د اولیاؤ ده چې اصحاب الکهف دی چې کله پاسیدل نو د خپل خوب حالت ورته هم نه وو معلوم.

دريمه واقعه د نبی کريم ده چې کله ترينه د اصحاب الکهف په باره کښې تپوس اوکړے شو نو دوی اوفرمائيل چې صبا له به درته اووائم نو وحې منقطع شوه او بيا ورته الله تعالې اوفرمائيل چې داسے مه وايه چې صباله به درته اووائم بلکه ان شاء الله ورسره وايه.

څلورمه واقعه د ذوالقرنين ده چې د خپل قوم په ژبه بغير د ترجمان نه نه پوهيدو.

سورة نمل کښې الله تعالې فرمائی.

﴿قُل لَّا يَعْلَمُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ﴾ (النمل:٦٥)

يعني ته ورته اووايه اے پيغمبره! د الله تعالی نه ماسواء په زمکو اسمانونو کښې هيڅ څوك عالم الغيب نيشته. بلکه دوې خو په دے هم نه پوهيږي چې کله به دوباره ژوندی کيږی.

د نبی کريم په باره کښې هم الله تعالی فرمائی

﴿قُل لَّا أَقُولُ لَكُمْ عِندِي خَزَائِنُ اللَّهِ وَلَا أَعْلَمُ الْغَيْبَ﴾ (انعام:٥٠)

يعني اووايه! چې زه تاسو ته دا نه وائم چې ګنی ماسره خزانے د الله تعالی دی او نه دا وايم چې ګنې زه عالم الغيب يم.

دا رنګ د نبی کريم په ژوند کښې هم ګڼړ واقعات په دے دلا لت کوی چې نبی کريم عالم الغيب نه وو.

لکه يوځل نبی کريم مونځ کوو نو په لاس ورله لړم ټك ورکړو. نو که نبی کريم په غيبو پوهيدے نو په لړم به ئې لاس نه ايخودو.

دا رنګ يوځل څه خلق نبی کريم ته راغلل چې مونږ له قاريان راکړه چې مونږ ته دين اوښائی . نبی کريم ورسره اويا قاريان کړل خو

هغوی صحابه کرام په دهوکه باندې شهیدان کړل. نو که نبي کریم په غیبو پوهیدو نو دا نوبت به نه راتلو.

دا رنګ منافقانو په حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها باندې تهمت لګولے وو او پوره یو میاشت ټول مسلمانان سره د نبی کریم پریشان وو خو چې وحی نه وه راغلے نو نبی کریم ته هم پته نه لګیدله چې په دے مسئله کښې څه حقیقت دے.

نو ملا علی قاری رحمة الله علیه فرمائی.

چې څوك د الله تعالی نه ماسواء بل چاله عالم الغیب ګنړی نو دا انسان کافرکیږی.

دویم صفت د الله تعالی دادے چې متصرف صرف الله تعالی دے.

مصیبت راوستل او تکلیف لرے کول د الله تعالی کار دے.

ابراهیم علیه السلام فرمائی. ﴿وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ﴾(الشعراء:۸۰)

یعني کله چې زه بیمار شم نو الله تعالی ماله شفاء راکوی.

دا رنګ اولاد ورکول د الله تعالی په اختیار کښې دی.

سورة شوری کښې الله تعالی فرمائی.

﴿يَهَبُ لِمَن يَشَاءُ إِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَن يَشَاءُ الذُّكُورَ أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَاثًا وَيَجْعَلُ مَن يَشَاءُ عَقِيمًا إِنَّهُ عَلِيمٌ قَدِيرٌ﴾ (سورة الشوری:۴۹،۵۰)

ابراهیم علیه السلام او زکریا علیه السلام له ئي چې کله نه ورکوی نو اولاد نه وو خو چې کله الله تعالی اوغوښتل نو په بوډه والی کښې ئي ورکړل.

دا رنګ د نبی کریم اولاد وو خو په ماشوم والی کښې ترینه الله تعالی واغستل نو دا هر څه د الله تعالی په اختیار کښې دي.

الله تعالی دے مونږ په دے عقائدو باندې برابر کړی. امین

# مسئله د استعانة غوښتلو

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِهِ فَلَا يَمْلِكُونَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنكُمْ وَلَا تَحْوِيلًا ﴾

(بنی اسرائیل:۱۱۱)

د الله تعالی د توحید بنیاد د الله تعالی اسماء او صفات منل لازمی دی.

بیا په صفاتو کښې دوه بنیادی صفات منل خو ډیر لازمی دی ځکه چې نور صفات دے دوؤ صفتونو ته راجع کیږي.

یو علم غیب او بل قدرت د الله تعالی .

نو کله چې په دے دوو صفاتو باندې د یو انسان ایمان جوړ شي نو نتیجه به ئي دا وي چې په هر حالت کښې به بیا د الله تعالی نه مدد غواړی او د هر مصیبت لرے کولو د پاره به الله تعالی ته خپله عاجزی وړاندې کوی.

الله تعالی سورة مومن کښې فرمائی.

﴿ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ ﴾(مومن:۸۵)

یعني ستاسو رب فرمائی چې مانه دعاء غواړئ ، زه دعا قبلونکے یم.

او بل ځای کښې فرمائی.

﴿ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ﴾(غافر:۶۰)

یعني الله تعالی فرمائی چې ما نه اوغواړی ځه به درله درکوم او ستاسو دعاګانے به قبلوم. خو څوك چې مانه د کبر د وجے نه نۀ غواړی یا

د بل چانه غواړی نو الله تعالی به ئي رسواء او ذليله کړی او په اٰخرت کښې به ئي جهنم ته داخل کړی.

يو حديث کښې هم دا راځی چې څوك مانه سوال نه کوی او بل نه غواړی نو دا انسان زما بے عزتی کوی.

دا رنګ بل حديث کښې راځي مَنۡ لَمۡ يَسۡأَلِ اللهَ يَغۡضَبۡ عَلَيۡهِ (ترمذی:۶۰)

يعني څوك چي د الله تعالی نه سوال نه کوی نو الله تعالی وربانديې غصه کيږی.

د دے خبرے اقرار انسان په هره ورځ کښې پنځه ځله د الله تعالی سره اقرار کوی چې ﴿ إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ﴾ (الفاتحہ:۵)

يعني مدد به خاص هم ستانه غواړو د بل چانه به نه غواړو.

د غير الله نه د سوال کولو په رد کښې الله تعالی فرمائی.

﴿ قُلِ ادۡعُوا الَّذِينَ زَعَمۡتُم مِّن دُونِ اللهِ لَا يَمۡلِكُونَ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الۡأَرۡضِ وَمَا لَهُمۡ فِيهِمَا مِن شِرۡكٍ وَمَا لَهُ مِنۡهُم مِّن ظَهِيرٍ ﴾ (سبا:۲۲)

يعني ته اوو‌ايه چې راؤبلئ هغه کسان چې تاسو پرے د معبودئ ګمان کوئ هغوی خو په زمکه او اسمانونو کښې د کك ذرے هم مالکان نه دی او نه هغوی لره پکښې شريکوالے شته او نه به هغوی لره څوك امدادی وی.

دا رنګ سورة بني اسرائيل کښې فرمائی.

﴿ قُلِ ادۡعُوا الَّذِينَ زَعَمۡتُم مِّن دُونِهِ فَلَا يَمۡلِكُونَ كَشۡفَ الضُّرِّ عَنكُمۡ وَلَا تَحۡوِيلًا ﴾ (اسراء:۵۶)

يعني ته اوو‌ايه چې راؤبلی خپل معبودان باطله . هغوی خو ستاسو نه تکليف نشي لرے کولے او نه هغه ستاسو نه بدلولے شی.

دا رنګ سورة اعراف کښې فرمائی.

﴿ إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ عِبَادٌ أَمْثَالُكُمْ ﴾(اعراف:۱۹۴)

يعني هغه كسان چې تاسو ئي د الله تعالى نه ماسواء رابلئ نو هغوى خو ستاسو په شان بندګان دى.

د دے وجے نه يو شاعر فرمائى.

جو خود محتاج ہو دوسروں کا بلا اس سے مدد مانگنا ہے کیا

شيخ عبد القادر جيلانى يعني لوے ځوان عليه الرحمة په خپل كتاب الفتح الربانى كښې فرمائى.

د مخلوق نه حاجت غوښتل دا سے دى لكه

كاستغاثة الغريق بالغريق

يعني دا داسے ده لكه چې يو غرق شوے سړے د بل غرق شوى نه په اوبو كښې مدد غواړى.

دا رنګ نبى كريم خپل د تره ځوئ عبد الله بن عباس ته يو ورځ وفرمائيل چې كه دا ټوله دنيا ستا په ضرر رسولو راغونډه شى او الله تعالى ئي اراده نه وى كړې نو ضرر نه شى دررسولے او كه فائده دررسول غواړى نو بغير د ارادے د الله تعالى نه هيڅ فائده نه شى دررسولے .

د دے وجے نه كله چې هم مدد غواړے نو د الله تعالى نه غواړه.

سورة يونس كښې الله تعالى فرمائى.

﴿وَلَا تَدْعُ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ فَإِن فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِّنَ الظَّالِمِينَ﴾(يونس:۱۰۶)

يعني د الله تعالى نه ماسواء هغه معبودان باطله مه رابلې چې نه تاسوته ضرر دررسولے شى او نه نفع. كه چرته تاسو داسے كار اوكړو نو تاسو به شرك كونكے يئ.

دا رنګ يو سورة كښې ئي ورته ګمراه وئيلے دے .

﴿وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّن يَدْعُو مِن دُونِ اللهِ مَن لَّا يَسْتَجِيبُ لَهُ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَهُمْ عَن دُعَائِهِمْ غَافِلُونَ﴾(احقاف:۵)

يعني څوك دے ډير لوے ګمراه د هغه چانه چې د الله تعالى نه ماسواء دا سے خلقو ته چغے وهی چې دعا ئي نه شي قبلولے بلكه هغوی خو د دوی د بلنے نه ناخبره دی.

په سورة اعراف كښې ئي ورته ارتداد وئيلے دے او سورة رعد كښې ئي ورته كفر وئيلے دے او سورة فاطر كښې ئي ورته شرك وئيلے دے.

د دے څو صفاتو منل او څه نه ځان بچ كولو ته توحيد وئيلے كيږی.

دا مسئله نبی كريم ښه واضحه بيان كړے ده او د دے مسئلے هره پهلو ئي پوره پوره بيان كړے ده ځكه چې بل پيغمبر راتلونكے نيشته. دا رنګ بل كتاب هم نه راځی.

په يو موقع كښې نبی كريم د صحابو نه دا محسوسه كړه چې دوې ما ډير غټ ګڼړی نو وے فرمائيل

﴿لَا تُطْرُونِي كَمَا أَطْرَتِ النَّصَارَى ابْنَ مَرْيَمَ؛ فَإِنَّمَا أَنَا عَبْدُهُ، فَقُولُوا: عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ﴾(بخاری)

نو مطلب دا دے چې د بندګۍ نه مې ښكته نه كړئ او د رسالت نه مې مه اوچتوئ ځكه چې د بندګۍ نه ښكته كول توهين دے او درسالت نه اوچت ګڼړل شرك دے.

دا رنګ فرمائی.

﴿أَلَا وَإِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ كَانُوا يَتَّخِذُونَ قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ فَإِنِّي أَنْهَاكُمْ عَنْ ذَلِكَ﴾ (مسلم)

يعنى ستاسو نه وړاندې بعضے خلق داسے وو چې د انبياء قبورو نه ئي سجده ګاه جوړه كړے وه نو يقينا زه خو تاسو د دے كار نه منع كوم.

دارنگ حضرت عائشه فرمائی چې د ځنکدن په وخت کښې څو خبرے کړے وے په هغے کښې یو خبره د الله تعالی نه دعا غوښتل وو. نبی کریم فرمائی.

﴿اللّٰهُمَّ لَا تَجْعَلْ قبری وثنًا یُعْبَدُ﴾ (موطا)

یعني اے الله ! زماقبر بت مه ګرځوے چې خلق ئې عبادت کوي.

دارنګ بل یو حدیث کښې راځی چې

اشْتَدَّ غَضَبُ اللهِ عَلَى قَوْمٍ اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ (بخاری)

یعني د الله تعالی سخت غضب دے وی په هغه چا باندې چې د انبیاء کرامو قبرونو نه سجده ګاه جوړوی.

دارنګ په یوموقع یو صحابی نبی کریم ته اوفرمائیل چې مونږ به هم تاته د تعظیم د پاره سر ټیټوؤ.

نبي کریم ورته اوفرمائیل چې کله زۀ مړ شم نو بیا به مې قبر ته سجده کوے نو هغه اووئیل چې نه . نو نبی کریم ورته اوفرمائیل چې بیا راته په ژوند کښې هم مه کوه.

دا رنګ مطالبه سلمان فارسي هم کړے وه نو نبی کریم ورته اوفرمائیل چې د هغه ذات ته سجده اوکړه چې په هغه باندې مرګ نه راځی.

دا رنګ کله چې د نبی کریم ځوے وفات شو نو په هغه ورځ نمر تندر نیولے وو نو بعضے خلقو څه خبرے شروع کړے چې دا د ابراهیم د وجے نه نمر تندر اونیوو.

نبی کریم ته چې کله پته اولګیده نو نبی کریم مسجد نبوی کښې منبر ته اوختو او وے فرمائیل

﴿إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللهِ لَا يَخْسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ﴾ (بخاری و مسلم)
یعني نمر او سپوږمۍ د الله تعالی د نخښو نه یوه نخښه ده . دا دواړه د چا د مرګ او د ژوند د وجې نه تندر نه نیسی.
دا رنګ د نمرختو او په یو نیزه کیدو او د پریوتو په وختونو کښې به عبادت نه کوے ځکه چې د غیر الله د عبادت سره مشابهت راځی.
دا رنګ جنازه کښې ئې رکوع او سجده نه ده مقرر کړے ځکه چې غیر الله ته سجده کول لازم رانشی.
الله تعالی دے مونږ ته په دے خبرو د عمل توفیق رانصیب کړی. امین

# رسالت (۱)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿قُلْ يٰاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الَّذِيْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَكَلِمٰتِهٖ وَاتَّبِعُوْهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ﴾ (اعراف:۱۵۸)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: كُلُّ اُمَّتِيْ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ اِلَّا مَنْ اَبٰى قِيْلَ مَنْ اَبٰى؟ قَالَ مَنْ اَطَاعَنِيْ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ عَصَانِيْ فَقَدْ اَبٰى﴾ (مسند احمد)

## د رسالت الرسل ضرورت:

د كلمے طيبے په اولنى جزء كښې د الله تعالى د توحيد بيان دے چې هغے ته ايمان بالله وئيلے كيږى الله منل چې يو ذات شته موجود دے او بيا هغه وحده لا شريك منل، نه په ذات او نه په صفاتو كښې او نۀ په كارونو كښې حصه دار او شريك لرى. او په دويم جزء كښې د الله تعالى د پيغمبر د رسالت اقرار دے.كله چې انسان الله واحد لا شريك منى نو هغه به دا هم منى چې د الله څۀ تعليمات دى د هغه څۀ اوامر او نواهى دى د هغۀ د بنده نه څۀ مطالبه ده كوم كارونه د كولو دى او كوم د نۀ كولو دى الله په څۀ باندې راضى كيږى او په څۀ باندې ناراضه كيږى او د انسان د پاره كومے خبرې د فائدې دى او كوم څيزونه د تاوان او نقصان دى او بيا د الله خالق مالك اله منلو دا تقاضه ده چې انسان په دنيا كښې د الله بندګى اوكړى او د هغۀ فرمانبردار جوړ شى نو دَ دې ټولو خبرو معلومات به د كومے لارې نه كيږى د انسان عقل سمجه بوجه دا ټولې خبرې نۀ

شي راګیرولے نو د هغے د پاره الله د رسالت او پیغمبرئ سلسله جاري کړه او دا یو لوي نعمت دے په بني ادم باندې.

اوس د الله تعالی وحدانیت په کومو کومو څیزونو کښې منل؟ او خپل ژوند د الله تعالی په بندګئ کښې تیرول به په څنګه طریقه کیږی؟ او د الله تعالی احکامات به بنده ته څهٔ رنګه معلومیږی؟

د دے ټولو مقاصدو د حصول د پاره الله تعالی په امت کښې مقدسے هستئ پیدا کړی دی چې د الله تعالی د پیغاماتو ترجماني کوی. دغے بزرګو هستو ته انبیاء کرام وئیلے کیږی. او دا پاکے هستے د اُمت د هدایت د پاره او د انسانانو په سمه لاره باندې بوتلو د پاره چې د دوی رهنمائی څوك اوکړی د هغے د پاره الله به وخت په وخت انبیاء کرام علیهم السلام دنیا ته رالیږل.

## د انبیاؤ ابتداء او انتهاء:

د دے انبیاء کرامو علیهم السلام شروع الله تعالی د اٰدم علیه نه کړے وه. بلکه الله تعالی به ورسره په دنیا کښې خبرے کولے.

په ابتداء کښې د پیغمبرانو رالیږل به صرف خاص خاص قومونو ته وو ځکه چې خلق د یو بل نه لرے پاتے کیدل . بیاچې کله فاصلے کمے شوے او د خلقو رابطے جوړے شوے او د یو بل په مزاج پوهه شول او انسانیت خپل سن بلوغ ته اورسیدل نو الله تعالی نبي کریم ﷺ د ټول عالم د پاره پیغمبر راولیږو. او الله یو داسې قانون ورته ورکړو د انسانانو د پاره چې تر د قیامت ورځ پورې د انسان په دې قانون باندې عمل کولے شی او دې انسان ته به څهٔ مشکل په مخه باندې نه راځی.

بیا الله تعالی نبي کریمﷺ مکه کښې پیغمبر جوړ کړو. او مکه عربو کښې ده. چې یو طرف ته ترے ایشیاء ده او بل طرف ته افریقه او

یورپ هم ورته لنډ دے. دا رنګ عرب په خط استواء باندے واقع دی.

بیا په دے اعتبار هم مکه اهمیت لری چې الله پاك د دے ځاې نه دنیا آباده کړے ده. ځکه چې د زمکے په سر اولنے کور بیت الله شریف وو.

بله دا چې عرب د نورو قومونو په اعتبار سره انتهائی بهادر، محنت کش او دغلامۍ نه آزاد وو. او د نبی کریم ﷺ د بعثت په وخت کښې دا عرب اٰزاد قبائل وو. نور خلق څوك د ایران ماتحت وو او څوك د فارس.

بل دا چې الله تعالی پاك دوی ته یو عالمی ژبه عربي نصیب کړے وه.

نو د دے ټولو خصوصیاتو د وجے نه الله تعالی په خصوصی طور خپل خاص پیغمبر راؤلیږو.

چې د ټول عالم دپاره ئے راؤلیږه.

قراٰن کریم کښې الله تعالی فرمائی:

﴿ قُلْ يٰاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الَّذِيْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَكَلِمٰتِهٖ وَاتَّبِعُوْهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴾(اعراف:۱۵۸)

یعني اے پیغمبره ! دے خلقو ته اووایه چې زۀ ټول عالم د پاره الله تعالی رسول رالیږلے یم د دے دعوت د پاره چې نیشته دے لائق د بندګۍ سواء د الله تعالی نه چې ژوندی کو ل او مړۀ کول کوی نو په الله تعالی او د الله تعالی په هغه رسول ایمان راؤړئ چې امی دے او هغه ایمان په الله تعالی او د هغه په کلماتو لری نو تاسو د دغه پیغمبر اتباع اوکړئ دے د پاره چې تاسو په صحیح لار روان شئ.

بهرحال د نبی کریم ﷺ منل د کلمے طیبے د دویم جزء مقصد دے.

## د نبی ﷺ منل څه ته وائی:

د نبی کریم ﷺ منل د هغه اتباع کول دي.
قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی:
﴿قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ﴾(آل عمران:۳۱)
یعني اے خلقو کۀ تاسو د الله تعالی د محبت دعویٰ کوے نو راشئ زما اطاعت او تابعداری اوکړئ تاسو ته به د الله تعالی مینه ملاؤ شي.ځکه محبت صرف د خولے دعوے ته نۀ وائی چې په خولۀ باندې دا خبره اوکړے چې زۀ د الله سره محبت او مینه کو م د هغه احکامات ماته خوښ او محبوب دی نا دا به په عملی ژوند سره ثابتوې چې ستا سره د دې خولے د دعوے ثبوت عملاً موجود وی او تۀ هغه په عمل کښې راولې نو بیا به په حقیقت کښې ستا د الله سره مینه او محبت وی او د دې دعوے تصدیق به ستا بدنی اعمال په هره موقع باندې کوی.
دا رنګ سورة نجم کښې فرمائی:
﴿وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى﴾(نجم:٦)
یعني دا پیغمبر د ځان نه خبرے نۀ کوی بلکه څۀ چې وائی نو هغه خو د الله تعالی وحی ده.

## د دنیا خبرې او پیغمبر:

نو د نبی کریم ﷺ هره خبره منل ضروری دی. خو چې دینی خبره وی.
په دنیوی امورو کښې منل واجب نۀ دی.
یو ځل صحابو رضی اللہ عنہم په کهجورو کښې قلم لګوؤ. نبی کریم ﷺ ترے نه منع کړل. چې هر څۀ الله تعالی کوی. په هغه کال کهجورے کمے

اوشوے نو صحابو رضی اللہ عنہم نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم ته خبر ورکړو چې ستاسو خبره منلو سره کهجورے کمے اوشوے نو نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم ورته اوفرمائیل چې تاسو د دنیا په کارونو ښهٔ پوهیږئ . چې څنګه مو خوښه وی ، هغه شان کوئ.

## کامله مسلمانی:

کامله مسلماني دا ده چې د پیغمبر هره خبره اومنلے شی او عمل پرے اوکړے شی .

یوحدیث کښي نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم فرمائی:

﴿ كُلُّ أُمَّتِيْ يَدْ خُلُوْنَ الْجَنَّةَ إِلاَّ مَنْ أَبَى قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَمَنْ يَأْبَى قَالَ مَنْ أَطَاعَنِي دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ أَبَى ﴾ (بخاری)

یعني زما ټول امتیان به جنت ته ځی مګر څوك چې د جنت ته تلو نه انکار اوکړی . نو صحابو رضی اللہ عنہم ترینه تپوس اوکړو چې څوك به انکار کوی؟

نو نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم اوفرمائیل چې چا زما تابعداری اوکړه نو دے به جنت ته داخلیږی او چا چې زما نافرمانی اوکړه نو ده جنت ته د داخلیدو نه انکار اوکړو.

سورة نساء کښي الله تعالی فرمائی:

﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوْا فِيْ أَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا﴾ (نساء:٦٥)

یعني قسم مې دې وی ستا په رب چې د دوی ایمان تر هغے پورے کامل کیدے نه شی چې تر څو پورے دوی تا د خپلو فیصلو مشر اونهٔ ګرځوی او بیا چې تهٔ کومه فیصله اوکړے نو چې په هغے باندې تندے تریو نهٔ کړی او هغه په زړهٔ سره اومنی.

سورة احزاب کښې الله تعالی فرمائی:

﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللهُ وَرَسُوْلُهٗ اَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ﴾(احزاب:۳۶)

یعني د الله تعالی او د هغه د رسول د فیصلے مخښے ته د چا اختیار هم نیشته . دغه فیصله به لازمی منی.

## اطاعت رسول ﷺ او صحابه رضی الله عنهم:

یوصحابی رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ مجلس ته راغے ، په لاس باندې ئے د سرو زرو ګوتمه وه. چونکه دا په سړی حرام دی نو ځکه نبی کریم ﷺ ورته وئیل : دا دې څۀ اچولې دی،د لاس نه ئے ترے اوویسته او اخوا ئے اوغورزوله.

چې کله مجلس ختم شو نو دغه صحابی هم داسے روان شو نو یو بل صحابی ورته اووئیل چې دغه ګوتمه راواخله کنه. صحابی اوفرمائیل: چې زه څنګه هغه څیز راواخلم چې نبی کریم ﷺ غورزولے وی.

دا د صحابو رضی الله عنهم اتباع وه چې یو جائز کار هم د نبی کریم ﷺ په اتباع کښې پریږدی.

دا رنګ سعد رضی الله عنه چې کله ایمان راؤړو نو مور ورته اووئیل چې واپس شه خپل دین ته ګنی

﴿وَاللهِ لَا اٰكُلُ طَعَامًا وَلَا اَشْرَبُ شَرَابًا حَتّٰى تَكْفُرَ بِمُحَمَّدٍ﴾

یعني زه به تر هغے پورے خوراك څښناك نه کوم چې ترڅو پورے تا په محمد باندې کفرنه وی کړے.

نو دے صحابی خپل مور ته اووئیل چې که ستا سل ساګانے شی او زما په ایمان نه راؤړلو سره یوه یوه اوځی، بیا به هم په نبی کریم ﷺ ایمان پرې نه ږدم.

دا د صحابوﷺ د نبی کریم ﷺ اتباع وه چې خپلے د وینے رشتے ئے د الله تعالی د دین د پاره قربان کړے وے. او هغوی ته هیڅ قسم مشکل او رکاوټ په دنیا کښې هیڅ څیز نشو جوړیدے که هغه به ډیر محبوب څیز ولے نه وو خو چې کله به د الله د دین نه خلاف وو نو هغوی به همیشه د الله دین ته په خپل خواهش باندې مخکښې والے ورکولو او الله خپل پیغمبر ته هم دا تعلیم ورکړے دے.

﴿ فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنْهَا مَنْ لَّا يُؤْمِنُ بِهَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ فَتَرْدٰى ﴾(طٰہٰ:۱۶)

اے پیغمبره هغه څوك چې کافر دی او د خپل خواهش اوچاهت غلامی کوی هغوی دې تاله د الله د دین نه بند نۀ کړی او دغه شان د صحابوؤ هم وو.

الله تعالی دے مونږ هم د صحابه کراموﷺ په نقش قدم روان کړی.

# رسالت (۲)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِہٖ وَ اَصْحَابِہِ الْاَتْقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِیْ کُلِّ اُمَّۃٍ رَّسُوْلًا﴾(النحل:۳۶)

﴿وقال الله تعالی: وَلِکُلِّ اُمَّۃٍ رَّسُوْلٌ﴾(یونس:۴۷)

## دویمه اهمه عقیده:

په عقائدو او ایمانیاتو کښې دویمه اهم عقیده هغه په رسولانو باندې ایمان لرل دی. د الله د طرف نه رالیږلی شوی انبیاء کرام کله چې یو انسان الله منی خالق رازق مالك ئے منی نو بیا به د الله احکامات او حکمونه هم منی چې د الله د انسان نه څۀ مطالبه ده د څۀ حکم کوی او د څۀ نه منع کوی کومه خبره د فائدې ده کومه د نقصان ده نو د دې ټولو خبرو معلومات به د کومے طریقے نه کیږی نو دا ټولے خبرې رسالت او پیغمبرئ باندې پیژندل کیږی نو الله د انسان د رهنمائے د پاره د انبیاؤ د رسالت سلسله جاری کړه.

د دے وجه دا ده چې کوم انسان د الله تعالی د وجود او وحدانیت قائل وی نو دا انسان به اوس دا هم معلوموی چې الله تعالی زمونږ نه څۀ غواړی او الله تعالی زمونږ نه په څۀ خفه کیږی او په څۀ خوشحالیږی یا په کوم څیز کښې د انسان فائده ده او په کوم کښې د انسان نقصان دے؟

## د رسالت ضرورت:

د دې خبرو ادراك انسان په خپل عقل نشی کولے ځکه چې بعضے غیبي خبرو ته د انسان عقل نه رسی او عقل د دے خبرو په ادراك کښې

ناقص دے. نو کوم ځائ چې عقل کار پریږدی نو هلته د وحی سلسله شروع شی.

نو د دغے وحی رسولو د پاره الله تعالی د نبوت سلسله جاری اوفرمائیله چې د خپلو انبیاؤ په ذریعه خپل پیغامات انسانانو ته اولیږی.

دا رسالت د انسان خپل ضرورت دے . او داسے ضرورت دے لکه څنګه چې ئے اوبو، خوراك وغیره ته دے. ځکه چې انسان د دوؤ څیزونو نه جوړ دے یو جسم او بل روح

د جسم تربیت الله تعالی د زمکے نه کوی او د روح تربیت الله تعالی د بره اسمان نه په ذریعے د وحی سره کوی. نو دا د انسان خپل ذاتی ضرورت دے لکه څنګه چې جسم ته د خوراك څکاك بندوبست ضرورت وو نو داسې د روح تربیت کول هم ضروری دی.

نو د وحی د پاره الله تعالی د انبیاء کرامو علیهم السلام سلسله جاری کړله. ځکه چې زمونږ ورته ضرورت وو.

دا رنګ دا رسالت د الله تعالی د صفت د رحمت مظهر او تقاضا ده.

دا رنګ الله تعالی رب دے نو د هغے تقاضه دا ده چې څۀ رنګ زمونږ د جسم تربیت کوی نو دا رنګ زمونږ د روح تربیت هم الله تعالی کوی.

## د انسان او حیوان فرق:

که چرته دا تربیت نه وی نو بیا په انسان او حیوان کښې فرق نه پاتے کیږی. ځکۀ که اوکتلے شی نو کوم خلق چې د دے نه منکر وی نو د هغوی معاشره د حیوانیت نه ډکه وی نو د دین نه د آزادئ په اړ کښې بیا نۀ خور پیژني او نۀ مور. او چې کله ماشومه د دیارلسو کالو شی نو بیا د مور پلار په کور کښې هم نۀ پاتے کیږی ځکه چې یره وی چې هسې نۀ چې د پلار ارادے ورته خرابے شی.

دا د یورپ گنده او د حیوانیت نه ډکه معاشره ده ځکه چې هلته د الله تعالی احکامات منل نیشته بلکه هر چاته مکمل ازادی ده نو په دغه معاشره کښې بیا انسان پاتے کیدل ډیر زیات مشکل شی بلکه د انسان نه حیوان جوړیدلو کښې ډیر کم وخت لګی.

دا رنګ د دے دین نه دَ آزادئ د وجے نه د بچی د پلار پته هم نه لګی بلکه د آزادئ غټ نقصان دا دے چې اوس د ماشوم د مور پته هم نه لګی.

دا رنګ د دغے دین نه د آزادئ په سلسله کښې د مور پلار قدر روك شوے دے بلکه چې کله بوډا شی نو اولډ هاؤس ته ئے بوځی بیا مور پلار ترساویږی چې بچے مې راله راشی خو د بچی پته ورته نه لږی او هم هلته مړ شی.

نو خلاصه دا چې دین منل د الله تعالی لوے احسان او د الله رحمت دے ځکه چې دې دین مونږ ته الله تعالی هم اوښودلو. دا رنګ مور پلار ، خور ، رور ټولے رشتے راته دین اوښودلے .

دارنګ حرام حلال راته شریعت اوښودل. نوڅوك چې د دین نه لرے دی نو حرام خوری. کله مړے خوری ، کله پیشوګانے او کله خنزیران هم خوری.

بهرحال د رسولانو رالیږل الله تعالی د امت د هدایت د پاره کړی دی. او د یو لوې نعمت او احسان د الله دے.

الله تعالی هم فرمائی:

﴿لَقَدۡ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الۡمُؤۡمِنِيۡنَ اِذۡ بَعَثَ فِيۡهِمۡ رَسُوۡلًا مِّنۡهُمۡ﴾

(آل عمران:۱۶۴)

یعني دا د الله تعالی احسان دے په مؤمنانو چې د دوی د جنس نه

ئے په دوی کښې پیغمبر رالیږلې دې.

اوس دا پیغمبر د انسان په شکل کښې مبعوث کیږی او بشر وی.

## رسول همیشه انسان وی:

د رسالت غلط تصور دا دے چې بعضے خلق وائی چې دا پیغمبر هم الله تعالی وی خو د انسان په شکل او روپ کښې راشی.

څوك وائی چې دا فرشته وی.

څوك وائی چې دا د الله تعالی سره حصه داران وی.

پیغمبر الله تعالی ځکه نشی کیدے چې د رسول د رالیږلو مقصد الله تعالی دا بیانوی چې: ﴿لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللّٰهِ﴾(نساء:٦٤)

یعني الله تعالی دا پیغمبر د دې د پاره رالیږلے دے چې د الله تعالی په حکم د دوی اتباع اوکړے شی.

دا رنګ فرشتے د انسانی تقاضا نه مبرا وی او د انسانانو په شان صفات پکښې نیشته نو که فرشته پیغمبر وے نو مونږ د پاره به پکښې پوره نمونه نهٔ وه ځکه چې هغه د بشری تقاضاتو نه آزاد وی. لکه لوګه، تنده، غصه، غضب، بچی، ښځه وغیره دا دا احساسات هغوی ته نهٔ کیږی ځکه الله فرمائی:

﴿ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ ﴾(احزاب:٢١)

ستاسو د پاره په پیغمبر ﷺ کښې یو خائسته نمونه ده د تابعدارئ کولو.

مشرکین مکه به هم دا خبره کوله چې پیغمبر فرشته پکار وه نو الله تعالی پرے رد کوی.

الله تعالی فرمائی:

﴿ قُلْ لَوْكَانَ فِي الْاَرْضِ مَلَائِكَةٌ يَّمْشُوْنَ مُطْمَئِنِّيْنَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِمْ مِنَ

السَّمَآءِ مَلَكًا رَّسُوْلًا﴾(اسراء:۹۵)

يعني که چرته فرشتے په دنيا کښې په اطمينان سره اوسيدے نو د اسمان نه به مې ورله فرشتے په شکل د پيغمبرانو کښې راليږلے وې.

نو پيغمبر به بشر او انسان وی.

الله تعالی فرمائی:

﴿وَمَا اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ﴾(یوسف:۱۰۹)

يعني ستانه مخکښې ما ټول رسولان سړی راليږلی دی چې مونږ به ورته وحی کوله.

## د پيغمبر بشری تقاضې:

دا رنګ فرمائی: ﴿قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ﴾(کهف:۱۱۰)

يعني اووايه دې خپل امت ته چې زهٔ هم ستاسو په شان يو انسان يم. هاں دا خبره ده چې د نبوت د وجے نه د هغهٔ مقام ډير لوې او اوچت وی خو بيا هم انسان وی. مخلوق وی خالق نه وی-

نو نبی کريم ﷺ په خاندان د قريشو کښې د اٰمنه بی بی د بطن نه پيدا شوے دے. او د پلار نوم ئے عبد الله وو.نو انسان وو.

او نبی کريم ﷺ ودونه هم کړی وو چې ړومبنۍ بی بی ئے حضرت خديجة الکبریٰ رضی الله عنها وه.

دارنګ ځامن او لونړه ئے هم وو. نو دا رنګ د نبی کريم ﷺ نسبی هم وو.نو پيغمبر يو انسان وو.نو دا يوه عقيده د رسالت په باره کښې چې پيغمبر الله دنيا ته انسان راليږلے صرف انسان بل څۀ نشی کيدے.

دا رنګ الله تعالی د انسان د پيدائش سره هر قوم ته پيغمبر راليږلے دے.

## د هر امت د پاره رسول:

الله تعالی فرمائی. سوره یونس کښې: ﴿وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ﴾(یونس:۴۷)
یعني د هر امت د پاره یو رسول وو.
﴿وَإِنْ مِنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٌ﴾(فاطر:۲۴)
داسې یو امت نشته مګر الله ورته یرونکے پیغمبر رالیږلے دے.
دارنګ فرمائی: ﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا﴾(نحل:۳۶)
یعني مونږ هر امت ته یو رسول رالیږلے دے.چې کله هم په کوم ځائے کښې ضرورت راغلے دے.

اوس د دے پیغمبرانو تعداد کم وبیش یو لاکهه څلیریشت زره دے . کم و بیش ځکه ذکر کوی چې که لږ یا ډیر وی نو زمونږه په هغوی ایمان دے او الله د دوی نومونه هم ځکه نه دی ذکر کړي چې بیا به ټول قرآن کښې صرف د رسولانو انبیاؤ نومونه ذکر شوے وے.

## ټول پیغمبرانو باندې ایمان:

نو ایمان به په ټولو پیغمبرانو لرے او عمل به د خپل وخت د پیغمبر د عمل مطابق کوے.

الله تعالی هم فرمائی: ﴿لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ﴾(بقرة:۱۳۶)
یعني مونږ د دوی په مینځ کښې د هیڅ چا په رسالت کښې هم فرق نه کوو.

نوخلاصه دا چې ایمان خو به په ټولو پیغمبرانو وی او عمل به صرف د وخت د پیغمبر مطابق وی.د موسی علیه السلام په زمانه کښې د هغه په شریعت، د ابراهیم علیه السلام په زمانه کښې د هغه په شریعت عمل وو. اوس په دې زمانه کښې د خلقو د پاره تر د قیامت پورې د

نبیﷺ شریعت منل لازم دی او د دې اتباع به کیږی.

په دے وخت کښې اوس حق او سچ پیغمبر حضر ت محمد ﷺ دے. نو که یو پیغمبر اوس راژوندے شی نو هغه به هم د نبی کریم ﷺ د امتی په حیثیت خپل ژوند تیروی. لکه عیسی علیه السلام اوس هم ژوندے دے هغه به په خپله هم په اخر زمانه کښې په قرآن باندې عمل کوی. نبی کریمﷺ هم فرمائی:

﴿لَوْكَانَ مُوْسٰى حَيًّا مَا وَسَعَهٗ اِلَّا اِتِّبَاعِيْ﴾(مسند احمد)

یعني که موسٰی علیه السلام ژوندے هم وے نو دهغه دپاره هم زما د اتباع نه بغیر د بل چا تابعداری جائز نه وه. اګر چې د هر شریعت به ادب واحترم او د هر نبی علیه السلام عزت به کوے خو د هغوی شریعت به قابل عمل نه وی نو الله رب العزت په دې شریعت سره نور شریعتونه منسوخ کړی دی منسوخ کیدو دا مطلب چې الله په هغے کښې ترمیم کړے دے لکه څنګه چې یو بادشاه د دنیا په قانون کښ ترمیم اوکړی نو بیا هغه قابل عمل او نافذ العمل نهٔ وی نو دا شان نور شریعتونه هم قابل عمل او نافذ العمل نه دی.

الله تعالی دې مونږ ته په دے خبرو باندې د عمل کولو توفیق رانصیب کړی. امین

# بیان رسالت (۳)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿لَیْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا وُجُوْهَکُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلٰکِنَّ الْبِرَّ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْمَلٰئِکَةِ وَالْکِتٰبِ وَالنَّبِیّٖنَ﴾(بقرۃ:۱۷۷)

﴿وَقَالَ تَعَالٰی فِیْ مُقَامٍ اٰخَرَ: وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِیْ کُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلًا﴾(نحل:۳۶)

﴿وَفِیْ مُقَامٍ اٰخَرَ: وَلِکُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلٌ﴾(یونس:۴۷)

په اسلامی عقائدو کښې دریمه عقیده د رسالت ده.

الله تعالی خپل تعلیمات بنده ګانو ته هم د دوی د جنس نه دَ منتخب کړے شوؤ برګذیده خلقو په واسطے باندې رالیږی.

انسان ته د رسول ضرورت د نورو ضروریاتو په شان اهم دے بلکه دد ے نه هم زیات اهم دے.

دا د الله تعالی لوے فضل او احسان دے چې امت ته د هدایت د پاره الله تعالی داسے انسانان رالیږلی دی.

دا رنګ څنګه چې جسمانی ضروریات اهم وی او د هغے انتظام الله تعالی د خپل طرف نه کړے دے نو دا رنګ د روحانی ضروریاتو د پاره هم الله تعالی د رسولانو په شکل کښې انتظام کړے دے.

رسول او پیغمبر هر سړے نه شی جوړیدے چې ګنی دا نبوت کسبی دے او په کوشش او محنت به ملاؤ شی بلکه دا یو وهبی څیز دے چې الله تعالی ئے خپل منتخب بنده ګانو ته ورکوی.

دا رنګ فرد فرد پسے د الله تعالی پیغامات رسولو د پاره الله تعالی د دے پیغمبرانو بعثت کړے دے.

بیا الله تعالی پیغمبر په انسانانو کښې رالیږلے دے او د دے وجه دا ده چې د انسانیت د پاره چې کوم ضرورت وو نو هغه د بل چانه نه پوره کیږی لکه فرشتے د انسانی ضروریاتو نه مبرا یو مخلوق دے چې د رشته دارو پاللو باندې نه پوهیږی. خوراك وغیره نه کوی.

د دے وجے نه د انسانانو د جنس نه الله تعالی دا پیغمبران راؤلیږل ځکه چې کوم کارونه د انسانانو سره تړلے شوی دی نو هغه دوی هم کوی.

دا اعتراضات به مخکښنو خلقو هم کوؤ.

قرآن کریم کښې د دغے تردید په دے الفاظو سره کیږی.

﴿ قُلْ لَوْكَانَ فِي الْأَرْضِ مَلَائِكَةٌ يَّمْشُوْنَ مُطْمَئِنِّيْنَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِمْ مِنَ السَّمَآءِ مَلَكًا رَّسُوْلًا ﴾(اسراء:۹۵)

یعني که په زمکه فرشتے اوسیدے نو بیا به مونږ فرشتے په صورت د پیغمبر کښې رالیږلے خو په زمکه خو انسانان اوسیږی نو ځکه فرشتے نه شو رالیږلے بلکه انسانان مو په صورت د پیغمبر کښې رالیږلے دی.

د دے وجے نه الله تعالی فرمائی:

﴿ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ ﴾(احزاب:۲۱)

یعني د دنیا په هر کار کښې ستاسو د پاره په صورت د نبی کریم ﷺ کښې ښکلے نمونه موجوده ده.

الله تعالی فرمائی:

﴿ قُلْ سُبْحَانَ رَبِّيْ هَلْ كُنْتُ اِلَّا بَشَرًا رَّسُوْلًا ﴾(اسراء:۹۳)

یعني اووایه ورته اے پیغمبره چې پاك دے رب زما د هر قسمه معایبو نه او نه یم زه مګر بشریم او د الله تعالی رسول یم .

او کله فرمائی:

﴿ وَمَا اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْ اِلَيْهِمْ ﴾(یوسف:۱۰۹)

یعني ستا نه مخکښې مونږ سړی رسولان لیږلے دی او وحی مو ورته کړے ده.

او کله فرمائی:

﴿قُلْ اِنَّمَاۤ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوْحٰۤى اِلَيَّ اَنَّمَاۤ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ﴾(کهف:۱۱۰)

یعني اووایه ورته اے پیغمبره چې زۀ ستاسو په شان یو انسان یم خو فرق صرف دومره دے چې ما ته د دے خبرے وحی کړے شوے ده چې اله ستاسو هغه یو الله تعالی دے.

نبی کریمﷺ هم بشر وو. مور، پلار ئے لرل. دارنګ د نیکه نوم ئے عبدالمطلب وو. دارنګ وادۀ ئے کړے دے. دا رنګ اولاد ئے هم وو.

دا رنګ د نکاح په شرائطو کښې یو شرط دا دے چې یو جنس به وی. نو مطلب دا چې نبی کریمﷺ بشر سره نکاح کړے وه.

نو نبی کریم ﷺ نۀ نور وو او نه نار وو بلکه بشر وو.

دا رنګ ټول پیغمبران بنده ګان وو. د الله تعالی ځامن نه وو.

دا رنګ اوتار نه وو لکه څنګه چې د هندوانو عقیده ده.

د عیسٰي یا د عزیر علیهما السلام په باره کښې د ځوی والی عقیده هم د عقل خلاف ده. ځکه چې ځوے د پلار په شان وی نو الله تعالی خو د بشری تقاضو نه مبرا ذات دے او عیسٰی علیه السلام کښې خو بشری تقاضے وے.

الله تعالی فرمائی: ﴿كَانَا يَأْكُلٰنِ الطَّعَامَ﴾(مائده:۷۶)

یعني دوی دواړو به خوراك کوؤ. نو څوك چې خوراك ته محتاجه وی نو هغه اله نشی کیدے.

دا رنګ د الله تعالی نه هیڅ څوك نه دی پیدا.

الله تعالی فرمائی: ﴿لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ﴾(اخلاص:۳)

يعني نه د چا نه پيدا دے او نه ترينه څوك پيدا دی.

دا رنګ دا عقيده لرل چې د انبياؤ سلسله د اٰدم عليه السلام نه شروع وه او په نبی کریمﷺ ختمه شوه.

نو دا رنګ دا عقيده لرل چې په ټولو انبياؤ به دې ايمان وی. چې څومره پيغمبران الله تعالى راليږلی دی هغه حق او سچ دی.

بيا دا انبياء الله تعالى هرقوم ته راليږلے دے.

الله تعالى فرمائی: ﴿وَلِكُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلٌ﴾(یونس:۴۷)

يعني د هر يو امت د پاره رسول راليږلے شوے دے.

دارنګ فرمائی: ﴿وَاِنْ مِّنْ اُمَّةٍ اِلَّا خَلَا فِيْهَا نَذِيْرٌ﴾(فاطر:۲۴)

يعني په هر يو امت کښې يو يره ورکونکے پيغمبر راغلے دے.

اوکله فرمائی:﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلًا﴾(نحل:۳۶)

يعني مونږ په هر امت کښې يو رسول راليږلے دے.

نو زمونږ په ذمه باندې دا اجمالی ايمان لرل لازم دی چې الله تعالى هر قوم ته پيغمبران راليږلې دی.

دا رنګ په پيغبرانو باندې ايمان راؤړلو کښې هيڅ فرق نيشته.

الله تعالى فرمائی: ﴿لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ﴾(بقرة:۱۳۶)

يعني مونږ په رسالت دهغوی کښې په هيڅ چا کښې هم فرق نه کوؤ.

خلاصه دا چې ايمان خو به په ټولو لرے خو اطاعت به د خپل وخت د پيغمبر کوے. نو د دے وخت پيغمبر نبی کریمﷺ دے. نو د ده اطاعت فرض دے.

که يوکس په دے دور کښې د بل پيغمبر اتباع کوی نو هغه به قابل قبول نه وی او دے به کافر ګڼړلے کيږی.

په يو موقع نبی کریمﷺ عمر رضی الله عنه ته فرمائيلی وو.

﴿لَوْكَانَ مُوْسٰى حَيًّا مَا وَسَعَهٗ اِلَّا اِتِّبَاعِيْ﴾ (مسند احمد)

يعني كه چرته موسى عليه السلام ژوندے وے نو هغه د پاره هم زما د تابعدارے نه ماسواء بل څۀ كار جائز نه وو.

دا رنګ د عيسى عليه السلام بعثت به په اٰخرى وخت كښې د نبى كريمﷺ د امتى په حيثيت كيږى او د شريعت محمدى تابع به وى.

الله تعالى دې مونږ په صحيح معنو د خپل پيغمبر متبعين جوړ كړى. امين

# بیان رسالت (٤)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ اَلَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ النَّبِيَّ الْاُمِّيَّ الَّذِيْ يَجِدُوْنَهٗ مَكْتُوْبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرٰاةِ وَالْاِنْجِيْلِ يَاْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ اِصْرَهُمْ وَالْاَغْلَالَ الَّتِيْ كَانَتْ عَلَيْهِمْ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِهٖ وَعَزَّرُوْهُ وَنَصَرُوْهُ وَاتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِيْ اُنْزِلَ مَعَهٗ اُولٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ﴾ (اعراف:١٥٧)

﴿ وَقَالَ تَعَالٰى فِيْ مُقَامٍ اٰخَرَ: قُلْ يٰاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا ۨ الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الَّذِيْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَكَلِمَاتِهٖ وَاتَّبِعُوْهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ﴾ (اعراف:١٥٨)

د اسلام دریمه بنیادی عقیده د رسالت ده.

یعني په دنیا کښې الله تعالی د انسانانو د روحانی ضرورت پوره کولو د پاره په شکل د پیغمبرانو کښې یو سلسله جاری فرمائیلے ده چې د اٰدم علیه السلام نه واخله تر د نبی کریم ﷺ پورے چلیدلے ده.

نو چاچې د نبی کریم ﷺ خبره منلے ده نو دوی ته امت اجابت وئیلے کیږي. او د دوی نه ماسواء چې نور خلق دی نو هغه هم امتیان دی خو دوی ته امت دعوت وئیلے کیږی.

په اسلام کښې په پیغمبرانو باندې په ایمان راوړلو کښې هیڅ فرق نیشته. خو د درے وجو نه مونږ صرف د دے پیغمبر اتباع کوؤ.

یو دا چې مخکښنې پیغمبران د یو زمانے پورے خاص وو خو نبی کریم ﷺ د ټول عالم د پاره رالیږلے شوے دے.

دویم دا چې تعلیمات د نورو پیغمبرانو د تغیر نه خالی نه دی او د نبی کریم ﷺ تعلیمات د هرقسم تغیر نه محفوظ دی.

دریم دا چې د مخکښنو پیغمبرانو تعلیمات قابل ترمیم وو او څۀ نه څۀ کمے پکښې وو خو د نبی کریم ﷺ تعلیمات مکمل او ناقابل ترمیم دی او د هر دور سره مطابق او چلیدونکے قانون دے.

الله تعالی هم فرمائی: ﴿اَلۡیَوۡمَ اَکۡمَلۡتُ لَکُمۡ دِیۡنَکُمۡ﴾(مائده:۳)

یعني نن ورځ ماستاسو د پاره ستاسو دین مکمل کړو.

د دین اسلام نه ماسواء چې کوم دینونه وو نو کوم چې خود ساخته وو نو هغه د یو څو اخلاقی خبرو نه علاوه بل هیڅ څۀ نه وو.

د نبی کریم ﷺ بعثت په عربو کښې کیدل او بیا په مکه کښې رالیږل او په عربی ژبه کښې کیدل عقلی اعتبار سره صحیح وه ځکه چې دا علاقه د ایشیاء او افریقے په مینځ کښې ده او د یورپ جنوبی ممالك هم د عربو سره منسلك دی او دا علاقه په خط استواء باندې واقع ده.

تاریخی اعتبار سره عرب بهادر، نډر، سخاپسند، عهد پوره کونکي، آزادی پسند، غیرتمند، ساده وو. د دے وجے نه الله تعالی د دے قوم انتخاب اوکړو.

دارنګ عربی ئے ورله منتخب کړه ځکه چې عربی بے انتهاء فصیح او بلیغ ژبه ده. دا رنګ په زړونو باندې اثر پیدا کونکے، دَ بلند خیالاتو ادائیګے والا او دا رنګ د خدائی علم نازکے خبرو د پاره موزون ژبه عربی وه.

دا رنګ په مختصر ټکو کښې لوے مقصد ادا کوؤنکے ژبه عربی ده.

دا رنګ په دے ژبه کښې قدرتی یو متهاس پروت دے. چې کافران هم د دے په اوریدو سره متاثره کیږی.

دا رنګ نبی کریم ﷺ اٰخری پیغمبر دے او عقل هم دا وائی چې د یو امي انسان تعلیم سره ټوله دنیا کښې انقلاب راتلل داسے یو واضحه ثبوت دے چې په دومره کمه موده کښې دومره لوے کار څنګه اوشو چې د دے نه څوك هم انکار نشی کولے.

د خپلے علاقے نه اوتے هم نه دے خو بیا هم د دنیا ګټ ګټ ته د دهٔ تعلیم رسیدل دا په دے دلالت کوی چې دا د الله تعالی حق سچ دین دے.

په نن دور کښې سره د دومره ترقۍ نه دا کار هیڅ څوك هم نشي کولے.

په یو وخت کښې نبی کریم ﷺ عظیم رهنما، بهادر سپه سالار، زبردست قاضي او جج، زبردست مقنن، بے مثل فلاسفر، حیرت انګیز ماهر سیاست، بهترین مصلح ، د میدان جنګ کمانډر، بهترین پلار وو. دا د دے نه علاوه بل هیڅ هم نشي کیدے چې دهٔ سره د الله تعالی د طرف نه مدد وو.

دارنګ مخکښنو کتابونو کښې د ده د رسالت تذکرے موجودے دي.

قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی:

﴿اَلَّذِیۡ یَجِدُوۡنَہٗ مَکۡتُوۡبًا عِنۡدَهُمۡ فِی التَّوۡرٰىةِ وَ الۡاِنۡجِیۡلِ﴾(اعراف:۱۵۷)

یعني هغه پیغمبر چې د هغه تذکرے په تورات او انجیل کښې هم موجود دی.

دارنګ الله تعالی فرمائی:

﴿ یَعۡرِفُوۡنَہٗ کَمَا یَعۡرِفُوۡنَ اَبۡنَآءَهُمۡ ﴾(بقرة:۱۴۶)

یعني دوی نبی کریم ﷺ د خپلو بچو پشان پیژنی.

عبدالله بن سلام رضی الله عنه نه چا د دے په باره کښې تپوس اوکړو نو هغه جواب کښې اوفرمائیل چې د دے نه هم زیات، ځکه چې په خپل بچی کښې هم شك کیدے شی خو د نبی کریم ﷺ بعثت کښې فرق

نشی کیدے.

دا رنګ ابوبکر رضی الله عنه یمن ته د تجارت په غرض تلے وو. هلته د هغوی یو عالم سره ملاؤ شو نو هغه ترینه تپوس اوکړو. چې تهٔ د مکے خو نه ئے؟ او بیا په قریشو کښې خو نهٔ ئے؟ او تهٔ ماته دا خپله ګیډه اوښایه؟ د ټولو خبرو تصدیق ئے اوکړو. او ګیډه ئے ورته هم اوښودله نو د نامهٔ ته لاندے ئے یو تور ټاکے وو.

دے پوهه سړی اوئیل چې زمونږ په کتابونو کښې د اٰخری پیغمبر د ملګرو تذکره شوے ده او په تا کښې دغه ټول علامات دی. تهٔ به د هغه د هجرت ملګرے یے او د وفات نه بعد به ئے جانشین هم یے.

دا رنګ مخکښنو کتابونو کښې راغلی دی چې

﴿اَنَاجِیْلُهُمْ فِیْ صُدُوْرِهِمْ یَنْبُتُوْنَ کَنَبَاتِ الزَّرْعِ﴾

یعني د هغوی کتابونه به په سینو کښې محفوظ وی او د دنیا ګټ ګټ کښې به خوریږی.

دا رنګ د عمر رضی الله عنه په باره کښې هم راځی چې د بیت المقدس په فتحه کښې یو یهودی کمانډر اووئیل چې زمونږ کتابونو کښې دی چې داسے یو کس به بیت المقدس فتحه کوی. چې فلانکی فلانکی علامات به پکښې وی. مونږ هغه علامات ګورو. که پکښې وی نو مونږ درته بیت المقدس بے د جنګ نه پریږدو. چې کله ئے عمر رضی الله عنه اولیدو نو ټول علامات پکښې صحیح وو نو بیت المقدس ئے ورته حواله کړو.

نوخلاصه دا چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم خو پریږده ، د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د ملګرو حالات هم په مخکښنو کتابونو کښې ذکر دی . نو دا دلیل دے په دے خبره چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم حق او سچ پیغمبر دے.

الله تعالی دې مونږ ته په صحیح معنو کښې د دغے پیغمبر منلو او دَ هغهٔ دَ اتباع توفیق رانصیب کړی. امین

# شان رسالت ﷺ (۵)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿قُلْ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِيْنَ﴾ (آل عمران:۳۲)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ الْمَهْدِيِّيْنَ﴾ (ترمذی)

## د سیرت د ربیع الاول سره تعلق:

د الله تعالی په نیز ټولے میاشتے برابر دی او بعضے میاشتو لره الله تعالی جزوی فضیلت ورکړے دے.

په دے میاشتو کښې یوه میاشت د ربیع الاول ده. چې د نبی کریم ﷺ د پیدائش او وفات سره تعلق لری اګر چې دین اسلام د چا د پیدائش او د وفات سره څۀ تعلق او جشن مناؤ کول نه غواړی او نه خوښوی داخبره. په دے میاشت کښې د سیرت محفلونه منعقد کیږی او د نبی کریم ﷺ سیرت پکښې بیانیږی بلکه بعض خلق خو د دے جشن د پاره یو مخصوص ورځ ټاکی چې هغه باره ربیع الاول ده. اګر چې د مسلمان شان به دا وی چې هغه به همیشه د نبی ﷺ سیرت او حالات د کال دولس میاشتې د میاشت دیرش ورځې بلکه په هر ساعت کښې به خپل ځان ته مخې ته کوی او د دې نه به عبرت درس او نصیحت او پند اخلی او خپل ایمان به وربانديې تازه کوی.

حالانکه د نبی کریم ﷺ سیرت هر وخت بیانول پکاردی او د یو وخت سره مختص کول نه دی پکار. ځکه چې د نبی کریم ﷺ بعثت

د انسانیت او په انسانانو کښې خصوصا د مسلمانانو د پاره دا ډیر لوے نعمت دے . د دوی په واسطے سره مونږ د الله تعالی لوئی او کبریائی پیژنو که هغه نه وے نو مسلمان به خپل رب نه پیژندلے. او د نبی کریم ﷺ په ذریعه الله تعالی خپل احکامات د انسان د کامیابئ د پاره رالیږی. ځکه چرته د الله لوئی او پاك ذات او چرته کمزورے انسان بې وسه او بے کسه نو دا نسبت برابر کیدے نه شی د الله او د بنده ترمینځه او دا تعلق مضبوطولو د پاره الله واسطه محمد ﷺ اوګرځوله او دې دنیا ته ئے د هغهٔ بعثت وکړو نو د نبی ﷺ بعثت په دنیا کښې یو نعمت دے په مسلمان باندې او د دې نعمت شکر او ذکر په هر وخت او هر ساعت کښې ضروری دے.

## د نبی ﷺ محبت د ایمان حصه:

د نبی کریم ﷺ سره محبت ساتل د ایمان جزء دے. او دا د ایمان فطری حصه ده.

نبی کریم ﷺ هم فرمائی:

﴿لَا یُؤْمِنُ اَحَدُکُمْ حَتّٰی اَکُوْنَ اَحَبَّ اِلَیْهِ مِنْ وَالِدِهٖ وَوَلَدِهٖ وَالنَّاسِ اَجْمَعِیْنَ﴾(بخاری)

یعني یو مومن ترهغے پورے کامل مسلمان نشی جوړیدلے ترڅو چې زه هغه ته د خپل مورپلار، اولاد او ټولو رشته دارانو نه زیات محبوب شوے نه یم.

قرآن کریم کښې هم الله تعالی فرمائی:

﴿اَلنَّبِیُّ اَوْلٰی بِالْمُؤْمِنِیْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ﴾(احزاب:٦)

یعني نبی کریم ﷺ به په مؤمنانو باندې د خپلو ځانونو او مالونو نه زیات محبوب وی.

## د عمر رضي الله عنه د نبي ﷺ سره مينه:

دا رنګ د حضرت عمر رضي الله عنه نه نبي کريم ﷺ تپوس اوکړو چې آيا تاته زه د ستا د ځان نه زيات ګران يم که نه ؟

نو عمر رضي الله عنه غلے شو. بيا لږ روستو ئے اوفرمائيل چې او د خپل ځان نه هم راته زيات ګران ئے. نو نبي کريم ﷺ ورته اوفرمائيل چې اوس دې صحيح خبره اوکړله.

## د سيرت نبوي فائدے:

د نبي کريم ﷺ سره مينه د نبي کريم ﷺ د سيرت په مطالعے سره زياتيږي. او ايمان کښې پختګي راځي او د نبي کريم ﷺ د سيرت سره د صحابو سيرت هم بيا نيږي او معلوميږي نو د دے وجے نه د صحابو رضي الله عنهم سره هم مينه زياتيږي. عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمائي چې کله حضرت عمر فاروق رضي الله عنه وفات شو نو حضرت علي رضي الله عنه ما ته په اوکه لاس کيښودو او دا خبره ئے وکړه چې د دې مقام حقدار او صحيح حقدار عمر رضي الله عنه دے ځکه نبي ﷺ به په هره موقع داخبره کوله چې زۀ ابوبکر صديق رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه داکار کوؤ، زۀ ابوبکر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه دا خبره کول غواړو نو څۀ رنګه چې په ژوند کښې يوځائے وو دغه شان پس د مرګ الله په يوځائے کښې دفن کړل. نو د نبي سيرت سره سره د صحابه کرامو رضي الله عنهم فضيلت او تذکره هم ځائے په ځائے مخې ته راځي.

دا رنګ د سيرت په مطالعے سره ايمان کښې قوت او زياتوالے راځي. دا خبره مولانا ادريس کاندهلوي رحمة الله عليه په خپل کتاب سيرة مصطفى کښې ليکلے ده. نو د سيرت مطالعه سبب دے د زيارت ايمان او محبت نبوي دپاره.

دا رنګ د نبی کریم ﷺ د سیرت مطالعے سره د دین احکامات او مسائلو کښې وضوح پیدا کیږی. او د قران د ایتونو علم د انسان په دل او دماغو کښې راځی.

د نبی کریم ﷺ سیرت یو کامل سیرت دے .نورمذهبونو واله سیرت کتابونو د خپلو انبیاؤ او مشرانو په باره کښې لیکلې دی هغه بالکل ناقص او ناتمامه دی دا خصوصیت صرف د نبی ﷺ سیرت ته حاصل دے چې کامل او مکمل د پیغمبر په حالاتو باندې مشتمل دے. د نبی کریم ﷺ د پیدائش نه واخله تر د وفات پورے د نبی کریم ﷺ هره لمحه او هره اداء محفوظه ده. هر قول او هر فعل ئے باقی دے دا خصوصیت بل یو پیغمبر ته هم حاصل نه دے.

عیسایان د عیسی علیه السلام او یهودیان د موسی علیه السلام سیرت په کامل طریقے سره نشي ښودلے بلکه د هغو ی کتابونه هم محفوظ نه دی هغوی چې دکوم کتاب او صحیفې دعوی کوی نو هغوی ته دا پته هم نه لګی چې دا کتاب کله نازل شوے وو د دې څۀ حالت وو په څنګه طریقه دنیا ته راغلے وو دا اهم معلومات د هغوی په دین او تاریخ کښې نشته او د دې فضیلت نه محرومه دی تر دې پورې چې د هغوی دعوی کونکي خلقو ته د خپل پیغمبر د قبر په باره کښې صحیح معلومات نشته. بلکه د خپلو پیغمبرانو مستند قبرونه ورته هم نه دی معلوم. خو دا کمال او دا فضیلت د قران او د محمد ﷺ دے چې دا په هره طریقه د حرف اول نه واخله تر حرف اخر پورې محفوظ اومامون دې چې په دې کښې تحریف تقدیم او تاخیر خذف او زیادت نشی کیدے هغه ځائے هغه وخت هر څۀ محفوظ دی تر دې پورې چې د یو یو ایت په باره کښې صحابه کرامو رضی الله عنهم ته دا معلومات وو چې دا ایت په دې موقع باندې په دې

حالت کښې په پیغمبرﷺ باندې د اسمان نه نازل شوے دے یا په جومات کښې وو یا سفر کښې یا په اُوښه باندې هغه سورلی کوله کوم ځائے کښې وو تر دې معلومات د دین اسلام محفوظ دی. د هغهٔ کردار، اقوال، افعال، فرامین او ارشادات بلکه هغه خبرې هم محفوظ دی چې د هغے د دین سره تعلق نیشته بلکه د سر د ویختو پورې چې په ګیره کښې ئے څومره سپین ویخته وو نو تر د دې معلومات ئے ترینه محفوظ کړی دی.

صحابه کرامو رضی الله عنهم د نبی کریمﷺ د سیرت هره پهلو ډیره په وضاحت سره بیان کړے ده او د نبی کریمﷺ کیفیات هم صحابه کرامو رضی الله عنهٔ امت ته نقل کړے دی. او د نبی کریمﷺ شمائل چې څوك اوګوری نو مکمل د نبی کریمﷺ تصویر کشی پکښې معلومیږی.

صحابه کرامو رضی الله عنهٔ د نبی کریمﷺ د وفات په وخت کښې د نبی کریمﷺ د ګیرے مبارك سپین ویښته هم شمیرلی دی او محفوظ دی. نو تر دې پورې کامل او مکمل محفوظ سیرت چې عقیده ایمان او احکام خولا څهٔ کښے تر دې پورې چې پیغمبر یوه یوه ادا ئے امت ته را بیان کړې ده. کردار محفوظ، اقوال، افعال محفوظ او سیرت او صورت هم محفوظ نو د محمد رسول الله ﷺ د سیرت په شان د بل چا سیرت نشته دے.

## په هر لحاظ کښې د سیرت بیان کول:

بهرحال د نبی کریمﷺ د سیرت پوره حق اداء کول دا نهٔ دی چې په ټول کال کښې صرف په مخصوص ورځو کښې د نبی کریمﷺ سیرت بیان کړے شی او بیا ثابت کال چپ وی. بلکه هره لحظه به د مسلمان د پاره ربیع الاول وی.

قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی: ﴿وَرَفَعۡنَا لَكَ ذِكۡرَكَ﴾

یعني مونږ ستاشان پورته کړے دے.

نو که کلمه ده او که اذان دے ، په دواړو کښې د الله تعالی د ذکر سره د رسول الله ﷺ ذکر موجود دے او دا ذکر په ټوله دنیا کښې په هر سیکنډ کښې کیږی ځکه چې علماء کرامو لیکلی دی چې اذان په ټوله دنیا کښې په داسے ترتیب سره ادا کیږی چې ځلیریشت گهنټے د دے اذان د اواز نه خالی نه دی.

د نبی کریم ﷺ تذکرے د نبی کریم ﷺ د پیدائش نه مخکښې کیږی. پیدائش بعثت او ظهور لانۀ وو شوے.

## د پیغمبرانو په ژبه ذکر د محمد رسول الله ﷺ:

ابراهیم علیه السلام د دۀ د بعثت په حق کښې د الله تعالی نه سوال کوی نو فرمائی:

﴿رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ﴾(بقرة:۱۲۹)

یعني اے زما ربه! ته دوی کښې هم د دوی د جنس نه رسول اولیږه.مرکز تعمیر شو مدرسه وجود ته راغله نو د دې د پاره یو معلم اُستاذ پکار دے الله اُوس ورته ته یو پیغمبر راولیږې چې ستا ایتونو ورباندې تلاوت کوی او تعلیم ستا ددین ورته ورکوی نو په دنیا کښې وجود د ذات په اعتبار نشته او د هغه د بعثت د پاره اب الانبیاء ابراهیم علیه السلام دعاگانې غواړی.

دا رنگ د نبی کریم ﷺ تذکره عیسی علیه السلام په دے الفاظو سره کوی.

﴿وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِن بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ﴾(صف:۶)

یعني زه تاسو لره زیرے درکوم چې زما نه بعد به یو پیغمبر راځی چې نوم به ئے احمد وی.

دارنگ په تورات کښې د نبی کریم ﷺ صفات ذکردی.

دارنګ الله تعالی د هر پیغمبر نه د نبی کریمﷺ د ملګرتیا کولو وعده اغستے وه. لکه سورة ال عمران کښې د دې بیان شته.

﴿ وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ النَّبِيّٖنَ لَمَاۤ اٰتَيْتُكُمْ مِّنْ كِتٰبٍ وَّحِكْمَةٍ ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ وَلَتَنْصُرُنَّهٗ ﴾(آل عمران:۸۱)

یعني یاد کړے هغه وخت چې الله تعالی د نورو پیغمبرانو نه دا لوظ اغستو چې که چرته د کتاب او نبوت درکولو نه بعد یو رسول د نبوت دعوی اوکړه او ستاسو د کتابونو تصدیق ئے کوؤ نو تاسو به پرے خوامخواه ایمان راؤړئ او مدد به ئے کوئ. نبوت درکوم خو که زما اخری پیغمبر راغے نو تاسو به د هغه پیروکار او مدد ګار جوړیږئ.

## د یو یهودی غلام ګواهی:

دارنګ نبی کریمﷺ د یو یهودی د څوی د عیادت د پاره لاړو نو هغه خپل څوی ته د تورات تلاوت کوؤ. نبی ﷺ ئے د پلار نه تپوس وکړو چې زما ذکر په تورات کښې شته دے هغه ورته اووئیل چې نشته. څوے ئے د بے هوشئ په حالت کښې وو د مرګ حالات شروع وو او فورًا راپاسیدو او وے فرمائیل چې زما پلار دروغ اووئیل ، ستا تذکرے په تورات کښې شته دے.بیا ورباندې نبی ﷺ ایمان پیش کړو نو هغه ماشوم د لسو کالو مسلمان شو او په دې حالت کښې ئے د دنیا نه پرده اوکړه او وفات شو.

## د څناورو ګواهی:

دارنګ ابوسفیان او صفوان بن امیة د مکے نه بهر وتلی وو .او په دغه وخت ابو سفیان مسلمان نه وو. څۀ ګوری چې یو زمرے په هوسئ پسې منډے وهی، هوسئ چې څۀ رنګه حرم ته داخل شوه نو زمری

پريخوده او روان شو ترینه. او هغه ښکار ئے پريخودو.

ابوسفیان حیران شو او د خپلے حیرانتیا اظهار ئے خپل ملګری ته اوکړو نو زمرے ورته ګویا شو چې د دے نه د تعجب خبره دا ده چې نبی کریمﷺ تاسو د جهنم نه جنت ته رابلی او تاسوځان جهنم ته رابلے.

دا رنګ رافع بن عمیرهرضی الله عنه یو صحابی دے فرمائی چې یو زمری زمانه ګډه اوتختوله نو ماترینه راخلاصه کړه او ماورته اووئیل چې ته دومره لوے ظالم یے چې زما نه ګډه تختوے لکه کله کله د سړی د خولے نه خبرې اوځی. نو زمرے ورته ګویا شو چې ستاسو نه غټ ظالم بل نیشته چې یو انسان تاسو جنت ته رابلی او تاسو ځان جهنم ته. دا صحابی وائی چې دا خبره ما د دې زمری د خولے نه اوریدلې وه نو زه په دربار نبویﷺ کښې حاضر شوم او ایمان مې قبول کړو نو خبره مې دا کوله چې د پیغمبر شان دا دے چې د ده تذکری په اسمانی کتابونو او د پیغمبرانو په ژبه د هغه دپاك صحابه کرامورضی الله عنهم په ګواهئ بلکه تر ځناورو پورې دا ګواهی کوی چې دا د الله پیغمبر دے.

الله تعالی دې زمونږه د نبی کریمﷺ سره حقیقی مینه محبت پیدا کړی. امین

# شان، پیغام نبی ﷺ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ. اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ.

﴿اِنَّآ اَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ﴾(کوثر:۱)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :لَا يُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى يَكُوْنُ هَوَاهُ تَبَعًا لِمَا جِئْتُ بِهٖ﴾(السنۃ لابی عاصم)

## په سورة کوثر کښې د درې خبرو بیان:

په سورة الکوثر کښې الله تعالی د نبی کریم ﷺ متعلق درے خبرے بیانوی.

یو شان ومقام د نبی کریم ﷺ

دویم د نبی کریم ﷺ پیغام

دریم د نبی کریم ﷺ انجام

د قرآن کریم مطالعه که اوکړے شی نو د هغے نه هم دا معلومیږی. چې کله الله تعالی د دے پیغمبر شان او مقام ذکر کوی اوکله د نبی کریم ﷺ د بعثت مقصد ذکر کوی او د نبی کریم ﷺ په خلهٔ مبارکه الله تعالی خپل پیغام امت ته رسوی. د دے درې خبرو نه علاوه په قرآن کښې بله خبره نشته او دا د قران کریم خلاصه او نچوړ دے او په مختلفو ځایونو کښې په دې باندې تفصیل او بیان کوی. په سورة کوثر کښې هم دا درې خبرے په مختصر انداز باندې راجمع شوی دی.

دارنګ کله الله تعالی د نبی کریم ﷺ انجام ذکر کوی چې هغه کامیابی د نبی کریم ﷺ ده او کله د نبی کریم ﷺ د ملګرو کامیابی هم ذکر کوی.

## خلاصه سورة كوثر:

الله تعالى د نبي كريمﷺ شان په دے الفاظو ذكر كوى.

﴿اِنَّآ اَعۡطَيۡنٰكَ الۡكَوۡثَرَ﴾(كوثر:۱)

يعني مونږ تاله ډير لوے خير دركړے دے.دا لوي خير ما بل چا ته نه دے وركړے.

دا رنګ پيغام ذكر كوى نو فرمائى دنيا ته پيغمبر د څۀ د پاره راغلے دے او د بعثت مقصد ئے څۀ دے.

﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانۡحَرۡ﴾(كوثر:۲)

نو دا پيغام دے چې ټول مالى او بدنى عبادتونه صرف د الله د پاره اوكړے شى.

دارنګ انجام ذكر كوى چې فتح او كاميابى به د چا وى د دۀ او كه د دشمن نو وائى فتح به هم ستا وى.

﴿اِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الۡاَبۡتَرُ﴾(كوثر:۳)

يعني ستا دشمن به مونډ وتے وى.

دارنګ شان د نبي كريمﷺ دا هم دے چې د ټولو انبياء كرامو نه د نبي كريمﷺ په باره كښې وعده اغستے وه چې د دے پيغمبر مدد او نصرت به كوئ او په دۀ باندې به ايمان راوړئ. د دې معظم پيغمبر شان بيان شوے دې په دې كښې.

دا رنګ شان د نبي كريمﷺ قرآن كريم په دے رنګ ذكر كوى.

## د دې پيغمبر او دَ نورو په مينځ كښې فرق دے:

چې كله د نبي كريمﷺ د رسالت ذكر كوى نوفرمائى:

﴿وَمَآ اَرۡسَلۡنٰكَ اِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ﴾(سبا:۲۸)

دارنګ د نبی کریمﷺ د کتاب تذکره چې کوی نو فرمائی.چې دا کتاب ټول عالم دنیا دپاره هدایت دے.

﴿هُدًى لِلنَّاسِ﴾(بقرة:۱۸۵)

او کله چې د رسول الله ﷺ د قبلے ذکر کوی نو فرمائی:

﴿اِنَّ اَوَّلَ بَيْتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ﴾(آلعمران:۹۶)

دا رنګ کله چې د نبی کریم ﷺد امت تذکره کوی نو فرمائی: د ټولو خلقو د پاره تاسو وجود ته راغلی ئے.

﴿كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ﴾(آلعمران:۱۱۰)

نو ټول څيزونه او خبرے للناس دی يعني پيغمبر هم عالمی ، کتاب هم عالمی ، قبله هم عالمی، دعوت هم عالمی. نو د محمدﷺ نه بعد بل پيغمبر نشته او د قران نه بعد بل کتاب نشته د هدايت او د بيت الله نه بعد بل کور د قبلے لائق نشته او د دې امت نه بعد بل اُمت نشته نو د نبیﷺ نه بعد بل پيغمبر هم نشته.

د دے وجے نه الله تعالی په نبی کریمﷺ باندې نبوت ختم کړے دے نو فرمائی په سورة احزاب کښې.

﴿ مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللهِ وَخَاتَمِ النَّبِيّٖنَ﴾(احزاب:۶۰)

يعنې نبی کریمﷺ د هيڅ چا پلار نه دے بلکه د الله تعالی رسول دے او انبياء کرامو لره ختمونکے دے.

دا رنګ نورو پيغمبرانو تذکره چې کله په قرأن کښې کيږي نو په نوم اغستلو سره کيږی لکه **يَا اٰدَمُ اسْكُنْ اَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ، يَازَكَرِيَّا اِنَّا نُبَشِّرُكَ بِيَحْيٰى، يَا يَحْيٰى خُذِ الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ** وغيره د هغوی نوم ذکر دے.

نو دا فرق دے په پيغمبر محمدﷺ او نورو پيغمبرانو په مينځ کښې.

## په لقبونو سره د پغیمبر ذکر:

خو چې کله د نبی کریم ﷺ تذکره کیږی نو په خطاب کښې الله تعالی نوم نه اخلی بلکه فرمائی. الله پاك ته نوم اغستل ګران خو نه دی او نه بې ادبی ده خو دا تعلیم دے اُمت ته.

یایها المزمل ، یایها المدثر وغیره اوکه څوك اووائی چې قرآن ئے نوم ذکر کړے دے اٰمنوا بالکتاب الذی نزل علی محمدٍ. نو هغه د څۀ وجې، او وجه دا وه چې که څوك اووائی چې کوم محمد مراد دے نو هغه محمد چې کوم باندې دا کتاب نازل شوے دے. او اصلاً خطاب ورته په یا ایها المد ثر یا ایها المزمل یا طٰهٰ یٰسٓ او داسې نور نومونه نو دا وجه ښائی چې زما پیغمبر ته به محمد نه وائی ځکه دا بې ادبی ده د هغه په حق کښې او څوك چې یا محمد وائی نو هغوی ته وئیل پکار دی چې دا نوم ورته الله نه دے وئیلے په قرآن کښې نو ستا څۀ حیثیت دے چې یا محمد ورته وائی.

یو ځل یو بانډیچی نبی کریم ﷺ ته چغه اووهله او په ادابو باندې خبر نه وو.

﴿یَا مُحَمَّدُ اُخْرُجْ لَنَا﴾

یعني اے محمده! لږ راؤزه

دا الفاظ په الله تعالی بد اولږیدل نو دا اٰیتونه نازل شو

﴿اِنَّ الَّذِیْنَ یُنَادُوْنَكَ مِنْ وَّرَآءِ الْحُجُرَاتِ اَکْثَرُهُمْ لَا یَعْقِلُوْنَ﴾(حجرات:٦)

یعني هغه کسان چې د حجرے نه بهر تاته چغے وهی نو په دوی کښې اکثر نه پوهیږی.

د دے اٰیت نه یوفائده دا هم معلومه شوه چې یا محمد لیکل یا وئیل هم بے ادبی ده او د کم عقلتیا غټه نخښه ده.نوکه په دې لفظ کښې عقیده د شرك موجوده یا موجوده نه ده هغه بله مسئله ده لیکن دا لفظ د بے ادبئ دے.

# د پیغمبر خپل اُمت ته د خطاب طریقه:

دا رنګ د نبی کریمﷺ مقام دومره اوچت دے چې نور څومره پیغمبران خپل امت ته خطاب کوی نو د یا قوم اصطلا ح استعمالوی

﴿وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَقَالَ يٰقَوْمِ﴾(مومنون:۲۳)

دا شان شعیب علیه السلام، صالح علیه السلام او نور پیغمبران خپل قوم ته خطاب په یا قوم سره کوی. او نبی کریمﷺ ته حکم د دے خبرے دے چې:

﴿قُلْ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا﴾(اعراف:۱۵۸)

یعني اے خلقو! زه تاسو ټولو ته الله تعالی رسول رالیږلے یم .ته به خپل مشن او دعوت په دې طریقے سره پیش کوے ځکه ستا شان اوچت دے ته به داسې نه وے یا قوم یا اهل العرب یا قریش داسې به نه وائی.

نو مطلب دا چې نبی کریم ﷺ یو عالمی پیغمبر دے.

د ربیع الاول په میاشت کښې د نبی کریمﷺ میلاد مناویږی نو دا د شریعت نه ثابت طریقه نۀ ده خو کۀ څوك د دے رد کوی نو خلق بیا وائی چې ولے څۀ بدکار خو نۀ کوم. او دا خو د پیغمبر سره بے وفائی ده ځکه د پیغمبر شان خو دا نۀ دے چې په ټول کال کښې یو ځل مناؤ کړے شی او تذکره ئے اوکړے شی او د دې مثال د عیسایانو د دین په شان دے چې هغوی په کال کښې یو ځل کرسمس ډے مناؤ کړی او بس.

نو دے ته مینه نه وائی چې زما او ستا په عقل کښې راشی بلکه د پیغمبر سره مینه کول هم دین دے او دین به په نقل سره پیژنې د هغه سره مینه څۀ ته وائی دا راشه د صحابه کراموؓ نه تپوس اوکړه داسے نه چې صرف یو ځل جلسے جلوس، زنده باد مرده باد چغے اووهه او تا حق د پیغمبر ادا کړو او ته عاشق رسول ئے. نو مطلب دا چې دا مسئله دغه

انسانان د عقل تابع کوی حالانکه عقل به د دین تابع وی.

حضرت علی رضی اللہ عنہ فرمائی چې کچرے دین په عقل چلیدے نو مابه خلقو ته په موزو باندې د مسح د لاندے طرف حکم کړے وو.

## د پیغمبر سره د محبت معیار:

سورة اٰل عمران کښې الله تعالی د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم سره د مینے طریقه ښائی.

﴿ قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ وَيَغْفِرْلَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ﴾(آل عمران:۳۱)

یعني اووایه دے خلقو ته چې که چرے تاسو د الله تعالی سره مینه لرئ نو زما اتباع اوکړئ.

یوشاعر وائی:

تَعْصِي الْاِلٰهَ وَاَنْتَ تُظْهِرُ حُبَّهٗ: هٰذَا لَعَمْرِيْ فِي الزَّمَانِ بَدِيْعٌ

لَوْكَانَ حُبُّكَ صَادِقًا لَاَطَعْتَهٗ: اِنَّ الْمُحِبَّ لِمَنْ يُحِبُّ مُطِيْعٌ

تفسیر مدارك کښې د دے اٰیت د لاندې دا لیکلے شوے دی چې

﴿مَنِ ادَّعٰى مَحَبَّتَهٗ وَخَالَفَ سُنَّةَ رَسُوْلِهٖ فَهُوَ كَذَّابٌ وَكِتَابُ اللّٰهِ يُكَذِّبُهٗ﴾

یعني څوك چې د الله تعالی سره د مینے دعوے کوی او د الله تعالی د رسول د سنت اتباع نهٔ کوی نو دا انسان غټ دروغژن دے او کتاب الله هم ورته نسبت د دروغو کوی.نو مینه نوم دے د محمد صلی اللہ علیہ وسلم د تابعدارے اطاعت چې ته د پیغمبر د هرے خبرے په هر حالت کښې اطاعت اوکړے.

## صحابه رضی اللہ عنہم او د پیغمبر صلی اللہ علیہ وسلم اطاعت:

کله چې د قبلے حکم راغے نو نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم په مسجد بنی

سلمه کښې د ماسپخین په مانځه کښې ولاړ وو چې په دریم رکعت کښې د قبلے د بدلیدو حکم اوشو نو نبی کریمﷺ هغه طرف ته واؤړیدو او صحابو﷡ هم فورا هغه طرفته مخ کړل.

دا اتباع د صحابه کرامو﷡ وه چې بغیر د چو ن وچرا نه د نبی کریمﷺ اتباع ئے اوکړله. اوکۀ دا د نن صبا زمانے مسلمان وے نو وئیل به ئے چې پیغمبر غلط شو خطا شو.

دا رنګ یو ځل نبی کریمﷺ په مونځ کښې خپلے پنړے اویستلے نو صحابو﷡ هم فورًا د هغوی په اتباع کښې خپلے پنړے اوویستلے .

نبی کریمﷺ چې کله د مونځ نه فارغ شو نو صحابو﷡ ته ئے اوفرمائیل چې تاسو ولے اوویستلے ؟ نو صحابو﷡ جواب ورکړو چې تاسو اوویستلے نوځکه مونږ هم اوویستلے.

دا د صحابه کرامو﷡ اتباع وه.

## د حکم نبویﷺ ادب او ابن مسعود﷜:

دارنګ عبد الله بن مسعود﷜ یو ځل د جمعے د خطبے په دوران کښې جمات ته راداخل شو نو نبی کریم ﷺ بل یو سړی ته اوفرمائیل چې اجلس یعني کینه.

دا آواز چې ابن مسعود﷜ واؤریدو نو په پیزارګاه کښې فورًا کیښناستو او تر د اخرې خطبے پورې په دغه مقام کښې ناست وو.

دارنګ عبد الله بن عمرو بن العاص﷜ یو ځل یو څادر په اوګه کړے وو خو رنګ ئے نسوانی شا ن وو نو نبی کریم﷜ ورته اوفرمائیل چې دا دې څۀ په سر کړی دی.

دے فورا کور ته راغے او تنور کښې ئے اوسوزو.نو هغه بیا راغلے

نو نبی ﷺ ترینه د ښادر په باره کښې بیا تپوس اوکړو هغه ورته اوئیل چې هغه خو مې اوسوزولو نو نبی ﷺ ورته اوفرمائیل چې یو زنانه ته به دے ورکړے وے.

دا د صحابه کرامو رضی الله عنهم مینه محبت وو. نو دا د پیغمبر مینه نه ده چې یو ځل فضول خرچئ سره په کال کښې جشن مناؤ کړے شی او که دا محبت دے چې ظاهری د مینې دعوی اوکړے نو ابو طالب به بیا مسلمان مؤمن وے.

الله تعالی دے مونږ ته هم د نبی کریم ﷺ سره صحیح مینه نصیب کړی. امین

# رسالت نبی ﷺ مقام صحابه رضی الله عنهم

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِہٖ وَ اَصْحَابِہِ الْاَتْقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿ وَاعْلَمُوْا اَنَّ فِیْکُمْ رَسُوْلَ اللّٰہِ لَوْ یُطِیْعُکُمْ فِیْ کَثِیْرٍ مِنَ الْاَمْرِ لَعَنِتُّمْ وَلٰکِنَّ اللّٰہَ حَبَّبَ اِلَیْکُمُ الْاِیْمَانَ وَزَیَّنَهٗ فِیْ قُلُوْبِکُمْ وَکَرَّہَ اِلَیْکُمُ الْکُفْرَ وَالْفُسُوْقَ وَالْعِصْیَانَ اُوْلٰئِکَ هُمُ الرَّاشِدُوْنَ ﴾ (حجرات:۷)

## د الله برگزیده هستی:

د الله تعالی د وجود او د وحدانیت سره سره د الله تعالی په رسولانو باندې ایمان لرل هم ضروری دی چې د هغه هستو د وجے نه د الله تعالی فرامین مونږ انسانانو ته رارسیدلی دی. دوی سره محبت د ایمان حصه ده.

الله تعالی په مخلوق باندې ډیر لوے احسانات کړی دی خو په هغه انعاماتو کښې یو انعام د انبیاؤ سلسله جاری کول وو چې د اٰدم علیه السلام نه واخله تر د نبی کریم ﷺ پورے جاری وساری وه. د انسانی تربیت او هدایت د پاره الله چې به کوم احکامات او پیغامات دنیا ته رالیږل د پیغمبرانو په ذریعه سره هغے ته وحی وئیلے کیږی او د دې پاکیزه او مقدس د برکت نه ډك مشن د پاره چې به الله کوم خلق منتخب کول نو هغوی ته به رسول الله وئیلے کیدو.

د دوی انتخاب الله تعالی د خپلو پیغاماتو رسولو د پاره کړے وو چې د الله تعالی پیغامات انسانانو ته اورسی. نو د دغے مشن په تکمیل کښې چې د دغے پیغمبرانو سره چا ملگرتیا کړے ده او په دې مقصد پوره

کولو کښې هر قسم مالی جانی قربانۍ ته خپل ځان مخکښې کړے وو. نو هغوی ته اصحاب الرسول وئیلے کیږی.

اصحاب د صاحب جمع ده او یوځاې پاتے کیدونکی ته وئیلے کیږی.

## د صحابی تعریف:

قرآن کریم کښې هم دا اصطلاح استعمال شوے ده لکه اصحاب الکهف غاروالہ، اصحاب السفینة کشتۍ واله، اصحاب مدین مدین واله، اصحاب النار اُور واله او اصحاب الجنة جنت واله وغیره.

د شریعت په اصطلاح کښې صحابه د نبی کریمﷺ د هغه مقدس قدوسی جماعت نوم دے چې په نبی کریمﷺ ئے په حالت د لیدلو کښې ایمان راؤړے دے او په دغه حالت کښې د دنیا نه وفات شوے وی.

دا رنګ د اصحابو دا اصطلاح د نبی کریمﷺنه علاوه د نورو پیغمبرانو د ملګرو په باره کښې هم استعمال کړے دے.

د موسی علیه السلام د ملګرو د قول حکایت کوی کله چې فرعون ظلم او زیاتے ډیر کړو او الله د هجرت حکم او فرمائیلو نو فرعونیان ورپسې شو یو طرف ته سمندر دے او بل طرف ته د فرعون لښکر نو په دغه وخت کښې د موسی علیه السلام ملګرو دا خبره وکړه.نو فرمائی.

﴿قَالَ أَصْحَابُ مُوسَىٰ إِنَّا لَمُدْرَكُونَ﴾(شعراء:٦١)

یعني د موسی علیه السلام ملګرو اووئیل چې مونږ خو راګیر شو.

دارنګ د نبی کریمﷺ صحابو ته هم د صحابی لفظ استعمال شوے دے.

## د ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ شان:

د هجرت په موقع نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم په غار ثور کښې مقیم وو چې مشرکین د هغه په تلاش کښې د غار خولې له راغلل نو ابوبکر رضی اللہ عنہ وارخطا شو نو نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم ورته تسلی ورکړه.

الله تعالی فرمائی.سورة الانفال کښې:

﴿إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا﴾(توبه:۴۰)

یعني کله چې نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم خپل ملګری ته اووئیل چې مهٔ خفه کیږه الله تعالی زمونږ مدد ګار دے.

د دے آیت نه لاندې امام قرطبی رحمۃ اللہ علیہ لیکلی دی چې څوك د ابوبکر رضی اللہ عنہ د صحابیت نه منکر وی نو هغه په دے آیت باندې کافر کیږی. ځکه د هغه صحابیت په قرآن سره ثابت دے او دا شان د حضرت ابو بکرصدیق رضی اللہ عنہ دے.

## مقام صحابه رضی اللہ عنہم:

شیخ عبد القادر جیلانی رحمۃ اللہ علیہ د صحابی تعریف کوی نو فرمائی. او صحابی یا صحابه لفظ په دې امت کښې هغه قدوسی عظمت پسند جماعت ته وئیلے کیږی کوم خلق چې د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم ملګری پاتې شوی وو. نو هغه د صحابی تعریف کوی او ورسره مقام صحابی ښائی چې دا دکوم عظمت او مقام خاوند دے.

کوم صحابی چې په نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم ایمان راوړی وی او لا نور اعمال ئے نه وی کړې او جهاد کښې شامل شی نو د هغه د اسپے د سپیږمو دوړو ته هم عبد القادر نه رسی. دا شان د صحابی دے او مقام د صحابی دے.

حضرت مجدد الف ثانی رحمۃ اللہ علیہ هغه هستی ده چې هغه ډیر په حکمت سره د کفر مقابله کړې وه په خپل دور کښې او علماء د تاریخ لیکی که چرته شیخ سرهندی رحمۃ اللہ علیہ نه وے نو د هندو ستان نه به د اسلام جنازه وتلے وے او یو کلمه ګو په نوم مسلمان به ورکښې نه وے پاتي شوے. په المکتوبات کښې فرمائی:

((هیچ ولی بمرتبہ صحابی نہ رسید اویس قرنی ؒ بارفعت شان کہ بشرط صحبت خیر البشر نہ رسیدہ بمرتبہ ادنی صحابی نہ رسد.))

یعني هیڅ یو ولی د صحابی مقام ته نۀ رسی. اویس قرنی رحمۃ اللہ علیہ سره د بزرګئ نه د ادنی صحابی مقام ته ځکه نه رسی چې د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم صحبت ورته نه دے حاصل. نو یو د لوې درجے بزرګ که د هغۀ بزرګی په احادیثو سره ثابت ولې نه وی نو بیا هم هغه د یو وړې درجے صحابی ته چې هغه نبی صلی اللہ علیہ وسلم د لرې نه لیدلے وی دهغه مرتبے ته نه رسی.

عبد الله بن مبارك رحمۃ اللہ علیہ د امام بخاری رحمۃ اللہ علیہ په استاذانو کښې دے او د امام ابو حنیفه رحمۃ اللہ علیہ شاګرد دَ هغه نه د معاویة رضی اللہ عنہ او عمر بن عبدالعزیر رحمۃ اللہ علیہ په باره کښې تپوس اوشو چې کوم پکښې افضل دے؟ ځکه معاویه صلی اللہ علیہ وسلم سبائیانو او شیګانو بد نام کړے وو او قسم قسم تهمتونه او پروپیګنډئ او بد نامې ورپسې جوړې کړې دی.

نو دۀ جواب ورکړو چې عمر بن عبد العزیر رحمۃ اللہ علیہ د معاویة رضی اللہ عنہ د اسپے چخو ته هم نه رسی.

﴿ اَلْغُبَارُ الَّذِیْ دَخَلَ اَنْفَ فَرَسِ مُعَاوِیَةَ مَعَ رَسُوْلُ اللهِ صلی اللہ علیہ وسلم خَیْرٌ مِنْ عُمَرَبْنِ عَبْدُالْعَزِیْزِ رحمۃ اللہ علیہ کَذَا کَذَا مَرَّةً ﴾

یعني دَ نبي صلی اللہ علیہ وسلم په ملګرتیا کښې هغه دوړه چې د معاویة رضی اللہ عنہ د اسپے په پوزه کښې پرته وه نو هغے ته هم عمر بن عبد العزیز رحمۃ اللہ علیہ نۀ شی

رسیدے. او دغه وجه ده چې امام بخاری رحمۃ اللہ علیہ په خپل کتاب کښې دا قسم بابونه راوړی دی چې

﴿حُبُّ الْاَنْصَارِ مِنَ الْاِيْمَانِ﴾(بخاری)

د انصارو صحابه کرام رضی اللہ عنہم سره محبت د ایمان حصه ده.

## د صحابی کیدو شرطونه:

صحابی د پاره دوه شرطه وو.

یو ایمان او دویم معیت او صحبت که په یو سړی کښې ایمان نه وی نو هغه که د پیغمبر د کور سړے هم وی نو هیڅ حیثیت نه لری د الله په دربار کښې لکه ابو طالب ابوجهل وغیره اوکه یو کس د ډیرې لوې درجې متقی پرهیزګاره مومن مسلمان وی او هغه نبی نه وی لیدلے نو هغه سره د لوې درجې نه د صحابی مرتبه په هیڅ یو شان هم نه شی موندلے.

د هر پیغمبر د ملګرو د پاره دا دوه شرطونه شته دے.

الله تعالی فرمائی:

﴿فَاَنْجَيْنَاهُ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا﴾(اعراف:۷۲)

یعني مونږ دے پیغمبرانو او هغه کسانو ته چې د دوی معیت کښې وو نو مونږ هغوی لره نجات ورکړو د وجے د خپل رحمت نه.

دا رنګ الله تعالی فرمائی.

د نبی صلی اللہ علیہ وسلم د صحابه په باره کښې فرمائی سوره فتح کښې:

﴿مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ﴾(فتح:۲۹)

یعني محمد صلی اللہ علیہ وسلم د الله تعالی رسول دے او هغه کسان چې د دهٔ ملګری دی نو د هغوی هم لوے مقام دے.

## طبقات د صحابو رضی اللہ عنہم:

صحابه کرام رضی اللہ عنہم د مختلفو پهلو ګانو د وجے نه په دولس طبقو کښې تقسیم دی.

څوك په هجرت کښې مقدم دی نو څوك په جهاد کښې نو څوك په صحبت د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم کښې.

الله تعالی هم فرمائی.سورت حدید کښې

﴿لَا يَسْتَوِىْ مِنْكُمْ مَنْ اَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ اُولٰٓئِكَ اَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ اللّٰهِ﴾(حدید:۱۰)

یعني د فتح مکے نه مخکښې چې چا انفاق یا جهاد کړے دے نو هغوی د نورو سره برابر نه دی بلکه د هغوی لوے درجے دی.

باقی ټول صحابه د الله تعالی لوے برګزیده هستئ دی.

الله تعالی فرمائی:﴿وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى﴾(نساء:۹۵)

یعني د ټولو سره الله تعالی د جنت وعدے کړی دی. یعنې مونږ د پاره دا خبره ده باقی اونچ نیچ د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم په مینځ کښې نو دا د هغوی په خپلو کښې نسبت سره دی مونږه ته ټول د الله د پیغمبر ملګری دی او قابل قدر واجب الاحترام دی.

## د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم تعداد:

د دین اسلام د حقانیت وجه دا ده چې د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم په دعوت څۀ د پاسه یو لاکهه کسان مومنان شوی وو او دغه د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم تعداد دے. په لږ وخت کښې دا دومره تعداد جوړیدل د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم د دعوت د حقانیت غټه نخښه ده.دا د نبی صلی اللہ علیہ وسلم شان د دعوت دے او د صحابه کرامو صلی اللہ علیہ وسلم مرتبه د قبول دعوت ده چې یا خو لګه زمانه مخکښې

د ګوتو په شمیر هم نه وو او بیا د لاکهو نه ډیر خلق ایمان راؤړی.

په جنګ بدر کښې درے سوه او دیارلس صحابه او بیا په غزوه حنین کښې لس زره او بیا په غزوه تبوك کښې دیرش زره او د حجة الوداع په موقع څۀ د پاسه یو لاکهه وو. تقریباً په اوله صدی کښې ختم شوې دی.

اٰخری صحابی ابو الطفیل رضی اللہ عنہ په سلمه هجرئ کښې وفات شوے وو یعني سو هجری نه بعد صحابه کرام رضی اللہ عنہم ختم شوې وو.

د دې وینا ابو الطفیل هم کړے وه.

## صحابه رضی اللہ عنہم د قران په نظر کښې:

الله تعالی په سورة بقره کښې د دے بیان په دې الفاظو کوی:

﴿اٰمِنُوْا كَمَآ اٰمَنَ النَّاسُ﴾(بقرة:۱۳)

یعني د صحابو رضی اللہ عنہ د ایمان په شان ایمان راؤړئ.

دا رنګ سورة بقره کښې ئے معیار د ایمان ګرځولے دے.

﴿فَاِنْ اٰمَنُوْا بِمِثْلِ مَآ اٰمَنْتُمْ بِهٖ فَقَدِ اهْتَدَوْا﴾(بقرة:۱۳۷)

یعني که چا د دوی د ایمان په شان ایمان راؤړو نو په هدایت به وی. مقبول ایمان الله ته د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم ایمان دے که دهغوی په شان ایمان نه وی نو دا بیا ایمان کیدے نۀ شی بے ایمانی ده. او کله الله فرمائی: ﴿اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ﴾(بقرة:۶)

دا خلق کامیاب دی:

﴿اُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ﴾(توبه:۲۰) ﴿اُولٰٓئِكَ هُمُ الرّٰشِدُوْنَ﴾(حجرات:۷)

دا خلق د رشدوهدایت خاوندان دی چې الله د دوی نه راضی دے او کله فرمائی: اولئك حزبُ اللهِ دا د الله ډله ده چې د الله رضا طلب کوی او د هغه د طرف نه بل طرف باندې نه ځی.

دارنګ الله تعالی د دوی د ایمان په باره کښې فرمائی.

﴿ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ حَبَّبَ اِلَيْكُمُ الْاِيْمَانَ وَزَيَّنَهٗ فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَكَرَّهَ اِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوْقَ وَالْعِصْيَانَ ﴾(حجرات:۷)

یعني الله تعالی تاسو ته ایمان ډیر محبوب څیز ګرځولے دے او الله تعالی ستاسو په زړونو کښې ایمان ښائسته کړے دے او کفر ، فسق او نافرمانی ئے ستاسو په زړونو کښې قابل نفرت ګرځولی دی.

## قربانۍ د صحابو رضی اللہ عنہم:

صحابه کرامو رضی اللہ عنہم د دین اسلام د پاره خپل ځانونه ، مالونه، جانونه، کورونه، رشته دارۍ او وطنونه ئے د دین د پاره قربان کړی وو. داسې قسم قربانی داسې قسم چې قرآن ورباندې ګواه، تاریخ پرې ګواه، احادیث د نبی صلی اللہ علیہ وسلم ورباندې ګواه، د نبی صلی اللہ علیہ وسلم او اصحاب کرامو رضی اللہ عنہم سیرت ورباندې ګواهی کوؤنکی په کوم حالاتو کښې دې خلقو د الله او د الله د رسول رضا حاصله کړې ده کوم قسم مشقتونه او تکلیفونه په داسې سخت وختونو کښې برداشت کیږی خو د الله رضا د خپلو لاسونو نه نۀ پریږدی .

د غزوه تبوك په موقع په سخته ګرمۍ کښې ، دکهجورو د فصل د پخیدو په وخت کښې، سفر په صحراء کښې او سامان او توښه کمه، په ټوله ورځ کښې یوه کهجوره به ملاویده، او یو صحابی فرمائی چې د دے یوے کهجورے احساس او قدر مونږه ته هغه وخت اوشو چې هغه یوه کهجوره هم نه وه.

## د یو یتیم صحابی رضی اللہ عنہ قربانی:

دا رنګ یو یتیم صحابی د هجرت اراده اوکړه نو ترۀ ترینه هر څۀ قبضه کړل او تردے چې د جسم لباس ئے ترے هم واغسته او چې کله

لنګ ته ئے لاس کړے نو ترۀ ته ئے اوکتل چې ترۀ کښې به مې حیاء راشی خو هغه خپله اراده بدله نه کړه او دے بربنډ خپل کور ته راغے نو مور ورله کمبل ورکړه.

دا صحابی سفر کوی او مدینے ته اورسیدلو. نبی ﷺ مخامخ شو تپوس ئے ترینه اوکړو نوم دې څۀ دے؟ هغه جواب ورکړو عبدالغزّی. نبی ﷺ ورته اووئیل : ستا نوم عبد اللّٰه دے. او دا څۀ لباس دې په ځان باندې راچولے دے؟ ورته ئے واقعه بیان کړه بیا نبی ﷺ تسلی ورکړه او ورته ئے ووئیل: بیا خو ته دوۀ کمبلو واله ئې بیا ئې دا لقب شو ذُوالُجبادَین.

بیا د تبوك په موقع هم دا صحابی د ډیرے تندے د وجے نه وفات شو کله چې صحابو دفن کوؤ نو نبی کریم ﷺ راغے او قبرنه ئے نور صحابه بهر کړل او وے فرمائیل چې دا صحابی به زۀ په خپل لاس خخوم.

دا د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم قربانئ وے چې مونږ ته ئے دا شریعت محفوظ رارسولې دي او د دے د پاره ئے قربانئ ورکړې دی.نو د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم سره مینه کول د ایمان بنیادی حصه ده.

اللّٰه تعالی دے مونږ ته د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم سره صحیح مینه رانصیب کړی. امین

# عقیده رسالت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿لَیْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا وُجُوْهَکُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلٰکِنَّ الْبِرَّ۔۔ الخ﴾ (بقرۃ:۱۷۷)

﴿وَقَالَ تَعَالٰی فِیْ مُقَامٍ اٰخَرَ : وَاِنْ مِّنْ اُمَّةٍ اِلَّا خَلَا فِیْهَا نَذِیْرٌ۔﴾(فاطر:۲۴)

﴿وَقَالَ تَعَالٰی: وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِیْ کُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلًا﴾(نحل:۳۶)

﴿وَقَالَ تَعَالٰی فِیْ مُقَامٍ اٰخَرَ: وَلِکُلِّ اُمَّةٍ رَسُوْلٍ﴾(یونس:۴۷)

## د اسلام دویمه بنیادی عقیده:

د اسلام په بنیادی عقائدو کښې دویمه عقیده د رسالت ده. اوله عقیده د الله وجود او توحید، دویمه عقیده ایمان په آخرت باندې او دریمه اهمه بنیادی عقیده د رسالت ده. اوله عقیده کښې دا بیان وو چې الله په ذات کښې په صفاتو او افعالو کښې واحد لا شریك موجود منل لازم دی او په دویمه عقیده کښې دا بیان شو چې د دې عالم نه بعد یو بل عالم او دنیا شته دے چې په هغے کښې به د دې دنیا د هر وړوکی او غټ عمل په باره کښې تپوس کیږی نو چا چې د توحید اقرار او ایمان په ځان لازم کړے وی جنت ته به ځی او څوك چې ئے نۀ منی جهنم ته به ځی. ځکه چې د الله تعالی د توحید منلو اوپه اٰخرت باندې دَ عقیده جوړولو نه بعد عمل کول ضروری وو نو اوس عمل به په کومه طریقه کوی نو د دغے د پاره الله تعالی د انبیاء کرامو علیهم السلام سلسله جاری فرمائیلے ده ځکه چې انسان ته د خوراك څکاك سره سره د رسول ضرورت هم شته

دے. چې د هغه په ښودلو شوؤ طریقو باندې عمل اوکړی او جنت ته پرے ځان اورسوی. د الله حکم بیان کړی، د الله تعلیمات او قانون خلقو ته اورسوی او ښۀ او دَ بدو خبرو تمیز اوکړے شی او دا ټولې خبرے په خپل عملی صورت کښې خلقو ته اوښودلے شی او په دې باندې مسلمان کلکه پخه عقیده قائم کړی.

الله تعالی چې څۀ رنګه د انسان جسمانی ضروریات پوره کوی د خوراك څکاك ضرورت ورته پوره کوی او نظام شمسی ئے ورته راپیدا کړے دے . نو دا رنګ د انسان د روحانی تربیت چې هغه د الله بندګی کول دی او د الله په احکاماتو عمل او ژوند تیرول دی. د دې د پاره الله تعالی انبیاء کرام رالیږلی دی. نو دا دوه قسمه نظامونه دی یو د خوراك څکاك سلسله او دویمه دا چې انبیاؤ د بعثت سلسله ده.

دا د الله تعالی د ربوبیت او د رحیمیت تقاضا ده. بے علمه او جاهل خلق دا سوچ لری چې رسولان او انبیاء دا یو بوج دے په دې معاشره باندې او دا صرف د الله د حاکمیت خبره یعنی الله خپل حکومت کول په بندګانو باندې غواړی دا د الله د رحمت او ربوبیت تقاضه ده.

## رسول به څوک وی:

رسول به څوك وی؟

رسول او پیغمبر هر سړے نۀ شی جوړیدے یعني دا نبوت کسبی څیز نه دے چې ګنی یو انسان ته په محنت باندې ملاؤ شی بلکه دا الله تعالی د خپل علم مطابق انبیاء کرامو علیهم السلام ته ورکوی.او دا غلط پهلو ده چې یو انسان دا نظریه لری چې نبوت په عمل باندې ملاویږی او دغه شان د نبوت متعلق نورې ډیرې غلطې عقیدې او خیالات خلقه لری او د هغے اصلاح کول ضروری دی.

او پیغمبر الله تعالی د دے د پاره رالیږلے دے چې د خپل طرف نه پیغامات د دوی طرفته د انبیاء کرامو په ذریعه اورسوی . نو د دے مقصد د پاره الله تعالی انبیاء کرام رالیږلی دی.

## رسول فرشته یا جن نشی کیدے:

اوس دا سوچ کول چې د دے مقصد د پاره فرشتے رالیږل پکار وولکه دا غلط فهمی د بعض مشرکانو نه هم معلومه شوې وه او نن صبا هم د مسلمان په جامه کښې د دې عقیدی لرونکی شته دے ځکه چې دا یو مقدس مخلوق دے نو دا خبره ځکه غلطه ده چې فرشته د انسانی ضروریاتو نه عاری وی نو د انسانی تقاضو نه هم ناخبر وی نو هغوی د انسان د کارونو په حقیقت نهٔ پوهیږی او د انسانی احساساتو او جذباتو نه هم واقفیت نهٔ لری لکه خوراك ، څکاك ، رشته داری، غم ښادی ،کلے اولس وغیره. دغه شان انسانی شهوت یا خوب لیدل اوده کیدل او رشته داری، صله رحمی د هغوی سره نه دی تړلے شوې نو چې یو کس پخپله په دې حقائق باندې خبر نه وو نو نورو خلقو ته به ئے څنګه اوښائی.

د دے وجوهاتو د وجے نه الله تعالی انبیاء کرام راؤلیږل او هغوی عملی طور باندې دا اوښودل چې غم او ښادی په دې طریقه کوے، خوراك څکاك به په دے طریقے سره کوے ، ناسته ملاسته به په دې طریقے سره کوے. نو دا انبیاء کرام علیهم السلام چونکه انسانان وو نو د دغے تقاضو ضرورت دوی ته هم وو.

قرآن کریم کښې الله تعالی په دے الفاظو د د ے اعتراض جواب کوی او په مختلفو طریقو سره دا جواب کوی.

﴿ قُلْ لَوْكَانَ فِي الْأَرْضِ مَلَائِكَةٌ يَّمْشُوْنَ مُطْمَئِنِّيْنَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِمْ مِنَ السَّمَآءِ مَلَكًا رَّسُوْلًا ﴾(اسراء:۹۵)

یعنې کۀ په زمکه فرشتے اوسیدے نو هله به مو ورته فرشتے بطور پیغمبر رالیږلے وے.

د دې وجے نه الله تعالی فرمائی

﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾(احزاب:۲۱)

یعنې ستاسو د پاره د رسول اللهﷺ ژوند یو بهترینه نمونه ده.

څنګه چې هغویﷺ ناسته پاسته کوی دغه شان تاسو هم کوے، څنګه خوراك څكاك كوی دغه شان خوراك او څكاك تاسو هم كوے، مونځ څنګه کوی، دعا څنګه کوی وغیره.

په دے دور کښې هم بعضے خلق د نبی کریمﷺ په باره کښې دا عقیده لری چې نبی کریمﷺ نور دے بشر نه دے او داسے قسمه عقائد د مکے د مشرکانو هم وو او هغوی هم دا تعجب کړے وو چې پیغمبر څنګه بشر کیدے شی.

حالانکه الله تعالی فرمائی.چې پیغمبره په خپله خُله مبارکه ورته اُووایه.

﴿قُلْ سُبْحَانَ رَبِّيْ هَلْ كُنْتُ اِلَّا بَشَرًا رَّسُوْلًا﴾(اسراء:۹۳)

یعنې دې خلقو ته اووایه چې پاکی ده رب زما لره او زۀ نه یم مګر بشر او انسان یم او د الله تعالی رسول یم.

دارنګ فرمائی.چې صرف ته بشر نه ئے بلکه ستا نه مخکښې پیغمبران هم بشر وو.

﴿وَمَا اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْ اِلَيْهِمْ﴾(یوسف:۱۰۹)

یعنې مونږ ستا نه مخکښې هم انبیاء کرام علیهم السلام سړی رالیږلی وو چې مونږ به ورته وحی کوله

دارنګ سورة الکهف کښې فرمائی:

﴿قُلۡ اِنَّمَاۤ اَنَا بَشَرٌ مِّثۡلُكُمۡ﴾(کھف:۱۱۰)

يعنې دې خلقو ته اووايه چې زۀ ستاسو په شان بشر او انسان يم. زۀ دَ خاورې نه پيدا يم، زۀ نارى او نورى مخلوق نه يم زۀ خاکى مخلوق يم. نه زۀ جن پيرے يم او نه زۀ فرشته يم بلکه بشر انسان يم.

دارنګ د نبى کريمﷺ خاندان هم وو او بيبيانے ئے هم وے . او دا ټول بشر وو نو نبى کريمﷺ هم بشر ووځکه ئے د انسانانو سره تعلق وو او د انسانانو په معاشره کښې ئے ژوند تيرولو.

## د انسان نه معاشره زده کړه کوى:

دا رنګ د نکاح د شرائطو نه دا خبره ده چې دواړه به انسانان وى يعني يو جنس به وى ، او مسلمانان به وى، ايجاب او قبول به وى، ګواهان به پکښې ضرورى وى نو يو شرط دا هم دے چې جنس به ئے يو وى دواړه به انسانان وى د جناتو او فرشتو سره د انسانانو نکاح نۀ کيږى او کومے قيصې چې مشهورې دى هغه هسے خيالات او اوهام دى . دغه وجه ده چې پيغمبر انسان دے هغه جن يا فرشته نۀ ده د دې وجے نه د انسانو سره د هغه نکاح شوى ده.

نو خلاصه دا چې څۀ رنګه څوك د انبياء کرامو عليهم السلام د رسالت نه انکارکوى نو کافر کيږى نو دا رنګ چې څوك د نبى کريمﷺ د بشريت نه منکر وى نو دا هم کفر دے.

## پيغمبران د الله بندګان دى:

دا رنګ دا عقيده هم غلطه ده چې ګنى انبياء کرام عليهم السلام د الله تعالى اولاد يا اوتار دى داسے د هندوانو په مندرونو کښې د بتانو مجسمے وے او هغوى دا تصور کوى چې دا د الله سره شريك پيغمبران دى

او دي ته اوتار وئیلے کیږی هیڅ پیغمبر د الله ابن، ولد اوتار، شریك حصه دار نشی کیدے بلکه هغوی مخلوق انسانان وو او د الله برگزیده بندگان وو.

دا رنګ د عیسایانو دا عقیده وه چې عیسی او مریم علیهما السلام اله وو نو الله تعالی د هغوی رد په دے الفاظو کوی او د یهودیانو دا عقیده ده چې عزیر علیه السلام د الله ځوے دے.

﴿كَانَا يَأْكُلَانِ الطَّعَامَ﴾(مائده:۷۵)

یعني دې دواړو خو به خوراك کوؤ او الله تعالی د دے صفت نه منزه دے ځکه څوك چې خوراك ته محتاج وی هغه اله نشی کیدے څوك چې ښځې او بی بی ته محتاج یا بچی ته محتاج وه یا نکاح کوی یا په دنیا کښې د مور پلار نه پیدا شوی وی هغه اله او الله نه شی کیدے.

د دے انبیاء کرامو سلسله د آدم علیه السلام نه شروع شوے وه او په نبی کریم ﷺ باندې ختمه شوی ده. نو په دې ټولو باندې ایمان لرل چې دوی د الله پیغمبران وو الله دوی دَ خپلو اُمتونو د هدایت د پاره دنیا ته رالیږلی وو قرآن کښې الله فرمائی چې عقیده به داسے ساتے تاسو:

﴿لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِنْ رُسُلِهٖ﴾(بقرة:۲۸۵)

مونږ هیڅ یو پیغمبر کښې فرق نه کوؤ.

## هر اُمت ته خپل پیغمبر:

دا رنګ د مشهور روایت مطابق د انبیاء کرامو علیهم السلام تعداد کم وبیش یو لاکهه څلیریش زره دے.

دارنګ الله تعالی هرامت ته پیغمبر رالیږلے دے.

الله تعالی فرمائی:

﴿وَاِنْ مِّنْ اُمَّةٍ اِلَّا خَلَا فِيْهَا نَذِيْر﴾(فاطر:۲۴)

یعني هر امت ته الله تعالی یو یروونکے رالیږلے دے.

دارنګ فرمائی:

﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلًا﴾(نحل:۳۶)

یعني مونږ په هر امت کښې رسول رالیږلے دے.

دارنګ فرمائی:

﴿وَلِكُلِّ اُمَّةٍ رَسُوْلٌ﴾(یونس:۴۷)

یعني هر امت ته رسول رالیږلے شوے دے.

## عملی ژوند به په اسلام باندې وی:

دا رنګ بله عقیده دا ده چې په ټولو پیغمبرانو به یوشان عقیده لرې او د خپل وخت د پیغمبر اتباع به کوې.

یو ورځ عمر رضی الله عنه د توراة یو څو کلمات اولوستل او وے فرمائیل چې دې توراة کښې خو د نصیحت ډیرے ښکلے خبرې دی. په دے نبی کریم صلی الله علیه وسلم ډیر زیات غصه شو نو عمر رضی الله عنه معافی اوغوښتله. ابوبکر صدیق رضی الله عنه ورته ووئیل چې ته دَ نبی صلی الله علیه وسلم مخ مبارك ته نۀ ګورې.

بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل

﴿لَوْكَانَ مُوْسٰى حَيًّا لَمَا وَسِعَهٗ اِلَّا اتِّبَاعِيْ﴾(مسند احمد)

یعني که موسی علیه السلام اوس ژوندے هم وے نو بیا هم په هغه زما اتباع لازمی وه نو عمر رضی الله عنه دا اووئیل

﴿رَضِيْتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِالْاِسْلَامِ دِيْنًا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُوْلاً وَنَبِيًّا﴾(مسند احمد)

زۀ په الله راضی یم چې زما رب دے او په محمد صلی الله علیه وسلم راضی یم چې پیغمبر دے او په اسلام د دین کیدو نه راضی یم.

## د شریعت د بدلیدلو مثال:

دا رنګ عیسی علیه السلا م به هم په اٰخری وخت کښې راځی خو د یو بنده په حیثیت او اتباع به د نبی کریم د شریعت کوی.

دا رنګ الله تعالی د انسانانو د فطرت او د هغوی د عاداتو او حالاتو مطابق احکامات او قوانین رالیږی نو کله یو شان قوانین رالیږی اوکله بل شان لکه څنګه چې د مُلك قانون د ملك په ترقئ سره په هغے کښې ترمیمات کیږی او بدلیږی رابدلیږی. د دے وجے نه الله تعالی پیغمبران مختلفو ډلو ته د هغوی د مزاج او حالاتو مطابق رالیږلی دی خو چې کله انسانیت خپل بلوغ ته اورسیدو نو الله تعالی یو کامل قانون د یو کامل انسان په لاس باندې امت ته راؤلیږو چې هغه زمونږ خوږ پیغمبر ﷺ او خوږ شریعت دے او څوك چې دا عقیده ساتی چې دا ټول دینونه الله ته د رسیدلو لارې دی لکه نن صبا په دې زمانه کښې دا فکر ورځ په ورځ باندې خوریږی د وحدت ادیان په نوم باندې چې دا ټول اسمانی مذهبونه الله ته د رسیدو د پاره کافی کیږی نو دا غلطه خبره ده بلکه الله ته د رسیدو لاره صرف یو دین اسلام دے بس صرف یو دین اسلام.

الله تعالی دې مونږ ټول په صحیح شریعت روان کړی. امین

# اثبات د رسالت د نبی کریم ﷺ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿قُلْ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْكٰفِرِيْنَ﴾(نور:۵۴)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ الْمَهْدِيِّيْنَ﴾ (ترمذی)

د الله تعالی په نیز ټولے میاشتے برابرے دی او بعضے میاشتو لره الله تعالی جزوی فضیلت ورکړے دے.

په دے میاشتو کښې یوه میاشت د ربیع الاول ده. چې د نبی کریم ﷺ د پیدائش سره شهرت لری. په دې میاشت کښې د سیرت محفلونه منعقد کیږی او د نبی کریم ﷺ سیرت پکښې بیانیږی بلکه بعض خلق خو د دې جشن د پاره یو مخصوص ورځ ټاکی چې هغه باره ربیع الاول ده.

حالانکه د نبی کریم ﷺ سیرت هر وخت بیانول پکاردی او د یو وخت سره مختص کول نهٔ دی پکار. ځکه چې د نبی کریم ﷺ بعثت د انسانیت او په انسانانو کښې خصوصًا د مسلمانانو د پاره دا ډیر لوے نعمت دے. د دوی په واسطے سره مونږ د الله تعالی لوئی او کبریائی پیژنو او د نبی کریم ﷺ په ذریعه الله تعالی خپل احکامات د انسان د کامیابے د پاره رالیږی.

د نبی کریم ﷺ سره محبت ساتل د ایمان جزء دے.

نبی کریم ﷺ هم فرمائی:

﴿لَا يُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى اَكُوْنَ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهٖ وَوَلَدِهٖ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ﴾(بخاری)

یعني یو مومن تر هغے پورے کامل مسلمان نشی جوړیدلے ترڅو چې زه هغه ته د خپل مورپلار، اولاد او ټولو رشته دارانو نه زیات محبوب شوے نه یم.

قرآن کریم کښې هم الله تعالی فرمائی.

﴿اَلنَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ﴾(احزاب:٦)

یعني نبی کریم ﷺ به په مؤمنانو باندې د خپلو ځانونو او مالونو نه زیات محبوب وی.

دا رنګ د حضرت عمر رضی اللہ عنہ نه نبی کریم ﷺ تپوس اوکړو چې آیا تاته زه د ستا د ځان نه زیات ګران یم که نه؟

نو عمر رضی اللہ عنہ غلے شو. بیا لږ روستو ئے اوفرمائیل چې او د خپل ځان نه هم راته زیات ګران ئے. نو نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چې اوس دې صحیح خبره اوکړله.

د نبی کریم ﷺ سره مینه د نبی کریم ﷺ د سیرت په مطالعے سره زیاتیږي او د نبی کریم ﷺ د سیرت سره د صحابو سیرت هم بیا نیږی او معلومیږی نو د دے وجے نه د صحابو رضی اللہ عنہم سره هم مینه زیاتیږی.

دا رنګ د سیرت په مطالعے سره ایمان کښې قوت او زیاتوالے راځی. دا خبره مولانا ادریس کاندهلوی رحمۃ اللہ علیہ په خپل کتاب سیرة مصطفی کښې لیکلې ده.

دا رنګ د نبی کریم ﷺ د سیرت مطالعے سره د دین احکامات او مسائلو کښې وضوح پیدا کیږی.

د نبی کریم ﷺ سیرت یو کامل سیرت دے . د نبی کریم ﷺ د

پیدائش نه واخله تر د وفات پورے د نبی کریمﷺ هره لمحه او هره اداء محفوظه ده. دا خصوصیت بل یو پیغمبر ته هم حاصل نه دے.

عیسایان د عیسی علیه السلام او یهودیان د موسی علیه السلام سیرت په کامل طریقے سره نشی ښودلے بلکه د هغوی کتابونه هم محفوظ نه دی بلکه د خپلو پیغمبرانو مستند قبر ورته هم نه دے معلوم.

صحابه کرامورضی اللہ عنہم د نبی کریمﷺ د سیرت هره پهلو ډیره په وضاحت سره بیان کړې ده او د نبی کریمﷺ کیفیات هم صحابه کرامورضی اللہ عنہ امت ته نقل کړی دی او د نبی کریمﷺ شمائل چې څوك اوګوری نو مکمل د نبی کریمﷺ تصویر کشی پکښې معلومیږی.

صحابه کرامورضی اللہ عنہم د نبی کریمﷺ د وفات په وخت کښې د نبی کریم ﷺد ګیرے مبارك سپین ویښته هم شمیرلی دی او محفوظ دی.

بهرحال د نبی کریمﷺ د سیرت پوره حق اداء کول دا نه دی چې په ټول کال کښې صرف په مخصوص ورځو کښې د نبی کریمﷺ سیرت بیان کړے شی او بیا ټول کال چپ وی.

قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی.

﴿وَرَفَعۡنَا لَكَ ذِكۡرَكَ﴾(انشراح:۳)

یعنې مونږ ستاشان پورته کړے دے.

نو که کلمه ده او که اذان دے ، په دواړو کښې د الله تعالی د ذکر سره د رسول اللهﷺ ذکر موجود دے. او دا ذکر په ټوله دنیا کښې په هر سیکنډ کښې کیږی. ځکه چې علماءکرامو لیکلی دي چې اذان په ټوله دنیا کښې په داسے ترتیب سره ادا کیږی چې څلیریشت ګهنټے د دے اذان د اواز نه خالی نه دی.

د نبی کریمﷺ تذکرے د نبی کریم ﷺد پیدائش نه مخکښې کیږی.

ابراهیم علیه السلام د دۀ د بعثت په حق کښې د الله تعالی نه سوال کوی نو فرمائی.

﴿رَبَّنَا وَابۡعَثۡ فِيۡهِمۡ رَسُوۡلًا مِّنۡهُمۡ﴾(بقرة:۱۲۹)

یعني اے زما ربه! ته دوی کښې هم د دوی د جنس نه رسول اولیږه.

دا رنګ د نبی کریمﷺ تذکره عیسی علیه السلام په دے الفاظو سره کوی.

﴿وَمُبَشِّرًا بِرَسُوۡلٍ يَّاۡتِىۡ مِنۡۢ بَعۡدِى اسۡمُهٗۤ اَحۡمَدُ﴾(صف:٦)

یعني زه تاسو له زیرے درکوم چې زما نه بعد به یو پیغمبر راځی چې نوم به ئے احمد وی.

دا رنګ په تورات کښې د نبی کریم ﷺصفات ذکردی.

دا رنګ الله تعالی د هر پیغمبر نه د نبی کریمﷺ د ملګرتیا کولو وعده اغستے وه.

﴿ وَاِذۡ اَخَذَ اللّٰهُ مِيۡثَاقَ النَّبِيّٖنَ لَمَاۤ اٰتَيۡتُكُمۡ مِّنۡ كِتٰبٍ وَّحِكۡمَةٍ ثُمَّ جَآءَكُمۡ رَسُوۡلٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمۡ لَتُؤۡمِنُنَّ بِهٖ وَلَتَنۡصُرُنَّهٗ﴾(آلعمران:۸۱)

یعني یاد کړئ هغه وخت چې الله تعالی د نورو پیغمبرانو نه دا لوظ واغستو چې که چرته د کتاب او نبوت درکولو نه بعد یو رسول د نبوت دعوی اوکړه او ستاسو د کتابونو تصدیق ئے کوؤ نو تاسو به پرے خامخا ایمان راؤړے او مدد به ئے کوے.

دا رنګ نبی کریمﷺ د یو یهودی د ځوی د عیادت د پاره لاړرو نو هغه خپل ځوی ته د تورات تلاوت کوؤ. ځوے ئے د بے هوشۍ په حالت کښې وو او فورًا راپاسیدو او وے فرمائیل چې زما پلار دروغ اووئیل، ستا تذکرے په قرآن کریم کښې شته دے.

دارنګ ابوسفیان او صفوان بن امیة د مکے نه بهر اوتے وو . څۀ ګوری چې یو زمرے په هوسۍ پسے منډې وهی، هوسۍ چې څۀ رنګه حرم ته داخل شوه نو زمری پریښوده او روان شو ترینه.

ابوسفیان حیران شو او د خپلے حیرانتیا اظهار ئے خپل ملګری ته اوکړو نو زمرے ورته ګویا شو چې د دے نه د تعجب خبره دا ده چې نبی کریمﷺ تاسو د جهنم نه جنت ته راکاږی او تاسو ځانونه جهنم ته راکاږے.

دا رنګ رافع بن عمیرهؓ یو صحابی دے فرمائی چې یو زمری زمانه ګډه اوتختوله نو ما ترینه راخلاصه کړه او ما ورته اووئیل چې ته دومره لوے ظالم یے چې زما نه ګډه تختوے. نو زمرے ورته ګویا شو چې ستاسو نه غټ ظالمان نور نیشته چې یو انسان تاسو جنت ته رابلی او تاسو ځان جهنم ته.

الله تعالی دې زمونږه د نبی کریمﷺ سره حقیقی مینه محبت پیدا کړی. امین

# دفاع ناموس رسالت (ﷺ) (۱)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿اِنَّ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فِى الدُّنْيَا وَ الْاٰخِرَةِ وَاَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ـ وَالَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوْا فَقَدِ احْتَمَلُوْا بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا﴾ (احزاب:۵۷)

وَقَالَ تَعَالٰى فِىْ مُقَامٍ اٰخَرَ:

﴿يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اٰذَوْا مُوْسٰى فَبَرَّاَهُ اللّٰهُ مِمَّا قَالُوْا وَكَانَ عِنْدَ اللّٰهِ وَجِيْهًا﴾ (احزاب:۷۰)

## د پیغمبر څو صفات:

په عقائدو کښې اهمه مسئله هغه عقیده د رسالت ده.

انبیاء علیهم السلام د الله د طرفنه رالیږلے شوی دی، معصوم دی او رجال دی. دا رنګ انسانان او حق پیغمبران دی. دا رنګ معجزات د انبیاؤ باندې ایمان لرل. دا رنګ د نبی کریم ﷺ رسالت منل هم ضروری دی. په دې کښې یوه اهمه خبره حرمت رسول ﷺ چې هغے ته ناموس رسالت وئیلے کیږی. دا خبره هم د لوې اهمیت خبره ده او دا دې وجے نه چې مسلمانانو ته د خپل پیغمبر عزت معلوم دے او کوم بدبخته خلق چې د هغوی توهین کوی په قرآن او سنت کښې د هغوی څۀ سزا ده او د توهین رسالت ابتداء شروع د کوم وخت نه شوې وه.

د نبی کریم ﷺ عزت او احترام په مونږ لازم دے . د دے وجے نه چا چې د نبی کریم ﷺ په شان کښې ګستاخی اوکړه نو د شریعت او د ائین پاکستان په رو سره به هغه ته سزا ورکولے کیږی.

## د عالم کفر غټ شازسونه:

د کفر هم دا سازش دے چې په مختلفو موقعو باندې د نبی کریم ﷺ په شان کښې ګستاخی کوی او د نبی کریم ﷺ په بے عزتئ باندې سزا ورکولو ته کالا قانون وائی. او دا د کفر په نورو منصوبو کښې یوه لویه اهمه منصوبه ده او هغوی کوشش همیشه دا کوی چې د مسلمان جذبات احساسات زخمی کړی او د مسلمان په سترګو د قرآن تعلیمات او د پیغمبر ارشادات بے قیمته او کمزوری کړی د دې مقصد د پاره هغوی ډیرې هلے ځلے کوی کله د پیغمبر بے عزتی د ذات په لحاظ ،کله د تشویش او بدامنئ پیدا کولو د پاره په قرآنی تعلیماتو اعتراضات، بے بنیاده بے هوده سوالونه کول کله د قران بے عزتی او بے حرمتی کول او دا ټول سازش د دې د پاره چې د مسلمان تعلق او نسبت د قرآن او سنت سره کټ شی د مسلمان تعلق د جومات او مدرسې سره نه وی او مسلمان د دینې طبقے نه متنفره شی او د کفر او شرك الحاد او بے دینے د الله سره د بغاوت او غارت ګرئ یو فضاء قائم شی او د الله پاك بندګان ناقص د بے انصافئ قانون او نظام باندې عمل کولو ته مجبوره شی او ټول عالم غلام کول خپل زیر اثر راوستل اسان شی.

دا یهود او نصاری د قرٰان کریم او پیغمبر توهین د ضد او عناد د وجے کوی چې دې قانون ته الله تعالی ولے دومره عزت ورکړو او د دې نبی خبره ولے دومره لږ وخت کښې د دنیا ګټ ګټ ته اورسیده.

څنګه چې پخوانو یهودیانو د عناد د وجے نه د پیغمبر مخالفت کړے وو نو دا رنګ دا کشران هم د نبی کریم ﷺ سره عنادًا بغض ساتی او د نبی کریم ﷺ خاکے جوړوی او قسما قسمه طریقو سره د قرٰان کریم بے حرمتی کوی او دا رقم حرکات دا مخلوق ولے کوی دا هله کوی چې

کله هم دوی د دلیل په میدان کښې کمزوری او مغلوبه شی او په دلیل باندې خبره نشی کولے نو خپل غلط نظریاتو له رواج ورکولو دپاره دا قسم حرکاتو باندې اعتماد کوی او خپله سهاره ورباندې اخلی او په دې باندې تاریخ ګواه دے چې همیشه د دشمن اسلام طریقه په پیغمبر اسلام تهمتونه، الزامات، اعتراضات، سوالات، بے بنیاده پروپیګنډې کول او دې څیزنو ته رواج ورکوی د دلیل جواب په دلیل نشی کولے.

نن د امت مسلمه دا ذمه داری ده چې دشمن ته خپل قوت اوښائی چې مونږ د نبی کریم ﷺ په حرمت باندې ځانونه ورکوؤ.

د نائن الیون نه بعد د یهودو غټ درے مقاصد دی.

یو دا چې علماء او مدارس بدنام کړی او مدارس کښې خپل نصاب داخل کړی.

دویم دا چې د پاکستان د اٰئین نه دې اسلامی دفعات ختم کړے شی.

دریم دا چې د اٰئین پاکستان نه دے د نبی کریم ﷺ د بے حرمتئ سزا ختمه کړے شی.

د ناموس رسالت حفاظت او د هغهٔ سره مینه ساتل د ایمان جزء دے.

## قران او ناموس رسالت:

الله تعالی فرمائی:

﴿ قُلۡ اِنۡ كَانَ اٰبَآءُكُمۡ وَاَبۡنَآؤُكُمۡ وَاِخۡوَانُكُمۡ وَاَزۡوَاجُكُمۡ وَعَشِيۡرَتُكُمۡ وَاَمۡوَالُ ۨاقۡتَرَفۡتُمُوۡهَا وَتِجَارَةٌ تَخۡشَوۡنَ كَسَادَهَا وَمَسٰكِنُ تَرۡضَوۡنَهَاۤ اَحَبَّ اِلَيۡكُمۡ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوۡلِهٖ وَجِهَادٍ فِىۡ سَبِيۡلِهٖ فَتَرَبَّصُوۡا حَتّٰى يَاۡتِىَ اللّٰهُ بِاَمۡرِهٖ﴾ (توبہ:۲۴)

یعنی اووایه ورته اے پیغمبره ! چې که چرته پلاران ستاسو او ځامن ستاسو او رونړه ستاسو او بیبیانے ستاسو او خاندان ستاسو او نور اموال او تجارت ستاسو او کورونه ستاسو تاسو ته د الله تعالی او د هغه د رسول او د جهاد نه زیات خوښ وی نو د الله تعالی د عذاب راتلو انتظار کوے.

## حدیث او دَ حضرت عمر رضی اللہ عنہ واقعه:

دارنګ نبی کریم ﷺ فرمائی او دا دَ ایمان تقاضه هم ده او دَ کامل ایمان علامه ده.

﴿لَايُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى اَكُوْنَ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهٖ وَوَلَدِهٖ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ﴾(بخاری)

یعني په تاسو کښې یو تن ترهغې پورې کامل مؤمن نشی کیدے ترڅو چې زه هغه ته د هغه د پلار، اولاد او ټولو خلقو نه زیات محبوب شوے نه یم. عمر رضی اللہ عنہ په یو موقع باندې نبی ﷺ ته اووئیل چې د الله پیغمبره ته ماته د ښځې او بچو او د مال او دولت نه ډیر ګران او محبوب ئے نبی ﷺ ورته اوفرمائیل آیا زهٔ ستا د خپل ځان نه هم درته ډیر خوښ یم ؟ نو عمر ﷺ چپ شو چې دغه موقع باندې او دا یوه فطری خبره ده ځکه خپل ځان هر یو انسان ته ډیر خوږ وی بیا نبی ﷺ ورته په سینه باندې لاس راښکو نو هغه دا خبره په تیز آواز وکړه چې د الله پیغمبره اوس راته د خپل ځان نه هم ډیر محبوب ئے. نبی ﷺ ورته اوفرمائیل اوس خبره جوړه شوه اوس ایمان حقیقی شو.

نو د مسلمان د غیرت تقاضه هم دا ده چې هغه به د نبی ﷺ په بےعزتے باندې نه غلے کیږی چې زما ځان ته خطره ده یا حکومت او کرسے ته نقصان کیږی.

د نبی کریم ﷺ سره دا مینه محبت القائی څیز دے. مطلب بے احتیاره الله د هر یو بنده زړه کښې کیخودلے دے که هغه ډیر لوې ګناهګار ولے نهٔ وی د هر مسلمان زړهٔ د پیغمبر د جلال او د عظمت نه ډك وی.

## د هر انسان په زړهٔ کښې د الله محبت وی:

د دے وجے نه ډیر ګناه ګار سړے هم د نبی کریم ﷺ سره مینه محبت ساتی ځکه چې د نبی کریم ﷺ خلاف خبرے اترے او بے عزتی ثوك مسلمان هم نه شی برداشت کولے.

یو شاعر اخترشیرانی په یو مجلس کښې شراب څکلی وو نو یورپ کښې ترینه یهودو نصاراؤ د نورو شاعرانو په باره کښې تپوسونه کول چې فلانکے شاعر څنګه دے او فلانکے څنګه دے ؟

نو دهٔ به جواب ورکوؤ چې په هیڅ نه پوهیدل. ځان ورته ډیر قابل ښکاریدو.

په دغے مجلس کښې یو ظالم ترینه د نبی کریم ﷺ په باره کښې تپوس اوکړو چې د هغه کلام څنګه دے او د هغه په باره کښې څهٔ وائے؟

دې سوال اوریدلو سره بے انتهاء غصه شو او وے وئیل چې زه خپله خُلهٔ د هغه د نوم اغستو هم لائقه نه ګنړم او بیا په ژړه شو او وے وئیل: *یہ لوگ ہم سے ہمارا آخری سہارا بھی چھیننا چاہتے ہیں۔*

یعني دا خلق زمونږ نه زمونږ اٰخری آسره هم تختول غواړی.

## د توهین رسالت تاریخ:

د ټولو نه ړومبے توهین د نبی کریم ﷺ ابولهب کړے وو چې الله تعالی د هغے په جواب کښې سورة لهب راؤلیږو.

دا رنګ دویمه بے عزتی ولید بن مغیره کړے وه او قراٰن کریم په دے انسان باندې لس دفعے اولږولے او په اٰخره کښې ئے ورته حرامی اوئیلے.

د سورة قلم په څو آیاتونو کښې الله د هغه خلقو مذمت بیان کړے دے بیا په آخره کښې الله د عرش نه د داسے بنده په باره کښې اعلان کوی چې دا انسان حرامی دے حلالی نشی کیدے. او داسے انسان یقینًا حرامی دے چې څوك په پیغمبر باندې لاس یا ګوتے اوچتوی او بدې خبرې د هغهٔ په حق کښې کوی.

دریمه بے عزتی د نبی کریم ﷺ یو وینزے کړے وه چې هغه خپل نابینا اُقا په چاړهٔ اووهله او وے وژله. نو واقعه نبی کریم ﷺ ته راؤرسیده نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : **اَلَا اِشْهَدُوْا** اے خلقو واؤرے قانون درته بیانومه چې د داسے انسان وینه بے قیمته ده.

﴿اِنَّ دَمَهَا هَدُرٌ﴾ (ابوداؤد)

یعني د دے وینزے وینه توے ده.

## د ابن اختل واقعه:

دا رنګ د فتح مکے په موقع الله تعالی ډیر کافران معاف کړی وو خو هغه خلق چې د نبی کریم ﷺ توهین او بے عزتی ئے کړے وه نو نبی کریم ﷺ د هغوی د قتل حکم اوکړو او وے فرمائیل چې که چرے د بیت الله د غلاف د لاندے هم پناه اغستی وی:

﴿اِبْنُ اَخْتَلُ بِاَسْتَارِ الْكَعْبَةِ﴾

هغه د خانه کعبې غلاف پسے ځان پیوسته کړے دے بیا هم نبی ﷺ اوفرمائیل : ﴿اُقْتُلُوْهُ﴾ (موطا مالک)

دا انسان مړ کړے. نو قتل ئے کړو.

دا رنګ حضرت علی رضی الله عنه فرمائی.

﴿مَنْ سَبَّ نَبِيًّا قُتِلَ وَمَنْ سَبَّ اَصْحَابَهٗ جُلِدَ﴾ (الصارم المسلول)

یعني چاچې یو پیغمبر ته کنځل اوکړل نو دې به قتل کولے شی او

چاچې د پیغمبر صحابي ته کنځل اوکړل نو داسے انسان له به کوړے ورکولے شي.

دا رنګ په ۱۹۲۷ء کښې راجه رامپال د نبي کريم ﷺ په بے حرمتے کښې کتاب ليکلے وو نو مولانا محمد علي جوهر په دې موقع يو پرجوش تقرير کړے وو. نو غازي علم الدين شهيد يو عام مزدورکار سړے وو چرته ئے دغه هندو معلوم کړو او مردار ئے کړو.

د سيد عطاء الله شاه بخاري رحمۃ اللہ علیہ نه چا د دے غازي په باره کښې تپوس اوکړو نو دوی ورته اوفرمائيل چې علماء په دې دومره عمر کښې هغه مقام ته اونۀ رسيدل کوم چې د دے لوهار بچي په يوځو منټو کښې حاصل کړو.

د دے وجے نه چې ملك کښې قتل وغارت جوړ نۀ شي ځکه په آئين پاکستان کښې دا شق زيات کړے شو چې ملك د قتل وغارت نه بچ شي او دا د دې د پاره چې په ملك کښې بغاوت جوړ نشي او عدالت او قانون بذات خود دا جاري کړي نو بيا به بل څوك داسے جرأت نشي کولے.

نو خلاصه دا چې د نبي کريم ﷺ په ناموس باندې غيرت او د نبي کريم ﷺ سره مينه محبت د مسلمان د ايمان يو جزء دے.
الله تعالی دې مونږله د توهين رسالت د دفاع توفيق راکړي. آمين

# دفاع ناموس رسالت(ﷺ) (۲)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِہٖ وَ اَصْحَابِہِ الْاَتْقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿ فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِي أُنزِلَ مَعَهُ ۙ أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴾ (اعراف: ۱۵۷)

﴿ إِنَّ الَّذِينَ يُؤْذُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُّهِينًا ﴾ (احزاب:۵۷)

## د پیغمبر اسلام حقوق:

د سوره اعراف څهٔ حصه تلاوت شوه او په دې آیتونو کښې الله رب العزت د نبیﷺ شان او مقام بیانوی او دا بیان کوی چې یو امتی مسلمان باندې د پیغمبر څهٔ حقوق دی د هغے تذکره کوی اوله خبره چه د الله نه بعد په پیغمبر ایمان راوړل ضروری دی او لوې حق دے د نبی د حقوقو واجبوؤ نه دا انسان مسلمان نشی کیدے که په پیغمبر باندې ایمان نه راوړی بیا د ایمان بالرسول نه بعد اوله ذمه داری د مسلمان دا ده چه اطاعت رسول به کوی د هغه تابعداری به کوی او د هغه سره به محبت لری او د دے عزت او احترام به ساتی او د پیغمبر په ژوند او بعد الموت به د هغه ناموس عزت باندې به اودریږی که یو انسان ځان ته امتی د پیغمبر وائی خو اطاعت پکښې نشته محبت پکښې نشته او د هغه د دین نصرت پکښې نشته د دین دفاع د پاره اودریدل پکښې نشته دا انسان کامل مومن نهٔ دې صرف زبانی د ژبے دعویدار مسلمان دې ځکه الله په دې آیت کښې فرمائی ﴿فَالَّذِيْنَ﴾ هغه کسان ﴿آمَنُوْا﴾ چه په پیغمبر ایمان راوړی

﴿وَعَزَّرُوْهُ﴾ د هغه عزت کوی ﴿وَنَصَرُوْهُ﴾ او د هغه مدد کوی د دین د نصرت د پاره هغه سره اودریدو ﴿وَ اتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِیْ مَعَهٗ﴾ مطلب بیا چه کومه وحی شریعت الله نازل کړی وی د هغې تابعداری هم اوکړی نو الله فرمائی ﴿اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ﴾ دغه خلق کامیاب او فلاح موندونکی خلق دی.

ځکه پیغمبر پاك په خپله فرمائی:

﴿لَا یُؤْمِنُ اَحَدُکُمْ حَتّٰی اَکُوْنَ اَحَبَّ اِلَیْهِ مِنْ وَالِدِهٖ وَ وَلَدِهٖ وَ النَّاسِ اَجْمَعِیْنَ﴾(بخاری)

یو انسان په تاسو کښې کامل مومن نشی جوړیدے تر څو چه زهٔ هغه ته د مور پلار بچو او ټولو انسانانو نه خوښ او محبوب نشمه او که داسے نهٔ وی نو هغه صرف په خُله باندې د امتی کیدو دعوی دې نه کوی.

## د عمر رضی اللہ عنہ د محبت نبوی واقعه:

په یو موقع حضرت عمر رضی اللہ عنہ نبی صلی اللہ علیہ وسلم ته وائی د الله پیغمبره تاسره زما ډیر زیاته مینه ده نبی صلی اللہ علیہ وسلم ورته اووئیل څومره زیاته مینه نو جواب ئے ورکړو چه د خپلو اهل و عیال بچو نه هم زیاته مینه نبی صلی اللہ علیہ وسلم ورته اووئیل چه ستا د ځان نه هم ډیره مینه ده نو عمر رضی اللہ عنہ خاموش شو هغه خو پاك خلق وو بیا ئے جواب ورکړو چه د هر چا نه زیاته مینه ستا سره لرمه خو د خپل ځان نه زیاته نهٔ. ځکه دا د انسان فطرت دے چه هغهٔ ته خپل ځان د هر څهٔ نه ډیر محبوب وی نو نبی صلی اللہ علیہ وسلم ورته جواب ورکړو چه نا عمره داسے نشی کیدے بیا عمر رضی اللہ عنہ خپل ځان ته توجه ورکړه او لږ ساعت سوچ فکر نه پس ئے جواب ورکړو چه اوس ساعت تهٔ ماته د خپل ځان نه هم ډیر محبوب ئے نبی صلی اللہ علیہ وسلم جواب ورکړو (آلآن یا عمر) اوس اے عمره، دا د کامل ایمان نخښه او علامه ده. دې وجے نه مسلمان به پیغمبر

سره مینه لری او د هغه ناموس او عزت باندې به اودریږی که دې د پیغمبر په صحیح معنی کښې امتی وی نو دې انسان کښې به دا ایمانی جذبات ضرور موجود وی.

## د نبی ﷺ گستاخی:

تاسو به د دې خبرے نه آگاه ئے او نن صبا ډیر مشهوره هم ده چه په ندر لینډ هالینډ ملکونو کښې د کارټون په شکل د پیغمبر هغه مقدسه او پاکه جامعه حُلیه په یو غلط تصور سره دنیا ته پیش کوی او نعوذ بالله دا سوچ فکر تصور په دغه کارټون کښې ورکوی چه پیغمبر یو دهشت گرد وو ټول مسلمانانه دنیا په دې حرکاتو باندې د خپلو جذباتو اظهار اوکړو او هغوی دا ظاهره کړه چې مسلمان په دې خفه کیږی او که څوك نهٔ خفه کیږی نو د دغه انسان اسلام او ایمان به کمزورے وی دا خو پیغمبر دے که د یو سړی عام سړی پلار د هغه څوك بے عزتی اوکړی د کارټون یا په بل شکل هغه په دې باندې مرګ ته تیار وی دغه شان مسلمان هم په آرام باندې بیا نهٔ کینی چه دا قسم حرکات کافره دنیا کوی.

او بیا نبی ﷺ د مسلمانانو د محبتونو ،عقدیتونو، اطاعتونو او جزباتو مرکز دے د پیغمبر په باره کښې مسلمان د چا سره هیڅ قسمه مفاهمت، نرمی نه کوی دوه ډیرے نازکې مسئلے دی یوه مسئله د ختم نبوت ده او دویمه مسئله ناموس رسالت ده چه په دې کښې مسلمان د چا سره هیڅ قسمه نرمی، برتاؤ ، مفاهمت نه کوی دا ممکن نهٔ ده چې مسلمان د دې باره کښې آسانی اختیار کړی داسے آسانے باندې مسلمان خپل ایمان پریښودو ته هرګز نه تیاریږی دا توقع که د سیکولر خلقو وی او د کفری دنیا، مغرب دا امید وی چه مسلمان به دې کښې سستی اوکړی نو دا غلطه توقع او فضول امید دے دا قسم خلق نه سماج پیژنی او

نه د مسلمانانو نفسیات پیژنی د مسلمانانو تاریخ په دې ګواه دے چې مسلمان دا قسم دهوکه د خپل پیغمبر او خپل ایمان سره نه کوی نن په دنیا کښې یو نیم ارب مسلمانان دی د مسلمانانو نفری افرادی قوت چه کله کمزورے وو نو مسلمان دا دهوکه نه ده کړے نن به څنګه په دومره لوې آبادے او تعداد کښې دې ته غاړه کیږدی. بلکه نن کمزورے مسلمان چه د دین نه خبر نه وی هغه هم داسے واقعات نهٔ برداشت کوی.

## دَ جګر مراد آبادی واقعه:

جګر مراد آبادی یو شاعر تیر شوے دے او دا داسې څهٔ خاص مضبوط مسلمان هم نه وو چه مذهبی سکالرز یا عالم وو یو ځل په یورپ کښې نور ډیر کافرانو شراب څکلی وو او په اسلام پسے ئے قسم قسم خبرے کولے او دهٔ خپله هم د شرابو په نشه کښې وو آخره کښې دغه کافرانو په نبی ﷺ پسے خبرے اوکړے نو دا شاعر غصه شو او دهٔ ټولو کافرانو تهٔ په مینځ کښې زبردست جواب ورکړو چه محمد ﷺ خو زما آخری اَسره او بهروسه وه دا آخری د ایمان اَسرے نه تاسو ما خامخا کنګال کوے او دا رانه اخلے نو حضرت تهانوی رحمۃ اللہ علیہ ته چا دا خبره اوکړه هغه او خاندل اوئیل چه

*جگر خراب ہے مگر دل تو خراب نہیں*

مطلب دا سړے به ښهٔ سړے نه وی خو زړهٔ ئے ډیر ښهٔ زړهٔ دے چه په پیغمبر پاك باندې غیرت کوی او په ناموس رسالت باندې مطمئن دې.

بعضے سیکولر ذهن والا خلق دا خبره کوی چې تاسو د دې پیغمبر په سر باندې ولے د یورپ او مغرب سره جهګړه کوے احتجاجات او مظاهرے کوے د خپل ځان نقصان کوے دې ظالمانو ته وئیل پکار دی چې اے

ظالمانو د محبت او عشق میدان کښې نفع او نقصان نۀ وی په دې میدان کښې هیڅ جمع او تفریق نه کیږی نۀ مسلمان د ځان پرواه کوی او نه د جهان پرواه کوی او کۀ داسے نۀ وی نو تاسو دنیا کښې اوګورے څوك د ښځے د مینے د پاره مور او پلار پریږدی څوك د بچو د پاره کور کلې وطن پریږدی او قسم قسم تکلیفونه مشقتونه برداشت کوی دا خو د دنیا محبت دے بیا به د نبی ﷺ د محبت به څۀ حالت وی.

## د عمر رضی اللہ عنہ محبت د پیغمبر اسلام سره:

او داسے عاشقان شته دے بلکه اویس قرنی رضی اللہ عنہ ته چې پته اولګیده چې د پیغمبر غاښ اووتې دې نو خپل غاښونه ئے شهیدان کړل د پیغمبر د مینې د پاره یو صحابی، نبی ته وائی یا رسول الله ﷺ زما ستا سره ډیر محبت دے هغه ورته وائی سوچ اوکړه وائی یا رسول الله ﷺ زما ستا سره ډیر محبت دے بیا ورته وائی لږ سوچ اوکړه بیا نبی اوفرمائیل څوك چې زما سره محبت ساتی په هغه باندې به دا مصیبتونه داسے راځی لکه په یو جور ډوب ځائے کښې چې اوبه راځی او راجمع کیږی مطلب محبت نبوی د آزمائشونو او د مصیبتونو څیز دے خو دا آزمائش به د دنیا ژوند پورے وی او په میدان محبت کښې انسان دې څیزونو ته تیاریږی.
مولانا ظفر علی خان رحمۃ اللہ علیہ د دې په باره کښې اشعار وئیلے دی هغه وائی

*نماز اچھی روزہ اچھا حج اچھا زکوۃ اچھی*
*مگر میں باوجود اس کے مسلمان ہو نہیں سکتا*
*میں جب تک کٹ نہ مروں خواجہ یثرب کی حرمت پر*
*خدا شاهد مکمل میرا ایمان ہو نہیں سکتا*

مطلب مونځ او روژه حج زکوة ښۀ عبادات دی خو زۀ تر هغے پورے مسلمان کامل نه شم جوړیدے تر څو چې د محمد خواجه یثرب په

چوکاټ باندې زما سر کټ شوې نۀ وی ما دا خبره کوله چې یورپ قسم قسم طریقو سره زمونږه پیغمبر بدناموی هغۀ پسے کله د کارټون خاکو په ذریعه کله دا پروپیګنډه چې اسلام د انسان حقوق نه پیژنی او کله د دهشت ګرد په نوم باندې اسلام او مسلمان ته نقصان ورکوی په دې حالاتو کښ مسلمان له خپله ذمه داری پیژندل پکار دی په دې باندې مسلمان نه خلاصیږی چه زما تجارت دوکان ته نقصان رسی یا زما حکومت، سرمایه ته نقصان رسی یا زما جائیداد نیشنلټی ته نقصان رسی دا د الله په نزد عذر نه دے او په دې باندې انسان نه خلاصیږی یا یو انسان وائی زما ملازمت خرابیږی نا نا دا یوه قومی ملی ذمه داری ده او د امت مسلمه یوه غټه فریضه ده چې د امت د خپلو دینی اقدارو حفاظت اوکړی د هغے د پاره مسلمان په عالمی سطح اقدامات اوکړی او په هر صورت د دے مسئلے حل مخے ته راولی.

## ناموس رسالت او زمونږه حکمرانان:

زمونږه حکمرانان دا غټه ذمه داری بس په یو مذمتی بیان سره حل کول غواړی چې یو مذمتی بیان ریکارډ کړی او بس خبره ختمه. حال دا دے چه دا په انفرادی او اجتماعی دواړو سطح باندې زمونږه ذمه داری ده. دا د هر هر فرد او مجموعی سطح د مسلمان مکمل دنیا وی ذمه داری ده چې د دې حل راوباسی او کفری دنیا ته دا خبره په ډاګه کړی چه زمونږه دین لکه د عیسائیت یا یهودیت په شان نه دے بلکه مسلمان حقیقی په دین باندې مطمئن مسلمان دے صرف دعوی کونکی مسلمان نه دے.

د نبی ﷺ په دور کښ کافرو پابندی لګولے وه چه مسلمان به نه رائی په دغه حالاتو کښ د کافرانو یو وفد راغلو مدینې ته نو

نبیﷺ اودس کولو صحابه کراموؓ ورته اوبهٔ ور اچولے او دغه کافر وفد ګوری او مشاهده کوی هغه اوبهٔ د پیغمبر د لاسونو نهٔ راتویږی او صحابوؓ ورته لاس نیولے دے هغه اوبه په مخ او په خپل بدن باندے رابنکی نو هغه کافر وفد چه دا حالات مشاهده کړل بیا ئے دا خبره اوکړه چه هغه قوم او جماعت ته څوك شکست نشی ورکولے کوم قوم چه د خپل پیغمبر سره دومره مینه او محبت لری.

پر امن احتجاج د مسلمان ذمه داری ده، د عالم ذمه داری د منبر رسول ده د دې تعلیم ورکول او د نوجوان نسل دا ذمه داری ده چه په فیس بك او سوشل میډیا باندې د فضولیاتو په ځائے د خپل پیغمبر سره د مینې او محبت اظهار اوکړی دا خبره عامه کړی او د خپل پیغمبر د ناموس دفاع اوکړی. و الحمد لله رب العالمین

# په رسالت کښ د معجزے حیثیت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لَئِنْ جَاءَ هُمْ اٰيَةٌ لَّيُؤْمِنُنَّ بِهَا قُلْ اِنَّمَا الْاٰيَاتُ عِنْدَ اللّٰهِ وَمَا يُشْعِرُكُمْ اَنَّهَا اِذَا جَآءَتْ لَا يُؤْمِنُوْنَ﴾ (انعام:۱۰۹)

﴿وَقَالَ تَعَالٰى فِىْ مُقَامٍ اٰخَرَ: وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ اَنْ يَّاْتِىَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ﴾ (رعد:۳۸)

## معجزه څه ته وائی:

الله تعالی د مخلوق د اصلاح د پاره انبیاء کرام علیهم السلام رالیږلی دی، دې ته د رسالت عقیده وئیلے کیږی. او د رسالت سره متعلقه او د دوی د تصدیق د پاره د دوی په لاسونو باندې نااشنا او دَ عادت نه مخالف کارونه صادر کړی دی چې هغے ته معجزه وئیلے کیږي چې نور خوك دا کارونه په هیڅ یو صورت کښې نشی کولے نه د جادو په صورت کښې او نه د چا د عقل د سلب کولو په صورت کښې.

دا معجزه د دے دلیل وی چې دے په خپله دعوی د رسالت کښې رشتنے دے.چې دا انسان د کوم پیغام نسبت چې الله ته کوی دا معجزه د دے نخښه وی چې دا انسان رشتنے دے.

معجزه د عربئ لفظ دے او د دے لفظی معنی عاجزه کونکے ده او معجزه ورته د دے وجے نه وئیلے کیږی چې عام خلق ترینه عاجز وی لکه د نبی کریم ﷺ معراج نو که دا ټوله دنیا سره د اسبابو او آلاتو راجمع شی نو داسے کار نامه نشی کولے.

## د قوم د ضرورت مطابق معجزه:

دا معجزات الله تعالی د وخت مطابق په خپلے زمانه کښې په پیغمبرانو رالیږلے وے. هر قوم ته دَ هغوی د ضرورت او عقل مطابق معجزے الله ورکړی دی لکه دَ صالح علیه السلام قوم د اوښ مطالبه اوکړه نو الله تعالی د کاڼړی نه اوښه راؤیسته.

دا رنګ د موسی علیه السلام په دور کښې د سحر چرچه وه نااشنا کرتبونه او چلونه به ئے کول نو هغه له الله تعالی د همسا په شکل کښې معجزه ورکړه چې لویه اژدها به ترینه جوړه شوه او د هغه وخت ساحران ترینه عاجز شو.

دا رنګ د عیسی علیه السلام دور د حکمت او ډاکټرئ وو نو الله تعالی عیسی علیه السلام لره داسے معجزے ورکړے چې د هغه وخت طبیبان ترینه عاجز وو. د طب فن په عروج باندې سره د دې نه هغوی د طب په فن سره د معجزې مقابله اونه کړے شوه لکه د برګی مرض شفاء، مړی ژوندی کول او مور زاده ړوند ټهیك کول.

## د معجزې متعلق یوه خبره:

په معجزه کښې دا یوه خبره یاد ساتل ضروری دی چې د رسالت د پاره معجزه ضروری نۀ ده. د پیغمبر د پیغمبرے د پاره معجزه ضروری نه ده، د الله پیغمبر به وی او معجزه به ور سره نه وی بلکه دا د انسانانو ضرورت دے چې انسان ته دا احساس اوشی چې دا بزرګ هستی د الله پیغمبر او نبی دے ځکه په دې انسانانو کښې مختلف قسم خلق وی بعضے عالی فهم عقلمند وی نو هغوی چې د پیغمبر تعلیماتو باندې سوچ فکر اوکړی نو ایمان رواوړی او تسلیم ئے کړی او بعضے خلق کم فهم بے

وقوفه وی نو هغوی چې ترڅو پورې یو نااشنا کار د پیغمبر په لاسو باندې نه وی لیدلے تر د هغے پورې د هغه پیغمبری نه تسلیم کوی نو الله د اتمام حجت د پاره خپل بنده پیغمبر له معجزه ورکړی او ذکی عقلمند پوهه خلقو د پاره د پیغمبر کردار اخلاق افعال سیرت تعلیمات ټخپله یوه معجزه وی. دا رنګ د پیغمبر د پاره هم معجزه راؤړل ضروری نه ده بلکه د کم فهم خلقو د هدایت دپاره الله تعالی معجزات د پیغمبرانو د لاس نه صادر کړی دی خو دا به د پیغمبر په اختیار کښې نه وو بلکه که الله تعالی به اوغوښتل نو معجزه به ښکاره شوه او که الله تعالی به نه غوښتل نو نه به صادریدله.

د دے وجے نه اکابر صحابه کرامو رضی اللہ عنہم د معجزاتو د وجے نه ایمان نه وو راؤړے بلکه هغوی د نبی کریم ﷺ د اخلاقو او د کردار نه متاثره شوی وو.

دا رنګ معجزه ځکه ضروری نه ده چې بعضے وخت به یو اوچت پیغمبر وی خو معجزے به ورله ښکاره غټے نه وی ورکړے شوے دا به د پیغمبر په قوم باندې منحصره وه که یو قوم به کم عقل وو نو هغوی ته الله تعالی لوے لوے معجزے رالیږلے وے او که یو قوم به عقلمند وو نو هغوی ته لوے لوے معجزے نه دی راغلے.او د دې مثال د نبی علیه السلام اُمت او د موسی علیه السلام اُمت دے د موسی علیه السلام اُمت بے وقوفه وو نو الله ورته لوې لوې معجزې ورکړی دی او د نبی علیه السلام قوم عقلمند وو نو د دې وجے نه صرف یوه غټه همیشه دائمی معجزه قران الله ورکړې ده او نورې معجزې هم شته لکه احادیثو کښې ئے ذکر راغلے دے.

## د معجزې اختیار الله سره وی:

دریمه خبره دا ده چې معجزه د پیغمبر په اختیار کښې نه وی بلکه الله تعالی ئے په خپل اختیار د پیغمبر په لاس ښکاره کړی.یوه خبره دا چې معجزه شرط د نبوت نه دے دویمه خبره دا ده چې معجزه د فضیلت معیار هم نه دے کله به پیغمبر د لوې درجے وی او الله به ورله یوه معجزه هم نه وی ورکړې دریمه د هر شی اختیار د الله سره وی.
قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی. سورة المومنون چې اختیار د معجزې الله سره وی پیغمبر سره نه وي.

﴿وَمَاكَانَ لِرَسُوْلٍ اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ﴾(رعد:۳۸)

یعني نه دی مناسب د یو پیغمبر د پاره چې په خپل اختیار معجزه پیش کړی مګر که الله تعالی ورته اجازت کړے وی.
سورة انعام کښې فرمائی.د مکې مشرکانو په خپل سوچ او عقل باندې مبنی معجزه غوښتله یو دا چې دا خواته نزدې غورونه د سرو زرو کړه، دویمه دا ملك غټ کړه نو د مکې د مشرکانو دا خیال وو چې پیغمبر د دنیا د ابادولو د پاره دنیا ته راځی الله پاك د دې په جواب کښې یوه عجیبه خبره کوی.

﴿وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لَئِنْ جَاءَتْهُمْ اٰيَةٌ لَّيُؤْمِنُنَّ بِهَا قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ عِنْدَ اللّٰهِ وَمَا يُشْعِرُكُمْ اَنَّهَا اِذَا جَاءَتْ لَا يُؤْمِنُوْنَ﴾(انعام:۱۰۹)

یعني دوی په الله تعالی باندې پاخهٔ قسمونه خوری چې که چرته دوی ته معجزه راشی نو دوی به خامخا ایمان راؤړی نو اے پیغمبره ته ورته اووایه چې معجزات خو د الله تعالی په اختیار کښې دی او که پیش هم کړے شی نو دوی ایمان نه راؤړی.
نو په دے آیت کښې الله تعالی فرمائی چې د معجزو اختیار ماسره دے.

سورة ابراهيم کښې فرمائي.

﴿مَا كَانَ لَنَا اَنْ نَّأْتِيَكُمْ بِسُلْطٰنٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ﴾(ابراهيم:١١)

يعني مونږ سره د معجزو اختيار نيشته بلکه کله چې د الله تعالى اجازت اوشي نو معجزه صادره شي.

موسى عليه السلام له چې کله الله تعالى نبوت ورکوؤ نو په کوه طور باندې ورته الله تعالى اوفرمائيل .

﴿اَلْقِهَا يٰمُوْسٰى﴾(طٰه:١٩)

يعني دا همسا اوغورزوه.

کله ئے چې اوغورزوله نو

﴿فَاِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ﴾(اعراف:١٠٧)

يعني د هغے نه يو ښکاره اژدها جوړه شوه.

خو چې کله د مصر نه هجرت کوى او په لاره کښې دريائے نيل مخښے ته راغے نو دغه همسا ترينه هيروه او حيران ولاړ وو چې الله تعالى ورته د همسا وهلو حکم اوکړو.

نو مقصد دا چې معجزه د پيغمبر په اختيار کښې نه وى.

## د نبى ﷺ يو څو معجزے:

نبى کريم ﷺ په مقام حديبيه کښې په يو لوښى کښې لاس کيخودو نو د نبى کريم ﷺ د ګوتو نه د اوبو چينے روانے شوے.

دارنګ د پيو يوه پياله اويا کسانو ته رسيدل، دا رنګ د جابر رضی اللہ عنہ وړوکے دعوت پنځلس سوه کسانو ته کافى کيدل د نبى کريم ﷺ معجزات وو.

يو طرف ته خو دا رنګ معجزات ښکاره کيږى خو بل طرف ته کور کښې به ئے په مياشتو مياشتو فقروفاقه تيريده خو په خپل وَس ئے

خوراك نه شو پيدا كولو، خپلو كښې تكليف دے او خوراك نشته.

دا رنګ د معراج په واقعه كښې اووۀ اسمانونو ته په سيكنډونو كښې ځى خو چې كله مكے نه هجرت كوى نو په پټه ځى او درے ورځو كښې رسى. په دې لاره كښې خوف يره د دشمن تلاش او په شپه كښې پياده مزل كول اولارې سيدها كولو د پاره لارښودنكے نيول او بيا هم په هواء باندې مدينے ته نشى تلے.

دارنګ د خيبر په موقع باندې د علی رضی اللہ عنہ په سترګو لاس راښكل او ټهيك شو. دا رنګ د بل يو صحابی رضی اللہ عنہ نه په جنګ كښې سترګه بوقه راؤتله او نبی كريم صلی اللہ علیہ وسلم راواغسته او د سترګو په قغالے كښې ئے ورله كيخوده نو سترګه ئے ټهيك ټهاك شوه.

خو بل طرف ته د يهودنے د زهرو د وجے نه ورته تكليف رسى او د مرګ سبب ئے هم جوړيږى خو په خپله ئے نشى ټهيك كولے.

دا د پيغمبرانو معجزات دى چې د دوى په اختيار كښې نه وى پيغمبر به معجزه غواړى خو الله به ئے وجود ته نه راولى او دا د دې وجے نه چې چرته د خلقو په ذهن كښې دا خبره رانشى چې پيغمبر اختيار مند دے هر څۀ كولے شى او د الله سره شريك دے.نو دا رنګ كرامت د ولى په اختيار كښې نه وى.

## د عمر رضی اللہ عنہ كرامت:

د عمر په دور كښې هغه يولښكر جهاد له ليږلے وو او د جمعے د خطبے دوران كښې ئے د خلے مباركے نه دا خبره اووته.

﴿يَاسَارِيَةَ اِلَى الْجَبَلِ﴾ (مشکوۃ)

يعني اے سارية! غر طرف ته پام كوه.

چې كله د خطبے نه راكوز شو نو عبد الرحمن بن عوف رضی اللہ عنہ ورته اووئيل چې

﴿جُنتَ یا عمر رضی اللہ عنہ﴾

یعني اے عمره رضی اللہ عنہ ته لیونے شوے ئے څهٔ؟

هغه ورته وائے ولے ؟ نو جواب ئے ورکه چې تا په خطبه کښې دا رنګ اٰواز اوکړو.

بیا څهٔ موده بعد ساریة رضی اللہ عنہ راغے او عمر رضی اللہ عنہ ته ئے اووئیل چې مونږ ستا اٰواز هلته اوریدلے وو.

هم دا عمر رضی اللہ عنہ دے چې کله ابولؤلؤ فیروز ئے د قتل په اراده شاته صف کښې ولاړ دے خو دهٔ ته پته نه لګی.

## د معجزې معیار:

بایزید بسطامی رحمۃ اللہ علیہ د ولی په کرامت او د دهوکه باز ولی په باره کښې فرمائی چې

﴿لَوْ نَظَرْتُمْ اِلٰی رَجُلٍ اُعْطِیَ مِنَ الْكَرَامَاتِ حَتّٰی یَرْتَقِیْ فَلَا تَغْتَرُّوْا بِهٖ حَتّٰی تَنْظُرُوْنَهٗ كَیْفَ تَجِدُوْنَهٗ عِنْدَ الْاَمْرِ وَالنَّهْیِ وَحِفْظِ الْحُدُوْدِ وَاَدَاءِ الشَّرِیْعَةِ﴾

یعني که تاسو یو کس اووینئ چې په کرامت باندې الوځی نو په دې مه دهوکه کیږئ ترڅو پورے چې د هغه په اوامرونواهی او په حفاظت د حدودو او په شریعت د تللو خیال اُونه ساتی.

امام شافعی رحمۃ اللہ علیہ هم فرمائی چې که یو سړے مو اولیدلو چې په هوا کښې الوځی او د اوبو د پاسه روان وی خو عمل ئے د شریعت مطابق نه وی نو دا کس زندیق دے.

د ولی تعریف الله تعالیٰ په قراٰن کریم کښې دا ذکر کوی.

﴿ اَلَآ اِنَّ اَوْلِیَآءَ اللّٰهِ لَاخَوْفٌ عَلَیْهِمْ وَلَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ۔ اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَهُمْ یَتَّقُوْنَ﴾(یونس:۶۲)

یعني ولی کښې به ایمان او تقوی وی او عمل به ئے د شریعت موافق وی.

الله تعالی دې مونږه هم د پیغمبرانو او صحیح اولیاء کرامو په نقش قدم روان کړی. امین

# خصوصیت نبی ﷺ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ اَلَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ النَّبِيَّ الْاُمِّيَّ الَّذِيْ يَجِدُوْنَهٗ مَكْتُوْبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرٰاةِ وَالْاِنْجِيْلِ۔۔۔ الخ﴾(اعراف:۱۵۷)

﴿وَقَالَ تَعَالٰى: قُلْ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا﴾(اعراف:۱۵۸)

د اسلام دریمه بنیادی عقیده د رسالت ده.

لکه څنګه چې الله تعالی د انسان د نورو ضروریاتو پوره کولو د پاره ذرائع پیدا کړی دی نو د روحانی تربیت اوضرورت پوره کولو د پاره هم الله تعالی یو سلسله جاری فرمائیلے ده چې هغے ته سلسله د رسالت وئیلے کیږی.

په دغے انبیاء کرامو علیهم السلام کښې آخری پیغمبر نبی کریم ﷺ دے چې د انبیاء کرامو سلسله پرے ختمه کړے شوے ده.

نبی علیه السلام بحیثیت رسول او اُمت:

نو څوك چې د نبی کریم ﷺ رسالت اومنی او عمل د هغه په طریقه کوی نو دوی ته امت اجابت وئیلے کیږی او د هغه تعلیماتو ته رښتیا وائی د هیڅ یو بنیادی عقیدې یا عمل نه انکار نهٔ کوی. او څوك چې د نبی کریم ﷺ د رسالت نه منکر دی نو هغوی ته امت دعوت وئیلے کیږی لکه یهود، هنود، سیکهان وغیره. یعنې د نبی ﷺ بعثت د ټولو د پاره دے او دوی ټول د هغه اُمتیان دی که منی او که نه منی ټول ئے اُمتیان دی. او لکه څنګه چې په نورو انبیاؤ باندې ایمان راوړل ضروری او اهم وو او د یو نبی ﷺ نه انکار کول کفر دے نو دغه

شان په نبي ﷺ باندې هم ایمان راوړل اهم او ضروري دي او په دهٔ باندې کفر کول په ټولو انبیاؤ باندې کفر کول دي. نو څوك چې نبي ﷺ به حیثیت رسول او پیغمبر نهٔ مني هغه مؤمن مسلمان نشي کیدے که نبي ﷺ بحیثیت یو عبقری شخصیت مني یا یو لوې مصلح هغه ته وائی خو د وحی او رسالت اقرار نه کوی یا هغهٔ ته د انسانیت یو غټ شخصیت وائی او د هر قسم کمالاتو اقرار کوی خو د قرآن یا حدیث حقیقت نهٔ مني نو داسے انسان مسلمان نشي کیدے او کهٔ یو انسان موسٰی یا عیسٰی علیهما السلام مني او نبي ﷺ نهٔ مني نو بیا هم مسلمان نشي کیدے یعني د نبي ﷺ په رسالت کښې او د نورو پیغمبرانو په رسالت کښې څهٔ فرق نشته څنګه چې هغوی پیغمبران وو داسے نبي ﷺ هم د الله فرستاده رسول او پیغمبر دے.

## نورو پیغمبرانو او نبي ﷺ کښې فرق:

د نورو انبیاء کراموعلیهم السلام او د نبي کریمﷺ په تعلیماتو منلو کښې درے فرقونه شته دے.او د دې وجوهاتو په بناء صرف د نبيﷺ په تعلیماتو باندې به عمل کولے شي او د نورو پیغمبرانو په تعلیماتو باندې به عمل نشي کولے.

ړومبني خو دا چې مخکښې څومره پیغمبرا ن الله تعالی رالیږلی وو نو هغوی د یو خاص قوم او خاص زمانے پورے رالیږلے شوی وو او نبي کریمﷺ ټولو انسانانو ته د هرے زمانے د پاره رالیږلے شوے دے. د نبيﷺ د بعثت نه واخله تر د قیامت د صبا پورې ټولو قومونو ته په هره زمانه کښې به پیغمبر وی.

دویم دا چې نور څومره پیغمبران دی نو د هغوی کتابونه او تعلیمات محفوظ نه دی بلکه څهٔ چې موجود دی نو هغه هم تحریف شده

دی هغه تعلیمات یا نشته دے او یا محفوظ نه دی یا هغه مذاهبو والو پخپله په هغے کښې تحریف یا غفلت کړے وو او یا دشمنانو د دروغو خبرې په هغے کښې وردننه کړے وے. د دے په مقابله کښې د نبی کریمﷺ کتاب او تعلیمات د دومره موده تیریدلو نه بعد هم محفوظ دی او د نبی کریمﷺ د زندګئ هر هر سیکنډ محفوظ پروت دے. د نبیﷺ د زمانے نه واخله تر د نن زمانے پورې تقریباً یو نیم زر کاله وخت اوشو تر د نن ورځ پورې د هغه تعلیمات د هغه سیرت د هغه احادیث په هغهٔ نازل شوې د الله کلام قرآن مجید د هغه عملی ژوند ټول محفوظ او مامون دی. د هغهٔ اخلاق ،کردار، اداب د هغهٔ هر هر قدم د هغهٔ هر هر لحظه د تحریف او تبدیلے نه په امن کښې ده.

الله تعالی هم فرمائی:﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾(حجر:۹)

یعني مونږ دا قرآن کریم نازل کړے دے او مونږ به د دے حفاظت کوؤ.

دریمه وجه دا ده چې د نورو انبیاء کرامو علیهم السلام تعلیمات نیمګړے او ترمیم شده وو او ترامیم به پکښې وقتًا فوقتًا کیدو په هغوی کښې اضافه، نقصان، ردوبدل ممکن وو او کیدلو به خو د نبی کریمﷺ قوانین عالمګیر دی مکمل نظام او هرے زمانے او هر قوم سره موافق دی او یو طبعی دین دے. چې په دې کښې نهٔ اضافه کیدے شی او نه څهٔ کمے پاتې دے. او ځکه د دې پیروی ضروری ده.

الله تعالی هم فرمائی:﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ ۔۔ الخ﴾(مائده:۳)

یعني مونږ نن ورځ ستا دین مکمل کړو.

نو نور دینونه به منسوخ کیدل او مکمل نه وو خو د نبی کریمﷺ دین ناسخ او مکمل وو.

## د نبی کریم ﷺ د انتخاب وجوهات:

د نبی کریم ﷺ عربو کښې راليږل او د مکے زمکه ورله مقررول او عربي ژبه کښې قرآن کريم نازليدل هر اعتبار سره صحيح وو. او ولے هغه د نبوت دپاره منتخب کړے شو.

## په عربو کښې د پيغمبر دانتخاب وجه:

د نبی ﷺ نه مخکښې په دنيا کښې چې څومره دينونه يا مذهبونه وو لکه بدھمت واله نو صرف يو څو اخلاقی خبرے وے دا رنګه نور اسمانی مذهبونه ناقص وو په هغے کښې داسے نظام حياة يا ضابط معيشت نه موندے کيدلو او د دې نه علاوه چې څومره فلسفے وے هغه په جهالت باندې مبنی وے او د معاشرے سره د هغے هيڅ قسم تعلق نه وو او په نورو دينونو کښې بګاړ او فساد راغلے وو نو د دې وجے نه الله نبی ﷺ دنيا ته مبعوث کړو چې انسانيت ته پاکيزه اخلاق او يو خائسته قانون حياة او د بندګۍ متعلق بهترين تعليمات خداوندی ورکړی او انسانيت يو ځل بيا د خپلے رڼړا او کاميابۍ په لاره قدم کيږدی او د خوشحالۍ او اطمينان ژوند په دنيا او په اخرت کښې يقينی کړی. د نبی ﷺ راليږل او بيا د مکې او مدينې زمکه د دعوت دپاره مقرر کول د هغه تعليمات په عربۍ کښې کيدل که څوك غور اور فکر اوکړی نو يقيناً به قائل شی چې دا مناسبه وه . جغرافيائی اعتبار سره چې اوکتلے شی نو د مکے يو طرف ته ايشياء او بل طرفته افريقه او جنوبی طرفته يورپ دے نو عرب مکمل په وسط کښې واقع شوے دے او دا مکه په خط استواء هم واقع ده. نو د دې وجے نه سرزمين عرب د نبوت دپاره منتحب کړے شو.

تاريخی اعتبار سره چې اوکتلے شی نو د عربو قوم د نورو قومونو په نسبت

بهادر وو، دارنګ بے خوفه وو، فیاضي او سخاوت پکښے وه ، د لوظ پابند وو. اٰزاد پسند وو. دا رنګ ډیر غیرتمند وو او ساده زندګی تیروونکی وو. او په دې قوم کښې الله ځکه پیغمبر راؤلیږو چې څوك د اعتراض اونهٔ کړی چې دا قوم غریب وو نو د مالدارے حاصلولو د پاره دوی دا پیغمبر راپاسولے دے او څوك د اونهٔ وائی چې دا قوم بےعزته وو د خپل عزت تر لاسه کولو دپاره د رسالت دعوی دار پکښې پیدا شو او یا دا قوم د عهد پابند نهٔ وو نو پیغمبر غوښتل چې دوی د عهد پابند شی ځکه ئے د نبوت دعوی اوکړه . او څوك دا خبره اونهٔ کړی چې دا خلق غلامان وو د آزادے د پاره دوی آواز اوچت کړے دے.

دا رنګ کومه ژبه چې د دنیا د خلقو د پاره منتخب کړے شوه نو هغه د عربۍ ژبه ده ځکه چې دا ژبه ډیره فصیحه ده. دا رنګ د بلندو خیالاتو ادائیګی، او د خدائی علم نازکے او باریکو خبرو او په زړونو باندې اثر پیدا کونکے موزون ژبه صرف عربي وه. او داسے زبان چې مختصر جمله کښې ئے لوے مطلب پروت وی. او د خوږوالی او متهاس نه ډکه ژبه ده. دې وجے نه الله نور کتابونه په نورو ژبو کښې تورات په عبرانے ژبه کښې انجیل په سریانے ژبه کښې او خپل اخری کلام قران ئے په عربے ژبه کښې دنیا ته ورکړو چې دا انسان د دې کتاب نه ډیره لویه فائده حاصله کړی.

## عقلی دلیل د نبی ﷺ په رسالت:

د نبی کریم ﷺ د رسالت عقلی وجه چې د سړی عقل دې ته مجبوره شی چې یقیناً دا دا الله رسول او نبی دے. دا هم ده چې د نبی کریم ﷺ په تعلیماتو سره په یوڅو کاله کښې ټولے برایانے ختمیدل او ټولے دنیا ته د هغه پیغام رسیدل ،چې د یو اُمی په تعلیم باندې دومره لوې

انقلاب پیدا کیدل او هر طرف ته د عدل او انصاف فضا په ظالم او جاهل قوم کښې پیدا کیدل. بیا د دغه قوم په خیالاتو قانون او تصوراتو کښې تبدیلی راتلل که دا ټوله دنیا سره د آلاتو نه سره د میډیا نه سره د ټیکنالوجے نه داسے انقلاب نشی راوستلے او بیا داسے پیغمبر چې هغه دچا سره ناسته هم نه ده کړې صرف تجارت ئے کړے دے بیا هم دومره لوې بدلی راولی سره د دے نه چې نبی کریم ﷺ امی وو دا ټولے داسے عقلی وجے دی چې د نبی کریم ﷺ د رسالت نه انکار کول د یو عقلمند سړی سره نه ښائی.

دا رنګ یواځے یو انسان په یو وخت کښې یو طاقتور لیډر جوړیدل، اعلی سپه سالار جوړیدل، اعلی جج او قاضی جوړیدل، زبردست مقنن او قانون ساز جوړیدل، بے مثل فلاسفر، لاجواب مصلح، حیرت انګیز ماهر سیاست، بهترین کمانډر، او باوجو د دومره مصروفیاتو د شپے الله تعالی ته اودریدل، دارنګ د اهل وعیال او غریبانانو خیال ساتل دا داسے عقلی دلائل دي چې خوك هم د نبی کریم ﷺ د رسالت نه انکار نشی کولے.او په دې کښې کمال ته رسیدل دا بغیر د الله د امداد نه نشی کیدے چې د الله مدد شامل حال نه وی نو دا صفات په یو وخت کښې په یو انسان کښې نشی پیدا کیدلے.

## په مخکښې کتابونو کښې ذکر:

دا رنګ د دے پیغمبر تذکرے په مخکښنو کتابونو کښې هم شته.

الله تعالی فرمائی.

﴿اَلَّذِيْ يَجِدُوْنَهٗ مَكْتُوْبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ وَالْاِنْجِيْلِ﴾(اعراف:۱۵۷)

یعني د دے پیغمبر تذکرے یهود او نصاری په خپلو کتابونو کښې هم کتلے شی.

دارنګ الله تعالی فرمائی:

﴿يَعْرِفُوْنَهٗ كَمَا يَعْرِفُوْنَ اَبْنَآءَهُمْ﴾(بقرة:١۴٦)

یعني دوی دا نبی کریمﷺ د خپلو بچو نه زیات پیژنی چې واقعی دا حق ، سچ پیغمبر دے.

د عبدالله بن سلامؓ نه د دې اٰیت په باره کښې تپوس اوکړے شو نو هغه اوفرمائیل چې او دا صحیح ده بلکه په خپلو بچو کښې مو هم شك شته دے خو د دے نبی کریمﷺ په رسالت کښې د چا شك هم نیشته.

## د حضرت ابوبکرؓ واقعه:

یو ځل ابوبکرؓ د نبی کریمﷺ د رسالت نه وړاندے یمن ته تلے وو یو بزرګ چې کله اولیدو نو ابوبکرؓ نه ئے تپوس اوکړو چې ته د مکے خو نهٔ ئے ؟ ماورته اوئیل ولے نه. بیا ئے راته اووئیل چې د قریشو نه خو نهٔ ئے؟ نو ما ورته اوئیل چې ولے نه؟ نو بیا ئے راته اوئیل چې که نهٔ خفه کیږے نو لږه ګیډه دے راته اوښایه. ماورته ګیډه ښکاره کړه نو هغه مطمئن شو نو ما ترینه په حیرانتیا سره تپوس اوکړو نو هغهٔ راته اوفرمائیل چې تهٔ د اٰخری پیغمبر هغه ملګرے ئے چې د هجرت په سفر کښې به ورسره هم ئے او د مرګ نه بعد به ئے جانشین هم ته یے . ستا دا ټول علامات زمونږ په کتابونو کښې موجود دی.

دا رنګ د ټولو صحابوؓ په باره کښې راځی چې

﴿اَنَاجِيْلُهُمْ فِيْ صُدُوْرِهِمْ يَنْبُتُوْنَ كَنَبَاتِ الذَّرْعِ﴾

یعني د صحابوؓ په سینو کښې به د قراٰن او سنت تعلیمات پراته وی او د فصل په شان به په دنیا کښې خوریږی.

دارنګ د عمر په باره کښې راځی چې کله ئے په بیت المقدس

حمله اوکړه نو هغوی ورته اووئیل چې مونږه ستا سو مشر سره ملاویدل غواړو نو که علامات پکښې صحیح اوموندلے شو نو مونږ به درته بیت المقد س بغیر د جنګ نه پریږدو.

کله چې عمر راغے او ملاؤ شو نو هغوی بغیر د جنګ نه بیت المقدس ورته پریښودو او جزیه ئے قبوله کړه او وے وئیل چې زمونږ په کتابونو کښې دا لیکلے شوی دی چې د اٰخری پیغمبر یو ملګرے به دا بیت المقدس فتحه کوی چې دا دا علامات به ئے وی.

نو داسے پیغمبر چې د هغه د ملګرو حالات هم محفوظ دی او نورو کتابونو کښې هم موجود دی نو دا د نبی کریمﷺ په رسالت باندې یو غټ دلیل دے.

الله تعالی دې مونږ ته په دے باندې د عمل توفیق رانصیب کړی.امین

# د نبی کریم ﷺ خصوصیات

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿ اَلَمْ نَشْرَحْ لَکَ صَدْرَکَo وَوَضَعْنَا عَنْکَ وِزْرَکَo الَّذِیْٓ اَنْقَضَ ظَهْرَکَo وَرَفَعْنَا لَکَ ذِکْرَکَo فَاِنَّ مَعَ الْعُسْرِ یُسْرًاo اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ یُسْرًاo فَاِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْo وَاِلٰی رَبِّکَ فَارْغَبْo﴾ (الانشراح)

## همیشه سیرت بیانول:

د دې میاشتے د نبی ﷺ د سیرت سره تعلق شته او دا ښهٔ خبره نهٔ ده چې د نبی ﷺ سیرت په یو زمانے پورې خاص کړې شي چې بیا د پیغمبر نه ذکر شته نه هغه تعلیمات شته نه په سنت طریقه باندې څهٔ عمل شته او بس دا یوه میاشت خلقه سیرت بیانوی دا ښه خبره نه ده کامیابی دا نه ده چه په ربیع الاول کښ عید میلاد النبی ﷺ مناؤ شی یا خوشحالی اوکړے شی یا یوه جلسه د سیرت منعقده کړے شی او بیا دا تصور کوی چه مونږه د نبی ﷺ حق ادا کړو.

په دې موقع د نبی ﷺ درے پهلوګانے بلکه د هغه دَ یو درے خصوصیات بیانولو کوشش کوؤ یو دا چې د نبی ﷺ تذکره هر وخت پکار ده دا یو وخت پورے خاص او پابند نه ده،دویم د نبی ﷺ سیرت او شخصیت ډیر جامع سیرت او شخصیت دے،دریم د نبی ﷺ شریعت هغه کامل او مکمل شریعت دے دا درے خصوصیات په کائناتو کښ که فرشتے وی که جنّات وی او که شخصیات وی بیا انسانانو کښ که پیغمبران دی دا دغه پیغمبرانو په صف کښ دا خصوصیات صرف او صرف د نبی ﷺ دی، دا بل نبی ته نه دی ورکړے شوې، سره د دې وجے

نه د ټولو انبیاؤ ذکر خیر، قدر و احترام په مونږه لازم او واجب دي او الله خپل پیغمبر ته وائی ﴿وَرَفَعۡنَا لَکَ ذِکۡرَکَ﴾ اے محبوبه ستا تذکره به زه ډیره اوچته کړم دا شان د نبی ﷺ دے نو د نبی ﷺ تذکره همیشه ده که یو انسان صرف په ربیع الاول کښ د نبی ﷺ تذکره کوی نو دي انسان هغه عظیم شخصیت ډیر تنګ او محدود کړو داسے نۀ ده بلکه د نبی ﷺ تذکره به هروخت کښ په هر ځائے کښ که مسجد دے که مدرسه، خانقاه یا بازار دے او که بل څۀ موقعه وی نو د نبی ﷺ تذکره به ورکښ لازمی موجود وی که خطیب صاحب په خطبه کښ وی او که مقرر په بیان کښ مشغوله وی نو د توحید سره به د رسالت د نبی ﷺ بیان خامخا ضروری وی.

## یو ناآشنا پوره سیرت:

د نبی ﷺ شخصیت او سیرت جامع شخصیت او سیرت دے. په دنیا کښ چې څومره مذهبونه دی ،دینونه دی د هغے بانیان دی، مذهبی شخصیات دی، داسے سیرت د هیچا نشته لکه څنګه سیرت چې د نبی ﷺ دے د هیڅ یو مذهب ربانی تذکره الف نه یاء پورے نشته. هغه الهامی مذهب دے او که غیر الهامی مذهب دے یهودیت نه تپوس اوکړے چې تاسو سره یا ستاسو په دین کښ د موسی علیه السلام پوره تذکره شته دے. د عیسائیت نه تپوس اوکړه چې ستاسو سره د عیسی علیه السلام زندګی د پیدائش نه واخله تر آسمان ختو پورے تذکره شته دے په مستند طریقے سره؟ د هغوي خپلو خبرو کښ تضاد دے او په عیسائیت او یهودیت باندې د قرآن لوے احسان دا دے چې قرآن ورته ډیر صحیح خبرے ښودلی دی. د عیسی علیه السلام د پیدائش نه تر آسمان ته ختلو پورے حالات قرآن محفوظ کړی دی، دغه د موسی علیه السلام د پیدائش تذکره مدین ته د تلو راتلو تذکره، د فرعون په دربار کښ اودریدل د بنی

اسرائیلو نجات او هلاکت د فرعون بیا د میدان تیه حالات تر آخری وخت پورے قرآن په صحیح طریقه ذکر کړی دی خو د نبی ﷺ په شان سیرت د بل هیچا نشته.

## د پیدائش نه مخکښ حالات:

د نبی ﷺ د سیرت د پیدائش نه پس څهٔ چې د پیدائش نه مخکښ د هغے شجره نسب ټول محفوظ وو بلکه د پیغمبر د آباؤ اجدادو یوه کارنامه خامخا په تاریخ کښ شته دے، د پلار طرف نه د مور طرف نه بلکه چا چه ورلره پئ ورکړی دی د هغه موریانو حالات او رضاعی رونړه خویندے هغه علاقه معلومه ده چې په کومه کښ نبی ﷺ پئ څکلی وو دغه شان او مقام صرف د محمد رسول الله ﷺ دی.

## د ټولو مسائلو حل:

دریمه خبره هغه شریعت هم کامل او مکمل دے کوم شریعت چې الله نبی ﷺ ته ورکړے دے داسے کامل مکمل شریعت چې د انسانیت هر قسمه مسائلو حل او احکامات ورکښې شته دے د پیدائش نه واخله تر مرګه پورے انفرادی زندګی نه واخله تر اجتماعی زندګئ پورے د هرے مرحلے تعلیمات د نبی ﷺ په شریعت کښې موجود دی الله رب العزت د هغه تذکره سیرت او شریعت محفوظ کړی دی ځکه نبی ﷺ فرمائی:

﴿تَرَكْتُكُمْ عَلَى الْمِلَّةِ الْبَيْضَاءِ لَيْلُهَا كَنَهَارِهَا﴾(ابن ماجه)

په داسے ملت او شریعت باندې ما پریښودلی ئے چې د هغے توره شپه هم د روښانه ورځ په شان ده د نبی ﷺ هیڅ یو اُمّتی ته دا مشکل نشته چې دهٔ ته یو مسئله د ژوند په یوه موقعه راشی د او دَ هغے حکم ورته واضح نه وی دَ شریعت احکام څهٔ کوے چې د هغه نقشه او تصور هرڅهٔ د شمائلو په نوم په احادیثو کښ محفوظ دی که یو انسان دغه

احادیث اوګورې نو خودبخود د نبی ﷺ تصویر نقشه د هغه ذهن ته راشي د هغه سترګې، پوزه، شونډې، ګوتې وغیره ناسته، ولاړه، تر دې پورې چې تر وفاته پورې د هغه په ګیره کښې سپین ویختهٔ شومره وو.

نبی ﷺ په یو موقع د څلورو رکعاتو په ځائے دوه رکعاته مونځ اوکړو او بیا پاسیدو دواړه لاسونه ئے یو بل کښې ورکړل او په یوه ستنه باندې ئے مخ مبارک کینښودو یو صحابی چې هغه ذوالیدین په نوم مشهور دے هغه پاسیدو او دا خبره ئې اوکړه چې

﴿أُقْصِرَتِ الصَّلٰوةُ يَارسول الله ﷺ أَمْ نَسِيْتَ﴾(موطامالک)

مونځ کم شوے دے او که نه ستاسو نه هیر شوے دے. نو د دې واقعه سره د نبی ﷺ پاسیدل او دواړه لاسونه یوځائے کول دا خبره هم صحابه کرامو رضی اللہ عنہم د نبی ﷺ محفوظ کړې ده.

دغه شان د حّجة الوداع په موقعه خطبه وئیلے ده، په منٰی او مزدلفه مقام کښې او دغه خطبو کښې یوه خطبه نبی ﷺ د عرفات په میدان کښې وئیلے وه او نبی ﷺ صحابو ته دا خبره کړے وه چه شاید تاسو ما روان کال اونه ګورے زما نه د حج احکامات زده کړے په دې کښې الله دا آیتونه نازل کړل:

﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ﴾(مائدہ:۳)

نن ورځ ما ستاسو دین مکمل کړو په دنیا کښې غټ غټ بادشاهان مشران تیر شوی دی یو هم دا دعوی نهٔ ده کړے چه زما مشن زما مقصد پوره شو او د الله د پیغمبر په ژوند کښې الله دا حکم نازل کړو چې ستاسو شریعت او دین ما مکمل کړو ځکه الله وائی:

﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾(احزاب:۲۱)

ستاسو د پاره په نبی ﷺ کښې ډیره ښائسته نمونه د ژوند تیرولو ده. والحمدلله رب العالمین

# د الله او رسول ﷺ اطاعت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿قُلْ أَطِيْعُوا اللّٰهَ وَأَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ﴾ (اٰلعمران:۳۲)

﴿وَقَالَ تَعَالٰى مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ﴾ (نساء:۸۰)

﴿وَقَالَ تَعَالٰى وَمَا اٰتَاكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا﴾ (حشر:۸)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ تَرَكْتُ فِيْكُمْ أَمْرَيْنِ لَنْ تَضِلُّوْا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا كِتَابُ اللّٰهِ وَسُنَّةُ رَسُوْلِهٖ﴾ (موطامالک)

## د الله او رسول ﷺ اطاعت:

د قرآن پاک څۀ آیتونه مبارک تلاوت شو په دې کښې الله رب العزت مونږ مسلمان قوم ته د دین دوه أهم بنیادونه ښائی یو ته د الله اطاعت او دویم ته د رسول الله ﷺ اتباع وائی. په بله اصطلاح کښې یو ته قرآن او دویم ته د نبی ﷺ سنت وئیلے کیږی دا دوه څیزونه د دین اسلام سرچشمه ده او د دین بنیاد دے زمونږه دین او شریعت مونږ ته د دې دوؤ څیزونو نه ملاویږی لکه څنګه چه د الله احکامات منل په مونږه لازم دی دغه شان د نبی ﷺ اطاعت او تابعداری هم په مونږه باندې یوه دینی فریضه او ذمه داری ده.

## د الله او رسول ﷺ حکم لازم وملزوم:

زمونږه د دې دین څۀ احکام د الله رب العزت د طرف نه براه راست بلاواسطه مونږ ته ملاؤ دی او څۀ احکام د نبی ﷺ په واسطه

مونږه ته ملاؤ دی چې هغے ته د نبی ﷺ سیرت، سنت ،عملی زندګی وئیلے شی ځنګه چه براه راست د الله احکام دی دغه شان د نبی ﷺ په واسطه ملاؤ شوی احکام هم دراصل د الله رب العزت احکام دی ځکه پیغمبر د ځان د طرف نه خبره نه کوی ، پیغمبر چه څۀ خبره کوی د دین باره کښې، د الله باره کښې، د ثواب باره کښې، د شریعت په باره کښې ، نو د الله خبره پیش کوی او نقل کوی د دین په حواله چې څۀ خبره پیغمبر کوی نو دا وحی ده او د الله خبره ده ، دا خبره د ځان د طرف نه نۀ کوی، دې وجے نه مسلمان د الله د اطاعت سره سره د رسول الله ﷺ په اطاعت هم مامور دے د الله احکاماتو سره به د رسول الله ﷺ احکامات هم منی دا دواړه چې یو ځائے شی نو د دې نه دین جوړیږی که یو منی او بل نه منی نو بیا دا مسلمان نه دے. د قرآن پاک په سورة مائده کښې الله دا خبره ذکر کړې ده چه د الله او د الله د رسول ﷺ په احکاماتو کښې فرق کوی دا مسلمان نه دے بلکه کافر دے د الله تعالی د احکاماتو سره د رسول الله ﷺ احکامات منی ځکه قرآن کله وائی:

﴿ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ﴾(آل عمران:۳۲)

په یوځائے کښې وائی:

﴿وَمَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهِ﴾(نساء:۸۰)

د الله د پیغمبر اطاعت براه راست د الله اطاعت دے نو دا خبره د مسلمان د کامیابے د پاره ضروری ده چې د الله حکم سره به د رسو ل الله ﷺ اطاعت هم کوی.

## د رسول ﷺ حکم منل ولے ضروری دی:

او د الله حکم سره د رسول الله ﷺ حکم منل ځکه ضروری دی چه د دین عملی شکل او د قرآن تشریح او وضاحت د پیغمبر په ذریعه

سره کیږی، دا بغیر د پیغمبر نه نۀ شی کیدے. الله رب العزت شارع دے او رسول الله ﷺ شارح دے شارع معنی شریعت جوړونکے، قانون ساز، حاکم اعلی الله پاک د دنیا خلقو لره قانون ورکوی، نظام ورکوی، دستور ورکوی، شریعت ورکوی او پیغمبر د دغه قانون او شریعت او نظام تشریح کونکے وضاحت او عملی نمونه وی ځکه د رسول الله ﷺ منل د الله د منلو سره لازم ملزوم او ضروری دی. د الله په حکم باندې پوره پوهه کیدل ناممکن دی بلکه تقریبًا تقریبًا محال وی ، دې وجے نه دا ضروری ده چه د قرآن سره به حدیث منل پکار وی د الله دحکم سره به د رسول الله ﷺ اطاعت لازم وی.

## عبدالله بن مسعود رضی الله عنه او د رسول ﷺ اطاعت:

یو روایت تفسیرقرطبی والا د عبدالله بن مسعود ﷺ نه رانقل کړې دې چې هغه په مکه کښې د بیت الله طواف کولو نو د طواف دوران کښې ئے یو سړے اولیدو چې د احرام د لاندې ئے گنډلې شوې کپړے هم اچولے وے او مسئله دا ده چه په حج ، عمره کښې د احرام په حالت کښې نارینه دوه کپړے د یو نه څادر او د بل نه لنګ جوړ کړے وی او گنډلے شوې کپړے به نه اغوندی، زنانه لره اجازت شته چې هغه به خپلے کپړے اغوندی نارینه لره اجازت نشته عبدالله بن مسعود ﷺ چه دغه سړے اولیدو نو ورنزدې شو او ورته اوو ئیل چه ته خو نارینه ئے د احرام لاندې دا گنډلے شوی کپړے ولے اچوې نو دغه سړی فورًا جواب ورکړو چې ولے دا مسئله په قرآن کښې شته دے؟ په قرآن کښې کوم ځاې کښې ده؟ چې د احرام لاندی به گنډلے شوې کپړے نه وی؟ عبدالله بن مسعود ﷺ د دې امت د لوې فقهاؤ نه دے نو هغه ورته عجیبه جواب ورکړو چه او دا مسئله په قرآن کریم کښې شته دے دا سړې ورته وائی

چه په قرآن کښې دا مسئله ما نه ده لیدلے. عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ورته وائی په قرآن کښې الله تعالی فرمائی:

﴿ وَمَا اٰتَاكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ﴾(حشر:۸)

پیغمبر چې تاسو لره څهٔ درکوی د دین او شریعت په حوالے سره هغه واخلے او د څهٔ څیز چې تاسو منع کوی نو دهغے نه منع شئ او ما بچپله د پیغمبر پاک ﷺ نه اوریدلی دی چه د احرام په حالت کښې به انسان گنډلے شوے لباس نه اچوی او دا د پیغمبر خبره فی الحقیقت د قرآن خبره ده هغه سرے په دې باندې غلے شو.

## یو زنانه لره د سوال جواب:

او په یو موقعه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه دا جواب یو ښځے لره ورکړے وو کله چه عبدالله رضی الله عنه دغه ښځه د خال لګولو او په غاښونو کښې فاصلے جوړولو نه منع کړه نو دې ښځے ورته اووئیل چه دا خبره په قرآن کښې اوښایه عبدالله رضی الله عنه جواب ورکړو:

﴿لَوْ قَرَأْتِيْهِ لَوَجَدْتِّيْهِ﴾ (بخاری)

که تا چرته قرآن لوستلے وے نو دا خبره به دې په قرآن کښې موندلے وے ځکه پیغمبر ﷺ منع کړے ده او د پیغمبر ﷺ منع کول فی الحقیقة کښې د قرآن منع کول دی لکه څنګه چې ذکر شو نو دا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه اوښودله چې د پیغمبر ارشادات او فرامین منل بعینه د قرآن منل دی بلکه دا د الله حکم دے چه احادیث نبویه ﷺ د قرآن نه جدا نهٔ دی ځکه پیغمبر د الله تعالی نمائنده وی او د نمائنده خبره په اصل کښې د هغه چا خبره وی چا چې لیږلے وی نو ډیر داسے احکام شته دے که د پیغمبر عملی ژوند، د هغهٔ احادیث ورسره یوځائے نشی نو د الله په احکامو عمل کول ګران دی مثال په طور مونځ به واخلو

قرآن پاک کښې دمونځ په باره کښې بار بار الله فرمائي ﴿واقيموا الصلوة﴾ مونځ قائم کړے دا شته دے خو دا په قرآن کښې په واضح الفاظو کښې صراحةً ذکر نشته چې تاسو پنځه وخته مونځ کوے او نه دا شته دے چه د سحر په وخت کښې دوه رکعته د غرمے په وخت کښې، څلور رکعته د مازيګر په وخت کښې، دا تفصيلات په قرآن کښې نشته دا بغير د نبي ﷺ د احاديثو او د هغه د عملي ژوند نه بغير دا څوک نشي معلومولے د مانځه حکم شته دے د مونځ فرضيت ذکر دے خو د مونځ ټول تفصيلات په احاديثو کښې نشته قرآن په دې صورت کښې عملي کيږي چه د نبي ﷺ ژوند ورسره يوځائے شي ځکه د قرآن د قانون تشريح نبي ﷺ کوي په خپل عملي ژوند سره د قرآن تفصيلات بيانوي.

## عملی تفصيل د قران سنت نبوی دی:

او بيا کله چې پيغمبر ﷺ مونځ کوي نو اعلان ئے اوکړو ﴿صَلُّوْ كَمَا رَأَيْتُمُوْنِيْ أُصَلِّيْ﴾ (مسند شافعی)

لکه څنګه چې زه مونځ کوم نو زما په شان مونځ اوکړے ځکه که مونځ د پيغمبر په طريقه نه شي نو يو انسان به په يوه طريقه مونځ کوي، بل انسان به په بله طريقه مونځ کوي نو شريعت به تس نس شي او د الله په حکم باندې به عمل او نه کړے شي نو که قرآن حکم کوي ﴿أقيموا الصلوة﴾ نو که يو انسان اووائي څنګه مونځ اوکړو نو نبي ﷺ فرمائي ماته اوګوره نو قرآن حکم باندې به ستا عمل راشي.

دغه شان يو واقعه د عمران بن حصين رضي الله عنه په باره کښې هم راځي هغه په يو ځائے کښې مونځ کولو نو بيا ئے يوه مسئله بيان کړه چا ورته اووئيل چه دا مسئله په قرآن کښې اوښايه نو هغه سخت ناراضه شو او د دغه سړی نه ئے تپوس اوکړو تا چې د سحر په مونځ کښې دوه رکعته

اوکړل دا چرته په قرآن کښ شته دے؟ نو هغه سړي چپ شو نو عمران بن حصين رضی اللہ عنہ ورته اوښودله چې د مونځ تفصيلات نبي صلی اللہ علیہ وسلم بيان کړی دی او هغه تفصيلاتو باندې عمل کول په قرآن باندې عمل کول دی.

داسے يو بل حکم دے د مانځه چې هغے ته صلوة قصر وائی چې څلورو په ځائے انسان دوه رکعته ادا کړی په قرآن کښ دا د قصر حکم په حالت د جنګ کښ ذکر شوی دی

﴿ اِنۡ خِفۡتُمۡ اَنۡ يَّفۡتِنَكُمُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا فَلَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ اَنۡ تَقۡصُرُوۡا مِنَ الصَّلٰوةِ ﴾(نساء:۱۰۱)

که تاسو ته د کافرانو د ضرر نه يره وی نو بيا که تاسو د مونځ قصر اوکړے نو ګناه درباندې نشته او د دې تفصيلي وضاحت ئے کړے دے غرض دا چې قرآن صرف په حالت خوف کښ د صلوة قصر په باره کښ حکم کړے دے حالانکه که يو انسان په حالت د جنګ کښ نه وی او ارتاليس (48) ميل سفر کوی چې هغه (78) کلوميټر جوړيږی دومره اندازه کښ سفر کوی نو همدغه صلوة قصر به کوی او قرآن صرف د حالت جنګ يا حالت خوف په باره کښ صلوة قصر ذکر کړے دے د حجة الوداع په موقع کله چې نبي صلی اللہ علیہ وسلم صلوة قصر کولو نو حضرت عمر رضی اللہ عنہ ورته عرض اوکړو يارسول الله! صلی اللہ علیہ وسلم قرآن خو صلوة قصر په حالت جنګ کښ ذکر کړے دے او تاسو په حالت د امن کښ هم صلوة قصر کوے نبي صلی اللہ علیہ وسلم ورته اوفرمائيل چه اے عمره رضی اللہ عنہ دا خو د الله صدقه ده آيا تهٔ د الله صدقه رد کول، واپس کول غواړې الله زمونږه سره احسان نيکړه کړې ده او مونږه ته ئے صدقه راکړې ده نو آيا د الله صدقه څنګه واپس کوؤ. مطلب قرآن صرف حالت خوف ذکر کړو او پيغمبر په دغه موقعه باندې عملي په سفر کښ دا مونځ ادا کړو نو دا شريعت دے د پيغمبر عمل د پيغمبر سنت او طريقه دا هم شريعت دے.

## حکم قران خاص او د سنت رسول ﷺ ثخه عمومیت:

دغه شان په قرآن کښې الله د رهن د مشروعیت جواز ذکر کړے دے خو دغه مشروعیت او جواز ئے په حالت سفر کښې ذکر کړې دې.

﴿ وَإِنْ كُنْتُمْ عَلَىٰ سَفَرٍ وَلَمْ تَجِدُوا كَاتِبًا فَرِهَانٌ مَقْبُوضَةٌ ﴾(بقرة:۲۸۳)

چې تاسو په حالت د سفر کښې ئے او لیکونکے نه مونده کیږی نو گانړه رهن واخلے، قبض کړے شوی او مونږه مسلمانان عام طور که سفر کښې وی او که سفر کښې نه وی په هر حالت کښې د یو بل سره رهن گانړه بطور ضمانت دا معامله کوؤ او دا په شریعت کښې جائز هم دی سره د دې چه په حالت د سفر کښې د دې اجازت قرآن ورکړے دے خو که مونږه بغیر د سفر نه هم دا معامله کوؤ نو د دې وجے نه چې نبی ﷺ په دې باندې عمل کړے دے په آخری وخت کښې نبی ﷺ د یو یهودی سره خپله زغره رهن کړې وه د اوربشو په مقابله کښې ځۀ اوربشے ئے د یهودی نه اغستے وے او خپله زغره ئے ورسره رهن کړې وه او نبی ﷺ په دغه حالت کښې وفات شوے هم دے نو خلاصه د خبرې دا چه زمونږه شریعت د دوؤ خبرو نوم دے یو قرآن دے بل د نبی ﷺ فرمان او ارشادات دی ځنګه چې مونږه د الله د اطاعت مامور یو دغه شان د رسول الله ﷺ د اطاعت هم مونږه مامور یو مونږ تر هغه وخته پورې په قرآن باندې عمل نه شو کولے ترڅو پورې چې د رسول الله ﷺ زندګی ورسره یوځائے نشی قرآن او سنت رسول ﷺ د یو بل سره تړلے شوی دی، د الله اطاعت او د رسول الله ﷺ اطاعت لازم او ملزوم دی او قرآن هم په دې ګواه دے چې رسول الله ﷺ اطاعت د قرآن اطاعت دے.

﴿ وَمَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ ﴾

والحمد لله رب العالمین.

# اطاعت رسول ﷺ (۱)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِہٖ وَ اَصْحَابِہِ الْاَتْقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿قُلْ یٰاَیُّھَا النَّاسُ اِنِّیْ رَسُوْلُ اللّٰہِ اِلَیْکُمْ جَمِیْعًا﴾

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ ﷺ: کُلُّ اُمَّتِیْ یَدْخُلُوْنَ الْجَنَّۃَ اِلَّا مَنْ اَبٰی قِیْلَ مَنْ اَبٰی قَالَ مَنْ اَطَاعَنِیْ دَخَلَ الْجَنَّۃَ وَمَنْ عَصَانِیْ فَقَدْ اَبٰی﴾ (مسند احمد)

مونږ مسلمانان یو الحمدلله دین اسلام زمونږه دین دے مونږ دا دعوی په ډیر زور او شور سره کوؤ خو دا دین څۀ ته وائی، دین اسلام څۀ څیز دے. دا د الله رب العزت قانون او حکم منل د نبی ﷺ د طریقے مطابق، دی ته دین اسلام وئیلے کیږی خو په دې کښې دوه خبرې ډیرې ضروری دی . د دین اسلام کلمه ټوله د دوؤ خبرو نه مرکب ده .

اول جزء د الله تعالی د توحید نه ډك دے

دویم جزء کښې د الله تعالی د نبی ﷺ د رسالت اعلان دے.

یعنې اول جزء کښې اقرار بندګی او دویم جزء کښې طرز زندګی ذکر کوی، چې د پیغمبر هر قدم هر فعل هر کار او خبره کښې د امت د پاره د عمل یوه خائسته زبردسته بهترینه عملی نمونه ده که غم وی نو غم د نبی ﷺ په طریقه برداشت کول، خوشحالی راغله خوشحالی د پیغمبر ﷺ په طریقه اداکولو ته دین وئیلے کیږی د ژوند هر میدان کښې د الله رضا او د پیغمبر طریقه لټول په هغے عمل کولو ته دین وئیلی کیږی د دۀ تجارت،خوراک څکاک، نشست وبرخاست الغرض هر حرکت هر قسمه عمل د پیغمبر ﷺ په طریقه چې ادا کوی نو دا مسلمان او د

پیغمبر امتی دے.

اوس د دے خبرو پیژندګلو د پاره چې عبادت به څنګه کوے؟ دا رنګ الله تعالی په څۀ خوشحالیږی او په څۀ خفه کیږی؟

د ټولو خبرو رسولو د پاره الله تعالی د پیغمبرانو سلسله جاری فرمائیلے ده.

دا سلسله د اٰدم علیه السلام نه واخله تر د نبی کریمﷺ پورے جاری وه.

خو چونکه ابتداء کښې خلق لږ وو او چه رو رو زیاتیدل نو د قومونو یو بل ته رانزدے کیدل شروع شول. نو اول الله تعالی به هر قوم ته ځانله ځانله پیغمبر رالیږلو خو په اٰخر کښې الله تعالی نبی کریمﷺ ټولے دنیا ته مبعوث کړو.

نو نبی کریمﷺ الله تعالی په مکه کښې څکه راؤلیږلو چې مکه د ټولے دنیا مرکز دے. د دې یو طرف ته ایشیا ، بل طرفته ترینه افریقه ده او یورپ هم ورته نزدے دے.

دا رنګ دا مکه په خط استواء باندې واقع ده.

نو چونکه پیغمبر الله تعالی عالمی رالیږلو نو د ځاې یعني د مکے انتخاب ئے هم عالمی اوکړو.

بل په عربو کښې رالیږلو وجه دا وه چې دا قوم بهادر، شجاع، غیرتمند او دا رنګ دا علاقه ازاد قبائلی علاقه وه د دے وجے نه الله تعالی په عربو کښې نبی کریم ﷺ مبعوث کړو.

بل دا چې دوی د بل قوم د سیاسی اثر نه لاندې هم نه وو.

بل داچې ژبه ورله هم الله تعالی عالمی ژبه ورکړے وه نو د دے وجے نه الله تعالی په دوی کښې نبی کریمﷺ مبعوث کړو.

قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی:

﴿قُلْ يَاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا﴾(اعراف:۱۵۸)

یعني اووایه چې اے خلقو ! زه ستاسو ټولو د پاره رسول رالیږلے شوے یم

دا رنګ الله تعالی فرمائی:

﴿مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ﴾(نساء:۸۰)

یعني چا چې د رسول اطاعت اوکړو نو ګویا کښې دهٔ د الله تعالی اطاعت اوکړو.

د دے وجه دا ده چې نبی کریم ﷺ د ځان نه خبره نه کوی بلکه هغه د الله تعالی وحی وی.

الله تعالی فرمائی:

﴿وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى﴾(نجم:۶)

یعني نبی کریم ﷺ د خپل خواهش مطابق خبره نه کوی بلکه دا د الله تعالی وحی وی چې نبی کریم ﷺ ته شوی وی.

اوس که یو انسان رسول منی خو خبره منلو کښې ئے سستی کوی نو دا کامل مومن نه دے.

نبی کریم ﷺ فرمائی

﴿كُلُّ اُمَّتِيْ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ اِلَّا مَنْ اَبٰى﴾

یعني زما د امت هر فرد به جنت ته ځی مګر هغه څوك به جنت ته نه ځی چې انکار کوی.

صحابو رضی الله عنهم عرض اوکړو

﴿مَنْ اَبٰى يَارَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ﴾

یعني اے د الله تعالی رسوله ﷺ! څوك به انکار کوی جنت ته

د تلو نه.

نبی کریم ﷺ اوفرمائیل:

﴿مَنْ اَطَاعَنِيْ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ عَصَانِيْ فَقَدْ اَبٰى﴾ (بخاری)

یعني چا چې زما اطاعت اوکړو نو جنت ته به داخلیږی او څوك چې زما نافرمانی اوکړی نو دهٔ جنت ته د تللو نه انکار اوکړو.

دا رنګ الله تعالی فرمائي:

﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ﴾(نساء:٦٥)

یعني قسم مې دې وی ستا په رب باندې چې دا خلق تر هغے پورے کامل مؤمن نشی کیدے تر څو پورے چې دا خلق په خپلو مسئلو کښې ستا فیصله اونهٔ منی.

سورة احزاب کښې فرمائي:

﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ اِذَا قَضَى اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَمْرًا اَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ﴾(قصص:٦٨)

یعني د یو مؤمن سړی او ښځې د پاره دا مناسب نه دی چې کله الله تعالی او رسول څهٔ فیصله اوکړی نو چې ګنی د دوی د پاره دی څهٔ اختیار وی.

یو ځل د نبی کریم ﷺ مجلس ته یو صحابی راغے او په ګوته ئے د سرو زرو ګوتمه وه نبی کریم ﷺ ترینه واغسته او لرے ئے اوغورځوله او وے فرمائیل

چې اٰیا څوك په خپله په لاس کښې د جهنم سکروټے راخلی.

د مجلس په اختتام کښې دا صحابی رضی اللہ عنہ هم داسے روان شو نو یو صحابی ورته د ګوتمے اوچتولو اوئیل نو د ے صحابی اوفرمائیل . زهٔ څهٔ رنګه داسے څیز راؤچت کړم چې نبی کریم ﷺ غورځولے وی.

حضرت سعدرضی اللہ عنہ ایمان راؤړو نو مور ورته قسم اوخوړو چې د اسلام نه منع شه او خپل دین ته واپس شه ګنې

﴿وَاللّٰهُ لَا اٰكُلُ طَعَامًا وَلَا اَشْرَبُ شَرَابًا حَتّٰى تَكْفُرُ بِمُحَمَّدٍ صلی اللہ علیہ وسلم﴾

یعني قسم مې دې وی په الله تعالی چې نه به خوراك کوم او نۀ به څکاك کوم ترڅو چې تۀ د محمدصلی اللہ علیہ وسلم د دین نه واپس شوے نه ئے.

حضرت سعدرضی اللہ عنہ ورته اوفرمائیل چې که چرته ستا سل ساه ګانے شی او زما د ایمان په مقابله کښې یوه یوه ساه اوځی نو بیا به هم زۀ ایمان پرے نګدم.

دا یوڅو واقعات د صحابه کرامورضی اللہ عنہم دی چې د دین د خاطره ئے څومره تکالیف برداشت کړے وو.

الله تعالی دې مونږ ته صحیح ایمان رانصیب کړی. امین

# اطاعت رسول ﷺ (۲)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَاُولِي الْاَمْرِ مِنْكُمْ فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِيْ شَيْءٍ فَرُدُّوْهُ اِلَى اللّٰهِ وَالرَّسُوْلِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّاَحْسَنُ تَاْوِيْلًا ﴾ (نساء:۵۹)

﴿ وَقَالَ تَعَالٰى فِيْ مُقَامٍ اٰخَرَ: وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا اِلٰى مَاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَاِلَى الرَّسُوْلِ رَءَيْتَ الْمُنٰفِقِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْكَ صُدُوْدًا ﴾ (نساء:۶۱)

د دنيا او د اٰخرت کاميابى الله تعالى په خپل دين کښې کيخودلې ده. په يومسلمان باندې بحيثيت مسلمان دا لازم دى چې دې به په عمل سوچ کوى چې زما دا عمل د الله او د الله تعالى د رسول ﷺ د عمل او حکم مطابق دے او که نهٔ دے. کهٔ خوشحالى راځى او که غم، په دې کښې به زمونږ څهٔ طريقه کار وى؟ د د ے خبرو پيژندګلو ضرورى ده چې کوم د شريعت مطابق کارونه دى هغه خپلول غواړى او کوم چې د شريعت مخالف دى نو هغه پريښودل غواړى.

د نبى کريم ﷺ دنيا ته په مياشت د ربيع الاول کښې راتلل د الله تعالى په مونږ باندې ډيره لويه مهربانى ده. په دې چې څومره هم خوشحالى اوکړے شى هغه کمه ده ځکه چې انسانيت ته د دهٔ په راتګ عزت ملاؤ شو او د دهٔ په راتللو انسانيت الله تعالى اوپيژندو.

اوس دا خوشحالى صرف يو ورځ پورے نه دى خاص کول پکار بلکه هر وخت په دې باندې خوشحاله کيدل پکار دى ځکه چې دنيا

کنبې هره لحظه کنبې د نبی کریمﷺ تذکرے کیږی.

په مخلوقاتو کنبې د نبی کریمﷺ نه زیاته د بل چا هم تذکره نه کیږی که جماتونه دی او که خانقاه ګانے دی، درسګاهونه دی ، د زمکے پستی ده که د اسمان بلندی ده، د مؤذن اذان دے او که د مکبر تکبیر دے، د جمات منبر دے او که منارے ، د دغے ټولو نه د نبی کریم ﷺ عظمت بیانیږی.

جغرافیے والا لیکلی دی چې داسے یو وخت هم نیشته چې په ټوله دنیا کنبې اذان نه وی شروع.

دا رنګ الله تعالی د نبی کریمﷺ شان بیانوی .فرمائی

﴿وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ﴾(انشراح:۳)

یعني مونږ ستا تذکرے پورته کړې دې.

او مقام ئے چې بیان فرمائی:

﴿وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ﴾(نساء:۱۱۳)

یعني مونږ تاته د هغے خیزونو علم په وحی سره درکړے دے چې د هغے علم مخکنبې تاسره نه وو.

او د احترام حالت داسے وی چې

﴿لَا تَرْفَعُوْا اَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ﴾(حجرات:۳)

یعنې د نبی کریمﷺ د آواز وړاندې خپل آوازونه مۀ پورته کوئ.

او دا رنګ د نبی کریمﷺ تذکره په قرآن کریم کنبې په نوم سره نه ده شوے، دا تعلیم دے امت ته چې په نوم به نبی کریمﷺ ته آواز نه کوی.

کله الله تعالی فرمائی:

﴿يٰاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ﴾(مدثر:۱) ﴿يٰاَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ﴾(مزمل:۱)

دا رنګ کله الله تعالی د نبی کریمﷺ شا ن بیانوی.
﴿اِنَّآ اَعۡطَیۡنٰکَ الۡکَوۡثَرَ﴾(کوثر:۱)
یعني مونږ تاته ډير لوے خير درکړے دے.
دا رنګ فرمائی : ﴿وَلَسَوۡفَ یُعۡطِیۡکَ رَبُّکَ فَتَرۡضٰی﴾(ضحیٰ:۵)
یعني ډير زر به تاته الله تعالی داسے څیزونه درکړی چې ته به پرے راضی ئے.
داسے پیغمبر چې اسمان ته په کتلو سره الله تعالی قبله بدلوی. فرمائی:﴿فَوَلِّ وَجۡهَکَ شَطۡرَ الۡمَسۡجِدِ الۡحَرَامِ﴾(بقرة:۱۴۴)
یعني خپل مخ مسجد حرام طرف ته واړوه.
د نبی کریمﷺ تذکرے د پیدائش نه مخکښې شوی دی.
ابراهیم علیه السلا م د نبی کریمﷺ د پیدائش نه په زرګونو کاله مخکښې د نبی کریمﷺ په حق کښې دعا غواړی.
﴿رَبَّنَا وَابۡعَثۡ فِیۡهِمۡ رَسُوۡلًا مِّنۡهُمۡ﴾(بقرة:۱۲۹)
یعني اے زمونږ ربه! ته په دوی کښې هم د دوی د جنس نه یو رسول اولیږه
دارنګ عیسی علیه السلام خپل امت ته نصیحتونه کوی او ورته فرمائی: ﴿وَمُبَشِّرًا بِرَسُوۡلٍ یَّاۡتِیۡ مِنۡۢ بَعۡدِی اسۡمُهٗۤ اَحۡمَدُ﴾(صف:۶)
یعني زه تاسو لره د یو داسے رسول زیرے درکوم چې مانه روستو به راځی او نوم به ئے احمد وی.
بلکه ټولو انبیاء کرام چې راغلی دی نو د نبی کریمﷺ د نبوت اقرار ترینه اخلی چې په هغه به ایمان راوړے او مدد به ئے کوے.
سورة ال عمران کښې فرمائی:
﴿ وَاِذۡ اَخَذَ اللّٰهُ مِیۡثَاقَ النَّبِیّٖنَ لَمَاۤ اٰتَیۡتُکُمۡ مِّنۡ کِتٰبٍ وَّحِکۡمَةٍ ثُمَّ

﴿جَآءَكُمۡ رَسُوۡلٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمۡ لَتُؤۡمِنُنَّ بِهٖ وَلَتَنۡصُرَنَّهٗ﴾(العمران:۸۱)

یعني یاد کړے هغه وخت چې الله تعالی د انبیاء کرامو نه پوخ لوظ اخستے وو چې که چرته ما تاسو لره پیغمبری او کتاب درکړو او بیا په تاسو کښې یو داسے پیغمبر راغے چې ستاسو د کتابونو تصدیق کوی نو خامخا په دې پیغمبر به ایمان راؤړے او د ده مدد به کوے.

دا رنګ ځومره کتابونه چې الله تعالی رالیږلی دی په ټولو کښې د نبی کریم ﷺ د نبوت تذکرے دی.

الله تعالی فرمائی:

﴿اَلَّذِیۡنَ یَتَّبِعُوۡنَ الرَّسُوۡلَ النَّبِیَّ الۡاُمِّیَّ الَّذِیۡ یَجِدُوۡنَهٗ مَكۡتُوۡبًا عِنۡدَهُمۡ فِی التَّوۡرٰىةِ وَ الۡاِنۡجِیۡلِ﴾(اعراف:۱۵۷)

اوس داسے پیغمبر چې د هغهٔ تذکرے هر وخت کیږی، او خوشحالئ پرے مناویږی نو دا خوشحالئ یو میاشت او بیا په میاشت کښې یو ورځ پورے خاص کول صحیح نهٔ دی.

ځکه چې په باره تاریخ باندې څهٔ کیږی نو چې دا عید دے که برسی. ځوك ورته جشن عید میلاد النبی وائی او ځوك ورته باره وفات او د مړو شپه وائی.

دویم دا چې د نبی کریم ﷺ د پیدائش په باره کښې په میاشتو کښې هم اختلاف دے.

د ربیع الاول ، ربیع الثانی، صفر، رجب، رمضان، محرم. دې ټولو میاشتو باره کښې د علماؤ اقوال موجود دی.

دا رنګ په تاریخ کښې هم اختلاف دے، ځوك دویم ربیع الاول، ځوك اتم ربیع الاول، ځوك نهم، ځوك دولسم او شیعه ګان اوؤلسم تاریخ یادوی.

محمود پاشا فلکی د مصر د ریاضۍ د دلائلو په رو سره دا ثابت کړے ده چې نهم ربیع الاول ئے صحیح تاریخ دے.

دارنګ قاضی سلمان منصور پوری فرمائی چې دا نهم ربیع الاول دے.

مولانا ادریس کاندهلوی رحمۃ اللہ علیہ اتم تاریخ لیکلے دے. او هم دا تحقیقی قول دے.

وفات د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم کښې په میاشت کښې اختلاف نیشته بلکه په ربیع الاول کښې وفات شوے وو او ورځ هم د پیر وه او باره ربیع الاول وو.

تفصیل ئے دا دے چې نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم په لسمه هجرۍ کښې د ذی الحجے د نهم تاریخ په ورځ د جمعے خطبه حجة الوداع فرمائیلے وه. دے پسے محرم کښې هم نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم حیات وو او د صفر په آخری چارشنبه باندې بیمار شو. او دغه بیماری ئے سبب د وفات جوړه شوه.

نو که دا ټولے میاشتے د یوکم دیرش کړے او که د دیرشو او که ګډے وډے ئے کړے په یو صورت کښې هم د پیر ورځ د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم د وفات ورځ په دولسم ربیع الاول نه راځی او که څوك ئے وفات په دغه ورځ خاص کوی نو آیا دا جشن په خفګان کښې وی که په خوشحالۍ کښې.

دا رنګ فرض کړه چې دولسم ربیع الاول د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم د پیدائش ورځ ده او په دغه ورځ د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم سالګره مناویږی نو سالګره مناوؤلو کښې د عیسایانو سره مشابهت راځی نو د مشابهت نه د بچ کیدو په وجه هم دا مناوؤل پکار نه دی.

او بله دا که دا ورځ مناوؤل د ثواب کار وے نو صحابو بیا ولے دا کار نه کوؤ. تابعینو، تبع تابعینو او ائمه مجتهدینو ولے نه مناوؤ.

دا رنګ دا سالګره نبي کریمﷺ په خپله ولې نه مناوؤله؟ او د بل یو پیغمبر سالګره ئې ولې نه مناوؤله؟

حضرت عمر رضي الله عنه صحابه کرامو رضي الله عنهم سره په سن جوړولو کښې مشوره کوله چې د کوم وخت نه ئې شروع کړو. نو بعضې صحابو اوفرمائیل چې د نبي کریمﷺ د پیدائش یا د وفات نه به ئې شروع کړو.

حضرت عمر رضي الله عنه دا رائې رد کړه چې بیا به دا سن د شخصیاتو پورې خاص شي او هر څوك به ئې په خپل پیدائش شروع کوي.

نو دا مناوؤل ثواب نه دے بلکه بدعت دے.

حذیفة بن الیمان رضي الله عنه فرمائی:

﴿كُلُّ عِبَادَةٍ لَمْ يَتَعَبَّدْهَا اَصْحَابُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَلَا تَعْبُدُوْهَا﴾ (اعتصام)

یعني کوم عبادت چې صحابو رضي الله عنهم نه دے کړے نو دغه کار مه کوے.

ځکه چې هغوی د ثواب یو کار هم نه دے پریښودے.

الله تعالی دې زمونږ نبي کریمﷺ سره حقیقي مینه نصیب کړي. امین

# اتباع رسول ﷺ لازمی ده

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ﴾ (آل عمران:۳۱)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: مَنْ اَحْيَا سُنَّتِيْ فَقَدْ اَحَبَّنِيْ وَمَنْ اَحَبَّنِيْ كَانَ مَعِيَ فِي الْجَنَّةِ۔ اَوْ كَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ﴾

## سنت عمل او دین:

په دنیا کښې به زمونږ ه هر عمل په دین کښې هله شامل ګڼړلے کیږی چې د نبی کریم ﷺ په سنت عمل باندې برابر وی. نو د الله تعالی هر یو کار به د نبی کریم ﷺ په ښودلے شوے طریقے سره کیږی ځکه خو الله تعالی قرآن کریم کښې فرمائی.

﴿مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ﴾ (نساء:۸۰)

یعني چاچې د رسول الله ﷺ اطاعت اوکړو نو دهٔ د الله تعالی اطاعت اوکړو.

نو خلاصه دا چې د مسلمان هر یو عمل به په طریقے د نبی کریم ﷺ وی که هغه معاملات دی ، که اخلاقیات دی ، که معاشرت دے ، که نشست او برخاست دے ، که خدمت خلق دے او که عبادات دی په ټولو کښې د نبی کریم ﷺ اتباع ضروری ده.

که یو انسان مونځ ، حج ، روزه ، زکوة د نبی ﷺ په طریقه نهٔ اداکوی دا عندالله قبول نه دی او قابل د ثواب نه دی د الله حکم د

نبیﷺ په طریقه ادا کولو ته دین وئیلے کیږی او دا مسلمانی ده چې انسان دالله حکم ته غاړه کیږدی .

دا رنګ د نبی کریمﷺ سیرت خپلول هم په هر امتی باندې لازم دی.

## سنت قسمونه:

د نبی کریمﷺ سنت طریقے په دوه قسمه دی.

یو هغه سنت دی چې هغه په عباداتو کښې شامل دی او نبی کریمﷺ هم په نیت د عبادت کړې دی لکه په مونځ کښې سنن وغیره . د ے ته سنت مؤکده او سنت هدی وئیلے کیږی.

د دې تابعداری په امت باندې حق او ثابت ده او د دې پریخودل بغیر د عذر نه یا عادت کرځول د ناقص او کمزوری تابعدارے او اطاعت علامه ده او دې ته سنن هدٰی هم وئیلی کیږی .

دویم هغه سنت اعمال دی چې نبی کریمﷺ په نیت د عبادت نه وی کړے بلکه عام عادت د نبی کریم وی نو دې ته سنن زوائد وئیلے کیږی لکه د نبی کریمﷺ ناسته پاسته، خوراك ، لباس وغیره.

دَ دې په ادا کولو سره الله انسان ته د دنیا او د آخرت خیر او برکت نعمتونه ښیکړی ورکوی په دې کښی انسان ته ډیرې لوې دینی او دنیوی فائدې حاصلیږی.

دارنګ بعضے سنن داسے دی چې د نبی کریمﷺ پورے خاص دی لکه د څلورو نه زیات ودونه کول وغیره نو هغه صرف په نبی کریمﷺ پورے خاص دی. دا قسمه سنن په امت باندې لازم نه دی.

## دَ امام بغدادی رحمۃ اللہ علیہ قول:

د دے وجے نه یو عالم فرمائی او هغه امام بغدادی رحمۃ اللہ علیہ دے:

﴿اِعْلَمْ اَنَّ مِفْتَاحَ السَّعَادَةِ اِتِّبَاعُ سُنَّةٍ وَالْاِقْتِدَاءُ بِرَسُوْلِ اللهِ فِيْ جَمِيْعِ عَادَاتِهٖ وَسَكَنَاتِهٖ حَتّٰى فِيْ هَيْئَةِ اَكْلِهٖ وَصِيَامِهٖ وَنَوْمِهٖ وَكَلَامِهٖ﴾

يعني پوهه شئ په دې خبره باندې چې د کامیابئ کنجی په دې کښې ده چې د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم اتباع به کوے په ټولو عاداتو او سکناتو کښې تر دے چې د خوراك ، روژے ، خوب او په خبرو کښې هم د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم اتباع لازمی ده.

عرباض بن ساریة رضی اللہ عنہ فرمائی:

یو ځل نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم دا سے بیان اوکړو چې مونږه ټول ئے په ژړه کړو او بیا ئے اوفرمائیل:

﴿مَنْ يَّعِشْ مِنْكُمْ بَعْدِيْ فَسَيَرٰى اِخْتِلَافًا كَثِيْرَةً فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ الْمَهْدِيِّيْنَ﴾(مسند احمد)

يعني زما نه بعد که په تاسو کښې څوك ژوندے پاتے شو نو ډیر اختلافات به اووینی نو په دغه وخت کښې زما او زما د خلفاؤ سنت طریقه لازم اونیسه.

## په عمل بالسنة اجر وثواب:

دا رنګ فرمائی:

﴿مَنْ تَمَسَّكَ بِسُنَّتِيْ عِنْدَ فَسَادِ اُمَّتِيْ فَلَهٗ اَجْرُ مِائَةِ شَهِيْدٍ﴾(امالی ابن بشران)

يعني چا چې د فساد په وخت کښې زما په یو سنت عمل اوکړو نو دې انسان ته به د سلو شهیدانو اجر ملاویږی.

خو دا په هغه وخت کښې چې د سنت په مقابله کښې بدعت

کښې خلق مبتلاء وی.

او که د یو سنت په مقابله کښې بدعت نه وی او یو انسان په هغے عمل اوکړی نو فرمائی.

دارنګ فرمائی:

﴿مَنْ اَحْيَا سُنَّتِيْ فَقَدْ اَحَبَّنِيْ وَمَنْ اَحَبَّنِيْ كَانَ مَعِيَ فِي الْجَنَّةِ﴾(ترمذی)

یعني چاچې زما یو سنت عمل راژوندی کړو نو ده ماسره مینه اوکړه او څوك چې ماسره مینه ساتی نو داسے انسان به ماسره په جنت کښې یوځائے وی. دا هغه وخت چې د دې په مقابله کښی بدعت نه وی .

## اتباع سنت دالله دَ محبت علامت دې:

دا رنګ قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی:

﴿قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ﴾(آلعمران:۳۱)

یعني که تاسو د الله تعالی سره مینه ساتل غواړے نو زما د سنت اعمالو اتباع اوکړے نو الله تعالی به تاسو سر ه مینه محبت اوکړی.

د الله او د الله د رسول سره د محبت معیار د هغه د سنت تابعداری کول دی .

ځکه صرف په خُلے باندې دعوی کول نۀ بلکه د هغه د سنت اطاعت تابعداری په هرشان کښی کولو ته اطاعت رسول او اتباع رسول وائی.

او څوك چې تشے دعوے د محبت کوی نو تفسیر مدارك والا د داسے انسان په باره کښې د دے آیت په تفسیر کښې لیکی.

﴿مَنِ ادَّعٰى مَحَبَّتَهٗ وَخَالَفَ سُنَّةَ رَسُوْلِهٖ ﷺ فَهُوَ كَذَّابٌ وَكِتَابُ اللّٰهِ يُكَذِّبُهٗ﴾

یعني چاچې د الله تعالی د مینے دعوی اوکړه خو د هغه د رسول مخالفت کوی نو داسے انسان سخت دروغژن دے او د الله تعالی کتاب هم

ورته دروغژن وائی.

## عمل بالسنة څلور انعامات:

دارنګ نبی کریم ﷺ فرمائی.

څوك چې د سنتو اعمالو حفاظت کوی نو الله تعالی به پرے څلور انعامات اوکړی.

یو دا چې د نیکانو زړونو کښې به د دهٔ مینه واچوی.

دویم دا چې د فساقو په زړونو کښې به د دهٔ نه رعب واچوی.

دریم دا چې الله تعالی به ئے په رزق کښې وسعت پیدا کړی.

څلورم دا چې الله تعالی به ئے په دین کښې ثبات پیدا کړی.

امام مالك رحمة الله عليه فرمائی:

﴿اِنَّ السُّنَّةَ مِثْلُ سَفِيْنَةِ نُوْحٍ مَنْ رَكِبَهَا نَجَا وَمَنْ تَخَلَّفَ غَرَقَ﴾

یعنې د نبی کریم ﷺ د سنت مثال د نوح د کشتۍ دے څوك چې ورته راؤختو نو نجات به اوموموی او څوك چې ترینه روستو پاتې شو نو دے به غرق کیږی یعنې نجات د پیغمبر په سنتو کښې دے.

دارنګ سفیان ثوری رحمة الله عليه فرمائی:

﴿لَا يَسْتَقِيْمُ قَوْلٌ وَعَمَلٌ وَنِيَّةٌ اِلَّا بِمُوَافِقَةِ السُّنَّةِ﴾

## صحابه رضی الله عنهم او سنت رسول ﷺ:

یعنې قول ، فعل او نیت کښې مضبوطیا به د نبی کریم ﷺ په سنتو سره راځی.

په دنیا کښې د انبیاء کرامو علیهم السلام نه بعد چې کوم قدوسی جماعت د صحابو رضی الله عنهم دے نو هغوی چرے هم د نبی کریم ﷺ د حدیث او د سنت مخالفت نه دے کړے بلکه د نبی کریم ﷺ په هر اداء

باندے به ئے عمل کوؤ.

یو ځل درے صحابه رضی الله عنهم د نبی کریم ﷺ بیبیانو ته راغلل او د نبی کریم ﷺ د معمولاتو تپوس ئے اوکړو.

په کور دننه د نبی ﷺ د سنت په باره کښې ئے تپوس کولو ځکه چې باهر سنت طریقے هغوی ته معلومے وے او عمل ئے وربانديږ کولو خو د کور دننه طریقے نه وے معلومے نو د دغه سنت عملونو معلومولو د پاره هغوی دا تپوسونه کړی وو.

نو هغوی ورته جواب ورکړو نو دوی خپل مینځ کښې اووئیل چې پیغمبر ته خو الله تعالی ټول ګناهونه معاف کړی دی او بیا هم دومره کوشش کوی نو مونږ خو د سره په هیڅ عمل کښې نه یو.

نو یو پکښې دا اووئیل چې زه به همیشه د شپے عبادت کوؤم او خوب به نه کوم.

دویم اووئیل چې زه به همیشه روژے نیسم او نه به کوژه کوم.

دریم اووئیل چې زه به چرے هم نکاح نه کوم.

نبی کریم ﷺ چې کله خبر شو نو دوی ته ئے اوفرمائیل چې دا تاسو څۀ کوئے. زه د الله تعالی نه زیات یریدونکے یم خو د شپے کله عبادت کوم او کله خوب کوم، کله نفلی روژه نیسم او کله نه نیسم او ما نکاح هم کړے ده. نو زما اتباع اوکړے او چاچې زما د سنت طریقے نه اعراض اوکړو نو هغه د سره زما امتی نه دے.

## د سنت رسول ﷺ سره د محبت تقاضه:

یو صحابی عمرو بن العاص رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ مجلس ته راغے نو یو نسواری رنګ څادر ئے اچولے وو نو نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چې دا دے څۀ اچولی دی مطلب زنانه رنګے څادر وو. نو دا صحابی لاړو

او کور کښې تنور کښې ئے اوسوزؤ.

دارنګ نبی کریم ﷺ د یو صحابی د ګوتے نه د سرو زرو ګوتمه اوویسته او لرے ئے اوغورځوله نو د مجلس په ختمیدو کښې دا صحابی هم داسے روان شو او ګوتمه ئے راؤچته نکړه. نو یو صحابی ورته اووئیل چې دا راؤچته کړه. دی صحابی ورته اوفرمائیل چې زه څۀ رنګه هغه څیز راؤچت کړم چې نبی کریم ﷺ غورځولے وی.

دا رنګ نبی کریم ﷺ د خپل متبنٰی زید بن حارثه د پاره د ترور لور زینب اوغوښتله خو د هغے  رور عبدالله پرې راضی نه وو نو الله تعالی دا اٰیت نازل کړو.

﴿ مَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ أَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ﴾(احزاب:۳۶)

یعني کله چې الله تعالی او د هغه رسول یو فیصله اوکړی نو د هغے رد کول د چا د پاره هم جائز نه دی.

کله چې دا اٰیت نازل شو نو عبدالله د خپلے فیصلے نه روستو شو.

دارنګ کله چې د قبلے د بدلیدو حکم راغے نو نبی کریم ﷺ په مانځه کښې مخ قبلے طرف ته اوګرځوؤ او صحابو بغیر د څۀ تپوس او حیلو نه فورًا د نبی کریم ﷺ په اقتداء کښې مخ اوګرځو.

دے ته اتباع وئیلے شی چې صحابو رضی اللہ عنہم مونږ امت ته ښودلی دی. الله تعالی دې مونږ هم د پیغمبرصحیح تابعدار جوړ کړی. امین

# په سنت باندې د عمل کولو حیثیت او اهمیت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَمَا اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا لِيُطَاعَ بِاِذْنِ اللّٰهِ﴾ (نساء:٦٤)

﴿قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ﴾ (آل عمران:٣١)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : كُلُّ اُمَّتِيْ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ اِلَّا مَنْ اَبٰى قِيْلَ مَنْ اَبٰى يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ مَنْ اَطَاعَنِيْ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ عَصَانِيْ فَقَدْ اَبٰى. اَوْ كَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ﴾ (مسند احمد)

په دنیا کښې د انسان د پیدائش مقصد دا دے چې انسان د الله عبادت عبودیت اختیار کړی او په دین اسلام باندې پوره عمل اوکړی .

## دین اسلام دوه خبرې دی :

علامه ابن تیمیه رحمة الله علیه فرمائی:

د هغه یو کتاب دے چې د سورة اخلاص الحمد لله په تفسیر کښې ئے دا ټول کتاب لیکلے دے نوهغه فرمائی چې.

دین اسلام په دوؤ څیزونو قائم دے.په دې باندې ولاړ دے

یو اخلاص او دویم اتباع

دا دوه خبرے د دۀ په نیز د دین بنیاد دے.

د دې نه دین جوړیږی .

مطلب دا چې یو د الله تعالی منل او بل د رسول الله ﷺ

تعلیمات منل . نو دې دواړو کښې د امت کامیابی ده نو په یو امتی چې کوم یو حالت هم راځی که غم دے ، ښادی ده، عبادات دی، معاملات دی، معاشره ده بلکه د ژوند په هره لحظه او لمحه کښې د نبی کریمﷺ اتباع ضروری ده.

که هغه د کور ژوند دے اوکه هغه د بازار ژوند دے.

که د دۀ دا کارونه د سنت موافق نۀ وی نو د دۀ هیڅ عمل به نۀ قبلیږی ځکه چې په دے کښې د نبی کریمﷺ اتباع نیشته.

ځکه د قبولیت د پاره دا دوه خبرې دی چې یو دا چې اخلاص به ورکښے وی ریاء سمعت به ورکښے نۀ وی بل دا چې اتباع د سنت رسول به پکښې وی که د سنت رسول نه هټ کر بل طریقه اختیار کړی نو دا عمل قابل اعتبار نه دے.

## قرآن کښې دَ عقیدې او عمل صالح بیان:

دا خبره قرآن کریم کښې الله تعالی په دے الفاظو کوی.

الله تعالی فرمائی:

﴿اِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهٗ﴾(فاطر:١٠)

په دې آیت کښې د کلم طیب نه مراد عقیده توحید ده چې صفا خالصه عقیده وی چې په هغے کښې د شرک شائبه نه وی.

دې آیت کښې د عمل صالح نه مراد د نبی کریمﷺ د اتباع والا عمل دے.

دا رنګ الله تعالی بل یو آیت کښې فرمائی.

په دې آیت کښې د پیغمبر د بعثت مقصد بیانوی چې دنیا ته پیغمبر الله د څۀ مقصد دپاره رالیږلے دے.

﴿وَمَا اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا لِيُطَاعَ﴾(نساء:٦٤)

یعني ما هر یو پیغمبر د دے د پاره رالیږلے دے چې د دهٔ تابعداری اوکړے شی.

ځکه د پیغمبر دا ذمه داری ده چې د الله پیغام به خلقو ته واضح انداز کښی بیانوی او د خلقو دا ذمه داری چې هغوی به دې ته غاړه ګدی دا به تسلیموی او د پیغمبر اطاعت ، اتباع تابعداری به کوی.

د پیغمبر هیڅ یو خبره غیر شرعی نه وی نو ځکه الله تعالی فرمائی:

﴿مَنْ یُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ﴾(نساء:۸۰)

یعني چا چې د رسول اتباع اوکړه نو دهٔ د الله تعالی اتباع اوکړه.

ځکه پیغمبر که یو قدم اوچتوی اوبل قدم ګدی نو د الله په مرضے د الله په حکم باندې د هغهٔ هره ادا او هر عمل د الله رب العزة په ارشاداتو باندې روان وی .

## د الله محبت د رسول اطاعت:

هم د دے وجے نه الله تعالی په قرآن کریم کښې د خپل محبت علامه د نبی کریمﷺ تابعداری ګرځولے ده.

قرآن پاک په سورة آل عمران کښی یو قانون بیان کړے دے چې کوم یو انسان د الله سره مینه او محبت کوی نو د هغے علامه دا ده چې اتباع د پیغمبر به کوی .

الله تعالی فرمائی: ﴿قُلْ اِنْ کُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِیْ﴾(آلعمران:۳۱)

یعني دې امت ته دې اووایه چې که چرے تاسو د الله تعالی سره مینه کوئے نو زما اتباع اوکړئ .

د د ے به دوه فائدے حاصلیږی.

یو دا چې : ﴿یُحْبِبْکُمُ اللّٰهُ﴾(آلعمران:۳۱)

یعني الله تعالی به تاسره مینه اوساتی.

مطلب د پیغمبر اتباع سبب دے د الله د محبت حاصلولو دپاره .

او دویم داچې :﴿ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ﴾(احزاب:۷۱)

یعني ګناهونه به تاسو ته معاف کړم نو دوه انعامات د پیغمبر د اطاعت دی .

## د علامه تستری رحمة الله عليه قول:

علامه سهل تستری رحمة الله عليه یو لوے بزرګ دے . دومره لوے بزرګ چې امام شافعی رحمة الله عليه به د دهٔ خوا ته دعا د پاره راتلو.

د خپل دور لوې امام چې دهٔ ته امام الدنیا وئیلے کیږی هغه راځی او دهٔ ته دعاء دپاره درخواست کوی.

﴿ علامة حب الله حب القرآن وعلامة حب القرآن حب النبی صلی الله علیه وسلم وعلامة حب النبی صلی الله علیه وسلم حب سنته﴾

یعني د الله تعالی د مینے علامه د قرآن کریم سره مینه ده.

چې کوم انسان د الله سره مینه کوی نو د قرآن سره به ئے تعلق وی چې د کوم یو انسان د قرآن کلام الهی سره تعلق نه وی نو دا انسان په دې خپلے دعوی کښې دروغژن دے د ده د الله سره محبت نشته .

زمونږه د قرآن سره دا مینه ده چې شکرانه ئے کړو بیا ئے په خائسته غلاف کښې د شیشو په المارے کښی بند کړو یا زیات نه زیات ختم شریف اوکړو یا د قسمونو د پاره په جنګ جګړو کښی قرآن په لاس کښې راخلو بس دا محبت دے زمونږه د قرآن سره .

او د قرآن کریم سره د مینے علامت د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره مینه ده او د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره د مینے علامه دا ده چې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سنت سره ئے مینه وی.

داسے نه وې چې په خُله باندې عاشق رسول وی د محبت دعوی دار

وی اوپه ژوند کښې ئے د پیغمبر د سنت خلاف کیږی بدعاتو رسوماتو باندې ژوند تیروی.

یو شاعر هم فرمائی:

تَعۡصِی الۡاِلٰهَ وَاَنۡتَ تُظۡهِرُ حُبَّهٗ هٰذَا لَعَمۡرِیۡ فِی الۡقِیَاسِ بَدِیۡعُ
اِنۡ کَانَ حُبُّكَ صَادِقًا لَاَطَعۡتَهٗ اِنَّ الۡمُحِبَّ لِمَنۡ یُحِبُّ مُطِیۡعُ

یعني د الله تعالی نافرمانی کوے او د الله تعالی مینه ظاهروے نو دا خو یو ډیر نااشنا کار دے ځکه چې که ته مینه کښې رشتنے وے نو تا به د الله تعالی خبره منله ځکه چې مینه کونکے دخپل محبوب هره خبره منی. دا قانون دے.

دا رنګ د دغے اٰیت په تفسیر کښې مدارك والا فرمائی:

﴿مَنِ ادَّعٰی مَحَبَّتَهٗ وَخَالَفَ سُنَّةَ رَسُوۡلِهٖ فَهُوَ کَذَّابٌ وَکِتَابُ اللهِ یُکَذِّبُهٗ﴾

## درې شرائط د کامل ایمان:

دا رنګ الله تعالی قرآن کریم کښې د صحیح ایمان د پاره درے شرائط ښودلی دی.

الله تعالی فرمائی:

﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا یُؤۡمِنُوۡنَ حَتّٰی یُحَکِّمُوۡكَ فِیۡمَا شَجَرَ بَیۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا یَجِدُوۡا فِیۡۤ اَنۡفُسِهِمۡ حَرَجًا مِّمَّا قَضَیۡتَ وَیُسَلِّمُوۡا تَسۡلِیۡمًا﴾(نساء:۶۵)

یعني قسم مې دې وی په رب ستا دا خلق تر هغے پورے کامل مؤمنان نشی کیدے ترڅو پورے چې ئے دا درے خبرے منلے نه وی.

مطلب عدالت به د پیغمبر د قانون پابند وی غم ښادی عمل او کردار به د پیغمبر په تعلیماتو باندې پوره وی.

یو دا چې نبی کریم ﷺ او د هغه عمل به په هر څیز کښې حکم او فیصله کونکے منے.

دویم دا چې په دغه فیصله به بیا چرے هم ندامت نه اختیاروے.

او دا ځکه چې کله انسان په یو سنت عمل کوی او هغه ژوندې کوی نو قوم خپل خپلوان رشته دار ټول ئے ملامته کوی چې ته مونږ ته داسے پیغمبر راغلے ئے نو د خلقو په خبرو ملامتیا به خفه کیږی نه بلکه خوشحاله به وی ځکه د پیغمبر په سنت ئے عمل کړے دے په دې به نه خفه کیږی چې څوک ورته وائی یره دا کومه زمانه ده او هغه کومه زمانه وه ته د هغه زړې زمانې خبرې کوې پریدوه داخبرې دا غم ښادی کلی اولس د دې زمانے په طور طریقه پکار دې نو په دې به انسان نه خفه کیږی.

دریم دا چې دغے فیصلے ته به بار بار غاړه ایږدی.

دې ته به پوره پوره د سرنه تر خپو پورې تابعدار وی پوره تسلیم شوی به وی د خپل عقل اَسْپې به په عمل بالسنه او په عمل بالقرآن میدان کښې نه چلوی.

داسے نهٔ چې نن ئے منے او صباله ئے نه منے یا په بعضو خبرو کښې ئے منے او بعضو کښې ئے نه منے.

دا رنګ یو حدیث کښې نبی کریم ﷺ فرمائی:

﴿كُلُّ أُمَّتِيْ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ أَبٰى﴾

یعنې زما هر امتی به جنت ته ځی مګر هغه سړے به جنت ته نه ځی څوك چې انکار اوکړی.څوک چې په شا شی.

صحابو رضی الله عنهم تپوس اوکړو چې جنت ته دَ تللو نه څوك انکار کوی؟

نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل:

﴿مَنْ أَطَاعَنِيْ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ عَصَانِيْ فَقَدْ أَبٰى﴾(بخاری)

یعنې چاچې زما د سنتو اتباع اوکړه نو جنت ته به داخلیږی او څوك چې زما د سنتو اتباع نه کوی نو دې د جنت تلو نه انکار کوی.

مطلب دا انسان به جنت ته نه داخلیږی.

او که د پیغمبر د سنت نه انکار اوکړی نو بیا ابدی همیشه جهنمی دے اوکه عمل وربانديږ نه کوی نوبیا وختی جهنمی دے .

## صحابه کرام رضی اللہ عنہم اوعمل بالسنة:

صحابه کرامو رضی اللہ عنہم په دے باندې من وعن عمل کړے وو.

یو ځل نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم په خطبه کښې یو کس ته اوفرمائیل چې کینه نو عبد الله بن مسعود رضی اللہ عنہ د پیزار ځایې کښې کیناستو. نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم ورته اووئیل چې ماخو تاته نه اوئیل نو ته ولے کیناستے نو هغه جواب ورکړو چې ستا د حکم په وړاندے بیا زما د تللو جرأت نه وو.

د عبدالله رضی اللہ عنہ دا تصور نه کیږی چې پیغمبر ورته وائی کینه اوبیا هم هغه ولاړ وی .

دارنګ حضرت عثمان رضی اللہ عنہ چې کله نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم مکے ته د مذاکراتو د پاره راؤلیږو نو چې کله د مکے د سردارانو سره ملاویدو نو پینسے ئے اوچتے وے او د مکے سردارانو به پینسے ځان پسے راښکلے نو یو کس دۀ ته اووئیل چې پینسے راښکته کړه نو حضرت عثمان رضی اللہ عنہ ورته اوفرمائیل چې دا زما د پیغمبر عمل دے او زه دا نشم پریخودے .

ځکه د نارینه ګیتے به ښکاره وی او د زنانه ګیتے به پټې وی .

دا رنګ یو ځل ربعی بن عامر رضی اللہ عنہ او حذیفه رضی اللہ عنہ ایران ته په طور د سفیرانو تلی وو. کله چې روټۍ ئے خوړه نو یو لقمه د دۀ د لاس نه اولویده نو حذیفه رضی اللہ عنہ هغه راؤچته کړه او صفا ئے کړه او په خلۀ کښې ئے واچوله. په دې موقع ربعی بن عامر رضی اللہ عنہ دۀ له موکه شان ورکړه نو دۀ ربعی بن عامر رضی اللہ عنہ ته اوفرمائیل: ﴿أَأَتْرُكُ سُنَّةَ رَسُوْلِ اللهِ صلی اللہ علیہ وسلم لِهٰذِهِ الْحُمَقَآءِ﴾

یعني اٰیا زه د دے بے وقوفانو د وجے نه د خپل پیغمبر سنت عمل پریږدم.

الله تعالی دې مونږه د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم په اتباع کښې د صحابو رضی اللہ عنہم په نقش قدم روان کړی. امین

# د ختم نبوت عقیده

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتِمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿مَاكَانَ مُحَمَّدٌ اَبَا اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ﴾

(احزاب:۴۰)

﴿وَقَالَ تَعَالٰى فِىْ مُقَامٍ اٰخَرَ: قُلْ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّىْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا﴾

(اعراف:۱۵۸)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: سَيَكُوْنُ فِىْ اُمَّتِىْ ثَلٰثُوْنَ كَذَّابًا كُلُّهُمْ يَزْعُمُ اَنَّهٗ نَبِىٌّ وَاَنَا خَاتَمُ النَّبِيّٖنَ لَا نَبِىَّ بَعْدِىْ﴾ (مسند احمد)

## نبی ﷺ اخری نبی:

د اسلام په بنیادی عقائدو کښې په انبیاء کرامو باندې ایمان راؤړل لازمی دی او بیا په نبی کریم ﷺ باندې ایمان راؤړل خو ډیر زیات اهم دی.که یو انسان رسالت نه منی مسلمان نشی کیدے که هغه د نبی رسالت نه منی او که د نورو پیغمبرانو بیا د نبی ﷺ د رسالت سره اهمه خبره اخری رسالت او نبوت د پیغمبر پاك محمد ﷺ سره تمام شوے دے.

بیا په نبی کریم ﷺ باندې ایمان لرلو سره سره دا عقیدے لرل هم لازمی دی چې نبی کریم ﷺ د الله تعالی اٰخری پیغمبر دے او سلسله د پیغمبرے په نبی کریم ﷺ باندې ختمه شوے ده. یعنې د نبی کریم ﷺ نه بعد هیڅ یو پیغمبر راتلونکے نیشته دے. او که څوك نبی کریم ﷺ اٰخری پیغمبر نه ګنړی نو دغه انسان کافر دے. یعنې سلسله

رسالت چې هغه په آدم علیه السلام باندې شروع شوې وه هغه په اخری پیغمبر محمد ﷺ سره تمام شوه او محمد ﷺ اخری دنیا او انسانیت ته پیغام رسوؤنکے دے.

عیسی علیه السلام به په اٰخر وخت کښې راځی خو هغه په طور د امتی ژوند تیروی او د نبی کریمﷺ د شریعت متبع به وی. یعنی بل نوے از سر نو پیغمبر دنیا ته نشی راتلے.

## د پیغمبر انتخاب:

هر پیغمبر د الله تعالی د خپل وخت په خلقو باندې فوقیت لری ځکه چې د دۀ انتخاب الله تعالی د رسالت د پاره کړے دے. نو هغه لاجواب انتخاب دے په هغے کښې تغییر او تبدیلی نشی کیدے او نه دا انتخاب پخپله څوک د خپل ځان د پاره کوے شی. او بیا چې د چا انتخاب الله د ځان د پاره کړے وی هغه د خپل پیغام کلام دعوت دنیا ته په هغه سره رالیږی نو دا یوه لویه مرتبه ده.

سورة ال عمران کښې الله تعالی فرمائی:

﴿إِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰى اٰدَمَ وَنُوْحًا وَّاٰلَ إِبْرَاهِيْمَ وَاٰلَ عِمْرَانَ عَلَى الْعَالَمِيْنَ﴾ (آلعمران:۳۳)

یعني د دے ټولو پیغمبرانو انتخاب الله تعالی کړے دے.

بیا الله تعالی هر پیغمبر ته خپل خپل خصوصیت ورکړے دے.

ابراهیم علیه السلام ته ئے دا خصوصیت ورکړے دے چې اُور ئے ورته ګل ګلزار کړے دے.

موسی علیه السلام ئے په همسا سره، نو داؤدعلیه السلام ئے په اوسپنے سره، نو سلیمان علیه السلام ئے په هوا سره او عیسی علیه السلام ئے په مړو ژوندی کولو سره خاص کړے دے.

## د نبی ﷺ کمالات:

بیا الله تعالی دغه ټول کمالات په نبی کریمﷺ کښې راجمع کړی دی.نو په کمالاتو او خوبیانو کښې په ټولو پیغمبرانو باندې اعلیٰ او فائق دے.

بل دا چې د نورو پیغمبرانو رسالت د یو قوم او زمانے پورې خاص وو او د نبی کریمﷺ رسالت کل انسانیت او هر دور د پاره دے. کله چې الله د نورو پیغمبرانو تذکره کوی نو هغه یو خاص قوم د پاره لکه نوح علیه السلام په باره کښې الله فرمائی:

﴿لَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا نُوۡحًا اِلٰی قَوۡمِهٖ﴾(اعراف:۵۹)

مونږ نوح علیه السلام خپل قوم ته رالیږلے وو. نو د هغه نبوت خپل قوم پورې خاص وه

دغه شان هود علیه السلام ﴿وَاِلٰی عَادٍ هُوۡدًا﴾(اعراف:۶۵)

هود علیه السلام خپل قوم ته الله رالیږلے وو.

دغه شان شعیب علیه السلام خپل قوم ته او علاقے ته ﴿وَاِلٰی مَدۡیَنَ اَخَاهُمۡ شُعَیۡبًا﴾(اعراف:۸۵) مدین ته مونږ شعیب علیه السلام رالیږلے وو.

د موسی علیه السلام په باره کښې فرمائی: ﴿ ثُمَّ بَعَثۡنَا مُوۡسٰی اِلٰی قَوۡمِهٖ وَمَلَاۡىِٕهٖ﴾ فرعون او د هغه ډلے ته او د عیسی علیه السلام په باره کښې فرمائی ﴿ وَاِذۡ قَالَ عِیۡسَی بۡنُ مَرۡیَمَ یَا بَنِیۡۤ اِسۡرَآءِیۡلَ اِنِّیۡ رَسُوۡلُ اللّٰهِ اِلَیۡکُمۡ﴾(صف:۶) زهٔ د الله رسول یم تاسو ته خو د **محمد** ﷺ تذکره یو قوم یوه علاقه پورې خاص نه ده بلکه موجود حاضرین او غائبین مستقبلین ټولو ته دے هر څوك په هره زمانه کښې.

﴿قُلۡ یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ اِنِّیۡ رَسُوۡلُ اللّٰهِ اِلَیۡکُمۡ جَمِیۡعًا﴾(اعراف:۱۵۸)

يعني اووايه چې اے خلقو زه تاسو ټولو ته رسول راليږلے شوے يم.
او كله فرمائی:

﴿وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ﴾(سبا:۲۸)

يعني مونږ ته ټولو خلقو د پاره رسول راليږلے ئے. د هغه كتاب ﴿هُدًى لِّلنَّاسِ﴾(بقرة:۱۸۵) بيت الله خانه كعبه ﴿اَوَّلُ بَيْتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ﴾(آلعمران:۹۶) او د هغه اُمت هم عالمی اُمت ﴿اُمَّةٌ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ﴾(آلعمران:۱۱۰) نو د دې پيغمبر ټول نظام عالمی دے. نو پيغمبر چې د داسے صفاتو خاوند وی نو هغه اخری پيغمبر وی.

اوس د مسلمان به دا عقيده وی چې كومه سلسله د انبياؤ چې الله تعالی د انسانيت د هدايت د پاره شروع كړے وه نو هغه په نبی كريم ﷺ باندې ختمه شوے ده.

الله تعالی د دے په باره كښې فرمائی. د هغه شان او مقام بيانوی او حيثيت او مقام واضحه كوی.

﴿مَاكَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ﴾
(احزاب:۴۰)

يعنې نبی كريم ﷺ د الله تعالی اٰخری پيغمبر دے.

دجّالون خوك دی:

د دے تشريح نبی كريم ﷺ په خپلو الفاظو كښې دا رنګ كړے ده.

﴿لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى يُبْعَثُ دَجَّالُوْنَ كَذَّابُوْنَ كُلُّهُمْ يَزْعَمُ اَنَّهٗ نَبِيٌّ وَاَنَا خَاتَمُ النَّبِيّٖنَ وَلَا نَبِيَّ بَعْدِیْ﴾(ترمذی)

يعني قيامت به ترهغے پورے نه قائميږی چې ترڅو پورے دروغژن دجالان نه وی راغلے او د هريو ګمان به دا وی چې زه نبی يم خو دا خبرے غلطے دی بلكه زه اٰخری پيغمبر يم او زما نه بعد بل پيغمبر

راتلونکے نیشته دے.
بل یو حدیث کښې فرمائی:
﴿سَيَكُوْنُ فِيْ اُمَّتِيْ ثَلٰثُوْنَ كَذَّابًا كُلُّهُمْ يَزْعَمُ اَنَّهٗ نَبِيٌّ اَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ وَلَا نَبِيَّ بَعْدِيْ﴾ (مسند احمد)

یعنې زر دے چې زما په امت کښې به دیرش دروغژن پیدا شی چې هریو به د نبوت دعوی کوی خو زهٔ اخری پیغمبر یم او زما نه بعد بل پیغبر راتلونکے نیشته دے.

## د نبوت دروغژن دعویدار:

د نبی کریم ﷺ د پیشنګوئے مطابق داسے دعوې شوے وے لکه مسیلمه کذاب چې په یمامه کښې ئے د رسالت دعوی کړے وه. او نبی کریم ﷺ پسے ئے خط هم رالیږلے وو چې الله تعالی زه تاسره په رسالت کښې شریك رالیږلے یم.

نبی کریم ﷺ څهٔ صحابه رضی الله عنهم ورولیږل نو مسیلمه هغه صحابه رضی الله عنهم شهیدان کړل چې هغوی د دهٔ د رسالت اقرار نه کوؤ.یو انصاری صحابی چې د هغه نوم حبیب بن زید رضی الله عنه دے هغه ته ئے اوئیل چې ته دا ګواهی کوی چې محمد ﷺ د الله رسول دے هغه جواب ورکړو چې هاں زه ګواهی کوم چې د نبی ﷺ د الله رسول دے بیا کله چې هغه دا سوال اوکړو چې زه د الله رسول یم او که نه یم نو صحابی جواب ورکړو چې زه څهٔ نه اورم زه ګُنګ یمه بیا ئے د هغه صحابی نه یو یو اندام کټ کړو او شهید ئے کړو. ابوبکرصدیق رضی الله عنه د صحابو نه د دهٔ په باره مشوره واغسته د صحابه کرامو رضی الله عنهم رائے دا وه چې فی الحال اوس جنګ نه کوؤ کله چې حالات ساز ګار شی او دا نورې فتنے ختمې شی نو بیا په یو ځائے دغه غټه فتنه ختمه کړو د حضرت عمر رضی الله عنه هم دا رائے وه ابو بکر صدیق رضی الله عنه په خپل خچر باندې سور شو او توره ئے راواغسته حضرت

عمر رضی اللہ عنہ ته ئے اووئیل چې کله مسلمان نه وی نو د غیرت خبرې به دې کولے اوس چې کله مسلمان شوی د بے غیرتے خبرے کوے او په خپله روان شو ورته ئے اوئیل تاسو مهٔ ځے زهٔ ځان له زم بیا ورسره صحابه رضی اللہ عنہم هم تیار شو.

بیا د ابوبکر رضی اللہ عنہ په دور کښې جنګ یمامه کښې دې مردار کړے شو او دَ وحشی په لاس قتل کړے شو. دا هغه صحابی دے کوم صحابی چې حضرت حمزه رضی اللہ عنہ شهید کړے وو او بیا به ئے دا خبره کو له چې دا ما ځکه مردار کړو چې د قیامت په ورځ که الله تپوس اوکړی نو زهٔ په جواب ورکوم چې په ناپوهے کښې ما حضرت حمزه رضی اللہ عنہ یو نیك بنده شهید کړے وو خو اوس د اسلام په حالت کښې ما دا لوے کافر هم مردار کړے دے.

د دے مسئلے د پاره په دې جنګ کښې دولس سوه صحابو قربانی ورکړه او شهیدان شول او په دوی کښې اووهٔ سوه صحابه د قرآن حافظان وو.

دا رنګ په یمن کښې اسود عنسی د نبوت دعوی کړے وه. ابومسلم خولانی رحمۃ اللہ علیہ یو تابعی وو. اسود عنسی د دهٔ نه د دے اقرار اغستل اوغوښتل خو هغه انکار اوکړو. نو دے ئے اور کښې واچوؤ. الله تعالی ورته اُور ګل ګلزار کړو.

دوی د خپلے علاقے نه اوویستلو نو دې مدینے ته راغے او مسجد نبوی کښې مونځ د پاره اودریدو.

حضرت عمر رضی اللہ عنہ چې اولیده نو تپوس ئے ترے اوکړه چې څوك ئے او د کوم ځائ نه راغلے ئے. چې کله ورته پته اولګیده نو په تندی ئے ښکل کړو او وے فرمائیل چې شکر دے چې الله تعالی په دې امت کښې د ابراهیم علیه السلام یاد تازه کړو.

د ډیرې لوې بدقسمتے نه د انګر یز وظیفه خور د هغوی لوې مددګار د جهاد نه منکر لعنتی چې د هغه پیروکاران په ډیرې لوې دهوکے

باندې مسلمان نه ایمان اخلي او د ایمان نه ئے خالي کوي دا رنګ په ۱۹۰۱ء کښې هم یو د انګریز تالي ستې مرزا غلام احمد قادیاني د نبوت دعوی کړے وه.

دهٔ اول د مجدد دعوی اوکړه، بیا ئے د مهدی دعوی اوکړه، بیا ئے د عیسی دعوی اوکړه بیا ئے وے چې زه د نبي کریم ﷺ ظل او سایه یم.

په دې دور کښې هم ناپوهه خلق د دهٔ تابع دی.

په ائین پاکستان کښې هم د ختم نبوت انکار کونکے کافر شمارلے شوے دے.

## دنبوت مثال د عمارت:

نبي کریم ﷺ فرمائي:

﴿اِنَّ مَثَلِيْ وَمَثَلُ الْاَنْبِيَاءِ مِنْ قَبْلِيْ كَمَثَلِ رَجُلٍ بَنٰى بَيْتًا فَاَحْسَنَهٗ وَاَجْمَلَهٗ اِلَّا مَوْضِعَ لَبِنَةٍ مِنْ زَاوِيَةٍ فَجَعَلَ النَّاسَ يَطُوْفُوْنَ بِهٖ وَيَعْجَبُوْنَ لَهٗ﴾

(مسند احمد)

یعني زما او د نورو پیغمبرانو مثال په شان د یو سړی د هغه اٰبادے دے چې ښه ښکلې ئے جوړه کړی خو په یو کوټ کښې ترینه یو ښخته لګول پاتے شي نو خلق ترینه ګیر چاپیره ګرځی او ډیر زیات ئے خوښ شي.

او خلق وائی چې: ﴿هَلَّا وَضَعْتَ هٰذِهِ اللَّبِنَةَ﴾

یعني دا ښخته ولے نه ده لګولے شوے؟

نو نبي کریم ﷺ فرمائي

﴿فَاَنَا اللَّبِنَةَ وَاَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ﴾(مسند احمد)

یعني زهٔ هغه اٰخری ښخته یم، زه خاتم النبیین یم او زما نه بعد بل نبي نیشته. نو څنګه چې عقیده توحید او د رسالت عقیده اهمے عقیدې دی دغه شان عقیده د ختم نبوت هم د قران او د بے شماره احادیث د صحابه کرامو رضی اللہ عنہ په اجماع او د نبي ﷺ نه واخله تر د نن زمانے پورې هیڅ یو فرد چې عقلمند وی هغه خامخا د ختم نبوت عقیده لری او

مسلمان خو مسلمان بغير د دے عقيدې نه نشي پاتې کيدلے بيا خو د کلمے د شهادتين د وئيلو هيڅ ضرورت نشي پاتے کيدے بلکه قران، اسلام ،حديث ،صحابه غرض اسلام نه منل او ختم نبوت نه منل يو برابر دی.

الله تعالی دې مونږ په صحيح معنو کښې د نبی کريمﷺ امتيان جوړ کړی. امين

# مسئله د ختم نبوت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿مَاكَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ﴾

(احزاب:۴۰)

په دې ایت کښې الله رب العزت دا بیان اوکړو چې نبی علیه السلام په تاسو کښې د یو غټ سړی پلار نه دے چې د دهٔ دومره غټ بچے وی چې هغه د سړی توب عمر ته رسیدلے وی او دا ځکه چې د نبی ﷺ یو آزاد کرده غلام وو زید بن حارثه رضی الله عنه هغه نبی ﷺ خپل متبنی جوړ کړے وو بیا چې الله منع اوکړه او دې ایت کښې بیان اوشو چې متبنی د چا حقیقی بچے نشی کیدے نو د هغه بی بی ښځه اینګور نشی کیدے په دې ایت کښې دویمه مسئله چې هغه ډیره اهمه مسئله ده چې نبی ﷺ اخری پیغمبر او نبی دے او د هغه نه بعد بل نوے نبی دنیا ته د هدایت خلق د پاره نشی راتلے.

الله تعالی د خپل پیغام رسؤلو دپاره په امت کښې برګذیده بندګان منتخب کړی دی چې ابتداء ئے د اٰدم علیه السلام نه شوے وه او اختتام ئے په نبی کریم ﷺ باندې اوشو.

## د پیغمبرانو مثال:

نبی کریم ﷺ فرمائی:

﴿ اِنَّ مَثَلِیْ وَمَثَلُ الْاَنْبِيَآءِ مِنْ قَبْلِیْ كَمَثَلِ رَجُلٍ بَنٰى بَيْتًا فَاَحْسَنَهٗ

وَاَجْمَلَهُ اِلَّا مَوْضَعُ لَبِنَةٍ مِنْ زَاوِيَةٍ فَجَعَلَ النَّاسَ يَطُوْفُوْنَ بِهِ وَيَعْجَبُوْنَ لَهُ وَيَقُوْلُوْنَ هَلَّا وَضَعَتْ هٰذِهِ اللَّبِنَةَ فَاَنَا اللَّبِنَةَ وَاَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ﴾(مسند احمد)

یعني زما او زما نه د مخکښې پیغمبرانو مثال پشان د یو ښکلے بنګلے او ابادئ دے چې یو ګټ کښې ئے یو ښخته کمه وی نو خلق پکښې ګرځی او حیرانیږی او وائی چې دا ښخته ولے نه ده لګولے شوے نو نبی کریمﷺ فرمائی چې زه هغه ښخته یم او زه خاتم النبیین یم.

دا رنګ بل یو روایت کښې راځی

﴿اَنَا سَدَدْتُّ مَوْضِعَ اللَّبِنِ خَتَمَ بِيَ الْبُنْيَانَ وَخَتَمَ بِيَ الرُّسُلُ﴾

(الشریعۃ للاجری)

یعني ما هغه د یوے ښختے ځائے بند کړو او هغه بنګله په ما باندې پوره شوه او رسالت هم په ما باندې ختم شو.

دا د رسالت مسئله د مسلمانانو په عقائدو کښې شامل ده.

## د پیغمبر انتخاب:

هر پیغمبر په خپل دور کښې افضل ترین انسان وو او انتخاب ئے لاجواب وو. الله ته مقرب او الله ته ډیر نزدې انسان هر پیغمبر مصطفی مجتبیٰ مرتضیٰ وی مطلب غوره خاص کړے شوے د هغوی نه الله راضی شوے وی.

الله تعالی فرمائی:

﴿اِنَّ اللهَ اصْطَفٰى اٰدَمَ وَنُوْحًا وَّاٰلَ اِبْرَاهِيْمَ وَاٰلَ عِمْرَانَ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ﴾

(آلعمران:۳۳)

یعني الله تعالی اٰدم علیه السلام، نوح علیه السلام ، اٰل د ابراهیم علیهم السلام او اٰل د عمران علیهم السلام په ټولو عالمونو کښې غوره کړے دے.

د نبی کریمﷺ د نبوت یو څو خصوصیات داسے وو چې نور

پيغمبران ترينه خالي وو.الله د دې بندګانو د خير او برکت او روښانه سلسله په نبي ﷺ مکمل کړه. د نبي عليه السلام يو څو خصوصيات دادي.

لکه دعوت للناس، دارنګ رسالت للناس، دارنګ قبله وضعت للناس ، دا رنګ کتاب هدی للناس ، امت هم اخرجت للناس ،

او کله دا خبره کوي:

﴿وَمَآ اَرۡسَلۡنٰكَ اِلَّا رَحۡمَةً لِّلۡعٰلَمِيۡنَ﴾(انبياء:۱۰۷)

د ټول عالم دپاره رحمت

دغه شان

﴿وَمَآ اَرۡسَلۡنٰكَ اِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ﴾(سبا:۲۸)

د ټول خلقو دپاره پوره او کافي ئے ته.

دا رنګ نور ډير خصوصيات لکه د انس او جن دواړو دپاره پيغمبر دے.

## مکمل دين اسلامي:

دا رنګ کوم دين چې نبي کريمﷺ ته ورکړے شوے دے نو هغه هم مکمل دين دے.دحجّة الوداع په موقع باندې دعرفے په ورځ او دجمعے ورځ هم وه دا ايتونه الله نازل کړه.

الله تعالی فرمائي:

﴿ اَلۡيَوۡمَ اَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِيۡنَكُمۡ وَاَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِىۡ وَرَضِيۡتُ لَكُمُ الۡاِسۡلَامَ دِيۡنًا﴾(مائده:۳)

يعني نن ورځ ما ستاسو د پاره ستاسو دين مکمل کړو او خپل نعمت مې درباندې پوره کړو او ستاسو د پاره مې دين اسلام غوره کړے دے.

دا اٰيت نبي کريمﷺ د خطبه حجة الوداع په موقع لوستلے وو

او د ټولو صحابوﷺ نه ئې په تکميل د دے دين شهادت اغستے وو. او دا خبره ئې کوله الا هل بلغت اے صحابوؤ ايا ما د الله دين تاسو دورورسوؤ اوکه نه.

په دغه موقع نبي کريمﷺ يوه خبره دا کړے وه چې

﴿ اَيُّهَا النَّاسُ اَنَّهٗ لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ ﴾(طبراني)

يعني اے خلقو! دا خبره ياد ساتئ چې زما نه بعد بل پيغمبر نيشته. دا خبره د نبيﷺ د صحابه کراموﷺ په قدوسي جماعت کښې دا خبره کړے وه يو لاکه د پاسه صحابه کراموﷺ په قدوسي جماعت کښې دا خبره کړے وه يو لاکه د پاسه صحابوو ته نبي ﷺ دا اعلان کړے وو او دا خبره ئې هم کړې وه چې ولا امة بعدکم ستاسو نه بعد بل امت نشي کيدے او نور ډير وصيتونه په دغه موقع نبي ﷺ کړى وو.

نو د نبي کريمﷺ د ختم نبوت دا فائده راؤځى چې د نبي کريمﷺ نه بعد به بل پيغمبر او بل کتاب نه راځى.

# د ختم نبوت يو څو دلائل:

الله تعالى هم فرمائى:

﴿ مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَا اَحَدٍ مِنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ ﴾(احزاب:۴۰)

دا رنګ يو حديث کښې راځى:

﴿ لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى يُبْعَثُ دَجَّالُوْنَ كَذَّابُوْنَ كُلُّهُمْ يَزْعَمُ اَنَّهٗ نَبِيٌّ اَنَا خَاتَمُ النَّبِيّٖنَ وَلَا نَبِيَّ بَعْدِيْ ﴾(ترمذى)

دا رنګ فرمائى:

﴿ كَانَتْ بَنُوْاِسْرَائِيْلَ تَسُوْسُهُمُ الْاَنْبِيَاءَ كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهٗ نَبِيٌّ وَلَا نَبِيَّ بَعْدِيْ وَسَيَكُوْنُ خُلَفَاءُ ﴾(مسند اسحاق)

یعني د بنی اسرائیلو سیاست به د یو نه بعد بل کوۀ خو زما نه بعد نبي نیشته نو زما نه بعد به خلیفه ګان حکومت کوی. نو دا فرق دے په مخکښې اُمتونو او په دې اُمت کښې چې مخکښې اُمتونو والا پیغمبر به وفات شو الله به بل پیغمبر دنیا ته مبعوث کړو خو زما نه بعد بل نبي رسول نشته.

## د نبی ﷺ فضیلت په نورو انبیاؤ باندې:

دا رنګ فرمائی:

﴿فُضِّلْتُ عَلَى الْأَنْبِيَاءِ بِسِتٍّ﴾

یعني ما ته په نورو انبیاؤ باندې د شپږو خصوصیاتو د وجے نه فضیلت را کړے شوے دے.

په هغه فضائلو کښې ړومبے فضیلت دا دے.

﴿أُوْتِيْتُ جَوَامِعَ الْكَلِمُ﴾

یعني ماته جامع جامع کلمات را کړے شوے دی.

د جامع کلماتو مطلب دا دے چې کلمات لږ وی او مطلب پکښې ښه ډیر پروت وی. لکه پختانۀ وائی سمندر په کوزه کښې بند وی.

دارنګ دویم فضیلت دا دے چې

﴿وَنُصِرْتُ بِالرُّعْبِ﴾

یعني زما مدد په رعب سره کړے شوے دے.

نو مطلب دا چې الله تعالی د کافرانو په زړۀ کښې زما او زما د امت نه رعب اچولے دے چې هغوی د هغے د وجے نه جرات نشی کولے.

دریم فضیلت دادے چې

﴿وَأُحِلَّتْ لِيَ الْغَنَائِمَ﴾

یعني ما دپاره مال غنیمت حلال کړے شوے دے.

د نبی کریمﷺ د نبوت نه مخکښې مال غنیمت استعمال جائز نه وو بلکه هغه به ئے په یو غر کیخودو او اُور به اوخوړو.

ځلورم فضیلت دا دے چې

﴿وَجُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُورًا﴾

یعنې ما د پاره ټوله زمکه د سجدے ځائے او پاکه ګرځولے شوے ده.

د نبی کریمﷺ نه مخکښې چې څومره پیغمبران او امتیان تیر شوی دی نو هغوی به صرف په خپلو عبادت خانو کښې مونځ کولو بل ځاې به ئے مونځ نه کیدو.

دا رنګ تیمم د هغوی په امتونو کښې نه وو نو دا د دے امت خاصیت دے چې د دوی د پاره هر ځائے جمات او تیمم جائز ګرځولے شوے دے.

پنځم فضیلت دا دے چې

﴿وَأُرْسِلْتُ إِلَى الْخَلْقِ كَافَّةً﴾(سنن ترمذی)

یعني زۀ د ټول عالم د پاره رسول جوړ کړے شوے یم.نو مسلمان به اوس هغه چاته وئیلے کیږی چې څوك د نبی ﷺ دختم نبوت عقیده او ایمان لری.

د نبی کریمﷺ نه مخکښې چې څومره پیغمبران وو نو د هغوی مبعوث کیدل به یو علاقے ، کلی ، وطن پورے خاص وو خو الله تعالی د نبی کریمﷺ رسالت عالمی اوګرځوو.

شپږم فضیلت دا دے چې

﴿وَخُتِمَ بِيَ النَّبِيُّونَ﴾

یعنې په ما باندې د ټولو انبیاؤ د نبوت خاتمه کړے شوے ده.

# د ختم نبوت قانونی حیثیت:

د دے مسئلے قانونی حیثیت څۀ دے؟

نو د دے تفصیل خو دا دے چې د دے عقیدے نه بغیر انسان د سره مؤمن نه دے او دا واقعات د دې خبرې په صحیح والی باندې ګواهی ورکوی.

د نبی کریمﷺ د زندګئ په اٰخره وخت کښې مدینه یو اسلامی ریاست قائم کړو او د نبوت سره سره نبی کریمﷺ حاکم وقت او فرمانروا هم وو. دغه موقع کښې وفود او خطوط به راليږلے کيدل چې مونږ ستاسو بالادستی منو خو مونږ ته به هيڅ هم نه وے. د دے وجے نه د مدینے په اسلامی ریاست کښې مذهبی آزادی وه او یهود ، نصاری او مجوسیان پکښې موجود وو.

په دغه دوران کښې د بنوحنیفه د قبیلے نه دوه سفیران راغلل او نبی کریمﷺ ته ئے د خپل سردار خط ورکړو چې هغه د مسیلمه کذاب وو. د خط متن دا وو.

﴿ مِنْ مُسَيْلَمَةَ رَسُوْلِ اللهِ اِلٰى مُحَمَّدٍ رَسُوْلِ اللهِ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ اِنِّيْ اُشْرِكْتُ فِي الْاَمْرِ مَعَكَ﴾ (بخاری)

یعنې دا خط د مسیلمه دے چې د الله تعالی رسول دے او دا خط محمد رسول اللهﷺ ته دے . په تاسو دې سلام وی زۀ تاسره په کار د نبوت او بادشاهئ کښې شریك یم.

نبی کریمﷺ د دے دوؤ کسانو نه تپوس اوکړو چې تاسو هم دې پیغمبر ګنړے نو دوی هم د هغه د نبوت اقرار اوکړو نو نبی کریمﷺ اوفرمائیل چې که چرته د قاصدانو وژل مناسب وے نو مابه نن تاسو وژلے وے.

بیا نبی کریمﷺ دا کسان رخصت کړل او صحابه کرامو رضی الله عنهم ته ئے اوفرمائیل چې د دهٔ خلاف فوجی کاروائی اوکړے. په دې دوران کښې نبی کریم ﷺ وفات شو نو ابوبکر رضی الله عنه د کفن دفن نه بعد فورًا لښکر تیار کړو او د دهٔ خلاف ئے اولیږو. مسیلمه پکښې مردار کړے شو او په هغه خلقو قانونی پابندی اولږیدله.

## د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فیصله:

دا رنګ د حضرت عثمان رضی الله عنه دور خلافت کښې د کوفے ګورنر عبد الله بن مسعود رضی الله عنه وو. چا ورته اووئیل چې په کوفه کښې څهٔ خلق په یو کور کښې د مسیلمه د تعلیماتو اوریدو د پاره راجمع کیږی. ده فورًا هغوی راؤغوښتل او هغوی توبه تائب شو خو یو کس پکښې هغه وو چې مسیلمه د نبی کریمﷺ په دور کښې په طور د قاصدانو رالیږلے وو نو عبد الله بن مسعود رضی الله عنه دې معاف نه کړو اوخت ئے ترینه اووهو. ځکه د هغوی قتل واجب شوے وو. ځکه چې نبی کریمﷺ دې په هغه وخت کښې ځکه پریښے وو چې دے قاصد وو ورنه نبی کریمﷺ دې وژلو.

نو د دے واقعاتو نه دا معلومه شوه چې څوك د نبی کریمﷺ د ختم نبوت نه انکار اوکړی بیا برابره خبره ده که د بل چا د نبوت اقرار کوی او که نه کوی . د هغه وژل واجب دی.

الله تعالی دې مونږ د ختم نبوت په عقیده باندې قائم دائم اوساتی. امین

# ختم نبوت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿مَاكَانَ مُحَمَّدٌ اَبَا اَحَدٍ مِنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ﴾

(احزاب:۴۰)

﴿وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : اَنَا خَاتَمُ النَّبِيّٖنَ لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ۔﴾ (مسند احمد)

## د پيغمبرانو مباركه سلسله:

د دين اسلام يو اهمه مسئله، مسئله د ختم نبوت ده هغه داچه د انبياء عليهم السلام دا سلسله چې كومه د سيدنا آدم عليه السلام نه شروع شوې وه هغه په محمد ﷺ باندې تمام شوې ده او د نبي ﷺ نه پس قيامته پورے دا رسالت او نبوت به بل چاته نه ملاويږى لكه څنګه چې نبي ﷺ فرمائى چې د دې رسالت مثال د يو غټ عمارت دے چې په هغے كښې يوه خښته كمه وى نو الله هغه آخرى خښته په ما سره پوره كړه. عيسى عليه السلام كه راځى دنيا ته نو هغه نوے پيغمبر نه دے هغه زوړ پيغمبر دے او بيا به دنيا ته بحيثيت امتى راځى نه بحيثيت نبى چې انجيل يا خپل نبوت ته به خلقه رابلى.

## د نبى ﷺ په دور كښې د نبوت دعويداران:

د نبى ﷺ په زمانه كښې يو كس د نبوت دعوى كړے وه هغه ته مسيلمه الكذاب وائى يو بل سړې چې د هغه نوم طليحه بن خويلد وو هغه هم د پيغمبرے دعوى كړې وه بيا چې ابوبكر صديق رضي الله عنه خپل لښكر په

مسیلمه پسے اولیږو نو دۀ ته ئے دا خبره کړے وه چې د مسیلمه نه پس ستا نمبر دے نو هغه اوتختیدو او د حضرت عمر رضی اللہ عنہ په دور کښې ئے د حضرت عمروبن العاص رضی اللہ عنہ په لاس باندې ایمان راوړو دریم د نبی صلی اللہ علیہ وسلم په دور کښې اسودعنسی د نبوت دعوی کړے وه دغه قتل شوې دې او یوه بله ښځه وه دهغے نوم سجاح وه او هغے به دا خبره کوله چې نبی صلی اللہ علیہ وسلم فرمائی لانبی بعدی زما نه پس بل سړے پیغمبر نشته او ښځه کیدے شی بیا روستو دا ښځه مسلمانه شوے ده.

## د غلام احمد قادیانی کفر:

په دې دور کښې په دې تیره صدئ کښې غلام احمد قادیانی دا دعوی کړې وه هغه چا راپورته کړے وو او د څۀ مقصد د پاره ئے راپورته کړے وو دا خبره تیره جمعه بیان شوې وه خو دا خبره چې په میډیا باندې کیږی هغه الله او رسول منی بیا ولے کافر دے او بله دا چه کله هغه کافر دے نو تاسو ولے د هغوی نه په آرام نه کینے چې دا علماء اوس هم دا خبره نه پریږدی او بیا سیکولر خلق خامخا دې خبرے ته لار کھولا وهی او کله دا خبره کوی چه دا پاکستان قائداعظم یو سیکولر ملک جوړول غوښتل نو په دې سره اسلام چې څومره په دې ملک کښې ترقی کوی هغه کمزورے کوی او قادیانیت ته لاره ورکوی ځکه چه سیکولر سټیټ شی نو د مسلمان او د کافر فرق به باقی پاتے نه شی نو اوله خبره د هغے جواب دا دے چه دوی د الله او رسول سره غلام احمد قادیانې هم رسول منی او دا خبره خطرناکه ده ځنګه چه رسول منل لازم دی دغه شان نبی صلی اللہ علیہ وسلم آخری رسول منل لازم دی او دوی د کفر وجه دا ده چې آخری رسول نبی صلی اللہ علیہ وسلم نه منی او د نبی صلی اللہ علیہ وسلم په آخری پیغمبر کیدو باندے قرآن، حدیث او اجماع ګواه دی چې بل پیغمبر د نبی صلی اللہ علیہ وسلم نه پس نشته.

## نبی ﷺ رسول نه منل:

او دا خبره نبی ﷺ په خپله هم نۀ ده قبول کړے چې نبی ﷺ منی خو آخری رسول ئے نۀ منی لکه ابن عبدالبر رحمۃ اللہ علیہ په خپل کتاب (الاستیعاب) کښ دا واقعه نقل کړے ده چې د نبی ﷺ یو صحابی حبیب بن زید رضی اللہ عنہ د مسیلمة الکذاب څۀ کسانو ګرفتار کړو او مسیلمه ته ئے مخے ته کړو نو هغه ورنه تپوس اوکړو چه ته نبی ﷺ رسول منے، هغه جواب ورکړو آؤ زۀ نبی ﷺ منمه. بیا ئے ورنه دا تپوس اوکړو چه ورسره ما رسول منی صحابی ورته وائی ﴿ان فی أذنیّ صمما عن سماع ماتقول﴾ منل نه منل روستو خبره ده زما په دې غوږونو کښ کوڼ والے دے ستا دې خبرے اوریدو ته تیار نه دے. دغه صحابی په دې طریقه ټوټے ټوټے شهید شو خو د مسیلمه دغه خبره ئے وانوریده. نو دلته که انسان اوګوری مسیلمه د خپل رسالت اقرار ورباندے کوی او د نبی ﷺ د رسالت نه انکار نه کوی خو بیا هم مسیلمه په دې خبره کافر وو.

## د مسیلمة الکذاب خط او د نبی ﷺ جواب:

او امام حاکم رحمۃ اللہ علیہ په مستدرک کتاب کښ دا خط د مسیلمه کذاب رانقل کړې دی کوم خط چه مسیلمه کذاب نبی ﷺ ته رالیږلے وو په دغه خط کښ دا الفاظ وو

﴿مِن مسیلمة رسول الله الی محمد رسول الله﴾

دا خط د مسیلمه رسول الله د طرفنه د محمدرسول الله ته چې ځان ته رسول وائی او بیا ئے دا خبره لیکلے وه

﴿انی أشركتُ معک فی الأمر﴾ (بخاری)

زه تاسره په دې رسالت کښ شریک یم

خو ما ځان سره خپل جانشین اومنه او که ما خپل جانشین نه

منے نو د بنار یو نبوت ستا شو او د کلو علاقو نبوت مالره راکړه نبی ﷺ اوږد جواب ورکړے وو خو دا آیت ئے ورکښې ذکر کړے وو.

﴿لِلّٰهِ مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾(آلعمران:۱۸۰)

دا هرڅۀ د الله په اختیار کښې دی نبوت چا لره ورکوی چالره نه ورکوی الله ماته راکړے دے نو زۀ ورکښې تا ځان سره څنګه شریک کړمه او بیا نبی ﷺ قسم کړے وو چه په رسالت کښې یوه زره هم زه تالره نه درکوم. ځکه د الله اختیار دے بیا نبی ﷺ د هغه قاصدانو نه تپوس اوکړو چې تاسو مسیلمه رسول منے هغوی جواب ورکړو چه مونږه هغه رسول منو نو نبی ﷺ ورته اوفرمائیل:

﴿لَوْلَا أَنَّ الرُّسُلَ لَاتُقْتَلُ لَقَتَلْتُكُمْ﴾(مسند احمد)

چې قاصدین نه وژلے کیږی او که چرته قاصد قتل کیدے نو ما به تاسو قتل کړے وے بیا په دغه دوه قاصدانو کښې یو عبدالله بن مسعود رضی اللہ عنہ سره په کوفه کښې ملاؤ شوے وو هغه اوپیژندلو چه ته خو هغه د مسیلمه قاصد نه ئے هغه ورته اووئیل چه آؤ یمه نو تپوس ئے ورنه اوکړو چه ته اوس د چا د طرف نه ګورنر نه ئے هغه اووئیل نا نه یمه.

عبدالله بن مسعود رضی اللہ عنہ ګرفتار کړو او جیل کښې واچولو، درے ورځے مهلت ئے ورکړو که توبه دی اویستله نو معاف به دې کړمه او توبه تائب نه شو نو درے ورځے پس به قتل کیږے. نو ما عرض دا کولو چې د رسالت سره ختم نبوت منل لازم دی او قرآن او حدیث اجماع په دې باندې ګواه دی.

او بل دا خبره چه علماء قادیانان نه پریږدی نو د دې وجه دا ده چې قادیانان خپل تبلیغ او پرچار نه، نۀ منع کیږی سره د دی نه چې هغوی آئینی کافر دی پابند دی د دې پرچار د روک تهام د پاره علماء عوام خلق د دې د خطرے نه خبردار کوی ځکه دوی خپل کفر باندې د اسلام لیبل لګوی او د هغوی پرچار کوی. والحمدلله رب العالمین

# په اخرت باندې ایمان

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالنَّصٰرٰى وَالصَّابِئِيْنَ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ﴾(بقرة:٦٢)

## ایمان بالاخرة:

دین اسلام دوه حصے دي چې يو ته اعتقادی حصه وئيلے کيږی او بل ته عملی حصه وئيلے کيږی.په عقائدو او ايمانياتو کښې ډيرې عقيدې ضروری دی چې هغه په ايمان مجمل او مفصل کښې ذکر شوی دی.

په عقائدو کښې بنيادی درے عقيدے داسے دی چې ورته امهات العقائد وئيلے کيږی.

يو ايمان بالله ، دويم ايمان بالرسالت او دريم ايمان بالاٰخرة دے. دَ ايمان مطلب په هغه حقائقو باندې يقين کول کوم حقائق چې انبياؤ عليهم السلام مونږ ته بيان کړی دی او د هغے اهميت او وضاحت ئے کړے دے.دَ ايمان بالله او ايمان بالرسالت بيان مخکښې شوې دے اوس د ايمان بالاخرت باره کښې خبره کيږی.

ايمان بالاٰخرة دومره اهمه حصه ده چې د الله تعالى او د الله تعالى د رسول د تذکرے سره سره د اٰخرت ذکر کيږی.

## د عقيدهٔ اخرت اهميت:

دارنګ کله چې هم الله تعالى په خپل ځان د ايمان راؤړلو تذکره

کوی نو د ايمان بالاخرة تذکره ورپسے فورا کوی.

الله تعالی فرمائی:

﴿اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالنَّصٰرٰى وَالصَّابِئِيْنَ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَاخَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ﴾(بقرة:٦٢)

په دې کښې هم د ايمان بالله سره د ايمان بالاخرة بيان دے. او په دې ايت کښې دا بيان هم شوے دے چې صرف نومونه نۀ کافی کيږی يو بنده د پاره چې هغه په ځان يو نوم کيږدی نو حقيقت کښې به هم دغه شان وی نه داسے نشی کيدے تر څو پورې ئے چې په دغه حقيقت باندې ايمان يقين او عقيده نه وی ساتلې د نوم مسلمان حقيقی معتبر مسلمان نشی کيدے. بيا الله د دې خلقو د انعام ذکر کړے دے چې:

﴿فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ﴾(بقرة:٦٢)

د دې خلقو عمل عند الله مقبول عمل دے او دغه خلق کامياب خلق دی چې حقيقی کاميابی هغوی ترلاسه کړې ده صرف دعوی کوؤنکی چې په ژبه دعوی کوی هغوی کاميابی نۀ شی حاصلولے. نو د نجات دارومدار په ايمان اونيك عمل موافق شريعت باندې دے.

﴿اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالنَّصَارٰى وَالصَّابِئِيْنَ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ﴾(بقرة:٦٢)

يعنې هغه کسان چې ايمان ئے راؤړے دے او يهوديان دی او نصاری دی او صابيان دی نو چاچې هم ايمان راؤړو په الله تعالی او په آخرت نو په داسے انسان به هيڅ يره نه وی.

دارنګ سورة بقره شروع کښې د متقيانو په صفت کښې دا هم ذکر دی.

﴿وَبِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ﴾(بقرة:۴)

يعنې دوی په اُخرت باندې هم يقين ساتی.

## ايمان بالاخرة څه ته وئيلے کيږی:

ايمان بالآخرة دې ته وئيلے کيږی چې زما د کړو اُوړو به ماته جزاء يا سزاء ملاويږی او د هغے د پاره يو ورځ مقرر ده چې هغے ته ورځ د آخرت وئيلے کيږی.لکه څنګه چې د دنيا ژوند او زندګی ده دغه شان د دې نه بعد يو بل ژوند او زندګی شته څنګه چې دنيا يو عالم په نظر راځی دغه شان اخرت هم يو عالم حقيقی شته دے او موجود دے. او په هغه زندګئ ، هغه عالم کښې به انسان ته د دې ژوند د دې عالم د ښۀ او بدو بدله او جزا يقيناً ورکولے کيږی دې باندې يقين کولو ته ايمان بالآخرة وئيلے کيږی . او دا حقيقت د عقل نه پټ نۀ دے بلکه عقل د دې تسليم کولو ته مجبوره دے هيڅ يو عقلمند د دې نه انکار نۀ کوی.

دا رنګ ډير کرته يو انسان به ظلم کوی خو په دنيا کښې به ورته څۀ سزا نۀ وی ملاؤ شوے نو دا رنګ يو نيك انسان ته به په دنيا کښې د نيك عمل څۀ ښۀ نتيجه او بدله ملاؤ نشی نو که داسے څۀ عالم نه وی چې په هغے کښې دوی ته سزاء يا جزاء ملاؤ شی نو دا به د الله تعالی د عدل نه خلاف وی. ځکه چې بيا خو جرم او نيکی يو څيز شو حالا نکه الله تعالی فرمائی.د الله قانون او نظام په دنيا او آخرت دواړو کښې روند نظام او په جهالت مبنی قانون نه دے بلکه هغه د انصاف نه ډك يو خالص صفا قانون او نظام دے چې په هغے کښې مجرم عادل نشی کيدے او عادل نيك عمله مجرم بد عمله نشی کيدے،

﴿اَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِيْنَ كَالْمُجْرِمِيْنَ﴾(القلم:۳۵)

يعنې مونږ مسلمانان د مجرمانو سره برابر کړو.

## د عدل او انصاف تقاضه:

بل یو عقلي مثال دا دے چې په دنیا کښې هر یو څیز خپل خاصیت او اثر لري لکه اوبۀ تنده ختموي، او خوراك سره لوږه ختمیږي وغیره وغیره نو دا رنګ د ښه اخلاقو او نیك کارونو دې هم څۀ نتیجه او اثر وي چې د هغے ثواب یا بدله دې ملاؤ شي نو هغه الله تعالی په شکل د آخرت کښې مقرر کړے ده.او دا د مشرکانو غلطه نظریه او باطل ګمان وو الله د دې نظریے او ګمان رد په سختو الفاظو کښې کړے دے او د دې عقیدې بطلان او فساد ئے ډیر په واضح انداز کښې بیان کړے دے چې آیا د انسان مرګ او ژوند به یو برابر وي دا نشي کیدے.

﴿اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ اَنْ نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَوَآءً مَّحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ﴾(جاثیۃ:۲۱)

یعني آیا د بدعمله خلقو دا خیال دے چې ګنې مونږ به دوی د نیك عملو په شان ګنړو. نو ګنې د دوی ژوند او مرګ دواړه به برابر او یو شان وي نو دا د دوی بدې فیصلے دی.

په دنیا کښې الله تعالی د ګناه سزا یا د نیکۍ بدله ځکه نه ورکوي چې دنیا دار الامتحان دے او جزاء سزاء به آخرت کښې ورکولے کیږي نو نیکو کار به جنت ته ځي او بدعمله به جهنم ته ځي.

دې وجے نه یو شاعر وائي:

*از مکافات عمل غافل نہ شود*

*گندم از گندم بروید جو از جو*

یعني د عمل د بدلے نه غافله بے پرواه نه شے ځکه د غنمو نه غنم پیدا کیږي او د اوربشو نه اوربشے پیدا کیږي. دا نشي کیدے چې د اوربشو نه غنم یا د غنمو نه اوربشے پیدا شي. نو چا چې ښه کړي وي هغه ته ښه بدله او بدو ته بده بدله به ملاویږي.

# په اخرت کښې د جزاء حکمت:

الله تعالی فرمائی.په دې اية کښې الله د اخرت د بدلے اهميت بيان کړے دے چې دلته انسان ته بدله د عمل نه ورکوم ځکه دا دنيا يو امتحان دے او د نتيجے به ئے په آخرت کښې پته لګی ورنه که په دې دنيا کښې الله نقده جزاء او سزا ورکولے نو بيا دا نظام وجود ته د راوستلو څۀ فائده به نه وے. انبياؤ د بعثت به څۀ حکمت نه وے د نيکے او بدے به څۀ امتحان نه وے.

﴿وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا﴾(الدهر:٣)

بله خبره دا ده چې په آخرت باندې عقيده او ايمان لرلو سره د انسان په زندګئ کښې ډيره لويه تبديلی راځی چې په هغے کښې يو دا ده چې کله انسان اخرت باندې عقيده لری او کوم انسان چې په آخرت عقيده نه لری نو د دواړو په زندګئ کښې د زمکے او اسمان فرق دے.

د کافر زندګی به د حيوانيت وی او د مسلمان زندګی به د انسانيت وی. او دا فائده او اثر دے په آخرت باندې د ايمان راؤړولو چې يو انسان دا يقين لری چې آخرت شته زما د هر عمل نه به زما سره فرسان سوال جواب تپوس کيږی نو زۀ ولے دا بد کار چې په هغے زما آخرت خسران او بربادئ کښې غورزيږی زۀ ولے خپل آخرت خراب کړم نو دا انسان به د انسانيت په طرز او طريقه په دنيا کښې ژوند تيروی او څوك چې په آخرت باندې يقين نه کوی او د هغه په زړه او دماغو کښې دا سوچ نه وی بيا د هغۀ دَ ژوند د هغۀ دَ اخلاق ،کردار معامله او د طبيعت معائنه اوکړه نو د زمکې او آسمان فرق به درته پکښې واضحه ښکاره شی د دې وجے الله دا خبره کوی چه ﴿لَا يَسْتَوُونَ عِنْدَ اللّٰهِ﴾ د الله په دربار کښې دا برابر نشی کيدے او دغه وجه وه چې د نبیﷺ په زمانه

کښې د خلفائے راشدینو رضی اللہ عنہم په زمانه کښې د نیکو بادشاهانو په زمانه کښې دا فسادات او جرمونه نه کیدل او د هغے بنیادی او اساسی وجه د الله نه یره او په آخرت ایمان راؤړل وو او که یو انسان نه به د بشری تقاضې د وجے نه یوه ګناه اوشوه نو ټچپله به د دغه خلیفه مخے ته دنیاوی سزا ته ځان پیش کړو چې د آخرت د سزا نه په هغے بچ شم او محفوظ شم.

## د اخرت منازل:

د آخرت د سفر یو څو منازل دی. هغه منازل پنځه دی.

ړومبې ته حالت د زنکدن وئیلے کیږی او سکرات الموت ورته هم وئیلے کیږی.

نبی کریم ﷺ فرمائی: ﴿إِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَاتٌ﴾ (شرح السنة للبغوی)

یعني د مرګ ډیرے لوے سختئ وی.

د دې حالت نه بعد د توبے دروازه بنده شی.

یو حدیث کښې هم فرمائی:

﴿إِنَّ اللهَ يَقْبَلُ تَوْبَةَ الْعَبْدِ مَا لَمْ يُغَرْغِرْ﴾ (ترمذی)

یعني الله تعالی د زنکدن پورے توبه د مسلمان قبلوی.

دویمه مرحله د قبر او عالم برزخ ده. نو هلته هم جزوی سزا او جزا ملاویږی.

حدیث کښې نبی کریم ﷺ فرمائی:

قبر د جنت د باغیچو نه یو باغیچه ده او یا د دوزخ د کندو نه یو کنده ده.

دریم منزل د حشر دے. یعنې دا مخلوق بیا راپورته کیدل او حساب کتاب ورسره کیدل.

دغه یوه ورځ به پنځوس زره کاله وی خو په مؤمن باندې به د سحر د دوؤ رکعتو د سنت په اندازه زر تیریږی.

څلورم منزل د میزان دے. نو د چا تلے به درنے وی او د چابه

سپك وي.

پنځم منزل پل صراط دے. نو څوك به د بجلے د پړق په شان تیریږی او څوك به د تیز هوا په شان او څوك به لاندې پریوځی.

الله تعالی دې مونږ له په دے منازلو کښې کامیابی رانصیب کړی. امین